# دخلیفه یاامیر

تاکل ،شرطونه ،فرمانونه او په ضد يې پاڅونونه

ترتیب کوونکی : محمد بشیر « مدني »

Ketabton.com

کال : ۱۴۲۵ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخلیفه یاامیر

## ټاکل ،شرطونه ،فرمانونه او په ضد یې پاڅونونه

ترتیب کوونکی : محمد بشیر« مدني »

کال : ۱۴۴ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## مطالبو فهرست


سریزه :........................................................................................................9

دخلیفه د ټا کلووجوب او لازمیدل : ..........................................................................16

دامام شروط :...............................................................................................20

۱-: باید داصلي اوخالصو قریشو څخه وي:.....................................................................22

۲- هغه څوک چي د مسلمانانو څخه دیو قاضي په توګه منل کیږي باید مجتهد وي : ............24

۳- بایدامام دتجربې او ښه نظر خاوند وي:......................................................................25

٤- باید امام دحدودوپه پلي کیدو : ............................................................................25

٥:- امام بایدآزادوي : .........................................................................................26

٦:- امام باید مسلمان وي دا شرط دي . .........................................................................26

٧:- امام باید نارینه وي :........................................................................................26

٨:- دامام دبدن اعضاء (غړي ) با ید سالم او صحیح وي . .............................................26

٩:- امام باید بالغ وي:.............................................................................................26

۱۰:-امام باید عاقل وي : ........................................................................................27

۱۱:-امام باید عادل وي:...........................................................................................27

۱- اجتهاد او دغړوجوړوالئ مخالفت څرګند کړی . ..........................................................27

۲:-امام بایدبالغ وي :.............................................................................................28

۳-امام باید نارینه وي : ........................................................................................28

(c) ketabton.com: The Digital Library


٤:-امام باید مسلمان وي :.........................................................................28

٥:-امام باید یوداسې عالم وړاندې کړي : ........................................................28

١:-هغه عادل امام چې دخلکو په منځ کې په حقه فیصله کوي او عدل قایموي :..................31

٢:-عادل امام به دقیامت په ورځ دنور او رڼا په منبر باندې :.........................................31

٣:-دامام لپاره به ډیر لوی اجر وي : .......................................................................33

۴ـ د عادل امام دعاء نه ردیږي: ............................................................................33

د مسلمان امام وظایف (دندي ):..........................................................................35

لومړي دنده :-...................................................................................................35

د امام دوهمه دنده :-..........................................................................................42

دامام دریم مسو لیت دنده :-.................................................................................45

دامام څلورمه دنده او مسولیت :- ...........................................................................49

دامام پنځمه دنده او مسؤولیت :-- ..........................................................................50

دامام شپږمه دنده او مسولیت :- ............................................................................52

دامام اوومه دنده او مسوءلیت :- ...........................................................................53

په دي مسأله کې دوه څیزونه مهم دي : ....................................................................56

نو دلته په جواب کې دوه اړخه دي .........................................................................58

صحیح حکم دادی چې: ........................................................................................64

دمسلمان امیر په وړاندي دولس دندي او مسولیتونه :.......................................................65

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي دنده :--داميرخبره اوريدل او دګناه څخه پرته يې اطاعت کول . ...........................66
عقل په دوه ډوله دی :....................................................................................71
لومړي :-- هغه عقل چې دليونتوب ضد او عکس دی ..............................................71
دوهم : هغه عقل چې دزړه دفهم اوادراک په معنا سره.................................................72
هدايت په دوه ډوله دی :--...............................................................................73
لومړي ډول : -دښودني او دلالت هدايت دی :.........................................................73
دوهم ډول :-- دقبول والي اومنلو هدايت : ..............................................................74
دلته يوه مهمه مسأله ده چې پخواني حديث اشاره ورته کړيده:.......................................79
په يوروايت کې راځي :...................................................................................82
داقول : خيارأئمتکم، پدې حديث کې : ......................................................................85
۱ـ داماما‌نو سره دميني کولو هغوی ته ددعا کولو دمشروعيت دليل دی :..........................85
دوهمه دنده :- دامام په بدی باندي صبرکول :...........................................................85
لو مړي :- دامير لخوا په ګناه باندې امر کول . ...........................................................88
مهمه فايده :-..............................................................................................98
دولس دريمه دنده او مسؤوليت :- ..........................................................................99
ـ داميراو مشر سپکاوئ : ..................................................................................101
داد ټولو مسلمانانو او پاچايانو لپاره نصيحت دی او په هيڅ ډول غيبت حرام ندي .............104
دعورت دمتابعت څخه مطلب دادی چې : ................................................................107

(c) ketabton.com: The Digital Library

امير ته په پټه سره نصيحت كول غوره دي :.........................................................110

دظالموپاچاپانوپه وړاندې پاڅون :.........................................................112

دظالموپاچانوپه مقابل كې دپاڅون په اړه تفصيل :.........................................................114

١ـ څرګند خبر داده چې د ظالمو اميرانو په ضد پاڅون كول د امام ابو حنيفه رحمت الله عليه مذهب دى .........................................................135

دوهم قول :.........................................................136

دكافر ولسمشر په ضد پاڅون :.........................................................142

شهيد سيد قطب رحمت الله عليه ويلي دي:.........................................................147

امام ابن كثيررحمت الله عليه د الله جل جلاله ددې حكم پ اړه چې: أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ...............152

امام ابن القيم رحمت الله عليه د غه معنى پخپل كتاب قصيده نونيه كې راوړي وايي:...........161

: .........................................................179

لومړى: دوى ته په فئ او غنيمت كي هيڅ ونډه نشته .........................................................179

دوهم: د باندې چيانو ګواهي به د ښاري وګړو په برخه كي نه قبلېږي.........................................................179

خاتمه .........................................................196

اخځليكونو فهرست.........................................................198

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه :

الله جل جلاله ددغه کایناتودجوړښت لپاره یونظام اوکړنلاره جوړه کړې ده او په بندګانو باندې لازم دي چې دهغه په رڼا کي حرکت وکړي اوهیڅکله ورته روا ندي چې دټا کلې لارې څخه کاږه شي له همدې امله الله جل جلاله ددین درسو لو لپاره پیغمبران رالیږلي دي ترڅويي په بشپړه تو ګه خلکو ته ورسوي او په دوی باندې دالله جل جلاله لخوا پوره دلیل او حجت قا یم شي او دخلکو لخوا په الله جل جلاله با ندی کوم دلیل پاتې نشي .

ددي معنی په اړه دقر ان کریم او نبوي سنتو څخه زیات شمیر دلایل شته .چې لدې څخه دالله جل جلاله دامبا ک فرمان دی چې فرمايي : رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا » سو رت النساءآیت١٦٥.[1]

ژباړه :(او لیږلي مو دي)رسولان چې زیری ورکونکي دي(مومنانوته په جنت) او ویروونکي دي(د کفا رو په جحیم) له پاره ددې چې پا تې نشي خلکو ته پر الله جل جلاله با ندې هیڅ حجت (دلیل ،عذ ر ،بها نه ) وروسته له لیږلو در سو لا نو .[2]

او همد ارنګه الله جل جلاله فر ما يلي دي : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ ..... سو رت النحل آیت٣٦ [3]

ژباړه : او خا مخا په تحقیق لیږلي ( یو رته کـــړي ) و و موږ په هر پخواني امت کـــې یو رسول چې عبا دت وکوي یواځې دالله جل جلاله اوځان ساتي له شریرانو(باطلو معبودانو )څخه.

او داسي نور.

د الله جل جلاله درحمت څخه په خپلوخلکوباندې یوداهم دي چې خلکو ته پرله پسې پیغمبران رالیږل تردې چې دالله جل جلاله داوامرو سره سم ژو ند تیرولوته راوبولي اوپه همدغه کارسره یي برابرکړي لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : .... وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خلَا فِيهَا نَذِيرٌ .[4]

---

- سورت النساء آیت 165 .[1]
- کابلی تفسیر پښتو .[2]
- سورت النحل 36 آیت .[3]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او نه وه هيڅ امت مگر چي تير شوي په هغه کې کوم ويروونکی .

په يقيني ډول الله جل جلاله د هر امت لپاره پيغمبران راليږلي چې هغوی ته به يې د يو الله جل جلاله دعبادت کولو او له هغه سره د شريک نه نيولو . او د الله جل جلاله داوامرودمنلو او نواهيو څخه يي دځان ژغو رلو په کلکه امر ورته کاوه .

بيشکه الله جل جلاله د پيغمبری دسلسلې ختم په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سره سرته رسولی او له دغه وروسته يي هيڅ پيغمبر ندی رااستولی .لکه چه فر مايي :(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ .....) [5]

ژباړه : ندی محمد (صلی الله عليه وسلم ) ( حقيقي ) پلار د هيڅ يو تن له سړيو ستاسې و ليکن رسول د الله جل جلاله دی( خلکو ته په شان د معنوي پلار) او مهر د( ټولو) انبياؤ دی( چې پس له ده څخه بل نبي نه راځي) .لکه چې حديث شريف کې راغلی دی : عن آبی هريرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال : إنَّ مَثَلِي ومَثَلَ الأنْبِياءِ مِن قَبْلِي، كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بَيْتًا فأحْسَنَهُ وأَجْمَلَهُ، إلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِن زاوِيَةٍ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ به، ويَعْجَبُونَ له، ويقولونَ: هَلَّا وُضِعَتْ هذِه اللَّبِنَةُ؟ قالَ: فأنا اللَّبِنَةُ، وأنا خاتِمُ النَّبِيِّينَ رواه الامام بخاری رحمت الله عليه وامام مسلم رحمت الله عليه واللفظ له، والترمذی و احمد . [6].

ژباړه : څنگه چې محمد (صلی الله عليه وسلم ) فرما يلي دي :

بيشکه زما او زما څخه وړاندي دنورو پيغمبرانو مثال دهغه سړي په څير دی چې يوه ښکلې اوښايسته کو ته جوړه کړي مگرپه يو کونج کي يي ديوې خښتې ځای پا ته شي نو خلک پر هغې طواف کوي اوودې کوټې ښا يست ته حيرا نيږي او وايي کا شکي دغه خښته هم ايښودل شوې وای محمد (صلی الله عليه وسلم ) فرمايي : زه دغه خښته يم او زه د پيغمبرا نو وروستنی پيغمبر يم دا حديث شريف امام بخاری رحمت الله عليه . امام مسلم رحمت الله عليه، امام ترمذي رحمت الله عليه او امام احمد رحمت الله عليه روايت کړي دی .

الله جل جلاله د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل پيغمبر ندی راليږلی مگر لدغه څخه وروسته يي اميران ټاکلي او امر يي ورته کړی چې د الله جل جلاله د شريعت سره سم خلک رهبري کړي او په مستقيمه لاربې روان کړي .

---

- سورت فاطر 24 آيت . [4]
- سورت احزاب 40 آيت . [5]
- امام بخاری رحمت الله عليه په 3535 نمبر او امام مسلم رحمت الله عليه په 2286 نمبر روايت کړی دی . [6]

(c) ketabton.com: The Digital Library

-عن سلمة بن دينار المدنى أبو حازم قَاعَدْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ خَمْسَ سِنِينَ فَسَمِعْتُهُ يُحَدِّثُ، عَنِ النبيِّ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ، قالَ: كَانَتْ بَنُو إسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأنْبِيَاءُ، كُلَّما هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وإنَّه لا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَتَكْثُرُ، قالوا: فَما تَأْمُرُنَا؟ قالَ: فُوا بِبَيْعَةِ الأوَّلِ، فَالأوَّلِ، وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فإنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ . متفق عليه، واحمد فى مسنده و النسائى وابن ماجه فى السنن . [7]

ژباړه : ابوحازم (رحمت الله عليه ) وايي پنحه کاله د ابو هريره (رضی الله عنه ) درس ته کينا ستم دهغه څخه مې واوريدل چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) څخه يي روايت کاوه اوويل يي چې د بني اسرائيلو قيادت او لارښوونه به پيغمبرانو کوله کله به چې يو پيغمبر وفات شو بل پيغبربه د هغه ځای ناستی کيده په يقيني ډول زما څخه وروسته بل پيغمبرنشته ، بيابه خليفه ګان وي، او ستا سو شمير به هم زياتيږي .

دوی وويل : موږ ته په څه شي امر کوې ؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم  وفر ما يل : لومړی په بيعت ودريږی او حق يي پرځای کړ ی ځکه چې الله جل جلاله ددوی د رغبت په برخه کې ترې پوښتنه کوي.

دا حديث متفق عليه دی ، امام احمد رحمت الله عليه ، امام نسائی رحمت الله عليه او امام ابن ماجه رحمت الله عليه هم روايت کړی دی .

خلافت اوامامت پخپل ځای کې لوی ارزښت اواهميت لري ځکه چې هغه پرښتو ته د الله جل جلاله په خطاب کې ذکر شوی دي اودايي د نبووت وارث ګرځولی دی اودا دپيغمبر صلی الله عليه وسلمپه تير شوي حديث کې له ورايه ښکاري چې فرمايلي يي دي : ، وإنَّه لا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ .[8]

ژباړه :  زما څخه وروسته بل پيغمبر نشته خوخليفه ګان به وي». ځکه  خليفه هغه څوک دی چې د خلکو کړه وړه دالله جل جلاله د مبارک دين پر اساس تنظيموي او سموي يي ،همدغه خليفه دامت په منځ کـي د پيغمبر ځای ناستی دی همدی دنيا په دين ســره رهبري کوي او برابروي يي .[9]

همدا خليفه دی چې د خلکو اخروي اودنيوي ګټې دشرعي نقطې نظره د غوښتنې سره سم پر مخ بيايي او هم دوی دي چې دين ساتي او ددنيا لارښوونه پرې کوي [10]

خليفه هغه چاته ويل کيږي چې دبل څخه وروسته راځي حضرت آدم عليه السلام يي پرې ونوماوه لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ...11

ژباړه: او( يادکړه اي محمده! ) هغه وخت چې وويل پروردګارستا پرښتو ته چې بيشکه زه ګرځوونکی يم په ځمکه کښې ديو خليفه .

---

- امام امام بخارى رحمت الله عليه ، كتاب آحاديث الانبياء ، باب ما ذكر عن بنى اسرائيل برقم (3455) و امام مسلم رحمت الله عليه: كتاب الامارة ، باب الامر بالوفاء ببيعة الخلفاء الاول بالاول برقم ( 1842) . [7]
- مخكينى مصدر . [8]
- الاحكام السلطانية للامام ماوردى ص 5 . [9]
- مقدمه ابن خلدون ص 26 .[10]
- سوره بقره 30 آيت . [11]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابن کثیر رحمت الله علیه د امام ابن جریررحمت الله علیه څخه نقل کوي چې فرمایي : د آیت تفسیر داسې دی چې : زه په ځمکه کې دخپل لوري څخه خلیفه لیږم.چې زما د مخلوق تر منځ به زما دحکم سره سم په عدل فیصله کوي اوداخلیفه آدم علیه السلام وه او څوک چې دالله جل جلاله داطاعت او دهغه د مخلوق تر منځ په حق او عدل سره د فیصلې کولو لپاره ځای ناستی او قایم مقام وي ...

تردي چې امام ابن جریر رحمت الله علیه وویل له همدې سببه لوی پاچا ته خلیفه وویل شو ځکه چې دی دهغه چا څخه چې مخکې وه دامر پراخستلو سره وروسته راغې . [12].

د فقها وو په وارندي د خلیفه ،امیر،امام اعظم اوامیر المؤمنین په نومونو سره یادیږي ، دمسلما نانو په وراندې لوی پاچا په ډیرو نومونوسره یادیږي ، چې ځنې یې دادي : امیر المؤ منین،خوکله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات شو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دخلیفه په نوم یادیده ،صحابه کرامو عمر رضی الله عنه ته د امیرالمؤ منین په ویلو سره سلا شول ، اوهمدارنګه امام اعظم او د مسلما نانو خلیفه هم ورته ویل کیږي .

وبالله التوفیق

---

[12] - تفسیر ابن کثیر ج 1 ص 108

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خلیفه په لغت کې** : هغه چا ته ویل کیږي چې دکوم کار د سرته رسولو په خاطر دبل کار فرما څخه وروسته راشي او یايي بل څوک خپل ځان ناستی ونوموي مګر دعلماوو په اصطلاح خلیفه داسلامي هیواد د کارونو دپر مخ بیوونکي او دچارو په لاس کې نیوونکي ته ویل کیږي ځکه چې په اسلامي امت کې د نبي صلی الله علیه وسلم ځای ناستی او داسلامي احکامو پلي کوونکی دی .

امام جویني رحمت الله علیه دخلافت په پیژندګلوي (تعریف ) کې وېلي : دا یو کامل ریاست او عام قیادت دی چې ددین او دنیا په دواړو لوریو پورې تړاولري .د سیمي ساتل ، د رعیت پالل ، په توره او دلیل سره ددعوت خپرول، د ظالمانو څخه دمظلو ما نو د حقوقو په لاس ته راوړلو کې کوښښ کول ، د هغو خلکو څخه چې دچا حق نه ورکوي ترې اخستل او په بشپړه توګه یې خپلو مستحقینوته سپارل . [13]

امام ماوردي رحمت الله علیه ویلي دي : امامت ددنیا سا تلو او دین د خپرولو په خاطر د نبووت څخه وروسته دهمدې موخې لپاره منځ ته راغلي دي . [14]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمت الله علیه وایي : اصلي هدف دولایتونو څخه دخلکو ددین هغه اصلاح اوجوړښت دی چې کله هم ترې پاتې شي نو دیو ښکاره اوڅرګند زیان او تاوان سره مخ کیږي اوهغه به ګټه ورته ونه رسوي چې دوی په دنیاکې پرې آسوده شوي وي اواصلاح دهغه څه چې یوازې په همغه باندې دین قائم کیږي ددوی دنیوی کارونو پورې اړه لري . [15]

امام ابن ازرق رحمت الله علیه ویلي دي : دخلافت او امامت څخه هدف ددین د ساتنې اودنیایي امورو په چلولوکې د شارع څخه ترنیابت پورې اړه لري .[16].

امام ابن خلد ون رحمت الله علیه خلافت داسې تعریف کړی چې : دټولوخلکو داخروي او دنیوي ګټو دلاس ته راوړلو لپاره داسلامي نقطې نظرسره سم عمل کول دي....همدا دشارع څخه ددین دساتلو او دنیایي کارونو دچلولو په اړوند نیابت دی .[17]

**ګټوره نقطه:**

په مطلق ډول سره امام المسلمین او امیرالمؤمنین باید ونه ویل شي . مګر په هغه صورت کې چې په ګرده نړی کې د مسلمانانو امیروي مګر څوک چې په کوم هیواد کې په صحیح ډول سره امیر وي نو سمه خبره داده چې تر هغه ځای پورې یې ونښلوي اووایي :

د فلاني هیواد امیرالمؤ منین یا فلاني ځای کې امیر المؤمنین .

---

[13] -غیاث الامم للجوینی ص 15

[14] - الاحکام السلطانیه ص 5.

[15] - السیاسة الشرعیة فی اصلاح الراعی و الرعیة ص 12.

[16] - بدایع السلک فی طبایع الملک ج 1 ص 90.

[17] - مقدمة ابن خلدون ص 170. حاشیة ابن عابدین ج 1 ص 548. او وروسته مخونه وګوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابو محمد ابن حزم رحمت الله علیه ویلي دي : کله کله د امامت نوم په یوعالم فقیه او دجوما ت په امام باندې هم ایښودل کیږي. موږ وایو : پدي خلکوباندې دغه نوم مطلق نه بلکه داضافت په صورت کې ایښودل کیږي چې ویل کیږي فلانی دیني امام اودفلاني خیلو دجومات امام دی نو پرته له کوم اختلاف څخه دامامت نوم په مطلق ډول هیڅا ته نه ورکول کیږي ، مګر یوازې هغه چا ته چې د مسلما نانود چاروواکې یې په لاس کې وي .

که چیري څوک ووایي چې پرته له کوم اختلاف څخه دامارت نــوم په هغه چاباندې ایښودل کیږي چې دمسلما نانو په یو اړخ کـې دچا رورواکې په لاس کې ولري اوپه یقیني ډول هغه چاته هم د امیر نوم ورکړل شوی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په کومه خواکې ټاکلی وه ، یا یې د نظامي ګروپ او یا هم دلښکر مشر مقرر کړی وه او بیا وروسته نورو مسلما نانو هم همدا کارکړی دئ ، نو پدې کې څه خبر ده ؟ چې هر یو ته امیرالمؤمنین وویل شي . نوزموږ ځواب دادی : د الله جل جلاله څخه مرسته غواړو او وایو : دروغ ویل په اتفاق سره حرام دي، او کوم چې موږ یاد کړ ، هغه پدې دلالت کوي چې هغه د ځینو مسلمانانو امیر ؤ ، که چیري امیر المو مین ورته وویل شي نو دا نوم ایښودل به دروغ وي، ځکه چې دا لفظ ټولو مومنانو ته شامل دی نوپه حقیقت کې داسې نده بلکه هغه دځینو مومنانو امیر دی نو صحیح داده چې هیڅکله دا روا نده چې په مطلق ډول د امت او یا هم دامیرالمومنین نوم پرته له قریشو څخه چې د ټولو مسلمانانو دچارو واکې په لاس کې لري په بل چا دا نوم کیښودل شي یا ددغه منصب اخستل ورته لازمي کار وي اګر که زیات مومنان یې مخالفت وکړي او د هغه څه نه چې پر دوی یې کول لازم وه غاړه وغړوله لکه د امیر اطاعت او له هغه سره بیعت کول نو په دې کار سره دغه مسلمانان یوه باغي ډله بلل کیږي( دامیر نافرمانی ، او عدم بیعت ) نو له همدی کبله له دوی سره جنګ کول او وژل یې روا کیږي .اوهمدا رنګه د خلا فت اطلاق په هغه چا باندي کیږ ي چې دیاد شوي صفت لرونکی وي اویوازي د الله جل جلاله څخه مرسته غواړي . [18]

نو همدارنګه په یو هیواد کې دامام نوم په اوچت پاچا ایښودل روادي اوشرط ندي چې دنړي دټولو مسلمانانو عمومي امام دوي ، ځکه چې عام امامت له ډیرې پخوا زماني څخه ختم شوی، او پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرما یلي دي : عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ((اسمعوا وأطيعوا، وإن استُعمل عليكم عبدٌ حبشي، كان رأسه زبيبة)) رواه الامام البخاری

---

[18] -الفصل فی لملل و النحل لاین حزم ج 4 ص 75.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت الله علیه [19].

ژباړه : ای مسلمانانو خبره يې واروی او اطاعت يي وکړئ اګرکه پر تا سو يو حبشي غلام هم امير وټا کل شي او سريی د مميز په څير وي .

نوکله چې يو مسلمان په يو مقام و ټاکل شي او په زيات او کمې اندازې شروط يي هم پوره کړل دعام امير په څيروګرځيدوامر يي بايد پلی شي او خبره يي ومنل شي داسلامي امت امامان اوعلماء کرام دډير پخوا وخت څخه دهغه اميراطاعت کوي اودوستي ورسره کوي چې د عباسي کورنی څخه پر ديخوا تر نن ورځې پورې په اسلامي نړې کې ټاکل شوی وي ، خو په خليفه څوک ندي راتول شوي بلکې هر هيوادپه صحيح ډول خپل کارونه پخپله پرمخ بيايي څکه چې که دغه نبوي حديث شريف په هغه خليفه تطبيق اوپلی شي چې ټول مسلمانان پرې راغونډشوي وي نو بيا يي فايده اوګټه لږشوه [20]

ددي حديث شرح چي : عن آبی هريرة عن النبيُّ ﷺ:قال : مَن خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ، وفارَقَ الجَماعَةَ فَماتَ، ماتَ مِيتَةً جاهِلِيَّةً.......... [21]رواه امام مسلم رحمه الله.

ژباړه : څوک چې دامير د اطاعت څخه ووتل اود مسلما نانو ډله يي پر يښوده او مړ شو نو داد جاهليت په مرګ مړ شو .

يقول الحافظ ابن حجر في شرح هذا الحديث وما في معناه : أي كموت أهل الجاهلية، وليس معناه أنه كافر، ولكن مات كما يموت أهل الجاهلية، كل منهم يكون وحده لا إمام له، ولا له جماعة ينتمي إليها؛ لأنهم كانوا لا يعرفون ذلك فيموتون على الضلال، وليس المراد أنه يموت كافراً، بل يموت عاصياً، ويحتمل أن يكون التشبيه على ظاهره، ومعناه :أنه يموت مثل موت الجاهلي، وإن لم يكن هو جاهلياً.

حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ددغه حديث شريف په شرحه کې وايي : يعني دد غه شخص مرګ لکه د جاهيلت په شان دی ، نه داچې هغه کافردې بلکې هغه داسې مړ کيږي لکه د أهل جاهليت والاچې مر ي ، دوی ټول يواځې وي ، امام نلري او نه هم کومه ډله وي چې هغې ته يی انتماء کيږي ،ځکه دوی هغه نه پيژني نو په ګمراهی مري ، ددې دا هدف او مقصدنه دئ چې هغه کافر دئ بلکئ

---

- صحيح الامام بخاری رحمت الله عليه 693 نمبر روايت کړی دی . [19]
- سبل السلام ج3 ص 249 . [20]
- صحيح امام مسلم رحمت الله عليه ص 18.48.والحديث صحيح . [21]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناهکار مري ، دااحتمال هم دئ چې تشبیه په ظاهره ده او مطلب ترې دادئ چې : دغه شخص د جاهلیت د مرګ په څیر مري اګر که هغه خپله ګمراه نه وي .

**دخلیفه د ټا کلووجوب او لازمیدل :**

علماء کرام ټول مسلمانان داهل سنتو او نورو ټولو ډلو په ګډون سره دعادل خلیفه په ټا کلو متفق دي ، تر څو د خلکو تر منځ په حق او عدل سره پریکړه وکړي او دالله جل جلاله حکمونه پلي کړي داسلامي امت ګټې په لاس راوړي اودالله جل جلاله په لاره کې جهاد وکړي ، اګر که ددغه وجوبیت په دلیل کې سره اختلاف لري پدې مسآله کې یوازې دخوارجو ډله چې نجدات نومیږي (کوم چې ددین څخه وتلي دي  او بل ابوبکر أصم دی چې د شریعت څخه ګونګی او مخالف دی .

امام قرطبي رحمت الله علیه دالله جل جلاله  ددې قول دتفسیر په هکله چې [وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ ........... [22]سورة بقره آیت

۳۰

ژباړه : اویاد کړه کله چې وویل ستارب پرښتو ته چې زه جوړوونکی یم په ځمکه کې .

وایي : دغه مباک آیت د امام او خلیفه په ټا کلو کې اصل اواساس دی چې خبره یي وارویدل شي او اطاعت یي وشي ترڅو د مسلمانانو وحدت او یو والی پرې راشي اود خلیفه احکام پلي شي ددې دوجوب په اړه اسلامي امت اوددینې امامانو ترمنځ کوم اختلاف نشته پرته له هغه چاڅخه کوم چې د شریعت نه کوڼ دی اوهمدارنګه ټول هغه کسان چې دده خبره منې د نظر یي پیروي یې کوي ابو بکر رضی الله عنه وایي : دامام او خلیفه ټاکل په دین کې واجب دي بلکې دا روا دي .

خوکله چې اسلامي امت حج قایم کړ ، جهاد یي وکړ ،  په خپل منځ کې یي انصاف وکړ د خپلو ځانونوڅخه یي دحق په پلي کولو کې هڅه و کړه غنیمتونه او صدقات یي په مستحقینو وویشل په چا چې حد واجب وه پري تطبیق یي کړ ، نو داورته کفایت کوي بیا پر دوی باندې دامام تاکل  ددې کارونو لپاره واجپ ندي مګر زموږدلیل دادی چې الله جل جلاله فرمایلي : [إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً ...... [23]

ژباړه : زه  په ځمکه کې دخلیفه ګرځوونکی یم .

---

[22] -سورت بقره آیت 30.

[23] - سوره بقره آیت 30.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فرمان د الله جل جلاله دئ چې : [يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ .......... [24]

ژبا ړه : ای داوده ! زه گرځوم تا په ځمکه کي خليفه .

او همدارنګه الله جل جلاله فر مايلي دي : [وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ ] [25]

ژباړه :وعده کړي الله جل جلاله د هغو کسانو سره چي مومنان دي له تاسې نه اونيک عملونه يي کړي وي چي خامخابه دوی خليفه ګان ګرځوي په ځمکه کې ، يعني له دوی څخه ....

کله چې په سقيفه بني ساعده کې دخليفه په ټاکلو کې دمهاجرينو او انصارو ترمنځ کوم اختلاف منځ ته راغی بيا هم ټولو صحابه کرامو دا بوبکر صديق رضی الله عنه په ټاکلو اتفاق وکړ، سره ددې چې اختلاف دې حدته رسيدلی وه چې انصارو ووېل : يوامير به زموږڅخه وي اوبل اميربه ستاسې وي مګرابوبکرصديق رضی الله عنه اوټولو مها جرينو ددوئ خبره رد کړه اوورته ويې ويل عرب پرته ددغه کلي د قر يشو څخه بل چا ته غاړه نه ايږدي ،او دوی ته يي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه راغلئ حديث واړندې کړ ، نو پدې سره انصارو دخپل عزم څخه په شا شول او د

قر يشو اطاعت يي و کړ، که چيرې دا مسآله دقريشواو نورو خلکو په هکله کوم فرض او واجب نه وي چې د خلافت مسآله په قر يشو او نورو خلکو باندې هم واجب نده نو ستا سو دتنازل او وروسته والي څه لامل دی په داسې کار کې چې واجب هم نه وي دومره جنجال څه کټه لري .او کله چي ابوبکر صديق رضی الله عنه ته مرګ راورسيد عمر رضی الله عنه ته يي د امامت وصيت وکړ او هيچاورته ونه ويل چې دا په موږ او يا تا واجب دي نودايي په واجب کيدو دلا لت کوي او دا ددين د هغو ارکا نو څخه يو رکن دی چې دمسلما نا نو جوړ ښت پرې راځي يوا زې هغه الله جل جلاله ته حمد او ثناء ده چې دټول مخلوق پالونکی دی .[26].

امام ابن حزم رحمت الله عليه ويلي دي : چې ټول اهلسنت ،ټول مرجئه،ټول شيعه ګان او ټول خوارج دامامت په مسآله کې په واجبيدو متفق دي اوپه اسلامي امت واجب دي چې دهغه عادل امام (خليفه ) اطاعت وکړي چې الهي احکام په کې پلي کوي اوپه هغه شرعي احکامو سره سم يي رهبري کوي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته راوړي دي ، مګر يوازې دخوارجو څخه نجدات پدې ورسره مخالف

[24]- سورت ص آيت 26.

[25]- سورت نور آيت 55.

[26]-تفسير قرطبی ج ا ص 208-282 .چاپ دارالحديث القاهرة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي دوي وايي : په خلکوباندې پخپل منځ کې دحق پیروي لازم ده ، زموږپه فکر سره ددې ډلې څخه دوی هیڅوک هم نشته او ددې ډ لې قول له منځه تللی دئ ددي د رداو بطلان لپاره پخوانی یادشوي اجماع کاني بس دي ،قران کریم او نبوي احادیثو دامام تاکل واجب ګرځولي دي لدې څخه د الله جل جلاله دا فر مان دی چې :[ ﴿يا أَيهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِى الأَمْرِ مِنْكمْ﴾ (النساء: ۵۹)] [27]

ژباړه : ای مؤمنانو د الله جل جلاله اطاعت وکړی دپیغمبر صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړی او ستاسو څخه دېا کل شوي امیر اطاعت وکړی .

همدا رنګه ډیرصحیح احادیث دامامانو داطاعت او د امامت د واجبیدو په اړه راغلی دی او الله جل جلاله بل ځای کې فرمايي :[} لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْساً إِلاَّ وُسْعَهَا..} [28]

ژباړه : نه مکلف کوي الله جل جلاله هیڅوک مګر په هغه څه چې توان يي وي.

نودا یقین لازم دی چې الله جل جلاله هیڅوک نه مکلف کوي چې دوی په تو ان کې نه وي . په یقیني ډول موږ دعقل په ضرورت او بدیهت باندې پوه شو و چې دخلکولخوا دهغو احکامومنل چې الله جل جلاله پرې لازم کړي ددوی په مالونو په حقوقو تیری دقتل او وینې توییدو،نکاح ، طلاق ،او نوروتولو احکامو دظالم لاس نیول ، دمظلوم سره انصاف کول او قصاص يي ورته اخستل ددې د سیمو دلري والي او زیاتو مصروفیتونو سره سره او ددوی د نظریاتو داختلاف سره اوبیا هم پدې ټولو کې پام نه کول نه کیدونکي او نا شوني دي ، ځکه چې کله به یو شخص یا یوه ډله غواړي چې په دې باندې د یو شخص حکمروايي وکړي خوبل شخص اوبله ډله بیا نه غواړي چې په دوی ددغه کار وشي اویا دشوی شخص حکمروايي پري وکړي ځکه چې دغه ډله پخپل اجتهاد کې هغه څه سم بولي چې هغه بله ډله به يي وینې او یا به يي هم هغسې کم مخالفت ګڼې ، دا کارحتمامنځ ته راتلونکی دی اوداپه ډیرو هغو هیوادو نوکې په څرګند ډول لیدل کیږي چې مشر نلري اوهلته نه دحق پریکړه کیږي اونه حد پلی کیږي تردی چې په ډیرو داسې هیوادونو کې دین له منځه لاړ . [29]

---

- سورت النساء آیت 59 .[27]
- سورت البقرة آیت 286.[28]
-الفصل فی الملل و الاهواء والنحل ج 4 ص 87.[29]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ماوردي رحمت الله علیه ویلي دي : هغه چا لپاره چې دامامت تا کلوته متي رانغاړي په اجماع سره پرې واجب ده اګرکه أصم تري مخالفت کړی دئ . [30]

امام ابویعلي رحمت الله علیه ویلي دي : دامام تاکل واجب دي ،امام احمد رحمت الله علیه ویلي دي : کله چې امام موجود نه وي ترڅو دخلکو کارونه سمبال کړي نو دا کار پخپله فتنه ده لامل یی دادی چې: کله په سقیفه بني ساعده کې دصحابه کرامو ترمنځ اختلاف راغی انصارو وویل : یو امیر د زمو ږ او بل امیر دستا سې وي .

ددوي دا قول ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما ردکړی او ویلی دي : عرب پرته ددغه کلي دقر یشو څخه بل چاته غاړه نه ایږدي پدې کې ډیراثار او احادیث شته نو که چیرې دامامت تعین او تاکل واجب نه وای پدې اړه به دا دومره جنجال او منا ظره روا نه وه چې ترسره شوه نوحتما بهٔ یو چا ویلي وای چې دامامت شتون نه په قریشو او نه په نورو خلکو کې واجب او لازم دي .[31]

محمد بن علي القلعي ویلي : ټول اسلامي امت پرته له هغه چاڅخه چې مخا لفت یې کومه اغیزه نه لري پدې متفق دي چې دامام تاکل واجب دې اګر که په شرطونو او صفتو نو کې اختلاف لري [32] امام ابن خلدن رحمت الله علیه پخپله مقدمه کې ویلې دي: په اسلا مي شریعت کې دخلیفه تا کلو وجوب د صحابو کرامو او تابعینوداجماع څخه څرګنده شوې او پیژندل شوي دي ځکه چې صحابه کرامو د هغه صلی الله علیه وسلم دوفات سره سم د ابوبکر رضی الله عنه بیعت ته ورودانګل تر ځوپخپلوکارونو کې دهغه رای او نظر ته تسلیم شي او پیروي یې وکړي همدا رنګه دده څخه وروسته په هره زمانه اووخت همدا کار تکرار شوی دی او په هیڅ وخت کې یې دا کارنه دی پریښی چې دهمدې کار په دوام او استقرار سره دامام دټاکل کیدو پر واجبیدلو اجماع ده. [33]

مګردامامت او خلافت اهمیت اوارزښت لدینه څرګندیږي چې په غیاب کې یې محرابونه او منبرونه د کار څخه لویږي او معطل کیږي ، د اسلام احکام او شرایع ټپې کیږي ،احکام وروسته کیږي اوله منځه ځي،د یتیمانو حقوق ضایع کیږي په بیت الله شریفه حج نه کیږي او دجهاد بیرغ نه پورته کیږي که چیرې پاچا نه وي خلک به په عجیبه کش مکش کې را ګیروي ځینو به ځني نورخوړلي وای شاعرڅومره ښه ویلي دي :

- الاحکام السلطانیة للماوردی ص 5. شرح صحیح امام مسلم رحمت الله علیه ج 7صر 144 .[30]
- الاحکام السلطانیة لابی یعلی ص 3 ، فتح الباری ج 8 ص 123 . [31]
- تهذیب الریاسة و الترتیب السیاسة ص 74 .[32]
- مقدمة ابن خلدون ص 171.[33]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخلکو ژوند پرته دمشر له لر لو څخه نه سمیږي ---او مشرنه میندل کیږي کله چې مشري نا پوه ته ورسیږي .

په یقیني ډول عثمان رضی الله عنه ویلي دي : کوم خلک چې الله جل جلاله دپاچا په وسیله د ګناه او محرماتو څخه منع کوي تر هغو خلکو ډیر دي چې دقرانکریم په وسیله محرمات پریږدي .اوهمدارنګه ویل کیږي چې دین اساس او تهداب دی پاچایي ساتونکی دی کوم شی چې اساس ونلري ړنګ او خرابیږي او کوم شی چې ساتونکی ونلري هغه ضایع او له منځه ځي.

## دامام شروط :

داچې دخلافت ارزښت په دین کې ډیر لوی دی نواسلامي شریعت دخلیفه یا امام لپاره شروط ټاکلي .نوځوک چې غواړي دغه دروند او مهم کارته راوړاندې شي لاندې شروط لرل ورته واجب دي . له دې شروطو څخه هغه دي چې علماء کرام پرې متفق او په ځینو کې بیا اختلاف لري دلته موږ په لنډ ډول دغه شروط واړندې کوو ځکه زموږ مقصد پدې مسأله باندې تفصیلي بحث نه بلکې یوازې اشاره ورته کول دي اودغه شروط په لنډډول داسې بیانوو :

دقریشي توب د شرط والي حکم :

د نزاع ځای : پدې کې د فقهاؤ ترمنځ هیڅ اختلاف نشته چې په خاص ولایت کې قرشي توب شرط ندی لکه د لما نځه امامت ، پدې کې هم اختلاف نشته چې امام به هاشمي یا علوي وي بلکې اختلاف پدې کې دی چې امام غلام وی آیا امامت یی صحیح دی که نه ؟ .

د اختلاف سبب او لامل :

اصل اختلاف پدې کې دی چې حدیث « الأئمة من قریش » دغه حدیث امام احمد او امام نسائی رحمت الله علیه په سنن کبری کې د أنس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی .

هغه کسانو چې حدیث یې صحیح کړی دی په لاندې ډول دي :

١-حافظ ابن کثیر رحمت الله علیه ویلي دي : حدیث قوی کیدی شي ، ځکه چې د حدیث دوه جید سندونه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- امام بن الملقن رحمت الله علیه وایي : روات يې صحیح دي ، ابوؤاد باندې امام مسلم احتجاج کړی او په علی باندې امام بخاری رحمت الله علیه احتجاج کړی او په نورو رواتو امام بخاری او امام مسلم دواړو احتجاج کړی دی .

۳ – امام عراقی رحمت الله علیه وایي : امام نسائی ا وامام حاکم د أنس رضی الله علیه حدیث په صحیح سند سره روایت کړی دی .

۴- حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي : ددې حدیث طرق ( سندونه ) چې په یو مستقل کتاب کې د څلویښتو صحابه ؤ څخه ټول کړی دي چې په « لذة العیش فی طرق حدیث الأئمة من قریش » نوموړی دی .

لاندې امامانو په متواترو احادیثو کې راوړی دی :

۱-امام ابن حزم رحمت الله علیه .

۲-امام ابن تیمیة رحمت الله علیه .

۳- امام ابن الجزري رحمت الله علیه .

۴- امام علی القاري رحمت الله علیه .

۵- امام السیوطی رحمت الله علیه په : فی الأزهار المتناثرة فی الاحادیث المتواتره ، کتاب کې ذکر کړی دی .

۶- امام کتاني رحمت الله علیه په : فی نظم المتناثر فی الحدیث المتواتر.

ددې حدیث په معنی سره نو ر احادیث راغلي دي :

چې ټول تقریبا نهه احادیث کیږي ، او وروسته ټول یو په بل پسې ذکرکیږي .

پدې مسأله کې د فقهاء کرامو أقوال :

۱- د جمهورو علماؤ لکه : حنفیه رح ، مالکیه رح ، شافعیه رح ، حنابله رح ، أهل الظاهر رحمهم الله أجمعین ، دوی وایي : امام باید قرشي وي .

۲- شوافع او نور وایي : که قرشي نه وي بیابه کنایي امیر کیږي که هغه نه وي ، بیابه د بنو اسماعیل څخه وي ، که هغه هم نه وي بیابه أعجمي وي ، په یو قول کې جرهمي هم راغلی دی ، که هغه هم نه وي ، بیابه د اسحاق د او لادې څخه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – امام ابن حزم رحمت الله علیه وايي : که چیرې لفظ « الأئمة من قریش » د امر په صیغې سره وي نو د غیر قرشي ټاکل حرام دي ، او که په صیغه خبر سره وي نو بیا که غیر قرشي دعوی د خلافت وکړي نو ټاکل ورته نشته ( یعني په داوړه حالاتو کې باید قرشي وي ) . [34]

۴ – شهید عبد القادر عوده رحمت الله علیه وايي : د امامت حق مقید دی ، د الله جل جلاله تراطاعت پورې ، او دا یواځې په قریشو پورې محصور نده .[35]

۵ – د/ یحیی اسماعیل وايي : قرشی توب د کمال شرط دی د صحت شرط نه دی . [36]

۶ – د / قرضاوي رحمت الله علیه وايي : د قرشي توب شرط د قریشو د قوت په له منځه تللو د منځه لاړ ، همدغه د امام ابن خلدون رحمت الله علیه نظر هم دی ، ځکه حکم د علت سره په و جود او عدم کې یو ځای وي .

۷- شیخ عطیه صقر ویلي دي : د قرشي توب د شرط څخه مطلب تبرک ندی بلکې د امت د مصلحت لپاره د سلطان هیبت او د نفوذ وړاندې توب ، قوت طاقت مطلب دی .......... [37]

۸- شیخ شینقطي رحمت الله علیه ویلي دي : قرشی توب په شرط باندې ډیرو احادیثو دلالت کړی دی او عامو اهل العلم هدا نظر دی مګر د الله جل جلاله د دین د اقامت ، دهغه او د رسول صلی الله علیه وسلم په اطاعت پورې اړه لري خو که د الله جل جلاله د امر مخالفت یې وکړ نوغیر قرشي چې د الله جل جلاله اطاعت کوي او امر یې نافذوي د قرشي څخه غوره دی . [38]

دغه د دې بحث نچوړ او خلاصه ده او تفصیل یې په لاندې ډول دی :

## ۱-: باید داصلي اوخالصو قریشو څخه وي:

څکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: عن آنس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : الأئمةُ من قريشٍ ، [39]

ژباړه : حضرت آنس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړئ چې فرمايلی یې دي : باید امام له قریشو څخه وي : دا حدیث پدي لفظ سره امام احمد رحمت الله علیه ،امام نسايي

---

[34] - المحلی ج 1 ص 57 . شبکة الالوکة مقال د / طالب بن عمر بن حیدره الکثیری .

[35] - الاسلام واوضاعنا السیاسیة ص 125 .

[36] - منهج السنة فی العلاقة بین الحاکم و المحکوم ص 276 .

[37] - صقر عطیه فتوی بعنوان حدیث : الأئمة من قریش ، ( اسلام نیت )

[38] - اضواء البیان ج 1 ص 24 .

[39] - صحیح الجامع الصغیر په 2758 نمیر روایت کړی او صحیح یی بللئ دئ ، امام احمد رحمت الله علیه په 12329 نمبراو امام نسائی رحمت الله علیه په سنن کبری کی په 5942 نمبر په لږ اختلاف سره روایت کړی دئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام ابن أبی شیبه رحمت الله علیه ، امام ابویعلی رحمت الله علیه ، امام طبراني رحمت الله علیه په معجم کبیر ، امام حاکم رحمت الله علیه ، امام سعید بن منصوررحمت الله علیه ، امام أبوداود رحمت الله علیه ، امام طیالیسي رحمت الله علیه دحضرت علي او حضرت انس (رضی الله عنهما ) څخه روایت کړیدی .

عن معاویة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : إنَّ هذا الأمر في قریش لایعادیهم أحدٌ إلاّ أکبه الله في النّارِ علي وجههِ ما أقاموا الدّینَ[40]

ژباړه : امام بخاری رحمت الله علیه د حضرت معاویه رضی الله عنه څخه روایت کړی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : دغه کار دامامت به په قریشو کې وي هیڅوک به ددې کارمخالفت نه کوي مګر الله جل جلاله به یې دجهنم په اور کې پړمخې وغورځوي تر څو چې دوی ستاسو په منځ کې دین قائموي .

عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : لایزال هذا الأمر في قریش ما بقي منهم إثنانِ [41]

همدارنګه ابن عمر رضی الله عنهما روایت کړی چې فرمایلي یی دي : امامت به په قریشو کې ترهغه پورې وي ترڅو دخلکوڅخه دوه کسان هم پاتې وي .

وبتفصیلٍ أکثر للحاکم في مستدرکه، عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه، أنّ رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: «الأئمة من قریش، أبرارُها أمراءُ أبرارِها، وفجارُها أمراءُ فجارِها، ولکلٍّ حق، فآتوا کلَّ ذي حقّ حقَّه، وإنْ أمّرتُ علیکم عبداً حبشیاً مجدعاً، فاسمعوا له وأطیعوا، ...»[42].

او همدرنګه په زیات تفصیل سره امام حاکم رحمت الله علیه په خپل مستدک کې د علی بن أبی طالب رضی الله عنه هغه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړئ چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : اامامان دقریشوڅخه دي نیکان یې دنیکانو امیران دي او بدان یې د بدانوامیران دي که قریشو پرتاسې یو پرې کړل شوي پوزې والاحبشي غلام هم مقرر کړتاسو یې اطاعت وکړی او خبره یې

---

[40] - صحیح الامام بخاری رحمت الله علیه ، کتاب الاحکام په 7139 نمبر یی روایت کړئ دئ .

[41] - صحیح الامام بخاری رحمت الله علیه ، کتاب الاحکام په 7140 نمبر یی روایت کړئ دئ .

[42] -الحاکم: المستدرك علی الصحیحین، کتاب معرفة الصحابة، باب فضائل قریش، 85/4، حدیث 6962. ورواه الامام الطبراني رحمت الله علیه بنفس اللفظ في المعجم الصغیر،260/1، حدیث 425 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

واروی ...دا حديث شريف امام حاکم رحمت الله عليه اوامام بیهقي رحمت الله عليه دعلي رضی الله عنه څخه روايت کړي .

،او امام طبراني رحمت الله عليه په صحيح سند سره دعبدالله بن سائب رضی الله عنه څخه اوامام بزار رحمت الله عليه دعلي رضی الله عنه څخه په مرفوع ډول روايت کړی چې : عن عبد الله بن السائب رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : قدِّموا قريشًا ولا تَقَدَّموها [43]

دحضرت عبد الله بن سائب رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : قريش وړاندې کړی او په هغوی پی مه وړاندې کوی( قريش خپل امامان وټاکی) او همدارنګه عَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخِلَافَةُ فِي قُرَيْشٍ وَالْحُكْمُ فِي الْأَنْصَارِ......... [44]

ژباړه : عتبه بن عبدرضی الله عنه دپيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی چې فرمايلي دي : خلافت به په قريشو کې اومشورت به په انصارو کې وي ..... دا حديث امام احمد رحمت الله عليه امام طبراني رحمت الله عليه،امام ابن ابي عاصم رحمت الله عليه ، امام ابن عساکررحمت الله عليه دعتبه بن عبد رضی الله عنه څخه په صحيح سند سره راويت کړی دی .

امام احمد رحمت الله عليه او امام ابويعلی رحمت الله عليه په مر فوع حديث دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه نقل کړی چې فرمايلي يي دي : اي قريشو تاسو ددې کار لپاره اهل او وړياست تر څو چې لاره مونه وي ورکه کړي . او بدعت مونه وي اختيار کړی ، پدې کار سره صحابه کرام په سقيفه بني ساعده کې راټول شول کله چې انصارو وويل زموږڅخه دامير وي او ستاسې څخه دهم يو امير وي نو ابوبکر رضی الله عنه د مخکې حديث په استناد سره ددوی قول ردکړ ، نو انصارراضي شول اوويی ويل : تاسو امامان يئ اوموږ ستاسو وزيران يو.

امام نووي رحمت الله عليه ددې حديث په اړه ويلي دي : دغه او ددې په څير نوراحاديث پدې څرګند دليل دی چې بايد امامت يوازې په قريشو کې وي او پرته له دوی څخه هيچا ته دخلافت ورکول اوخليفه ټاکل روا ندي ، په همدې خبره دصحابه کرامو په وخت او له هغوی وروسته اجماع شوي ده

[43] -صحيح الجامع په 4382 نمبر سره روايت کړی دی ، او حديث صحيح دی.

[44] - مسند امام احمد رحمت الله عليه، مسند الشاميين نمبر د حديث شريف 17654 :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوچا چې ددې اجماع څخه وروسته دبدعتيانو او نورو مخالفينو څخه ددې مسألې په اړه څه وړاندې کول هغوی دصحابه کرامو اوبيا د تابعينو په اجماع سره د منلو وړندي [45]

### ۲- هغه څوک چې د مسلمانانو څخه ديو قاضي په توګه منل کيږي بايد مجتهد وي :

چې په فتوی غوښتنه او د نورو ورځنيو مسايلو په هکله بايد بل چاته اړنه وي پدې شرط سره دپخوا نه اتفاق شوی دی.

**مګرخلک داجتهاد په اړه سره مختلف دي** : يوه ډله علماء اجتهاد شرط بولي او ويلي يي دي په امام واجب دي چې ددين په اصولو او فروعو کې مجتهد وي تر څو وکولای شي فتوی ورکړي او احکام استنباط کړي دادي : امام ماوردي رحمت الله عليه ،امام ابويعلی رحمت الله عليه او امام جويني رحمت الله عليه ، امام غزالي رحمت الله عليه اوامام بيضاوي رحمت الله عليه نظردی امام ابن خلدون رحمت الله عليه  پخپله مقدمه کې دا نظر د يوې ډلې څخه ياد کړيدی .

امام شهر ستاني رحمت الله عليه ويلي دي : داهل سنتو څخه يوه ډله داجتهاد د نه شرطوالي خواته اوښتي او ميلان يی کړئ دئ په ځانګړي ډول په وروستنيو وختونوکې تردې چې دايي روا وبلل چې امام د مجتهد نه وي مګر داتکی واجب دی چې بايد له ده سره داسې مجتهدين موجود وي چې دفتوی او احکامويه اړه ورته مراجعه کوي . [46]

### ۳- بايدامام دتجربې او ښه نظر خاوند وي:

ترڅو ملت ښې او سمې لارې ته رهبری اودهغوی دنيوي ګټوته سم پام وکړي ځکه خليفه چاروکې د مرکزيت حيثيت لري او همدارنګه خليفه بايدپه جګړه او عسکري نظام پوره پوه دسنګرونو پوره ساتنه او اسلامي سيمې دساتنې اوحفاظت اواسلامي امت څخه دکفردتيري دفع کول دظالم څخه انتقام اوغچ اخستل دمظلوم لپاره حق ورکول هم دخليفه ګانو دکارونو څخه دي پخوايې ويلي دي لکه لاندې شعر :          ژباړه :

دزړورو دزړورتيا څخه وړاندې بايد ښه پام وشي  - ځکه فکر کول لومړی او زړورتيا دوهم ځای لري

---

--39 - شرح امام مسلم  رحمت الله عليهج 12 ص 441-442. کتاب الامارة . ،غياث الا مم للجويني ٦٢٢ -٦٢٣ ، احکام سلطاني للما وردي  فتح الباري ج١٣ص١١٣-١٢١ مقدمه ابن خلدون ص.١٧٣.

[46] - غياث الامم ص 63 ، اصول الدين للبغدادی ص ، احکام سلطانی ماوردی ص 6 ، مقدمه ابن خلدون ص 173

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې پام او زړورتیایوه ازاد شخص کې یوځای شي--نودا به اوچت ځای اوجګ مقام ته ورسیږي کله هم یوځوان پخپلو همزولو باندې وړاندې شي -دا وړاندې والی په ښه فکرنه په کبر اوغرور سره کیږي.

## ٤- باید امام دحدودوپه پلي کیدو :

اودغاړو په وهلو او پوستکو په پرې کولو کې نرموالی او ویره احساس نه کړي ددې دلیل دصحا به کرامو رضی الله عنهم اجماع ده ..

## ٥:- امام بایدآزادوي :

–امام ماوردي رحمت الله علیه ویلي دي: دریم شرط آزادي ده ځکه چې مریي پخپل ځان ولایت نلري نو دا کار ددې کار خنډکیږي چې په بل چا دحاکم وټاکل شي ، ځکه چې دمریی ګواهي او شهادت نه قبلیږي نو داغوره ده چې دحکم دپلي کیدو امامت څخه هم منع کړی شي[47]

نو دامام دآزادی او اسلام په شرط ګرځیدوکې څه پټوالی نشته .

## ٦:- امام باید مسلمان وي دا شرط دي .

## ٧:- امام باید نارینه وي :

ټول اسلامي امت دلوی امامت او دمسلمانانو د او چت چار و وا کې (خلافت ) لپاره دنارینتوب په شرطوالي سره اتفاق کړی دی نو دښځي لپاره دهیواد مشري کول ناروا دي . – عن أبی بکرة نفیع بن الحارث عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لن یُفْلِحَ قومٌ ولَّوْا أمرَهَمُ امرأَةً[48]

دحضرت أبوبکرة نفیع بن حارث رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرما یلي دي : هیڅکله به هغه قوم بریالی نشي چې ښځه یي د چارو واکداره اومشره وي . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ،امام احمد رحمت الله علیه،امام ترمذي رحمت الله علیه ، امام نسایي رحمت الله علیه د حضرت ابوبکره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی او بل دا چې ښځه د عقل او دین له پلوه نا قصه ده .او اسلامي امت پدې اتفاق کړی چې دښځي امامت روا ندی .......

---

[47] - احکام سلطانی ص 65.

[48] - صحیح الامام بخاری رحمت الله علیه په 4425 نمبر سره یی روایت کړی دی ، صحیح الجامع 5252 نمبر راوړئ دی ،. حدیث شریف صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸:- دامام دبدن اعضاء (غړي ) با يد سالم او صحيح وي .**

**۹:- امام بايد بالغ وي:**

ځکه چې ماشوم مکلف ندی او دقضا لپاره يې تاکل هم روانديٍ ، دخپل ځان اختيار نلري نو څنګه به دبل چا اختيار لرلی شي ،له همدې امله امام بخاری رحمت الله عليه پخپل صحيح کتاب کې په مرفوع سند سره د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړی چې : زما دامت هلاکت او تباهي به دقريشو د ماشومانو په لاس کې وي ، دامام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه سره په مصنف کې راغلي چې : ابو هريره (رضی الله عنه به په بازار کې روان وه او ويل به يې :(اي الله جل جلاله شپيتو کلونو عمر ته مې مه رسوې او دماشومانو پاچاهي مه راوينې .

**۱۰:-امام بايد عاقل وي :**

نو دليوني پاچاهي روانده ، امام ماوردي رحمت الله عليه وېلي : عقل دوهم هغه شرط دی چې اتفاق پرې شوی يوازې هغه عقل بسوالی نه کوي چې انسان پرې مکلف ګرځي او دضروري څيزونو علم پرې حاصليږي تردې چې دصحيح تميز غوره عقل ،ځيرکوالي، سهوې او غفلت څخه ليرې والي ښه يی. [49]
په نهم او لسم شرط کې هيڅ اختلاف نشته ..

**۱۱:-امام بايد عادل وي:**

عدالت دمکلف انسان دحالاتو برابر ښت دی چې هغه کار سرتري ونه وهي چې پدې يې څرګندوي او عدالت په تقوی او صلاح کې را ټوليږي ځکه چې پاچاهي او امامت دلويو امانتونو څخه دی او فاسق امين ندی اونه يې روايت قبليږي .. امام ماوردي رحمت الله عليه وېلي : په ټولو امامتونو کې عدالت معتبر او معتمد څيزدی .

**عدالت دادی** : چې انسان بايد درښتينې لهجې ،امانت ته پوره پام کوونکی ، دټولو حرامو او ناروا و څخه پاک دګناهو نو څخه ځان ساتونکی دشک او شبهې څخه لري ، دغوصې او رضا په دواړو حالتونو کې مينه ناک . په خپل ديني اودنيوي کار کې د مرمت او ځوانمردی کار وونکی و ي [50].

ځکه چې داسلامي امت په منځ کې پدې هکله هيڅ اختلاف نشته چې دفاسق لپاره دامامت ټاکل اوهغه امام ګرځول رواندي.[51]

---

[49] - احکام سلطانی ص 65.

[50] - احکام سلطاني ص 66.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې علماى كرامو دځينو شرطوونوپه اړه لكه :

**۱ـ اجتهاد او دغړوجوړوالئ مخالفت څرګند کړی .**

امام ابن حزم رحمت الله عليه ويلي : دامامت په هغو شرطونو کې بايد کتنه و شي چې امامت پرته دهغو دشتون څخه نه رواكيږي نو دا شرط مو داسې وموندچې : بايد اصلا دقريشو څخه وې ځکه چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم خبر ورکړی دی چې امامت په قريشو کې دی.

**۲:ـامام بايدبالغ وي :**

دښه اوبد ترمنځ توپير وكړي.ځكه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فر مايلي دي : ددري كسانو څخه قلم پورته دی او بد اعمال يې نه ليكل كيږي : ماشوم ترڅو چې بالغ نه وي او ليونی ترڅو چې روغ نه وي.

**۳ـامام بايد نارينه وي :**

ځكه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : هغه قوم به بريالی نشي چې خپله مشري يې ښځې ته سپارلې وي .

**٤:ـامام بايد مسلمان وي :**

څكه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا)) [52] سوره النسا آيت ۱٤۱ :

ژباړه : او هيڅ كله الله جل جلاله د كافرانو لپاره په مؤمنانو باندې كومه لاره نده ګرځولې ( څه حكم او امر د كفارو په مومنانو نشته ) .

ژباړه :- خلافت ډيره لويه لار ده، او الله جل جلاله پدې سره امركړی چې اهل كتاب دجزيو اخستلو په وخت كې ذليل كړي، او هغه كفار چې داهل كتابوڅخه نه وي ، ويې وژنی تردې چې مسلمانان شي .

- تفسير قرطبي ج 12ص 285-286. تفسير ابن كثير ج 1 ص 110، احكام سلطانى ماوردى ص 6،غياث الامم ص 76، حاشية ابن عابدين ج 1ص 548 . [51]
- سورت النساء آيت 141. [52]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵:-امام باید یوداسې عالم وړاندې کړي :**

چې ددین په هغه ضروریاتو او فرایضو پوه وي، دالله جل جلاله څخه ویریدونکی اوپه ټولنیزډول په څمکه کې دفساد ښکاره کوونکی نه وي ، څکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. [53]

ژباړه :-څکه چې دهغه چا وړاندې کیدل چې دالله جل جلاله څخه په هیڅ شي کې نه ویریږي او په څمکه کې فساد او منکرات ښکاره کوي هغه د ډاډ وړندي او یا هغه څوک چې دخپل دین څخه معلومات نلري، نو یقینا یې په ګناه او تیري کې مرسته ورسره وکړه دنیکئ او تقوی مرسته یې ونکړه ، بیشکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :- عن عائشة رضى الله عنها عن النبى صلى الله عليه وسلم قال : مَن أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هذا ما ليسَ فِيهِ، فَهو رَدٌّ . [54] متفق عليه .

ژباړه : چاچې داسې یو کار وکړ چې زموږدلارې مخالف وه هغه کارېې رداو نامنلی شویدی . دغه حدیث امام بخاری رحمت الله ، امام احمد رحمت الله علیه ، امام أبوداود رحمت الله علیه،

امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه او امام ابن ابي شیبه رحمت الله علیه روایت کړي دی .

عن أبى ذر الغفارى عن النبى صلى الله عليه وسلم فقال : يا أبا ذَرٍّ، إنِّي أراكَ ضَعِيفًا، وإنِّي أُحِبُّ لكَ ما أُحِبُّ لِنَفْسِي، لا تَأَمَّرَنَّ علَى اثْنَيْنِ، ولا تَوَلَّيَنَّ مالَ يَتِيمٍ. [55]

د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه څخه روایت دی چې حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل :-ای ابوذره ! ته کمزوری یې، ددوه کسانو مشري مه کوه، او هیڅکله د یتیم د مال سرپرستي مه کوه .

او الله جل جلاله فرمايلي دي: فَإن كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا . [56]

ژباړه :- .نو هغه څوک چې حق یې پرذمه وي کم عقل یا ناتوان وي .

نو داصحیح اوسمه خبره ده چې که عقل یې کمزوری وي او هغه څوک چې خپل کار نشي کولی باید ولي او سرپرست ونه نیول شي او هغه څوک چې حتما باید ولي او سرپرست ولري نو ده ته ندي روا چې د مسلمانانو سرپرست او مشرشي او دا صحیح خبرده چې په چاکې چې دغه اته شرطونه پوره نشي

---

- سورت مائدة آيت 2. [53]
- صحیح الامام بخاری رحمت الله علیه نمبر حدیث 2697 ، صحیح امام مسلم رحمت الله علیه1718 . والحدیث صحیح . [54]
- صحیح امام مسلم رحمت الله علیهص 1826. والحدیث صحیح . [55]
- سورت بقرة آيت 282 . [56]

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرپرستي يي باطله او ناروا ده او هيڅکله يي سرپرستي او امامت منځه ته نه راځي بيا دا کار مستحب دی چې ددیني وړو وړو مسألو له عباداتو ،سیاست او احکامو څخه خبر وي فرايض په پوره ډول سره سرته ورسوي او هيڅ کمبود په کې رانشي ټولې لويي ګناوي که پټې وي يابښکاره او همدارنګه له وړې ګناه هم ځان ترې وژغوري نو دغه څلور واړه صفات دي چې انسان يي بد ګڼي او غواړي دمسلمانانو خليفه بايد ځان ترې وساتي که يي بيا هم مشري واخسته نو خلافت يي صحيح دی او دغه صفات يي بدبولو او په هغه کې چې دالله جل جلاله پيروي کوي اطاعت يي واجب دی او په هغه څه چې دالله جل جلاله پيروي نه کوي بيا هم دفاع کول ترې واجب دي پدې کې اصلي هدف او موخه داده چې :- په خلکو او رعيت باندې پرته له ضعف او کمزورتيا څخه نرمي کوونکۍ وي ،دمنکر په له منځه وړلوکې دشدت څخه پرته او دواجبو نه دتيري کولو پرته کلک وي ،ويښ او بيدار به وي دلاوراوغيرتي نفس لرونکی دخپل ځان لپاره به دحق مال منع کوونکی نه وي . اوهمدارنګه به د هغه مال په اړه چې حق يي نه وي ، زيات مصرف کوونکی ( اسراف کوونکۍ ) نه وي .

دغه ټول پدې کې راټوليږي چې :-امام بايد دقران کريم په احکامو او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په سنتو برابر وي ددغه کار ټول ښه والۍ اوغوره والۍ راټولوي .او دغه کار امام ته زيان نه رسوي چې په جوړښت او خلقت کې يي څه عيب او کمبودي وي .لکه : ړوندوالی اوګونګوالی،پوزه يي پرې وي غوږ يي پرې وي يا هغه چې دواړه لاسونه او دواړه پښې يي نه وي يا زوړ وي مګر پوهيږي اګر که سل کلن هم وي اوڅوک چې بي هوشه کيږي او بيا بيرته رابيداريږي ، او څو ک چې دمجرد بلوغ ته رسيدوسره سم بيعت ورسره کيږي او دامامت شروط په کې وي نو ددغه ټولو يادشووکسانو امامت صحيح او سم دی ځکه چې نه د قران کريم نص ،او نه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سنت ،نه اجماع ،نه رای (نظر) او نه هم دليل ددې څخه ممانعت کړی دی .بلکه الله جل جلاله فرمايلې دي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ .[57] النساء ايه٨

ژباړه :- ای مومنانو په عدالت سره عمل وکړی ، چاچې عدل وکړ بيشکه دالله جل جلاله امريي پرځای کړ ،دټولو مسلمانانو ترمنځ پدې کې هيڅ اختلاف نشته چې خلافت په ميراث نه ورکول کيږي او نه دپلار په ځاي زوی اونه څو ک دچا څخه وروسته په موروثي ډول خليفه ټاکل کيږي او همدارنګه د ماشوم لپاره خلافت روا ندی خو يو اځي روافض دي چې دا دواړه کارونه يي روا بللي دي او بل دا چې

[57] - سورت النساء آيت 135 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهيچا ترمنځ پدې کې اختلاف نشته چې دښځې لپاره خلافت رواندئ ، دالله جل جلاله څخه مرسته غواړو . [58]

پاچايان په څو ډوله دي ځيني يي عادل مسلمان ، ځيني يي : فاسق ظالم او تيرئ کوونکي اوځيني بيا کافر اوددين څخه وتلي ،دلته يوازي اول قسم ذکر کوو چې څه مسوليتونه لري او په امت يي څه حقوق دي دالله جل جلاله څخه پدې اړه‌لارښوونې او مرستې غوښتنه کوو ................... امير بايد مسلمان او عادل وي :

بيشکه سپيڅلې شريعت بيان کړى چې : مسلمان عادل امير دالله جل جلاله په وړاندې تر نورو خلکو ډيره اوچته مرتبه لري اوده ته دالله جل جلاله په نزد لوى فضبلت او ډير ثواب دى چې يوازې الله جل جلاله پرې پوهيږي لدې څخه :

**١ :-هغه عادل امام چې دخلکو په منځ کې په حقه فيصله کوي او عدل قايموي :**

هغه به دقيامت په ورځ دالله جل جلاله دعرش تر سيوري لاندې وي په کوم وخت کې به چې پر ته د الله جل جلاله دسيوري څخه بل سيورى نه وي .

وعن أبي هريرة رضى الله عنه قالَ: قالَ رسُولُ اللَّه ﷺ :سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ في ظِلِّهِ يَوْمَ لا ظِلَّ إلَّا ظِلُّهُ: إمامٌ عادِلٌ، وشابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّه تَعالى، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ في المَسَاجِدِ، وَرَجُلانِ تَحَابَّا في اللَّه: اجتَمَعا عَلَيهِ، وتَفَرَّقَا عَلَيهِ، وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ، وَجَمَالٍ فَقَالَ: إنِّي أَخافُ اللَّه، ورَجُلٌ تَصدَّقَ بِصَدَقَةٍ فأَخْفَاها، حتَّى لا تَعْلَمَ شِمالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينهُ، ورَجُلٌ ذَكَرَ اللَّه خالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ متفقٌ عَلَيْهِ[59].

ژباړه : د حضرت أبوهريرة رضى الله عنه څخه روايت دئ چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي : اووه کسان به دالله جل جلاله دسيوري لاندې وي په هغه ورځ چې دالله جل جلاله دسيوري پرته به بل سيورى نه وي ، له دوى څخه يي يو عادل امير ياد کړى دى .... دا حديث امام بخارى رحمت الله عليه ،امام مسلم رحمت الله عليه امام احمد رحمت الله عليه ،امام نسايي رحمت الله عليه ،امام ترمذي رحمت الله عليه ،دأبوهريرة او أبو سعيد خدري رضى الله عنهما څخه روايت کړى دى

- الفصل فى الملل و النحل ج 4 ص 129. [58]
- صحيح الامام بخارى رحمت الله عليه نمبر 6806، او صحيح امام مسلم رحمت الله عليه نمبر 1031 . روايت کړى دى . [59]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲:-عادل امام به دقیامت په ورځ دنور او رڼا په منبر باندې :**

دالله جل جلاله ښي اړخ ته ناست وي او دالله جل جلاله دواړه بلاکیف لاسونه یمین دي ،

إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ علَى مَنابِرَ مِن نُورٍ، عن يَمِينِ الرَّحْمَنِ عزَّوجلَّ -وكِلْتا يَدَيْهِ يَمِينٌ- الَّذِينَ يَعْدِلُونَ في حُكْمِهِمْ وأَهْلِيهِمْ وما وَلُوا. رواه امام مسلم رحمه الله وهو من أفراد امام مسلم رحمه الله على الامام بخارى رحمه الله . [60]

ژباړه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :- هغه کسان چې عدل کوي دالله جل جلاله سره به درڼا په منبرونو ،ښي اړخ ته به ناست وي او دواړه بلا کیف لاسونه یي یمین دي دا هغه کسان دي چې پخپلو فیصلو خپلوکورونواو تر خپل لاس لاندي خلکو کې عدل کوي ،دا حدیث امام مسلم رحمت الله علیه،امام احمد رحمت الله علیه،او امام نسایي رحمت الله علیه ،دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت کړیدی.

عن أبي سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن أحب الناس إلى الله يوم القيامة وأدناهم منه مجلسا إمام عادل، وأبغض الناس إلى الله وأبعدهم منه مجلسا إمام جائر» [61]

ژباړه : دابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- بیشکه چې الله جل جلاله ته دقیامت په ورځ ډیرګران اونیږدې دخلکو څخه هغه ته ، الله جل جلاله ته دناستې او مجلس له پلوه عادل امام دی . او همدارنګه ډیر بد د خلکو څخه الله جل جلاله ته د قیامت په ورځ او ډیر سخت عذاب والا ظالم امیر یا امام دی . داحدیث امام احمد رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه ،په سننواو شعب الایمان کې اوامام ترمذي رحمت الله علیه روایت کړیدی اوویلي یي دي دغه حدیث حسن او غریب دی (بلکې حدیث ضعیف دی) خو حدیث د تحسین احتمال لري ځکه چې په څو سندو نو سره راغلی او فضیل بن مرزوق وقاصي په کې دی، امام ذهبي رحمت الله علیه په ضعفاءکې ذکر کړی او وویلي یي دي : دغه حدیث امام ابن معین رحمت الله علیه او نورو امامانو ضعیف بللی دی . او همدارنګه دغه حدیث دعطیه العوفی په سند سره هم راغلی ، امام ابن قطان ویلي دي :ضعیف کړی شوی دی ، امام ذهبي رحمت الله علیه ویلي : ضعیف یي بللی ، ابن قطان ویلي :حدیث حسن دی اوصحیح ندی .

---

- صحیح امام مسلم رحمت الله علیهنمبر 1827 ، والحدیث صحیح . [60]
- سنن الامام ترمذی رحمت الله علیه، أبواب الاحکام فی الامام العادل حدیث نمبر 1329 . [61]

(c) ketabton.com: The Digital Library

عن عمر بن الخطاب عن النبی صلی الله علیه وسلم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : أفضلُ الناسِ عند اللهِ منزلةً يومَ القيامةِ إمامٌ عَدْلٌ رفيقٌ، وشَرُّ عبادِ اللهِ منزلةً يومَ القيامةِ إمامٌ جائرٌ خَرِقٌ [62]

امام طبراني رحمت الله علیه دعمر رضی الله عنه څخه مرفوعا پدې لفظ سره روایت کړي چې الله جل جلاله دغوره بندګانو څخه دقیامت په ورځ دمرتبې او منزلت له پلوه عادل او نرمي کوونکی امام (پاچا )دی او دالله جل جلاله دبدترینو بندګانو څخه دقیامت په ورځ ظالم او سختي کوونکی امیر یعني پاچا دی .

دغه سند ابن لهیعه په یوازیتوب سره روایت کړی او دحدیث لپاره بل سند دامام ابو یعلی رحمت الله علیه او امام طبراني رحمت الله علیه سره دابو سعید خدری رضی الله عنه نه په مرفوع ډول پدې لفظ سره روایت شوی چې :عن أبی سعید الخدری رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أشدُّ النَّاسِ عذابًا يومَ القيامةِ إمامٌ جائرٌ[63]

ژباړه : سخت ترین عذاب به دقیامت په ورځ دظالم پاچاوي .

### ۳:-دامام لپاره به ډیر لوی اجر وي :

که چیرې دالله جل جلاله څخه دویرې اوتقوی په خاطر باندې امر وکړي او دالله جل جلاله په حکم کې عدل او انصاف وکړي .

عن أبی هريرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : ........وإنَّما الإمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِن ورَائِهِ ويُتَّقَى به، فإنْ أمَرَ بتَقْوَى اللَّهِ وعَدَلَ، فإنَّ له بذلكَ أجْرًا وإنْ قالَ بغَيْرِهِ فإنَّ عليه منه[64]. متفق علیه .

ژباړه : حضرت أبو هريرة رضی الله عنه ویلی دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : امام ډال او سپر دئ چې ترشاه به یی جګړه کیږي او په همدې سره د ځان ساتنه کیږي که چیرې په تقوی

---

[62] - السلسلة لضعیفة نمبر 1157 ، شیخ البانی وایی : حدیث ضعیف دی .
[63] - ضعیف الترغیب نمبر حدیث 1319 .
[64] - اخرجه الامام بخاری رحمت الله علیه برقم :2957 ، و امام مسلم رحمت الله علیه برقم : 1835

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره امر وکړي او په پریکړه کې عدل او انصاف وکړي پدې سره ده ته اجر ورکول کیږي ، او که په بل څه سره امر وکړي نو دئ ګناهکار دی . دا حدیث شریف امام بخاری رحمت الله علیه،امام مسلم رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه، او امام نسائی رحمت الله علیه روایت کړئ دئ .

### ۴- د عادل امام دعاء نه ردیږي:

دا د الله جل جلاله په وړاندې د ده د کرامت او منزلت له وجهی څخه .

عن أبی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال قال الرسول صلی الله علیه وسلم : ثلاثةٌ لا تُرَدُّ دعوتُهم : الصَّائمُ حتَّى يُفطِرَ ، والإمامُ العادِلُ ودَعوةُ المَظلومِ ، يَرفَعُها اللهُ فوقَ الغَمامِ ، وتُفتَحُ لها أبوابُ السَّماءِ ويَقولُ الرَّبُّ : و عِزَّتي وجَلالي لأنصُرَنَّكِ ولَو بَعدَ حينٍ[65]

دحضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : دري کسان دي چي ددوي دعوت او غوښتنه نه ردیږي عادل امیر ، روژه دار ترڅو یي روژه ماته کړي نه وي ، دمظلو م دعوت او غوښتنه ، الله جل جلاله یی د قیامت په ورځ د وریځو څخه اوچته پورته کوي او داسمان دروازي ورته خلاصیږي او الله جل جلاله فرمایي :- زما دپخپل عزت سوګند وي چي حتما به ستا مرسته کوم اګر که لږ وروسته هم وي بیشګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : امام ډال او سپر دی چې ترشا به یي جګړه کیږي او په همدې سره دځان ساتنه کیږي که چیرې په تقوی سره امروکړي اویه پریکړو کې عدل او انصاف وکړي پدې ورته اجر ورکول کیږي اوکه په بل څه سره امر وکړي نو دی ګناهکار دی . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه او امام نسایي رحمت الله علیه روایت کړیدی.

ددې حدیث شریف څخه لاندې احکام لاسته راځي :

١- په حدیث شریف کې د امیرانو اطاعت او دهغوی د نافرمانی څخه ډډه کول .

---

65 - ضعیف الترغیب برقم 583 . شیخ البانی وایی : حدیث ضعیف دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- پدې کې دامیرانو په ظلمباندې صبر کول .

۳- باید د امیر او خلیفه تر شا په جګړه کې برخه واخستل شي .

په بل حدیث شریف کې راغلي دي :

فرواه الامام طبراني رحمت الله علیه في الدعاء والبیهقي في الشعب من حدیث أبي هریرة .رضي الله عنه . ولفظه :ثَلاَثَةٌ لَا يَرُدُّ الله دُعاءَهُمْ: الذَّاكِرُ الله كَثِيراً، والمَظْلُومُ، والإمامُ المُقْسِطُ . وحسنه الألباني في صحیح الجامع [66]

ژباړه : دحضرت أبوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : دری کسان دي چې الله جل جلاله یی دعا قبلوی او نه یی ردوي ، یو هغه شخص چې د الله جل جلاله ډیر ذکر کوي ، بل مظلوم او دریم عادل امام ، دغه حدیث امام طبرانی رحمت الله علیه امام بیهقي رحمت الله علیه په شعب الایمان کې روایت کړئ دئ ، او شیخ الباني رحمت الله علیه په صحیح الجامع کې حسن بللئ دئ.

**د مسلمان امام وظایف (دندي ):**

مسلمان امام دندې لري چې باید ترسره یي کړي او ده لره حقوق او امتیازات دي چې باید ورکړل شي هغه دندې په قراني آیاتونو او نبوي احادیثو کې ذکر شوي چې په لنډ ډول یي وړاندې کوو

**لومړي دنده :-**

دعدل او حق قایمول دخلکو تر منځ دشخړو ختمول د الله جل جلاله دسپیڅلي شریعت سره سم حکم کول ،دحدود و قایمول ، دشرعي احکامو سره سم دحدودو پلي کول : الله جل جلاله فرمایلي :-

إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ .... [67]

---

[66] - صحیح الجامع 1211.

[67] - سورت النساء آیت 58 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :- داد الله جل جلاله له پلوه پاچایانو ته امر دی چې د خلکو په منځ کې په عدل او انصاف سره پریکړه وکړی کوم چې الله جل جلاله د اووه اسمانونو دپاسه رالیږلی دی.

په حدیث شریف کې راغلي دي :-یقینا الله جل جلاله تر هغه وخته دپاچایانو قاضي ملګری وي چې ظلم یې نه وي کړی خو کله چې ظلم وکړي بیا یې الله جل جلاله دهغه خپل ځان ته وسپاري . دا حدیث امام ترمذي رحمت الله علیه اوامام حاکم رحمت الله علیه روایت کړئ او دواړو حسن بللئ دئ ، او امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه او امام بیهقي رحمت الله علیه دعبدالله بن أبي أوفى رضی الله عنه څخه پدي لفظ روایت کړی چې : -

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله مع الحاکم مالم یجر فاذا جار وکل علی نفسه

ژباړه : رسو الله صلی الله علیه وسلم فر مایلی دي : بیشکه الله جل جلاله دقاضي سره تر هغه ملګري وي چې ظلم یې نه وي کړي .

عن عبد الله بن أبي أوفى قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الله مع القاضي ما لم يجر، فإذا جار تخلى عنه ولزمه الشيطان»: هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من حديث عمران القطان[68]

امام بیهقي رحمت الله علیه زیاته کړي چې : دحضرت عبد الله بن أبی أوفى رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : الله جل جلاله د قاضی ملګر ئ او حامی تر هغه وخته وي ترڅو چې ظلم و نه کړي کله چې ظلم وکړي الله جل جلاله یې پریږدي او شیطان ورسره ملګري شي.

امام ابن ماجه رحمت الله علیه زیاته کړي : کله چې ظلم وکړي الله جل جلاله تري بیزاره شي )، امام ترمذي رحمت الله علیه وپلي : دغه حدیث حسن او غریب دي موږ یې دعمران القطان دحدیث څخه پرته دبل چا له لوري نه پیژنو . امام ابن حجر رحمت الله علیه وپلي : پدي کې څه خبره شته مګرمتروک ندي اوامام بخاری رحمت الله علیه استشهادپري کړي .همدرانګه امام ابن حبان رحمت الله علیه او امام حاکم رحمت الله علیه یې احادیث ذکر کړي [69].

په یو اثر کې راغلي :- دیوي ورځې عدالت دڅلوښتو کالو عبادت څخه غوره دي)[70]

- سنن الامام ترمذی رحمت الله علیهنمبر 1330، أبواب الاحکام باب ماجاء فی الامام العادل .[68]
- تلخیص الحبیرج 4 ص 181. [69]
- ابن کثیر تفسیر ج 1 ص 782 . [70]

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله فرما یلي يې دی : (وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ)[71]

ژباړه:-او راولیږو موږتاته ای محمد صلی الله علیه وسلم کتاب د حق سره چې تصدیق کوونکی دی د هغه څه چې موجود دی په وړاندې دده د کتاب نه او محافظ دی په هغه کتاب نو فیصلې کوه په منځ ددوی کې مطابق دهغه قانون چې نازل کړی دی الله او مه کوه پیروي د خواهشاتو ددوی .

عن أبی هريرة وزيد بن خالد الجهنی رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : -إنَّ رَجُلًا مِنَ الأعْرَابِ أَتَى رَسولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ، فَقالَ: يا رَسولَ اللهِ، أَنْشُدُكَ اللَّهَ إلَّا قَضَيْتَ لي بكِتَابِ اللهِ، فَقالَ الخَصْمُ الآخَرُ: وَهو أَفْقَهُ منه نَعَمْ، فَاقْضِ بيْنَنَا بكِتَابِ اللهِ وَأْذَنْ لِي، فَقالَ رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ: قُلْ، قالَ: إنَّ ابْنِي كانَ عَسِيفًا علَى هذا، فَزَنَى بامْرَأَتِهِ، وإنِّي أُخْبِرْتُ أنَّ علَى ابْنِي الرَّجْمَ، فَافْتَدَيْتُ منه بمِئَةِ شَاةٍ وَوَلِيدَةٍ، فَسَأَلْتُ أَهْلَ العِلْمِ، فأخْبَرُونِي أنَّما علَى ابْنِي جَلْدُ مِئَةٍ، وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَأنَّ علَى امْرَأَةِ هذا الرَّجْمَ، فَقالَ رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بيَدِهِ، لأَقْضِيَنَّ بيْنَكُما بكِتَابِ اللهِ، الوَلِيدَةُ وَالْغَنَمُ رَدٌّ، وعلَى ابْنِكَ جَلْدُ مِئَةٍ، وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَاغْدُ يا أُنَيْسُ إلى امْرَأَةِ هذا، فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا. قالَ: فَغَدَا عَلَيْهَا، فَاعْتَرَفَتْ، فأمَرَ بهَا رَسولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عليه وسلَّمَ فَرُجِمَتْ[72].

ژباړه : حضرت ابوهريرة رضی الله عنه او زيدبن خالد الجهني رضی الله عنه وایي چې : یو بانده چې وویل : اي د الله رسوله زموږ ترمنځ دالله جل جلاله په کتاب پریکړه وکړه دبانده چې دښمن پا څیده اوویي ویل : رښتیا یي وویل زموږ تر منځ دالله جل جلاله په کتاب فیصله وکړه . نواعرابي وویل : - زما ځوی دده سره مزدور وه دده د ښځې سره یي زنا وکړه ، نوماته یي وویل : ځوی درجم ( سنګ سار ) کیږي نو دځوی یی دفدیي په مقابل کې چې سل پسونه او یوه نجلی ده ورکړه بیامې دعلماوو څخه

- سورت المائدة آیت 48 . [71]
- صحیح امام مسلم رحمت الله علیه رقم 1367 . والحديث صحيح . [72]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وکړه هغوی وویل : په ځوی دسل ډري او یو کال دوطن څخه شړل دي نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : - ستاسو ترمنځ به حتما دالله جل جلاله په کتاب سره فیصله کوم ،.پسونه او نجلی بیرته تاته درکول کیږي او په ځوی دسل دري او دیو کال تبعید دی اوته اي أنیسّ : هغه سړي ته یي وویل : ددغه سړي ښځي ته سبا ورشه که یي اقرار وکړ نو په تیږویي مړه کړه سبا هغي ښځي ته ورغی هغې په خپل جرم اقرار وکړو او سنګساره یي کړه دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه او امام مسلم رحمت الله علیه یو بل ته په نږدې الفاظو روایت کړی دئ او دغه لفظ د امام مسلم رحمت الله علیه دئ .

وعن أبی ذر رضی الله عنه أنه قال للنبی صلی الله علیه وسلم ، قُلتُ: يا رَسولَ اللهِ، أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي؟ قالَ: فَضَرَبَ بيَدِهِ علَى مَنْكِبِي، ثُمَّ قالَ: يا أَبَا ذَرٍّ، إنَّكَ ضَعِيفٌ، وإنَّهَا أَمَانَةُ، وإنَّهَا يَومَ القِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ، إلَّا مَن أَخَذَهَا بحَقِّهَا، وَأَدَّى الذي عليه فِيهَا[73].

ژباړه : دحضرت أبوذر غفاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ایامانه مقرروي ؟ یعني ماته وظیفه نه راکوي ؟ نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : - اي أبوذره ته کمزوری یي او وظیفه امانت دی اودا دقیامت په ورځ افسوس او پښیمانتیا ده . مګر هغه څوک چې په حق سره یي واخلي او هغه څه ادا کړي چې ورسپارل شوي ده دا حدیث امام مسلم رحمت الله علیه ،امام احمد رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، او امام منذري رحمت الله علیه په ترغیب اوترهیب کي روایت کړی او په عام ډول ندی راغلی بلکې دهغه چاله اړوند چې عدل نه کوي په خپل امارت کې دالله جل جلاله حق نه پلی کوي او له همدې امله امام نووي رحمت الله علیه ددې په شرحه کې ویلي دي :- دوظیفې اخستلو څخه دځان ژغورنې په هکله دا

---

[73] - صحیح امام مسلم رحمت الله علیه رقم الحدیث : 18.25، والحدیث صحیح .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث شریف یو لوی اصل دی په ځانګړي ډول دهغه چاپه باره کی چې کمزوری وي او دخپلې وظیفې حق نه شي ادا کولی مګرذلت او پښیمانتیا دهغه چاپه باره کې ده چې دوظیفې سرته رسولو توان اوورتیا نلري یا دوظیفې وړوي خو په هغوی کې عدل نکوي مګر هغه څوک چې دامارت او مشری وړ وي اوبیا په هغې عدل هم وکړي نوده لره ډیر زیات اجراوثواب دی پدې هکله ډیر زیات احادیث او دلایل شته مګر ددندې په ورننوته کې هم لوی خطرشته له همدې سببه لویو امامانو او محدثینوترې ممانعت کړی دی امام شافعي رحمت الله علیه دمامون غوښتنه ونه منله کله یې چې دشرق او غرب دقضاء لپاره وغوښت او همدارنګه امام ابو حنیفه رحمت الله علیه هم دخلیفه منصور غوښتنه ردکړه کله یې چې دقضا منلو ته وغوښت بیایې بندي کړ او په بندیخانه کې یې ډیر وکړاوه اوویې واهه،اوهغه لوی امامان چې دوظیفې اخستلو څخه یې انکار کړی ډیرزیات دي [74]

-أخرجه الامام طبرانی رحمت الله علیه و البزار بسند صحیح عن عوف بن مالک الاشجعی مرفوعا:

قال: أوَّلُها مَلامةٌ، وثانيها نَدامةٌ، وثالثُها عذابٌ يومَ القِيامةِ، إلَّا مَن عَدَل. [75]

دعوف بن مالک رضی الله عنه څخه په مرفوع حدیث کې راغلي :- دامارت او مشری لومړی ملامتیا ، دوهم پښیما نتیا او دریم دقیامت په ورځ عذاب دی مګر هغه څوک چې پدې کې عدل او انصاف وکړي مستثنی دي . دا حدیث امام طبراني رحمت الله علیه او امام بزار رحمت الله علیه په صحیح سند سره روایت کړي .

وَأَخْرُجَ الطَّبَرَانِيُّ مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَرْفَعُهُ)) :نِعْمَ الشَّيْءُ الإِمَارَةُ لِمَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَحِلِّهَا، وَبِئْسَ الشَّيْءُ الإِمَارَةُ لِمَنْ أَخَذَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا، تَكُونُ عَلَيْهِ حَسْرَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ. [76]

---

[74] - شرح صحیح امام مسلم رحمت الله علیه ج 12 ص 211.

[75] - کشف اللثام ج 6 ص 346.

[76] - فتح الباری ج 13 ص 125.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام طبراني رحمت الله علیه دزید بن ثابت رضی الله عنه له اړخه مرفوع حدیث روایت کړی چې:- بهترین او غوره ځیز امارت او مشري هغه چا لره ده چې حق یي ادا کړي اوبدترین شی هم امارت او مشري هغه چا لره ده چې په نا حقه سره یی لا س ته راوړی وي په دغه شخص به دقیامت په ورځ افسوس او حسرت وي.

وعن ابن عمر رضی الله عنهما أن النبی صلی الله علیه وسلم قال : لایسترعی الله تبارک و تعالی عبدْرعیة قلت أو کثرت الاسأله الله تبارک و تعالی عنها یوم القیامة أقام فیهم أمر الله تبارک و تعالی أم أضاعه ، حتی یسأله عن أهل بیته خاصته .[77]

دعبدالله بن عمر ( رضی الله عنهما) څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- الله جل جلاله چې کوم بنده ته مشري ورکړي که هغه دلږ شي وي یاد ډیر شي مګر الله جل جلاله به دقیامت په ورځ ترې پوښتنه کوي چې دالله جل جلاله امر یي په دوی باندې پلی کړی دی ، او که یي ضایع کړیدئ ، تردې چې دخپلې کورنی په اړه به هم ترې په ځانګړي ډول پوښتنه کیږي . دا حدیث امام احمد رحمت الله علیه رحمت الله علیه رړایت کړی دی .

دانس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- لسو کسانو مشر به هم دقیامت په ورځ ځنځیر او زولنې راوستل شي تردې چې عدل او انصاف یي وژغوري اویا ظلم یي هلاک کړي.

عن أنس رضی الله عنه قال قال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللَّهَ سَائِلٌ كُلَّ رَاعٍ عَمَّا اسْتَرْعَاهُ ، حَفِظَ ذَلِكَ أَمْ ضَيَّعَ ، حَتَّى يَسْأَلَ الرَّجُلَ عَنْ أَهْلِ بَيْتِهِ.[78]

---

[77] - مسند امام احمد رحمت الله علیه ج 2 ص 15 .
[78] - صحیح الجامع نمبر 1774 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحضرت أنس رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت کړئ دی چې :

الله جل جلاله دهر مشرڅخه دهغه درعیت په هکله پوښتو نکئ دئ أیا دا رعیت یې ساتلی یا یې ضایع

کړی تردې چې الله جل جلاله سړی دخپل کور (کهول ) په اړه وپوښتي . دا حدیث امام نسايي رحمت

الله علیه او امام ابن حبان رحمت الله علیه په حسن سند سره روایت کړی دی .

عن أبی هريرة عن النبی صلى الله عليه وسلم قال : ما من أميرِ عشرةٍ ، إلَّا وهو يُؤْتَى بِهِ يومَ القيامَةِ

مغْلُولًا ، حتى يَفُكَّهُ العدلُ ، أوْ يوبِقَهُ الجورُ [79]

دأبوهريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- نه به وي

دلسو کسانو مشر مګر دقیامت په ورح به په ځنځیرونواو زولنو راوستلئ شي تردې چې عدل

اوانصاف يي خلاص کړي، اویا يي ظلم هلاک کړي .

عن أبي أمامة، عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: " ما من رجل يلي أمر عشرة فما فوق ذلك إلا

أتى الله مغلولا، يوم القيامة يده إلى عنقه فكه بره أو أوبقه إثمه أولها ملامة، وأوسطها ندامة وآخرها

خزي يوم القيامة "[80]

او همدرانګه د أبو امامة رضی الله عنه څخه مرفوع حدیث راغلی چې :_ داسي سړی به نه وي چې

دلسو کسانو مشري يي اخستي وي مګر الله جل جلاله به يي دقیامت په ورځ راولي لاس به يي له

ستوني سره تړل شوی وي مګرنیکي به یی خلاصوي اویا ګناه به يي کلکوي .

داحدیث په مختلفوالفاظو سره امام امام احمد رحمت الله علیه او امام بیهقي رحمت الله، امام

أبویعلي رحمت الله علیه او امام طبراني رحمت الله علیه په صحیح سند سره روایت کړي دي .

- الجامع الصغير للسيوطی رحمه الله نمبر حديث 7987 ، والحديث حسن . [79]
- مسند امام امام احمد رحمت الله عليهنمبر 22300 . تتمة مسند الانصار ، حديث أبی أمامة الباهلی الصدری . [80]

(c) ketabton.com: The Digital Library

. عن أبی سعید الخدری رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : أشدُّ النَّاسِ عذابًا یومَ القیامةِ إمامٌ جائرٌ [81]

دأبوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- دقیامت په ورځ به سخت ترین عذاب دظالم پاچا وي . امام طبراني رحمت الله علیه په معجم اوسط امام ابو نعیم رحمت الله علیه په حلیة الاولیاءاوامام أبو یعلی رحمت الله علیه پخپل مسند کې دأبوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت کړی دی .

امام ماوردي رحمت الله علیه دمسلمان امیر د مسولیتو نواو دندو په اړه ویلي دي :-دثابتو اصولو سره سم او سلفوصالحو دأئمه ؤو په همغږی سره سم ددین ساتنه کوي ، خوکه چیرې کوم مبتدع ښکاره شواو یا هم کوم شک کوونکی ترې کوړشو نو ده ته ددلیل څرګند کړي او په صحیح ډول د ورته بیان کړي او په هغه څه دورسره حساب وکړي چې حقوق او حدود پرې لازموي تر څو دین وساتلی شي او اسلامي امت د ښویدو څخه وژغورل شي او دجګړه مارو تر منځ (شرعي ) احکام پلي او دعوي دار و تر منځ دښمني ختمه کړي شي ترڅو عدل او انصاف عام شي ظالم تیری ونکړي او مظلوم کمزورئ ونه ګڼل شي او حدود پلي کړي ترڅو دالله جل جلاله حرام کړل شوي څیزونه دلاس وهنې څخه وساتي او بندګانو حقوق دپامال کیدو څخه وژغوري .[82]

الله جل جلاله د په عبدالله بن المبارک رحمت الله علیه رحم وکړي چې ویلي یې دي :-

**الله جل جلاله دامیرپه وسیله څو مـــــــــــره مظلومیتونه اوچتوي**

**زمـــوږ په دین اودنیا کـــــــــــــــــــپ له دې اړخـــــــه رحمت دئ**

**کـــه چیرې خلافت نه وای نوزموږ لا ري به په امـــــــــــــــــــــن نه وي**

---

- ضعیف الترغیب للالبانی نمبر 1319 ، والحدیث کماقال الشیخ الالبانی : ضعیف . [81]
- احکام سلطانی ص 15- 16 . [82]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نوکمزورو به مود زوره ورولخوا څخه ښکارشوی وو اوتښتول شوي به وه

**د امام دوهمه دنده :-**

درعیت څخه ځان نه پټول او حاجتمندو لپاره خپله دروازه پرانستل درعیت دکارو نو مراعات کول او دهغوي دحالت پوښتل .

عن عمرو بن مرة الجهنى رضى الله عنه أنه قال لمعاوية رضى الله عنه انى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : ما مِن إمامٍ يُغْلِقُ بابَه دونَ ذوي الحاجةِ والخَلَّةِ والمسكَنةِ ؛ إلَّا أغلَق اللهُ أبوابَ السَّماءِ دونَ خَلَّتِه وحاجتِه ومَسكنتِهِ [83]

حضرت عمرو بن مرة الجهنى رضى الله عنه روايت كوي چې ده حضرت معاويه رضى الله عنه ته وويل چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يي :- داسي امام او امير به نه وي چي خپله دروازه يې د ضرورتمنو ( حاجتمنو ) او غربت والا په وړاندې بنده کړي مګر الله جل جلاله به دا سمان دروازې دده د ضرورت ، حاجت او غربت په مخ وتړي نو معاويه رضى الله عنه دخلكو دحاجتونو دپوره كولو لپاره يو كس وټاكه ، دا حديث امام احمد رحمت الله عليه ،امام ترمذي رحمت الله عليه،امام أبوداد رحمت الله عليه،.امام أبو يعلي رحمت الله عليه او امام حاكم رحمت الله عليه روايت كړيدى .

وعن أبي مريم الآزدي - رضي الله عنه - أنه قال لمعاوية رضي الله عنه: سمعت رسول الله ﷺ يقول " :من ولاه الله شيئًا من أمور المسلمين، فاحتجب دون حاجتهم وخلتهم وفقرهم؛ احتجب الله دون حاجته وخلته وفقره يوم القيامة "فجعل معاوية رجلًا على حوائج الناس. رواه أبو داود والترمذي[84].

دأبو مريم ازدي رضى الله عنه څخه روايت دى چي ويل يي ما دپيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي فرمايل يي :- چا ته چي الله جل جلاله كوم شى دمسلما نانو دكارونو څخه وسپاره نو دهغوي دضرورت ،يوازيتوب او بيچارګي څخه ځان پټ كړو نوالله جل جلاله به ددغه حاكم دحاجت ضرورت اوفقر درفع كولو څخه ځان پټ كړي ،

---

- صحيح الترغيب نمبر حديث 2208 ، شيخ البانى وايى : حديث صحيح لغيره دى . [83]
- رياض الصالحين حديث نمبر 663 . [84]

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفي رواية أخرى عن أبى مريم الازدي أنه قال قال الرسول صلى الله عليه وسلم :مَن وَلِيَ أمرا مِن أمرِ النّاسِ ، ثُمَّ أغلَقَ بابَهُ دونَ المِسكينِ وَالمَظلومِ أو ذِي الحاجَةِ ، أغلَقَ اللّهُ تَبارَكَ وتَعالى دونَهُ أبوابَ رَحمَتِهِ عِندَ حاجَتِهِ وفَقرِهِ أفقَرَ ما يَكونُ إلَيها [85] .٢

په بل روايت کې راغلي دي : - چاچې دخلکو دکاروو څخه يو کار په غاړه واخست او مشر يې شو بيا يې دمسکين ، مظلو م او حاجت من په وړاندي خپله دروازه وتړله نو الله جل جلاله به دده په واړندې دخپل رحمت دروازه دده د حاجت او ډير زيات فقر او نا توانى په وړاندې چې ډير ورته اړ وي وتړي . دا حديث امام أبوداود رحمت الله، امام حاکم رحمت الله عليه، امام بيهقي رحمت الله عليه ټولو په صحيح سند سره دابو مريم ازدي رضى الله عنه څخه روايت کړيدى . له همدي امله د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دروازه وان او ملازم نه وه چې خلک له ورتلو څخه ترې منع کړي لکه څنګه چې دا کار نن ورځ پاچايان او مشران کوي .

-عن أنسٍ قالَ: أتى نبيُّ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ علَيهِ وسلَّمَ على امرأةٍ تبكي على صبيٍّ لَها فقالَ لَها: اتَّقي اللَّهَ واصبِري فقالت: وما تُبالي أنتَ بمصيبَتي،فقيلَ لَها: هذاالنَّبيُّ صلَّى اللَّهُ علَيهِ وسلَّمَ،فأتتهُ،فلم تجِدْ على بابِهِ بوَّابينَ فقالت: يا رسولَ اللَّهِ،لم أعرفْكَ ، فقالَ: إنَّما الصَّبرُ عندَ الصَّدمةِ الأولى أو: عندَ أوَّلِ صدمةٍ [86]

دانس بن مالک رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويل يې :- پيغمبرصلى الله عليه وسلم د يوې ښځې ترڅنګ تير شو چې ديوه قبرسره ناسته وه او ژړل يې نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورته وويل :- دالله جل جلاله څخه وويريږه او صبر وکړه ، هغې ښځې ورنه وويل زما څخه لرې شه ځکه تا ته هغه مصيبت او غم ندى رسيدلى چې کوم ماته رسيدلى دى،حال دا چې هغې نه پيژانده . هغې ښځې ته وويل شو هغه پيغمبر صلى الله عليه وسلم دئ نو هغه ښځه دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دروازې ته راغله او هيڅ دروازوان يې هلته پيدانکړوويي ويل : ما ته ونه پيژندې ، پيغمبرصلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : په يقيني ډول صبر دلومړي ټکان سره وي. دا حديث امام بخارى رحمت الله عليه،امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه، امام ترمذي رحمت الله عليه ،امام أبوداود رحمت الله

---

٢ -. مسند ابن حنبل : ج ۵ ص ٣١۵ ح ١۵۶۵١ ، مسند أبي يعلى : ج ۶ ص ۴۴١ ح ٧٣۴٠ نحوه ، مشكاة المصابيح : ج ٢ [85] . ص ٣٣١ ح ٣٧٢٩ ، أُسد الغابة : ج ۶ ص ٣۶١ الرقم ۶۴۶٣ ، كنز العمّال : ج ۶ ص ٣٨ ح ١۴٧۵١

[86] - صحيح سنن أبى داود نمبر 3124 ، شيخ ألبانى وايى : حديث صحيح .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه،امام نسايي رحمت الله عليه،امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام ابو يعلی رحمت الله عليه اوامام بیهقي رحمت الله عليه روايت کړيدی . بيشکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم پدې حيثيت چې دمسلما نانو امام وه دخپل رعيت احوال به يې اخسته .

دحضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به مريض پوښته کوله ، په جنازه پسې تللواو دغلام بلنه به يې منله نو دهغه غوښتنې ته به يې مثبت ځواب ورکاوه . داحديث امام ابن ماجه رحمت الله عليه،امام حاکم رحمت الله عليه ،امام ابو يعلی رحمت الله عليه،امام ابن ابی شيبه رحمت الله عليه او امام طبراني رحمت الله عليه روايت کړی دی اسناد يې حسن دی .

دأنس ( رضی الله عنه ) څخه روايت دي چې ويلي يي دي : پيغمبرصلی الله عليه وسلم په لاره کې دځينو صحابه کرامو سره وه چې يوه ښځه ورسره مخامخ شوه او ويې ويل : اي دالله جل جلاله رسوله : - په يقيني ډول مي تاته ضرورت دی ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل :- اي د فلاني مورې دلارې په هر کونج کې چې کښيني کښينه زه هم تا سره کښينم ، ښځه کيناسته او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورسره کينا ست تردې چې خپل ضرورت يی رفع کړ. دا حديث امام احمد رحمت الله ،او امام أبوداود رحمت الله عليه روايت کړيدی .

دأنس رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يي دي لمونځ به دريده او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به ديوسړي سره دهغه دحاجت په اړه خبري کولې او دا سړی به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او دقبلې تر منځ دريده ترهغه به ولاړوه او دسړي سره به يي خبري کولې تردې چې کله کله به په ځينو خلکو باندې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دډير دريدو له امله خوب راغی دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه، اوامام عبدالرزاق رحمت الله عليه په مصنف کې روايت کړيدی ..

**دامام دريم مسوليت دنده :-**

درعيت اصلاح کول او له دوي سره نرمي کول او دهغه چا څخه چې خطاسر ووهي بيرته يي سمې لارې ته کرځول او چې څوک دحقې لارې څخه کاږه شي بيرته يی سيده کول اوله هغوي سره په عدل او انصاف عمل کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله  دنبي سليمان عليه السلام  په هكله فرمايي چي :- (وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ ) [87]

ژباړه :لټونه يې وکړه ( سليمان عليه السلام ) د مرغانو او هد هد، نو ويې ويل څه دي مالره چې نه وينم ( زه ) هد هد بلكې هدهد له غائب شوو څخه دی ،(آيادغو الوتونكو لښكرو په منځ كې پټ دی او زه يې نه وينم) .

پدي مبارک آيت کي راغلي چي دمسلمانانو په امير باندي لازم دي چي دخپل رعيت پو ښته وکړي او دا يوځرگند دليل او حجت دي ، کله چي دسليمان عليه السلام څخه دهدهد مرغه حالت ورک شو ، نو څنگه به د لويو اميرانو او پاچايانو څخه دخپل رعيت پو ښتني کولو تقاضا روا نه وي الله جل جلاله د په امير المومينن عمربن خطاب رضی الله عنه رحم وکړي چي ويلي يې دي :- که دفرات د سيند په غاړه يو نوي پيدا شوي وری ۰(د گډ بچی ) ليوه وخوري نوخامخا به دهغه په هکله دعمر رضی الله عنه څخه پوښتنه کيږي ، نو ستا به څه گومان دهغه والي او امير په برخه کي وي چي په لاسونو يي هيوادونه يو په بل پسي درومي ملتونه يي هلاک کيږي خو داسي څوک نه مومي چي پوښتنه تري وکړي او حالت يي وپوښتي ( فانا لله وانا ليه راجعون ) [88].

يادشوي معنی کومه چي واړندي تيره شوه دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما په روايت کي راغلي چي وايي ما د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي فرمايلي يي :- ټول ستاسو څخه پالونکي دي اوټول ستاسو څخه دخپل رعيت په اړه مسوليت او دنده لري امام او اميرپالونکی او مسؤول دخپل رعيت دی ، نارينه دخپل کور پالونکی دی اوهغه دخپل رعيت مسؤول دی او ښځه دخپل خاوند په کور کې پالونکې ده او دخپل رعيت په وړاندي مسؤوله ده او مريي د خپل بادار مال کې پالونکی دئ او دخپل رعيت په اړه مسؤول دي،بيايي وويل : زه گومان کوم چي پيغمبرصلی الله عليه وسلم  وفرمايل : سړي دخپل پلار دمال پالونکئ دئ او دخپل رعيت مسوليت لري  او هريو له ستا سو څخه پالونکئ دئ او دخپل رعيت مسوليت لري  داحديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه،امام أبوداد رحمت الله عليه امام  ترمذي رحمت الله عليه دعبدالله رضی الله عنه څخه روايت کړيدي.

- سورت النمل آيت 20 . [87]
- تفسير قرطبي ج 13 ص 188 . [88]

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدثنا سياربن سلامة أبوالمنهال قال: دخلت مع أبي على أبي برزة، وإن في أذني يومئذ لقرطين، وإني غلام، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " الأمراء من قريش ثلاثا ما فعلوا ثلاثا: ما حكموا فعدلوا، واسترحموا فرحموا، وعاهدوا فوفوا، فمن لم يفعل ذلك منهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين "[89]

دابوالمنهال سيارىن سلامة څخه روايت دي ويلي يي دي چي دپلار سره مي أبوبرزة رضى الله عنه ته ورغلم پدي وخت كي مي په غوږونو كي دوه غوږوالۍ وي او زه ما شوم وم وايي چي پيغمبرصلى الله عليه وسلم وفرمايل : اميران به دقريشو څخه وي دري ځلي يي وويل،خوترڅو يي چي دري كارونه كول چي دحكم او امارت په وخت يي عدل كاوه، او چي چادترحم غوښتنه تري كوله رحم يي پري كاوه او پخپله وعده يي وفاكوله چا چي بيا دا كار نه كا وه نو په هغه دالله جل جلاله ملا يكو او ټولو خلكو لعنت وي . داحديث امام احمد رحمت الله عليه ،امام ابويعلى رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه په معجم اوسط او امام بزار رحمت الله عليه روايت كړي مګرامام بزار رحمت الله عليه ويلي دي : - پاچاهي به دقريشو وي ، دامام احمد رحمت الله عليه راويان ثقه دي . دابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دي چي ويلي يي دي : پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :- زما په قريشو حق دى او د قريشو په تاسي حق دى هغوى چي حكم او امارت كوي عدل كوي او چي امانت ورته كيښودل شي اداء كوي يي ، او چي درحم غوښتنه تري وشي په هغوي رحم او شفقت كوي دا حديث امام احمد رحمت الله عليه او امام طبراني رحمت الله عليه په معجم اوسط كي روايت كړى او دامام احمد رحمت الله عليه راويان دصحيح كتاب راويان دي .

عن أبى هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال : أَنَّ رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ قَالَ: والذي نَفْسِي بيَدِهِ لقَدْ هَمَمْتُ أنْ آمُرَبحَطَبٍ، فيُحْطَبَ، ثُمَّ آمُرَ بالصَّلَاةِ، فيُؤَذَّنَ لَهَا، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ، ثُمَّ أُخَالِفَ إلى رِجَالٍ، فَأُحَرِّقَ عليهم بُيُوتَهُمْ، والذي نَفْسِي بيَدِهِ لو يَعْلَمُ أحَدُهُمْ، أنَّه يَجِدُ عَرْقًا سَمِينًا، أوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ، لَشَهِدَ العِشَاءَ[90]

دأبوهريره رضى الله عنه څخه روايت دي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :- زما دپه هغه ذات سوګندوي چي زما نفس يې په لاس كي دئ چي ماكلك قصد وكړچي دلرګيو په را غونډولو امر وكړم

---

[89] - مسند امام امام احمد رحمت الله عليهحديث نمبر 13782 ، او حديث صحيح لغيره دى . حديث الامراء من قريش ثلاثا ما فعلوا ثلاثا.

[90] - صحيح الامام بخارى رحمت الله عليه نمبر د حديث 644 ، حديث صحيح دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو راښول کړل شي بيا به په ځانګه امر وکړم او آذان به ورته وکړی شي بيا يو کس ته امر وکړم چې خلکوته لمونځ ورکړي بيا هغوخلکو ته ورشم چې له ځانګه څخه پاتې شوي او کورونه يي پرې وسيځم زما دپه هغه ذات سوګند وي چې نفس مې د هغه په لاس کې دی که له دوئ څخه يو هم پدې وپوهيږي چې هلته غوښن هډوکي يادوه ښايسته نيزې دښکار لپاره ورته حاصليږي نو خامخابه د ماخوستن ځانګه ته راغلي وی ، دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه،امام مالک رحمت الله عليه،امام نسايي رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه،امام ابن حبان رحمت الله عليه ،ام طبراني رحمت الله عليه ،امام بيهقي رحمت الله عليه ،امام أبوعوانه رحمت الله عليه ، دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړيدي .

دحضرت عائشي رضی الله عنها څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- اي الله چا چي زما دامت څخه دکوم کار مشري ترلاسه کړه او پدوي يي سختي راوسته په ده هم سختي راولي اوچاچي زما دامت څخه دکوم کار مشري وکړه او بيا يي په هغوي آساني وکړه په هغوی هم آساني وکړی. دا حديث امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه،امام ابن حبان رحمت الله عليه اوامام أبوعوانه رحمت الله عليه او امام بيهقي رحمت الله عليه روايت کړيدی .

دعائذ بن عمرو رضی الله عنه څخه روايت دی ده ويلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- بدترين دمشرانوڅخه سخت ترين په معامله کي دخپل ولس سره دي : دا حديث امام مسلم رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه، امام ابن حبان رحمت الله عليه ، امام طبراني رحمت الله عليه ،امام بيهقي رحمت الله عليه اوامام ابو عوانه رحمت الله عليه روايت کړيدی.

**حطمة** : هغه سختي کوونکي ته وايي چې خپل ولس او تر لاس‌لاندي خلک دهلاکت اوتباهی سره مخامخ کوي او سختي پري کوي او هيڅ آساني او سهولت نه ورسره کوي ..

زيد بن اسلم دخپل پلار څخه روايت کړي چې عمر بن خطاب رضی الله عنه خپل مريي هني نومی يي په خپل( څرځاي ) وټاکه اوورته ويي ويل : اي هني دخلکوڅخه دلاس اوچت کړه اودمظلوم دښيرا څخه ځان وساته ځکه چي دمظلوم ښيرا دالله جل جلاله په وړاندي منل کيږي دلږ واو ښانواو لږ و پسونو خاوندان څرځاي ته پريږده دابن عفان او ابن عوف رمي حتما پريږده ځکه چي که ددوي رمي تبا کړي نو دوي مديني منوري ته راستنيږي کرهني او دخرما وو پالني ته مخه کوي او دلږ شمير او ښانواو پسونو خاوندانو مالونه که تباه کړي بيا خپل ماشومان راولي اووايي چيغي وهي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اي امیرالمومیننه،ای امیرالمؤمنینه :--آیا دوی همداسي پرېږدم څکه چي اوبه او واښه ماته دسروزرو اوسپینو زرو څخه ګران دي زما دپه الله جل جلاله سوګندوي چي دا دوی پخپلو ځانونو ظلم ګڼي په یقیني ډول داددوی هیواد دی او دايي اوبه دي په جاهلیت کې یی جګړي پري کړي او په اسلام کي يي سوله پري کړي ده زما دپه هغه ذات سوګند وي چي زما روح يي په بیلاکیف لاس کې ده که چیري دغه مال چي زه يي دالله جل جلاله په لاره کي مصرفوم نو مابه ددوي دسیمي څخه یوه لویشت هم څرځاي نه وايي ګرځولاي . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ،امام مالک رحمت الله علیه په موطا کي،امام شافعي رحمت الله علیه په خپل مسند او امام بیهقي رحمت الله علیه په سننو کي او امام ابن ابي شیبه رحمت الله علیه په مسند کي روایت کړیدی .

**دامام څلورمه دنده او مسولیت :-**

-دمسلمانانو لپاره نصیحت هغوي ته دخیرلاري ښوول او دشر څخه يي ویرول او دهغوي چل اوفریب پریښوول :

دحسن رحمت الله علیه څخه روایت دی چي عبیدالله بن زیادمعقل بن یساررضی الله عنه ته ورغئ او هغه په سخت دردکي وه پوښتنه يي تري وکړه او ورته یی وویل : زه تا ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوحدیث وایم اګر چي ما نه غوښتل تا ته يي ووایم،په یقیني ډول پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : - الله جل جلاله یو بنده پالونکی او مشر یوه ولس ته نه ټاکي مګرکله چې هغه مړکیږي په وخت دمرګ کې دی خپلوخلکوسره دوکه بازاوفریب کوونکی وي مګرالله جل جلاله بهٔپه ده جنت حرام وګرځوي . داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه ، او امام بیهقي رحمت الله علیه روایت کړیدی ..

په بل روایت کې دحسن رحمت الله علیه څخه راغلي دي چې : - معقل رضی الله عنه مریض شو او مریضي يي سخته شوه او ابن زیاد يي پو ښتني ته راغي،معقل بن یسار رضی الله عنه وویل زه تا ته داسي حدیث وایم چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل يي :- څوک چي دیوولس مشر وټاکل شو او هغوئ ته يي نصیحت ونه کړودا شخص به دجنت بوئ حس نه کړي او دجنت بوی به د سلو کالو په فاصله باندې لرې موندل کیږي داحدیث امام احمد رحمت الله علیه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام طبراني رحمت الله عليه،امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه،امام ابن عبدالبر رحمت الله عليه په تمهيد او امام ابو نعيم رحمت الله عليه په حلية الأولياء کې روايت کړيدی .

په بل روايت کې راغلي چې فرمايلي يي دي :- ما دپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې فرمايل يي :- داسې امير به نه وي چې دمسلمانانو مشري کوي بيا ددوی په نصيحت کې خواري او زيار ونه باسي او نيکی ته يي نه را بولي مګر له دوی سره به جنت ته داخل نه شي . داحديث امام مسلم رحمت الله عليه، امام أبوعوانه رحمت الله عليه ، او امام بيهقي رحمت الله عليه د معقل بن يسار رضی الله عنه څخه روايت کړيدی .

او همدارنګه دمعقل رضی الله عنه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- هر يو مشر چې دخپل ولس سره فريب او دوکه وکړه هغه به دجهنم اورته ننوزي . دا حديث امام طبراني رحمت الله عليه ، امام أبوعوانه رحمت الله عليه ، امام ابن عساکررحمت الله عليه دمعقل بن يسار رضی الله عنه څخه په صحيح سند سره روايت کړيدی.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړيدی چې فرمايي :- او ددجال يادونه يي کړې چې :- زه خامخا تاسو له دجال څخه ويره وم او داسې پيغمبر نشته چې خپل قوم يي ددجال څخه نه وي ويرولی بلکې ويرولې يي دي مګر زه تاسو ته داسې خبردرکوم چې هيڅ نبي به خپل قوم ته نه وي کړی : دجال په يوه سترګه ړوند دی او ستاسو رب داسې ندی ( په يو سترګه ړوند ندی ) .
داحديث امام بخاری رحمت الله عليه په خپل صحيح کې، کتاب الفتن باب ذکر الدجال کې روايت کړی اوامام مسلم رحمت الله عليه ابن حبان رحمت الله عليه ، امام أبوداود رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه، امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام حاکم رحمت الله عليه ، امام طبراني رحمت الله عليه ، امام ابن ابي شيبه او امام ابو يعلی رحمت الله عليه دانس رضی الله عنه،ابن عمر رضی الله عنهما، ابن عباس رضی الله عنهما، جابر بن عبدالله رضی الله عنه او ابو امامة الباهلي رضی الله عنه څخه روايت کړيدی .

او امام ترمذي رحمت الله عليه دعبدالله بن عمر رضی الله عنهماڅخه روايت کړی اوويلي يي دي پدي باب کې د سعد رضی الله عنه ، حذيفه رضی الله عنه،أبوهريره رضی الله عنه،أسماء رضی الله عنها،جابر بن عبد الله رضی الله عنه وأبي بکر ة رضی الله عنه، عايشي رضی الله عنها، انس رضی الله عنه، ابن عباس رضی الله عنهما او فلتان بن عا صم رضی الله عنه روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دامام پنځمه دنده او مسؤولیت :--**

د خلکو په حقوقوکې عدل کول په ځانګړي ډول د یتیمانو،کونډو،مسکینانو،فقیرانو سره او ددوی دحالاتو لحاظ ساتل او پام ورته کول دي .

دأبوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به داسې مړي ته راتله چې په هغه به پوروه نو پو ښتنه به یې کوله آیا د پور لپاره یی څه اضافه شی پرېښي دي ، نو که ورته وبه ویل شول چې دپور خلاصولو لپاره یې څه پرېښي دي دجنازي لمونځ به یي پرې کاوه او کنه بیایي مسلمانانو ته فرمایل :- پخپل ملګري مو لمونځ وکړئ خو کله چې الله جل جلاله په غزاګانوکې بریالیتوبونه وروبښل ویي فرمایل : زه دمسلمانانودخپلو ځانو څخه ورته غوره یم نو کوم مومن چې به وفات شي او په هغه پوروي په مايي خلاصول دي او چا چې مال پرېښود هغه یي د ورثه وولپاره دی. دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه،امام احمد رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه،امام نسايي رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه او امام طبراني رحمت الله علیه د جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی .

أبوهریره رضی الله عنه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چې فرمایلي یي دي :- دکوم مړي څخه چې مال پاتې شي هغه یي دمیراث خوارو دی او چا چې عیال پرېښود دهغو پالنه او ساتنه زموږ پرغاړه ده . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه، امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه ، او امام بیهقي رحمت الله علیه روایت کړیدی.

د علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ده او خپلې لور فاطمې رضی الله عنهاته وفرمایل :- تا سو ته څهٔ نه درکوم پداسې حال کې چې اهل صُفه دلوږو خیتو له امله اوړي را اوړي . یوځاي یي وویل :- کله چې فاطمې رضی الله عنها دغلامانو څخه دیو غلام غوښتنه ترې وکړه چې خدمت یې وکړي : زه ستاسوخدمت نکوم چې اهل صفه پرېږدم چې دلوږې څخه یې کولمې او ګېډ ې تشې او خالي دي . دا حدیث امام احمد رحمت الله علیه، امام بیهقي رحمت الله علیه او امام أبونعیم رحمت الله علیه په حسن سند سره روایت کړیدی.

دجبیر بن مطعم رضی الله عنه څخه روایت دی چې همدئ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره روان وه اودده سره داسې خلک وه چې د حنین غزا څخه راګرځیدلي وه خلک ورپورې ونښتل او پو ښتنې یی ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې تردې چې اغزي لرونکې ونې ته يې ورتېل وهلو ته اړکړ څادر يې وتښتاوه نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم ودريداو ويې ويل : زما څادر راکړئ که ددغه اغزي لرونکې ونې د شمير په اندازه زما سره پسونه وی نو خامخا به مې پرتاسو ويشلي وای . بيا به ما بخيل ، دروغژن او بې زړه ونه مومئ . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام نسايي رحمت الله عليه،امام ابن حبان رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه ، امام مالک رحمت الله عليه، امام ابو يعلى رحمت الله عليه، امام طبراني رحمت الله عليه او امام بزار رحمت الله عليه روايت کړيدی .

امام احمد رحمت الله عليه دموسى بن طلحه څخه روايت کړی چې ما د عثمان بن عفان رضى الله عنه څخه اوريدلي دي چې په منبر ناست وه ، او موذن دلمانځه اقامت وايه اوده دخلکو څخه دهغوی خبر اخسته پوښتنه يې ترې کوله دهغوی دحالاتو او نرخونو معلومات يې ترې کاوه .

**دامام شپږمه دنده او مسوليت :-**

دمسلمانانو دمالونو او دهغوی دګټو ساتل د حکومتي مامورينو او واليانو سره په حق او رښتيا حساب کول .

دابو حميد ساعدي رضى الله عنه څخه يې روايت کړيدی چې : پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ازد قبيلې څخه يو کس چې ابن تبية يا ابن لتبية نوميده په زکات راټولولو وګوماره خو کله چې راغې ويې ويل : دغه مال ستاسې دی او دغه مال ما ته تحفه راکړل شوی دی . پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرما يل :- ايا دخپل پلار يا خپلې مور په کور کې ناست وې چې ليدل شوې وای ايا ده ته څوک تحفه ورکوي اوکنه ؟ زما د په هغه ذا ت سوګند وي چې زما نفس دهغه په لاس کې دی هيڅوک ددغه مال څخه کوم شی نه اخلي مګر اخستل شوی څيز به دقيامت په ورځ دهغه په غاړه بار وي که يې اوښ اخستی وي هغه به برړيږي او که يې غويي اخستی وي هغه به لمباړې وهي او که يې پسه اخستی وي هغه به بغيږي بيا پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپل لاسونه پورته کړل تردې چې موږ يې دتخرګونو سپين والی وليد او وي فرمايل :--اي الله جل جلاله ما ستا پيغام ورساوه .. ما ستا پيغا م ورساوه دا خبر يې درې ځلې تکرار کړ ..

دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه، امام بيهقي رحمت الله عليه ، امام أبوعوانه رحمت الله عليه او امام دارمي رحمت الله عليه روايت کړيدی . او دعبد الله بن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دی ده ويلې چې ما د پيغمبر صلى الله عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم څخه اوریدلې دي چې فرمایلي یې دي :--هریو ستاسې څخه پالونکي دی او هریو ستاسي څخه دخپل رعیت په واړندې مسوول او مکلف دی و ښځه دخپل خا وند په کور کې پالونکې ده او دخپل لاس لاندې خلکوپه وړاندې مسوولیت لري او خادم دخپل بادار دمال په هکله پالونکی او مسوول دی هر یو ستاسي څخه پالو نکی او خپل لاس لاندې خلکو دامورو څخه مسوولیت لري . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام احمد رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه ، امام تر مذي رحمت الله علیه ، د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت کړیدی.

**دامام اوومه دنده او مسوءلیت :-**

د اسلامي خلافت څخه دفاع او د هغه ساتنه د مسلمانانو د ما لونو او ناموسونو حفاظت او داسلامي امت پرمختګ او هغه خنډونه دمخې لرې کول چې ورسره مخامخ دي : الله جل جلاله فرمایلي دي :--

وَقَاتِلُواْ الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً [91]

ژباړه : اوجنګیږئ له مشرکانو سره ټول له ځنګه چې هغوی جنګیږي ستاسو سره ټول .

او همدارنګه الله جل جلاله فرمایلي دي ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً)) [92]

ژبا ړه : ای هغه کسانوچې ایمان مو راوړی دی ، جنګ کوی له هغو کسانو سره چې نږدې دي تاسوته د کافرانو نه او په کاردی چې بیا مومي هغوی په تاسوکې سختي .

الله جل جلاله پخپل کتاب قرا ن کریم کې په ډیر و آیاتونو کې د کفا روپه مقابل کې په جهاد کولو امرکړی دی دغه واجب تر امام پورې اړه لري ځکه چې همدا خلیفه لښکرې برابروي دجهادي او نظامي ګرپونولیږل ، دغنیمتونو او دهغه ویشل دقرار دادونو تړل دخلیفه او مسلمان امیر له دندو څخه دي. له همدي امله علمای کرامو ویلې دي : دجهاد امر تر امیر او خلیفه پورې اړه لري مګر کله چې امیر موجود نه وي نو جهاد نه ورسته کیږي ځکه چې دجهاد ګټه او مصلحت دهغه په وروسته والي باندې له منځه ځي ،او خلک به دخپل منځ څخه هغه غوره او ښه کسان ټاکي تر څو خپل کا رونو پر مخ بوځي ..... [93]

- سورت توبه آیت 36 . [91]
- سورت توبه آیت 123 . [92]
- مغني ج 8 ص 352--353. [93]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې هغه ویلې دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دټولو خلکوڅخه ښکلی،او دټولوخلکو څخه زړور او دټولو خلکو څخه سخي وه ، یو ځلې دمدینې خلک وویریدل او دغږ په طرف ورووتل ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دوی سره مخامخ شو او ریښتینی خبر او احوال یې ورکړ د ابو طلحه رضی الله عنه په لوڅ آس سپور او په غاړه یې توره ځوړنده وه او فرمایل یې :-- مه ویریږئ او مه ویریږئ !

د براءبن عازب رضی الله عنه څخه روایت دی چې : - یو سړي ورته وویل : ای ابو عماره دحنین دغزا په ورځ په شا راغلې ؟ ده وویل : نه زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په شا رانه غی مګر تیزو خلکو ماتې وکړه او د هوازن قبیلې هغوی په غیشو وویشتل او پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سپینه اوښه سپوروه ابوسفیان بن حارث رضی الله عنه یې جلب نیولی وه او پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : - زه پیغمبر یم په رښتیا سره او زه د عبدالمطلب ځوي یم ). دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام أبوداود رحمت الله علیه و امام نسایي رحمت الله علیه او امام ابن حبان رحمت الله علیه روایت کړیدی .

دسلمه بن اکوع رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویې ویل : ما دپیغمبر صلی الله علیه وسلم سره اووه غزاګانې کړې دي او په هغو لښکر وکې چې لیږل به یې په نهو غزاګانو کې شریک شوی یم یو ځلې زموږ امیرابوبکر رضی الله عنه اویوځلې زموږ امیر اسامه رضی الله عنه وه )) داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، او امام ابو عوانه رضی الله عنه روایت کړیدی .

دابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلې یې دي :- ما د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اوریدلې دي چې فرمایل یې :- زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې زما نفس دهغه په لاس کې دی که چیرې ځینو مومنانو دانه غوښتی چې زما څخه دوروسته پاتې شي پداسې حال چې زما سره دهغوی داکمالاتو لپاره څه نه وه نو زه بهٔ دهیڅ نظامې ګروپ څخه نه وم پاتې شوی کوم چې دالله جل جلاله په لار کې جګړه کوي او زما دپه هغه الله جل جلاله سوګندوي چې زما نفس یې په لاس کې دی ما دا خوښوله چې دالله جل جلاله په لار کې ووژل شم بیا راژوندی شم بیا ووژل شم بیا راژوندی شم بیا ووژل شم بیا راژوندی شم. دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، او امام طبراني رحمت الله علیه یو بل ته په نږدو الفا ظو روایت کړیدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

.دامیر دا دنده ده چې د الله جل جلاله په لارکې دجهاد لپاره نظامي ګروپونه ولیږي او دمختلفو سیمو لپاره مسوولین وټاکي همداد پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت دي ، دجابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي : پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو جهادي ګروپ دابو عبیدة بن جراح رضی الله عنه تر امارت لاندې دبحر غاړې ته ولیږه دوی درې سوه کسان وه او زه هم ددوی له ډ لې څخه وم موږ روان شوو خوکله چې یو ځای ته ورسیدو غذایي مواد مو ختم شول ابو عبیدة رضی الله عنه امر وکړ چې دلښکر دټولو کسانو څخه ددهغوی خوراکي مواد راغونډکړی شي دا را ټول شول زما خوراکه څۀ خرما وي وي ، موږ ته به یې لږ لږ خوراک راکا وه تردې چې ټول خلاص شول موږ ته یواځې یوه یوه خرما رسیده . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام ابن حبا ن رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه او امام مالک رحمت الله علیه په موطا کې روایت کړیدی.

د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی ده ویلي دي چې :--- پیغمبر صلی الله علیه وسلم دموته په غزا کې زید بن حارثه ته امر وکړاوویل یې : که زید ووژل شو بیا به جعفر امیر وي او که جعفر ووژل شو بیا به عبد الله بن رواحه امیر وي عبدالله رضی الله عنه وایي : پدې غزا کې زه ورسره ملګری وم جعفر بن ابي طالب مو ولټاوه په مړیو کې وه او موږ یې په بدن با ندې څو نوي د تورو اوغشو ټپونه وموندل . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه، امام طبراني رحمت الله علیه او امام بیهقي رحمت الله علیه روایت کړیدی .

امام ماوردي رحمت الله علیه ویلي دي :--دامام ددندواو مسولیتونو څخه دسنګر ونو محکمول په عصري وسله باندې محکم اوقوي ځواک سره ټینګول ترڅودښمن ونتوانیږي چې په ناڅاپي ډول تیري وکړي دکوم مسلمان یا متعهد وینه توی نکړي او دکوم جرم مرتکب نشي او دپاک ځیزسپیڅلتیا تر پښو لاندې نکړي او همدارنګه په امام لازم دي چې داسلامي دعوت څخه وروسته ددین او اسلام سره دکینې کوونکو په مقابل کې جهاد وکړي تردې چې یا اسلام ومني او یا هم اهل الذمه شي تردې چې دالله جل جلاله حق پلی کړي چې هغه په ټولو باطلو دینونو داسلا م بر لاسی او برېا لیتوب دی.

د فاجر امیر په ملتیا د جهاد کولو ګټه :

مجاهدین زیاتره دا پوښتنه کوي چې نچوریږي دادی : په ځینو ځایونوکې لکه دجهاد مرکز ونه او سنګرونه داسې مشران او مسو لین په کې شتون لري چې په شرعي لحاظ دځینو نواقصو، فسق ، او څرګند بدعت لرونکي وي نو ایا دداسې خلکو سره جهاد کول صحیح دی یا داغوره ده چې نورو عادلو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقوا لرونکو مشرانو سره سرې ملګرى شي او له دوى سره جهاد پرېږدي کله چې مجاهد بل څوک ونه مومي چې ورسره ملګرى شي او ددې فاجرو اميرانو سره جهاد په پر يښودلو سره دجهاد ټوله ساحه او سيمه پريښودى کېږي ، نو ايا پداسې حال کې له دوى سره جهاد کول جايز دى او همدارنګه ايا دنورو غوره او متقي اميرانو په څير دفاجر اميراطاعت هم واجبږي ددې پو ښتنې د جواب سره سم بايد لومړى دفاجر پيژندنه او تعريف وکړو : فاجر غير عادل ته ويل کيږي او عدالت :- په دين کې دسرې دحالاتو سموالي او برابروالي ته ويل کيږي ماوردي رحمت الله عليه ويلې دي :- عدالت په ټولو ولاياتو او مشرتابه کې معتبر او داعتماد وړدى او عدالت دادى چې : - په خبرو کې ريښتينى په څرګند ډول امانت کار دمحارمو څخه پاک دګناهونوڅخه ځان ساتونکى ، دشک څخه لري ، دغوصې او خوشالي دواړه وختونو کې مينه ناک په دين اودنيا کې يې دمروت او ځوانمردي کاروونکې دي .[94]

**په دي مسأله کې دوه څيزونه مهم دي :**

**لومړي :--** په ديني اند جوړښت او سموالى : هغه د فرضواو موکدو سنتو ادا کول دحرامو څخه ځان ساتل چې د لويي ګناه څخه ځان وساتي او په کوچنى ګناه سره دوام ونه کړي .

**دوهم :--** مروت اوځوانمردي :-- دادهغو څه په کولو سره چې ښکلى او ښايسته کوي يي او دهغه څه پريښودل چې پري خچن کيږي او بدپري ښکاريږي . [95]

فاجر يا فاسق : دلويو ګناهونوڅرګندوونکى او په هغه سره ټينګارکوونکى چې له پريښودو څخه مخ نه اړوي او نه ترې په وعظ، نصيحت ، امراو نهي سره توبه باسي بيا ددې پوښتني ځواب په دري ډوله دى :

**اول :--** پدې سره دعلما کرامو اجماع شوي چې دفاسق او فاجر په اصل کې دمشر تابه لپاره ټاکل رواندي او په هغه چاچاي په لاس او اختيار کې يي ټاکي بايد پرته له عادل او نيک سړي څخه بل څوک ونه ټاکل شي ځکه چې الله جل جلاله فرمايلې دي : لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿124﴾ [96]

ژباړه : نه شامليږي وعده زماظالمانوته .

او همدانګه الله جل جلاله فرمايلې دي : إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴿26﴾ [97]

---

- احکام سلطانى ص 66 . [94]
- منار السبيل ج 2 ص 487 – 488 . [95]
- سورت بقره آيت 124 . [96]
- سورت القصص آيت 26 . [97]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :- بیشکه غوره دهغه چا چې ته یې مزدور کوې هغه څوک دی چې قوی وي امانت داروي.

له همدي امله علما کرامو ویلي دي :-- چاچې فسق ، فجور اوبدعت ښکاره کړ دمسلمانانو لپاره دامامت او مشرتابه مستحق ندی ، امارت په اصل کې د فاسق او فاجر لپاره نشته دغه فساق او بدکاره خلک باید تعزیر شي ادب ورته وښودل شي دګناهونو څخه راوګرځول شي تر څو توبه وباسي او که ترهغه پورې مقاطعه ورسره وشي چې توبه وباسي دا ډیر ښه کار دی دا مخکې تیرشول اصل او حجت پدې مسأله کې دالله جل جلاله دا قول دی چې :- وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿124﴾ [98] .

ژباړه :-اویاد کړی کله چې و ازمایو ابراهیم لره رب دهغه په څوخبرو نو هغه پوره کړي هغه خبرې او ویل الله چې زه جوړوونکی یم تالره دپاره د خلکو پیشوا اوویل ابراهیم اود اولاد زمانه هم ، وګرځوې،او ویل الله،نه شاملیږي ، وعده زما ظالمانوته .

نو دظالم او فاجر سړي د امام او مشر په صفت ټاکل مناسب کار ندی نو په مسلمانانو باندې واجب دي چې دټاکلو مسوول شخص ته د په ګوته کړي او مشوره دورکړي چې ددې فاسق په عوض بل عا دل اونیک امیر وټاکي .

**دوهم :--** که داونشو او حتما فاسق ،او بدعتي شخص امیر او مشر و ټاکل شې بیا مسلمان مجاهد فرصت لري چې ددې امیر سره جهادپریږدي او بل غوره کړي نو پردې مجاهد دفاجرامیر سره کار پریښودل واجب دي .

## څکه په دې سره دوه ګټي لاس ته راځي .

**لومړي :--** جهاد کول د نیک او صالح امارت ترسیوري لاندې نه دفاجر امارت سره .

**دوهم :--** ددغه فاجر امیر په پریښودو او له هغه څخه دلریوالي په سبب فاجر ته تأدیب دی که پدې سره پوه شي چې ټول یې دده دفسق له امله پریږدي ښایي خپل فسق او بدکاري پریږدي دا کار دلمانځه دهغه فاسق امام په څیر دی چې که ځینې خلک په ده پسې لمونځ کول پریږدي او په بل چا پسې خپل لمونځ ادا کړي دغه کار دفاسق امام په دغه وربوښل شوي منکر او بدي په ردولو سره دا اغیزه کوي چې یا توبه وباسي یا لري شي او هم خلک ددې په څیرد‌ګناه کولو نه ځانونه و ساتي نو ددې امام څخه

---

- سورت بقره آیت 124 . [98]

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دلمانځه پرېښودلو کې یو شرعي مصلحت او ګټه ده پدې شرط چې د مقتدي څخه دجَمعې او جُمعې لمونځ پاتې نشي همدارنګه په جهاد کې همدا حکم دی .[99]

نو که چیرې مسلمان له ده څخه پرته بل څوک دکوم سبب او لامل له پلوه ونه مومي او له ده ( فاجر امیر) سره جهاد په پرېښودلو کې جهاد په ټولیز ډول پرېښودل کیږي .

**نو دلته په جواب کې دوه اړخه دي .**

**لومړي فرع** :-- که چیرې یی فجوراو بدي یوازې پخپل ځان کې وه لکه څوک چې شراب څښي او یا دغنیمت دمال څخه کومڅیز په پټه غلا کوي او یاهم کوم بدکار اوفسق کوي او داسې کوم بدعت تر سره کوي چې زیان یې یوازې خپل ځان ته رسي او دجهاد اصلي هدف او موخې ته کوم ضرر او زیان نه رسوي نوله ده سره غزا او جهاد کیدی شي ، وروسته پسې تګ کیدی شي او دامر مخالفت یې نشته کوم چې ګناه نه وي تردې چې دغه فجور او بدي یې دجهاد ګټو ته کوم زیان ونه رسوي دغه امیر ته به په دومدار ډول نصیحت ، وعظ ، ښوونه او مناسب تعلیم ورکول کیږي او دعاء به ورته کړل کیږي چې الله جل جلاله یې د اصلاح کړي او حالت یې جوړکړي ددې لپاره ډیر دلایل وړاندې ذکرشول چې بیا یې را ګرځولوته اړتیا نشته او کفایت کوي او دغه حکم د اهل سنتو په وړاندې یو ثابت اصل دی چې په راتلونکي کې به بیان شي دابن  قدامه رحمت الله علیه دامام خرقي رحمت الله علیه ددې قول په شرح کې چې ویلې یې دي :  دهر نیکوکاره اوبدکاره امیر سره جهاد کړل کیږي . معنا دا چې دهر امام تر سر پرستی لاندې جهاد کړل کیږي .

ابوعبدالله امام احمد بن حنبل رحمت الله علیه چې د اهل سنتو امام دی ویلي دي :--دیوسړي په هکله ترې وپوښتل شول چې ویل یې : زه جهاد نه کوم ځکه چې دعباس اولادې اخلي او دوي ته د فئ مالونه برابروي ،ده وویل : سبحان الله : دغه ډیر بدخلک دي دغه دجهاد څخه ناست اووروسته پاتې ،جاهل او ناپوهان دي ، ویل کیږي : تاسي پام وکړی که چیرې ټول خلک ستاسو په څیر کښیني نوڅوک به جهاد وکړي آیا پدې توګه به اسلام ختم نشي ؟ رومیان به څه ونکړي ابن قدامة رحمت الله علیه وایي : امام ابوداود رحمت الله علیه پخپل سند سره دابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړیدی چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم  فرمایلي دي : په تاسو جهاد کول دهر ښه او بد امیر سره واجب دي.  دا حدیث

---

[99] - شرح العقیدة الطحاویة ص 423 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام أبوداود رحمت الله علیه او امام ابویعلی رحمت الله علیه دابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړي دی امام ابن حجر رحمت الله علیه ویلې دي :-- په اسنادېې باک نشته مګر دا چې دامام مکحول رحمت الله علیه دروایت څخه دی او هغه دابوهریره رضی الله عنه څخه ندی اوریدلی .

پخپل اسنادېې دانس رضی الله عنه څخه روایت کړی هغه ویلې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي : درې څیزونه دایمان اصل دي دهغه چا څخه لاس نیول چې لا اله الا الله ووایي په ګناه سره یي نه کافرکوو او داسلام څخه یي دکوم عمل اوکړني په سبب نه باسو جهاد له هغه وخته روان دی چې الله جل جلاله پیغمبرصلی الله علیه وسلم رالیږلی دی ترڅو چې ورستنی امتي مې دجال ووژني او ایمان په اندازه د (اقدارو) سره دی . دا حدیث امام أبوداود رحمت الله علیه روایت کړیدی او امام مندري رحمت الله علیه دواړویي له حکم څخه چُپ او ساکت پاتې شوي او په اسناد کې یي یزید بن ابي نشبة موجوددی او هغه مجهول دی او همدارنګه امام سعید بن منصور رحمت الله علیه روایت کړی اوپه سند کې یې ضعف دی او شواهد یي هم شته [100] د فاجر او بد عمله امیر سره دجهاد پریښودل ددې باعث کیږي چې جهاد بالکل له منځه لاړ شي کفار په مسلمانانو غالب شي ،مسلمانانو بیخ وباسي او ختم یي کړي دکفر کلمه اونظام بریالی او رامنځ ته کړي چې پدې کې لوی فساد او فتنه نغښتې ده الله جل جلاله فرمایلې دي : وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ ..﴿251﴾ [101]

ژباړه : که چیرې نه وی ختمول د الله خلکولره، بعضې دهغوی نه ، په بعضې نوروسره ، نو خامخا به خراب شوی وؤ، نظام د ځمکې .

ابن تیمیه رحمت الله علیه ویلي دي :- په خلکو کې دقوت او امانت یو ځای شتون ډیر لږ دی له همدي سببه به حضرت عمر رضی الله عنه ویل :- ای الله : زه تاته د فاجر دزور او عادل دکمزورتیا څخه شکایت کوم چې په هرولایت کې تر ټولو غوره او مصلح سړی وټاکل شي تر دې چې رحمت للعالمین صلی الله علیه وسلم وویل : په جنګي امارت او مشری کې به زړور او قوي شخص اګر که څه فجور او بدي هم پکې وي په عاجز او کمزوري شخص باندې واړندې کیږي اګر که دغه کمزوری امین هم وي لکه څنګه چې امام احمد رحمت الله علیه دهغه دوو کسانو په هکله وپوښتل شو چې په غزا او جهاد کې به امیران وي یوقوي ځواکمن خو فاجر او بل نیک صالح خو کمزوری ، ضعیف دکوم یوه سره به غزا او

- نیل الاوطار : الجهد فرض کفایة و أنه شرع مع البر و الفاجر. [100]
- سورت البقره آیت 251 . [101]

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهاد کړل کيږي ده وويل : دفاجر ځواکمن قوت دمسلمانانو لپاره دی او بدي يي پخپل ځان دي دصالح کمزوري صلاح او نيکي يي دخپل ځان ده او ضعيفي يي دمسلمانانو ده نو جهاد به دقوي فاجر امير تر قيادت لاندې کيږي ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي :-- الله جل جلاله دغه دين ته دفاجر شخص په واسط نصرت ورکوي او همدارنګه په حديث شريف کې راغلي : الله جل جلاله دغه دين ته دداسې خلکو په وسيله بری ورکوي چې دوی ته به څه برخه دخير اوثواب نه وي . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام نسايي رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه دانس رضی الله عنه څخه روايت کړی دی. او امام احمد رحمت الله عليه او امام طبراني رحمت الله عليه دابوبکر رضی الله عنه څخه روايت کړيدی

که چيرې فاجر او بدکاره نه وي نو بيا غوره خبره داده چې هغه ځوک بايد د جګړې مشر وټاکل شي چې په ديني لحاظ سره ښه او مصلح وي په هغه حالت کې چې دا تشه بل چا نشو ډکولی .[102]

او همدارنګه ابن تيميه رحمت الله عليه ددې مسألې په اړه په يو جامع او ټوليز ډول دتاتار و دجګړې په درشل کې وايي : که چيرې داسې ځوک پيدا شول چې د تاتاريانو په مقابل کې په پوره ايمانداری سره جنګيږي همدغه د الله جل جلاله درضا دکلمې دعزت ، لوړوالي اوددين دپلي کيدو او دپيغمبر صلی الله عليه وسلم داطاعت او پيروی لپاره موخه او هدف دي که چيرې دمجاهدينو په ليکو کې داسې ځوک وه چې په دوی کې فجور، بدکاري دنيت خرابوالی وه لکه چې ځوک د رياست او چوکی لپاره جګړه کوي يا په ځينو حالاتو کې تيری پرې کوي او فتنه داسې رامنځته کيده چې دکفارو په ضد دجګړې مانع ګرځيده نو پدې صورت کې ددين دحفاظت لپاره ددوی په ضد په داسې نااهلو خلکو جهاد کول غوره دی تردې چې بالکل جهاد په ټپه ودرول شي ، همدارنګه دا واجب ندي چې کفار وټکول شي ووژل شي ترڅو دوه لويي فتنې پرې دفع شي او يوه وړه فتنه ومنل شي . همدغه داسلام اصول او مقرارت هم دي چې بايد مراعات يي وشي ، همدارنګه داهل السنت والجماعت داصولو څخه دهرنيکو کاره اوبدکاره ترقوماندې لاندې جهاد کول روا دی .. تردې چې ابن تيميه رحمت الله عليه وويل :-- دخلفاي راشيدينو دزمانې څخه راورسته زياتره غزاګانې په همدې ډول منځته راغلي دي او دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه ثابته ده چې فرمايلي دي :-٠-دآسونو په تنديو کې ترقيامته پورې خير شته چې هغه : ثواب اوغنيمت دی. دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت

-مجموع الفتاوی ج 28 ص 254-255 . [102]

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله علیه ، امام نسايي رحمت الله علیه ، امام ترمذي رحمت الله علیه ، امام أبوداود رحمت الله علیه ، ديوي ډېلي صحابه كرامو څخه روايت كړيدى دا حديث دهغه معنى ثبوت دى چې ابو داود په خپلو سننو كې دپيغمبرصلى الله عليه وسلم څخه روايت كړيدى غزا دهغه وخته راروانه ده چې الله جل جلاله پيغمبر صلى الله عليه وسلم رااستولى دى او تر هغه وخته به جاري وي چې زمااخرينى امتي دجال ووژني غزا او جهاد به دظالم ظلم او دعادل عدل له منځه يو نسي .

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه مشهوره ده چې فرمايلي يي دي :-- زمادامت څخه به يو ډله ښكاره په حق باندې ولاړه وي دچا مخالفت به څه زيان ورته ونه رسوي او دا به تر قيامته پورې همداسې وي دا حديث او داسې نور دلايل شته چې اهل سنت او جماعت دټولو ډلو سره يو ځاى ددې په كارولو متفق دي چې دهغه چا سره چې دجهاد وړوي دنيكو كاره او بدكاره اميرانو تر قوماندې لاندې جهاد وكړى شي ،، يوازي روافض او خوراج چې داهل سنتو څخه وتلي پدې كې اختلاف لري سره ددې چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبر وركړي فرمايي :-- خامخا به وروسته ظالم ، خاين او فاجر اميران قدرت ته رسي چاچې دهغوى ددرواغو ريښتينوالي تصديق كړه او له هغوى سره يي مرسته وكړه زما دامت څخه ندي او زه هم دهغوى نه بيزاره يم او حوض كوثر ته به نه راځي او چاچې دهغوى ددرواغو تصديق ونكړ او له هغوى سره په ظلم كولو كې مرسته ونكړه هغه زما امتي او زه دهغوى نه راضي يم او هغوى به حوض ته راځي ، دا حديث امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام طبراني رحمت الله عليه او امام حاكم رحمت الله عليه روايت كړى دى ، دكوم سړي علم چې هغه څه ته ورسيد چې پيغمبرصلى الله عليه اميرانو ته تر قيامته دجهاد كولو امر كړى او د ظالمانو سره يې دهغې د ظلم كولو نه دمرستې څخه منع كړيده پدې پوهول كيداى شي چې منځنى لار داسلام خالص دين دى هغه دا چې : دهغه چاسره جهاد كول چې وړاو مستحق يې وي لكه دغه قوم چې ددوى تا كل شوى شخص دهر امير سره وي او دغه په حق ولاړه ډله په اسلام كې له دوى څخه غوره ده ، كه پرته له دې څخه يى جهاد كول ناشونى وي ، او دهغه ډلي له مرستې څخه ځان ژغورل چې دى ورسره په غزا كې شريک وي او هغوى دالله جل جلاله څه نا څه نافرماني كوي بلكه اطاعت يې دوكړي دالله جل جلاله په اطاعت كې، او كه هغوى نافرماني كوي بيا يې اطاعت پرې نشته ځكه چې دمخلوق اطاعت د الله جل جلاله په معصيت اونا فرماني كې نشته داددې امت دغوره خلكو پخواني او اوسنى‌لارده اودهمدې اختيارول په هرمكلف مسلمان باندې وا جب ده، او همدامنځنى لاردحروريه ؤ او ددوى په ساري كوم خلک چې دفاسدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقوی او پرهیز ګاری لرونکي دي او دکم علمی او نا پوهی څخه سرچشمه اخلي او دمرجئه ؤ په څیر او چا چې دامیرانو اطاعت په مطلق ډول منلئ پداسي حال کې چې دغه امیران نیکان هم نه وي یوه ډیره غوره او منځنیۍ لارده ،[103] او همدارنګه شرح عقیده طحاویة ٤٢٢—٤٢٣ مخونه وګوری ډیراوږد بحث یي ذکرکړیدی خو زموږ له یادي شوي څېړنتیااولیکنې څخه نه وځي .

**دعقیده طحاوي شارح رحمت الله علیه ویلي** :-- دمتن خاوند امام طحاوي رحمت الله علیه قول دی چې حج او جهاد دمسلمانانو دامیر سره که هغه نیکوکار وي او یا هم بد کار تر قیامته پوري روان دی نه یي کوم شی کمولی شي او نه یی له منځه وړلی شي ، شارح رحمت الله علیه وایي :-- شیخ رحمت الله علیه( امام طحاوي ) رافضه ؤ ته د رد په درشل کې اشاره کوي وایي : دالله جل جلاله په لار کې تر هغه پورې جهاد نشته ترڅو د آل محمد صلی الله علیه وسلم څخه رضا خروج ونه کړي او داسمان له پلوه یوآوازکوونکی آواز وکړي چې : ددغه شخص پیروي وکړئ،
ددغه قول بطلان ددې څخه ډیر څرګنددی چې دلیل پرې وړاندې شي رافضه وو د امام په هکله پرته له کوم دلیل نه دټولو نه ګناهونو څخه عصمت او پاکوالی شرط بللی دی بلکې په صحیح امام مسلم کې د عوف بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي ما د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایلي یي دي :-- غوره او ښه مشران ستاسې هغه خلک دي چې تاسوورسره مینه لری او هغوی ستا سو سره مینه لري تاسو دعا ورته کوی او هغوی تاسو ته دنیکی دعاکوي او بدترین دمشرانو ستاسې هغه خلک دي چې بدیي بولی اوکرکه ورڅخه کوی او دوی هم ستاسې څخه کرکه او نفرت کوي او تاسو پرې لعنت وایی او هغوی هم پر تاسې لعنت وایي ، عوف رضی الله عنه وایي ما ورته وویل : اي دالله جل جلاله رسوله ، آیا مخالفت یی نکړو ، رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل:-- نه ، ترڅو یي چې په تاسو کې لمونځ قائم کاوه، خبردار اوسی په چاچې کوم والي او مشر وټاکل شو اوویي لید چې دالله جل جلاله  څخه نافرماني کوي نو هغه څه دبد وبولي کوم چې دالله جل جلاله نافرماني او ګناه کوي او هیڅکله دخپل لاس د هغه له اطاعت څخه نه باسي مخکې دامامت په مبحث کي ددي

---

[103] - مجموع الفتاوی ج 28 ص 506 – 508 ، شرح العقیدة الطحاویة 422- 423 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث په خیرځینې احادیث تیر شول خو دایې ونه ویل چې امام باید معصوم او د ګناه څخه پاک وي [104]

امام بخاری رحمت الله علیه په کتاب الجهاد کې ددې مسألې لپاره باب ایښی دی اوویلي یې دي : جهاد دهر فاجر او نیک امیر سره کیږي ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه فرمایلي دي : دآسونو په تندیو کې تر قیامته خیر او نیکي ایښودل شوي ، دا حدیث دعروة بارقي رضی الله عنه څخه په مرفوع ډول روایت شوی چې :-- دآسونو په تندیو کې دقیامت تر ورځې پورې خیر ایښودل شوی چې هغه : ثواب او غنیمت دی .

ابن حجر رحمت الله علیه ددې په شرح کې ویلي دي : پدې حدیث دلیل نیولوته امام احمد رحمت الله علیه مخکې شوي ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دآسونو په تندیو کې تر قیامته پورې دخیر یادونه کړې او هغه خیر یې په ثواب او غنیمت باندې تفسیرکړی او غنیمت یادول داجر سره یو ځای په آسونوکې یوائې په جهاد کې منځته راځي او دایې ندي مقید کړي چې امام یا امیر باید عادل وي نودا پدې سره دلالت کوي چې ددغه بهترۍ او ثواب په ګټلو کې دا تو پیر نشته چې غزا د نیکو کار امیرترقوماندې لاندې وي یا دبدکارامیر تر قوماندي لاندې ، او په حدیث کې دیته ترغیب دی چې باید په آسونو جهاد وکړی شي.[105] .

دغه فاجرامیرچې جهادورسره کول ( دهغه تر قوماندې لاندې ) روادی همدارنګه دهغه څخه وروسته لمونځ ادا کول هم واجب دي که چیري په بل چا پسې لمونځ کول ناشونی وه او یا په بل چا پسې دده څخه پرته دلمونځ کولو څخه لویه فتنه او چتیده او دا هم داهل سنت او جماعت په وړاندې یو ټاکل شوی اصل دی پدې اړه ابن تیمیه رحمت الله علیه وایي : پدې کې ټولیزه او صحیح خبرداده چاچې په عدل سره پریکړه وکړه اویایې په عدل سره ویش وکړ امر یې دپه ځای شي او چا چې امر په نیکی وکړاو منع یې دبدی څخه وکړه دهغه سره دمرسته وکړی شي پدې شرط چې پدې سره کومه لویه فتنه منځته نه راتله د جُمعې او جماعت لپاره حتمابایدامامان وټاکل شي که چیرې دنیک او صالح امام ټاکل ممکن وه بیا دفاجر امام ټاکل ندي روا ، اونه دهغه مبتدع چې خپل بدعت ښکاره کوي ځکه چې ددوی په وړاندې دتوان سره سم مقابله واجب ده اوددوی تعین کول رواندي ،که چیرې ددوه داسې کسانو

---

-[104]، شرح العقيدة الطحاوية ص ۴۳۷ .
- فتح الباری ج 6 ص 56 . [105]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقررول حتمي وه چې په دواړو کې هم بدعت او هم فجور موجودوي بيا دهغه کس چې لړنيکي يې تر بل زياته وي مقررول واجب دي ، او که چيرې په جهادکې ددوه داسې کسانو څخه چې ديو مقررول لازمي وي په يوه کې دجهاد کمزورتيا وه خو ديندراه وه او په بل کې دجهاد لپاره ګټه وه خو ګناهکار او بدکاروه نو ددغه شخص تړا کل چې مسلما نانو ته ګټور وي دهغه چا دتاکلو څخه چې مسلمانانو ته زيانمن وي غوره او بهتر دی.[106]

دعقيده طحاوي شارح رحمت الله عليه ويلي دي :-- پدي پوه شه چې الله جل جلاله دپر مونږ او تاسې رحم وکړي.

داماماتو په اتفاق سره دهغه سړي لپاره لمونځ کول روا دي چې دخپل امام دبدعت او فسق څخه خبر نه وي ، دجماعت دشروطو څخه داندي چې دامام دعقيدې څخه خبر وي او دا هم نشته چې امتحان ترې واخلې اووايي : ستا عقيده څه شی ده؟ بلکې په هغه چا پسې به لمونځ کوې چې حالت يې پټ وي که چيرې يې په هغه مبتدع پسي لمونځ وکړ چې خپل دعوت ته بلنه کوي او يا په ښکاره سره فاسق او بدکاره وي خو هغه دفرض لمانځه امام وي چې پرته له ده څخه دلمو نځ کولو امکان نه وي لکه دجُمعي اواخترونو امام يا په حج دعرفات امام او داسې نور، نو دعامو سلفو او خلفاؤ په نزد به مقتدي لمونځ پسې کوي او چاچې په فاجر او بدکار امام پسې دجُمعي او جَمعي لمونځ ونکړنو دغه شخص دعامو علما ي کرامو په نزد بدعتې دي .

**صحيح حکم دادی چې:**

لمونځ به کوي او بيرته به يي نه راګرځوي ځکه چې صحابه کرامو به دجَمعې او جُمعې لمونځونه په ظالموواميرانو پسې ادا کول او بيا به يي نه راګرځول لکه څنګه چې عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دحجاج بن يوسف پسې لمونځ کاوه اوبيا به يي نه راګرځاوه ، همدارنګه انس رضی الله عنه ، عبدالله بن مسعودرضی الله عنه او داسې نورو به دوليد بن عقبه بن ابي معيط پسې لمونځ کاوه . او هغه به شراب څښل تردې چې يو ځل يي دسهار لمونځ څلور رکعته ادا کړ او بيايې وويل : - نور يي درته زيات کړم ، په صحيح سند سره راغلي چې کله عثمان رضی الله عنه کلا بند شو خلکو ته يوه کس لمونځ امامت وکړ نو يوکس د عثمان رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه ته دعامو مسلمانانو امام يې او دغه سړي چې خلک

---

[106] منهاج السنة النبوية ج ۴ ص ۵۲۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ پسې کوي دفتنې امام دی عثمان رضی الله عنه وويل :-- ای وراره لمونځ دهغو غوره اعمالوڅخه دی ،چې خلک يې اداء کوي که ښه يې اداکړنو ښه يې ورسره ادا کړه او که يې سم ادا نکړ ته يې دبدی څخه ليري شه تر دې چې ويې ويل :کله چې دمقتدي نه دجَمعې او جُمعې لمونځونه ( د فاجر امير په امامت باندې ) پاتې کيږي نودلته پرته د بدعتي څخه بل څوک لمونځ نه پريږدي کوم چې دصحابه کرامو سره مخالف دي ، ( بلکې بايد لمونځ اداء شي ) .

او همدارنګه که چيرې امام دمشرانو لخواټاکل شوی وي اوپه ده پسې دلمونځ په پريښودو کې څه شرعي ګټه هم نه وي نو دلته به لمونځ نه پريښودل کيږي بلکه په ده پسي لمونځ کول بهتر او غوره دي ، که چيري څوک پدي سره ونه توانيږي چې دامامت داسې څوک واړندي نکړي چې هغه ديو منکر او بدکار ښکاره کوونکی وي نو په ده واجب دي چې دغه کار تر سره کړي مګر که چيرې بل چا ټاکلی وي او نشي کولای چې دامامت څخه يې منع کړي او يايي دامامت څخه منع په ډير لوي زيان او ضرر له هغه منکر او بديڅخه منځ ته راځي چې ښکاره کوي يې نوپدي صورت کې دوړي فتني دفع کول په لويې فتني سره او يا دلږ زيان دفع کول په لوي زيان سره جواز نلري ، ځکه چي شرايع او الهي قوانين دګټو دحاصليدو په خاطر راغلي . نو دجَمعې او جُمعې دله منځه تلل ډيره لويه فتنه تر هغې ده چې پدې دواړو جَمعه او جُمعه کې په فاجر او بد کاره امام پسې اقتدا وشي په ځانګړې ډول که چيرې دده په وروسته کيدو سره فجوراو بدي هم نشي لري کولی نو دشرعي مصلحت تعطيل کول پرته دهغه فتني له دفع کولو څخه پخپل ځاي پاتي کيږي.[107]

**ددوهمې فرعې جواب دادی چې** :--دا پدې پورې ځانګړې ده چې ددې امير ګناه جهاد ته زيان رسوي او خپل هدف لاسته نه راوړي لکه چې کوم امير دالله جل جلاله ددښمنانو سردوستي کوي او يا هم دجهادي قضيي ( مسألي ) سره خيانت کوي .

او پرته له کومې ګټې دمسلمانانو ضايع کيدوته هيڅ اهتمام نکوي او يا مسلمان جګړي ته د طواغيتو د يو طاغوت د تخت د ټنګښت او داسلام دکوم مخالف نظام دبقاء او جوړيدو لپاره واړندې کوي پدې هکله صحيح خبره داده چې : دداډول اميرانو سره او دهغوی تر امرلاندي جهادنه کړل کيږي ځکه چې دوي دامارت دشرعي رنګ دموخې او هدف سر مخالفت وکړ .[108]

---

،،،ص 422- 423 . [107] 101 - شرح العقيده الطحاوية ص

- تفسير قرطبي ج 1 ص 272 . [108]

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله علما ی کرامو دهغه امیر چې بدي یي خپل ځان ته رسي او دهغه امیر چې دبدی زیان یي ټولو مسلمانانو ته رسیږي توپیر بیان کړی دی.[109] دغه بیان مخکې تیر شو والحمد الله رب العالمین .

**دمسلمان امیرپه واړندي دولس دندي او مسولیتونه :**

په ولس باندي ددغه امیر سره په لنډډول لاندې دندي او مسولیتونه واجب او لازمي دي دامیر خیره اوریدل او دګناه څخه پرته دهغه پیروی کول ، او دامیر په زیاتیو صبر کول اګر دولس ځینې حقوق هم ورنکړي ، ده ته دعا کول ، دده ترلاربښوونې لاندي جهاد کول ، ده ته دزکات ورکول ، دشرعي ادب په نظرکې نیولو سره ورته نصیحت کول.

**لومړي دنده :--دامیرخبره اوریدل او دګناه څخه پرته یې اطاعت کول .**

دمشرانو او امیرانو خبرې ته غوږ ایښودل او پرته له ګناه څخه یې اطاعت کول عبادت دی چې یو مسلمان یدې کې دالله جل جلاله څخه ثواب غواړي ځکه ددوی اطاعت دالله جل جلاله داطاعت څخه دی دهغوی اطاعت دالله جل جلاله داطاعت څخه دی، هغوي ته غوږ ایښودل او نیکي کې یي اطاعت کول دمسلمانانو تر منځ دیووالي او وحدت دمهمو اسبابو او لاملو نو څخه دی ځکه ددوی په اطاعت کې د هغو اراوو او نظریاتو چې اختلاف ته لمن وهي، په نتیجه کې دمسلمانانو دتیت پرک کیدو او ددوی دقوت ، دبدبې دله منځه وړلو او اختلاف اچولو لپاره کاروي یوقوي ګوزار او غاښ ماتوونکی ځواب دی ، له همدې امله دټولو مسلمانانو لپاره دیو امام تا کل دمسلمانانو تر منځ اختلاف،خپل منځي شخړې او تیتوالی ختموي شرعي امرته په غوږ ایښودو سره یوائې او په اطاعت سره هم یوائې او دداوړو( غوږ ایښودلو ، او اطاعیت کولو ) په هکله یو ځای امرراغلی دی : کوم چې یوازې داوریدلو او غوږ نیولو امرراغلی دادی چې الله جل جلاله خپلو مومنو بندګانو ته په خطاب کې فرمایلي : وَاتَّقُوا اللّهَ وَاسْمَعُواْ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿108﴾.[110]

ژباړه :- او ووېرېږئ تاسې له الله او په دروغو قسم مه کوئ او واورئ تاسې د الله احکام د زړو په غوږونو سره ، او الله نه ښيي سمه صافه لاره ( د خير او جنت ) قوم فاسقانو ته .

[109] - مغني او شرح کبیر ج 1 ص 371-372 .
[110] - سورت المائده آیت ۱۰۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا داچې واروئ هغه څه چې درته ويل کيږي او هغه څه چې پند ترې اخلئ ويې منئ . او پدې کې دالله جل جلاله دامرتابعداري وکړئ په هغه سره عمل وکړئ او هغه ته ورسيږئ الله جل جلاله فرمايلي :

وَاسْمَعُوا وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿104﴾[111]

ژباړه :- او واورئ تاسې ( حق د زړه په غوږو ) او شته دی لپاره د کافرانو دردناک عذاب ( ددوزخ) .

معنا دا چې واروئ هغه څه چې درته ويل کيږي اوپه تاسو لوستل کيږي دالله جل جلاله دکتاب څخه په هغه کې فکر وکړئ او ځانونه پرې وپوهوئ په اوريدلوسره امرداطاعت او منلوپه معنی سره دي نه يوازې ادراک اوحس ترې هدف دي او له دې څخه دالله جل جلاله قول دی چې :-- الله جل جلاله دثناء ويونکي، ثناء اوصفت وارويده ، يعني ويې مانه او قبول يې کړو او هم دا قول دشاعر دی چې ويلي يې دي :

الله جل جلاله ته مي دومره زياته دعا وکړه تردې چې وويردم - چې الله جل جلاله به زماخبرې نه اوري .

يعني : زمادعاء به نه قبلوي ،

دکعب بن عجرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويل يې دي :-- موږ ته پيغمبر صلی الله عليه وسلم راووت او موږ نهه، څلور ،ياپنځه کسان وو اوويې ويل : - واروئ آيا تاسو وارويده بيشکه زما څخه وروسته به اميران راځي څوک چې ورغلل او دهغوی ددروغو تصديق يې وکړو اوله دوی سره يې په ظلم کولو کې مرسته وکړه هغه زمادپيروانو څخه ندی او نه هم زه دهغوی لپاره پيغمبريم اونه به ماته حوض کوثر ته راځي او څوک چې هغوی سره داخل نشي او له هغوی سره دهغوی په ظلم کولو کې مرسته ونکړي او ددرواغو تصديق يې هم ونکړي هغه زما امتي دی او زه دهغه لپاره پيغمبريم او ما ته به حوض کوثر ته راځي .

دا حديث امام احمد رحمت الله عليه اوامام ترمذي رحمت الله عليه روايت کړيدی اوويلي يې دي :- حديث صحيح او غريب دی او همدارنګه امام ابن حبان رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه،امام ابن ابي عاصم رحمت الله عليه اوامام حاکم رحمت الله عليه روايت کړی اوويلي يې دي : دا حديث دامام مسلم رحمت الله عليه دصحيح په شرح کې دی، امام بخاری رحمت الله عليه او امام مسلم رحمت الله عليه روايت کړي ندی...د ابو مالک اشعري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه فرمايلي دي :-- اي خلکو واروئ : ځانونه ښه وپوهوئ

[111] ـ سورت بقره آيت ۱۰۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوعلم حاصل کړئ بیشکه دالله جل جلاله داسې بندګان دي چې نه پیغمبران دي اونه شهیدان له دوی سره پیغمبران او شهیدان پدې کې غبطه( سیالي ) کوي اوددوی په شان دمنازلو هیله مند به وي ځکه چې ددوی منزلې او نږدیکت له الله جل جلاله سر ډیر دی .

دا حدیث اوږددی ، داحدیث ټولوامامانولکه : امام احمد رحمت الله علیه، امام طبراني رحمت الله علیه ، امام دارمي رحمت الله علیه،امام عبدالله بن المبارک رحمت الله علیه په زهد کتاب کې په همدې ډول روایت کړیدی او سندیي جید دی ، دلته یوه فایده ده چې ان شاالله دآیاتونواو نبوي احادیثو پخوانی فایده پرې بشپړیږي او هغه داچې : اوریدل دوه ډوله دی ، عقل هم دوه ډوله دی ، او هدایت هم دوه ډوله دی، ددې ویش په هکله دلایل شته . الله جل جلاله دکفارو لپاره داوریدو،عقل او هدایت یو ډول ثابت کړیدی او له دوی څخه یې هغه بل ډول دسمع ( اوریدو ) عقل او هدایت نفې کړیدی.

**لومړی ډول یې چې:**

ورته ثابت کړیدی پدې شرط چې په دوی حجت او دلیل قائم شي اودا پدې پورې اړه لري چې دحجت په معنی وپوهیږي اوپدې وپوهیږي چې په صحیح ډول څه شی ترې مراد او مقصددی.

**دوهم ډول :-**

کوم چې دکفارو څخه نفي شوی او دلارموندونکومومنانو لپاره ثابت شوی دادحجت قبلیدل ،په هغه ایمان راوړل هغې ته غاړه ایښودل او ګټه ترې اخستل دي .

**ددې تفصیل دادی چې :**

اوریدل په دوه ډوله دي : - لومړی نوع یې دادراک اوریدل دي دا هغه نوع ده چې الله جل جلاله کفارولپاره پخپل دغه سپیڅلي فرمان کې ثابته کړیده چې : قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ)) [112]

ژباړه :- ویې ویل ( جهودانو ) اوریدلې ده موږ ( ستا خبره ) او ندي منلي موږ ( ستا حکم ) او ورچښلې شوې وه په زړونو ددوی کې ( مینه د ) خوسي .

دهمدې په څیرالله جل جلاله دغه قول دی چې فرمایي: وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ[113]

---

[112] - سورت بقره آیت ۹۳.

[113] سورت النساء آیت ۴۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :- او وايي دغه( جهودان ) واوريدل موږ ( وينا ستا ) او ونه مانه موږ ( حکم ستا ) او ( وايي جهودان ) واوره ( ته) .

اوپدې قول دالله جل جلاله کې چې فرمايي : (( وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لاَ يَسْمَعُونَ)) [114]

ژباړه :- اومه کيږئ تاسې ( ای مؤمنانو) په شان دهغو کسانو چې وايي ، واوريده موږ حال داچې دوی نه آوري ( ګټبور واوريدلوسره ) .

او پدې قول کې الله جل جلاله فرمايلې دي :-- ﴿وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَذَا إِنْ هَذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ ﴾

ژباړه :- اوکله چې ولوستل شي پدوی باندې آياتونه زموږ نو وايي دوی په تحقيق واوريده موږ( دغه کلام ) که وغواړو موږ نوخامخا و به وايو موږ هم په مثل دده ندی دغه (کلام ) مګرخودی ددروغو ليکل ( اوباطل احوال ) د پخوانيو.

او همدارنګه دالله جل جلاله قول دی چې : وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلاَمَ اللّهِ ﴿6﴾

ژباړه: اوکه يوتن له مشرکانوڅخه امن ( پناه ) وغواړي له تا ( له قتله ) نو پناه ورکړه ته ! هغه ته څو چې واوري کلام د الله .

اوهمدارنګه دالله جل جلاله داقول دی :- يَسْمَعُ آيَاتِ اللَّهِ تُتْلَى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا ﴿8﴾ [115]

ژباړه :- چې اوري آياتونه دالله چې لوستلی کيږي په هغه باندې بيا ټينګتيا کوي په غرور سره لکه چې هغه ندي اوريدلي هغه.

---

[114] سورت انفال آيت ٢١.
[115] سورت الجاثية آيت ٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداسې نور آياتونه چې دکفارو لپاره اوریدل په کې ثابتوي او په همغه وخت کې دزړونواوریدل نفي کوي همدادوهمه نوع ده چې : دقبول والي ، منلو ، هدايت او ګټي اخستلو لپاره اوريدل،الله جل جلاله دکفارو څخه نفي کړيدي داد الله جل جلاله عدل دی چې پدې آيت شريف کې يې فرمايلي دي : وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ(23) [116]

ژباړه : اوکه معلوم وی الله ته په دوی کې څه خير،نو توفيق داوريدو به يې ورکړی وه اوکه اورولی يې وی دوی ته نو خامخابه ګرزيدلی وو دوی ته او دوی مخ اړوونکي دي .

او پدې قول دالله جل جلاله کې راغلي دي: وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لاَ يَسْمَعُونَ ﴿21﴾ [117]

ژبا ړه :-اومه کيږی تاسې په شان د هغو کسانو چې ويي ويل : چې واوريدل موږ او حال داچې هغوی نه اوري .

او پدې قول دالله جل جلاله کې چې دا اوريدل يی د کفارواو سيدونکو څخه نفی کړی ده رب العزت جل جلاله فرمايلي دي : وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿10﴾ [118]
ژبا ړه : -او وبه وايي که چيرې وی موږ چې اوريدلي مو،ياموږ دعقل نه کار اخستلی نو نه به وه موږ په ملګرو د اور کې .

نو الله جل جلاله ددوی لپاره دغوږ اوريدل ثابت کړل چې هغه ادراک دی پدې قول دالله جل جلاله کې چې: قَالُوا سَمِعْنَا [119]سورة انفال ايت \٢١ .

ژباړه : -دوی به ويل موږ واوريدل .

او تري نفي يي کړه سمع ( اوريدل ) دقبول والي اومنلو کوم چې دوی ته ګټه رسوي پدې قول دالله (جل جلاله کې چې : وَهُمْ لاَ يَسْمَعُونَ ﴿21﴾ [120]

---

[116] سورت انفال آيت ٢٣ .
[117]سورت انفال آيت ٢١.
[118]سورت ملک آيت ١٠.

- سورت انفال آيت 21 .[120]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :- او دوی نه اوري .

او قول دالله جل جلاله چې: ( لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ )﴿10﴾ [121]

ژباړه:- که موږ اوریدل کړی شوی .

اوهمدارنګه کوم چې دالله جل جلاله په فرمان کې راغلي دي :- وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ ........ ﴿25﴾ [122]

ژباړه :- او بعضې ددوی نه،هغه څوک دي ، چې غوږ نیسي ، تاته ، او اچولي دي موږ،په ، زړونوددوی باندې ،پردې ، چې پوه ( نه ) شې پدې .

**عقل په دوه ډوله دی :**

**لومړي :-- هغه عقل چې دلیونتوب ضد اوعکس دی**

په همغه سره انسان مکلف ګرځي اوپه هغه سره مکلف دمعنی په پوهیدلو سره توانیږي . همداعقل الله جل جلاله دکفارولپاره ثابت کړیدی او الله جل جلاله دابیان کړي چې کفارو ته کوم خطاب کیږي په هغه پوهیږي ، الله جل جلاله فرمایلي دي : أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿75﴾ [123]

ژباړه :- آیا تاسو امید لری ،چې ایمان به راوړی دوی، په وینا ستاسو،اوحال داچې وه،یوه ډله،ددوی نه،چې اوریدو به یې،کلام د الله ،بیابه یې ،بدلولو هغه کلام ، وروسته د هغې نه ، چې پوه به شول په هغې ، او هغوی پوهیدل .

یعني الله جل جلاله ددوي لپاره اوریدل ثابت کړل چې: يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ [124]

---

- سورت ملک آیت 10 . [121]
- سورت انعام آیت 25 . [122]
- سورت بقره آیت 75 . [123]
- همدغه مصدر . [124]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه- چې اوريدو به يي ، کلام د الله.

اودوى يي په معنا پوه کړل لکه چې: أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿75﴾ [125]

ژباړه :آيا تاسو اميد لرى ،چې ايمان به راوړى دوى، په وينا ستاسو،اوحال داچې وه ، يوه ډله ، ددوى نه ، چې اوريدو به يي ، كلام د الله ،بيابه يى ، بدلولو هغه کلام ، وروسته د هغې نه ، چې پوه به شول په هغې ، او هغوى پوهيدل .

يعني : دوى ګټه ترې وانخسته او مستفيد ترې نشول.

**دوهم : هغه عقل چې دزړه دفهم اوادراک په معنا سره**

**هغه پوهه چې دې خطاب دقبلولو اودهغې دمنلو او دګټې اخستلو سره لازمي ده همدغه الله جل جلاله پدې قول کې دکفاروڅخه نفي کړي ده چې : وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ﴿10﴾ [126]**

ژباړه :-او وبه وايي هغوى ، كه چيرې وى موږ،چې اوريدلي مو، ياد عقل نه موكار اخستلاى ، نونه به وى موږ، په ملګرو داور کې .

همدارنګه دالله جل جلاله پدې قول کې چې دکفارو څرنګوالى او وصف بيانوي فرمايي :- صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ ﴿171﴾ - [127]

ژباړه :- كاڼه دي ، ګونګيان دي ، ړانده دي ، نو دوى ، نه پوهيږي په خبره .

همدارنګه پدې قول کې چې:- أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ﴿44﴾ [128]

ژباړه :- آياګومان کوې ته ، چې بيشکه ډير خلک ددوى ، (ګڼي ) اورې خبره ، ياد عقل نه کاراخلي ، نه دي دوى ، مګر دي ، په شان دڅناورو.

---

[125] - سورت بقره آيت 75 .
[126] - سورت ملک آيت 10 .
[127] - سورت بقره آيت 171.
[128] - سورت الفرقان آيت 44.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نور آياتونه چې دکفارو دناپوهی بيان په کې شوی دی په يقيني ډول الله جل جلاله خبر ورکړی چې ددوی څخه يي دا عقل پدې باندې اخستی چې دوی دحق دمنلو څخه مخ ګرځولی نو دايي جزااوعقاب دی لکه چې: الله جل جلاله فرما يلي دي :- وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَى فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿57﴾ [129]-

ژبا ړه :- او څوک دي ، ډير ظالم ، د هغه چانه ، چې نصيحت وکړی شي هغه ته ، په ذريعه د آياتونو، درب خپل ، نو هغه مخ واړوو د هغې نه ، او هيرشوترې ، هغه انجام، چې مخکې يي ليږلی دی ، لاسونه دهغه ، بيشکه موږ، اچولی دی ، په زړونو دهغوی باندې ، پردې چې پوه شي په هغې ، او په غوږونو د هغوی کې ، دروندوالی دی ، او که چيرې ، ته راوبولې هغوی ، هدايت ته ،نوهرګيز به هدايت ونه مومي ، پدې حالت کې ، هميشه .

يعني :الله جل جلاله بيان کړی چې دغه مهر لګول ددوی په زړونو او غوږونو باندې ددې له امله دي چې دقران کريم دآياتونو دتدبر اوپند اخستنې څخه يې مخ ګرځولی نودا ددوي لپاره عذاب او جزا ده

**هدايت په دوه ډوله دی :--**

**لومړي ډول : -دښودني او دلالت هدايت دی :**

همدالله جل جلاله دکفارو لپاره پدې مبارک آيت کې ثابت کړيدي لکه چې فرمايي :- وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَى عَلَى الْهُدى ...﴿17﴾ [130]

ژباړه :- او هرچې ثموديان دي ، پس نيغه لار مووړښودلې ده ، هغوی ته ، پس غوره کړل هغوی ، بندول د سترګو ، په ځای د کتلو لارې ته .

همدارنګه الله جل جلاله په دغه مبارک آيت کې دانسان له پلوه فرمايلي دي :- إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿3﴾- [131]

ژباړه :- بيشکه،ښودلې موږ ده ته،لاره، که شاکر کيږې ، اوکه کفرکوونکی ( ناشکره )کيږي .

لکه پدې مبارک آيت کې چې فرمايلي دي :- وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿7﴾ [132]-

---

[129] - سورت الکهف آيت 57 .
[130] - سورت فصلت آيت 17.
[131] - سورت الانسان آيت 3 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : اودپاره دهرقوم لارښودونکی مقرردی .

او داسې نور آیاتو نه شته چې پدې معنی سره راغلي دي چي : داهغه هدایت دی چې الله جل جلاله پري ثموديانو، ټولو پیریانو او نسا نانو ته، کافرانو او مومنانو ته یي پري هدایت کړیدی ځکه چې الله جل جلاله دوي ته دطاعاتو او ګناهونو لارښوونه وکړه او هغه څه یي ورته وښود چې الله جل جلاله پري راضي کيږي او هغه څه چې پري په قهرکيږي .

**دوهم ډول :-- دقبول والي اومنلو هدایت :**

دغه هدایت الله جل جلاله د کفارو څخه نفي کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي :- إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿56﴾ [133]-

ژباړه :- بیشکه ته چې یي ، نشي ښودلی لارته ، هغه چاته ، چې خوښوې یي ته ، ولکن الله ، ښائي ، هغه چاته ، چې غواړي یي هغه ، او هغه ، ښه عالم دی په هدایت موندونکو باندې .

او پدې قول دالله جل جلاله کي چې فرمايي :- لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَكِنَّ اللّهَ يَهْدِي مَن يَشاء...... ﴿272﴾ [134]

ژباړه :- نشته ، په تاباندې ذمه واري د هدایت کولو هغوی ته ، لکن الله هدایت کوي ، هغه چاته چې وغواړي .

نو الله جل جلاله دابیان کړي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دلارښووني او ارشاد په هدایت مکلف دي ځکه چې فرمايي :- وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿52﴾ [135]

ژباړه :- اوبیشکه ته،خامخا هدایت کوې،لارې نيغې ته .

دقبول او منلو په هدایت سره مکلف ندي او بس ، لکه څنکه چې دالله جل جلاله پدې قول کې راغلي :- أَفَأَنتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُواْ لاَ يُبْصِرُونَ ﴿43﴾ [136]

ژباړه :- آیانوته به ، لاروښايې، ړندوته، اګرکه وي هغوی ، چې هیڅ نه ويني .

او همدارنګه دالله جل جلاله پدې فرمان کې چې :- وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ﴿53﴾ [137]

---

[132] - سورت الرعد آیت 7 .
[133] -سورت القصص آیت 56 .
[134] - سورت البقره آیت 272 .
[135] - سورت الشورای آیت 52.
[136] - سورت یونس آیت 43 .
[137] - سورت الروم آیت 53 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :- اونه يې ته،لارښودونکې،ړندوته،دګمراهۍ دهغوی نه .

او داسي نور چې پدې معنی سره راغلي دي . کوم چې دالله جل جلاله دکفارو لپاره دحس او ادراک داوریدلو دمعنی دپوهیدلو دارشاد دښوونې څخه دا ټول په کفارو ددلیل او حجت قایمیدو له لوازمو او ضروریاتو څخه دي ، نوځنګه به دهغه چاسره حساب وکړل شي چې په یوه سبب داسبابو نه په خطاب پوه نشي اوله دوی څخه يې دوهم ډول دهدايت چې په قبول والي او منلو پوري اړه لري نفې کړیدی اودا هغه هدایت دی چې الله جل جلاله يې په مومنو او پرهیزګارو بندګانو باندې احسان کړی اوورکړې يي دي لکه څنګه چې فرمايي:- إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿51﴾[138]

ژباړه :- بیشکه،ده خبره،د مؤمنانو،کله چې، را وبللی شي،الله او رسول دهغه ته،چې فیصله وکړي رسول،په منځ دهغوی کې ، دا چې ووايي ، چې واوري د موږه او ومنو موږ حکم ، او داخلک چې دي ، همدوی ، خلاصې موندونکي دي .

او الله جل جلاله فرمايلي دي :- وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْواهُمْ ﴿17﴾[139]

ژباړه :- او هغه خلک،چې نیغه لاره موندلې ده ، زیات کړل هغوی لره الله ، په لحاظ دهدایت سره، او ورېي کړه هغوی ته ، تقوی دحصې دهغوی.

دغه هدایت دتوفیق ورکولو او مرسته په نیکۍ سره او دهغه ورته اسانیدل او په نفسونو کې دهغه جوړيدل او خوندي کیدلو څخه عبارت دی ، امر په طاعت سره له دې څخه دالله جل جلاله دافرمان دی چې :- أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ ) [140]

ژباړه :- حکم ومنئ دالله،او حکم ومنئ درسول،او دخاوندانو دحکم ، ستاسونه .

دا په قران کريم کې زيات ذکر شويدي:--الله جل جلاله داوريدلو امر او دطاعت امر يو ځای ذکر کړیدی لکه دالله جل جلاله پدې قول کې چې : وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ ﴿16﴾ [141]

ژباړه :- او آوری خبره او حکم ومنئ ، او مال خرڅ کړئ ، دا بهتره ده ، د پاره د نفسونو ستاسو.

داطاعت حقیقت دامر منل او هغه ته غاړه ایښودل دي لکه ګناه چې ضد او عکس ده هغه دامر مخالفت او دهغه ردول دي .

---

- سورت النور آيت 51 . [138]
- سورت محمد آيت 17 . [139]
- سورت النساء آيت 59 . [140]
- سورت التغابن آيت 16 . [141]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دآیت معنی او تفسیر دادی :-- یعني : هغه څه واوری چې تا سو ته پند درکول کیږي او دهغه څه اطاعت وکړی چې تاسو ته یي دکیدو امر کیږي دکوم شي څخه چې تاسو منع کیږی ځانونه ترې وساتی.

مقاتل رحمت الله علیه فرمایي :- اسمعوا : یعني په خاموشی سره هغه څه واوری چې په تاسو دالله جل جلاله د کتاب څخه نازلیږي او همدغه اصل دی په سماع اواریدلو کې . واطیعوا : یعني . دالله جل جلاله درسول اطاعت وکړی په هغه څه کې چې تاسو ته امر کوي اویاهم تاسو ترې منع کوي ، ویل کیږي چې : واسمعوا : یعني راشی هغه څه ته چې اوری یي، په اوریدلو باندې یي تعپیر پدې سره کړی چې همدغه یي ګټه ده .او کوم چې په اطاعت داولي الامر (مشر ) پورې مربوط دي په یقیني ډول الله جل جلاله فرمايلي دي :-- يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ ﴿59﴾[142]

ژباړه :- ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی ،حکم ومنئ دالله ، اوحکم ومنئ درسول،او دخاوندانو دحکم،ستاسونه .

دالله جل جلاله پدې فرمان کې فکر وکړه چې واطیعو الله واطیعو الرسول واولي الامرمنکم )) څنګه یي وویل چې تاسو درسول صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړی او دا سې یي ونه ویل داولي الامراطاعت وکړی بلکه تاسو یي په هغه څه کې اطاعت وکړی چې هغه دالله جل جلاله او درسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت دی . او فعل یي بیا درسول دلفظ سره تکرار کړ ځکه چاچې درسول الله صلی الله علیه وسلم اطا عت وکړ هغه دالله جل جلاله اطاعت وکړ ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دالله داطاعت څخه پرته دبل چاداطاعت امر نه کوي بلکه هغه صلی الله علیه وسلم پدې کې معصوم او پاک دی مګر اولي الامر کله ناکله دالله جل جلاله دامر څخه پرته دبل چا په اطاعت باندې هم امر کوي نودده دغه امر نه منل کیږي مګر یواځې هغه امر چې دالله جل جلاله او دهغه درسول الله صلی الله علیه وسلم دی منل کیږي .

داولي الا مر څخه مطلب هغه څوک دي چې الله جل جلاله یي اطاعت واجب کړی دی لکه والیان او علماء کرام دا دسلفواو خلفو څخه دمفسرینو ،فقها ؤ اوداسي نورو قول دی . [143]

په یقیني ډول الله جل جلاله پدې مبارک آیت کې داولي الامر په اطاعت سره چې علماء کرام او مشران ( پاچایان ) دي امر کړیدی او دغه اطاعت الله جل جلاله پدې سره چې دمسلمانانو څخه ( منکم ) دی

---

[142] - سورت النساء آیت 59 .

[143] - شرح صحیح مسلم للنووی ج 12 ص 464-465، تفسیر ابن کثیر ج1 ص 445 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقید کړیدی له همدې امله علما کرامو هغه اولي الا مر ذکر کړيدي چې داطاعت او امر منلو امر کوي نه هغه پاچان چې امر په منکر او منع د نیکی څخه کوي او دا کار حرام ګڼي او نه هغه پاچایان چې خلک په ډیر شدت داوسپني اواور په زور دوسلي په قوت سره کفر ته اړوي دوی هغه کسان ندي چې په هر وخت کې یي اطاعت واجب دی داولي الامر څخه مطلب هغه با عمله علما کرام دي چې په نیکی سره امر کوي اوله بدی څخه خلک منع کوي اوبل هغه رښتيني پاچان دي چې دالله جل جلاله اود رسول صلی الله علیه وسلم دامر سره سم عمل کوي، په نیکی سره امراو له بدي څخه خلک منع کوي مګر هغه فاسق تیرې کوونکې اوظالم انسانان په خلکو حاکمان نشي مقرریدی او اصلا دغه کارروانډی چې دخلکو مشران شي ، پدي هکله الله جل جلاله فرمايي :- لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿124﴾ 144

ژباړه :- نه شامليږي ، وعده زما ظالمانوته .

پدې اړه دمسلمانانو پوهان متفق دي ، دغه فاسق او ظالم حاکمان اوددوي په خیر دنورو اطاعت نشي کیدای ځکه چې پیغمبرصلی الله علیه فرمايلي دي :-- دمخلوق اطاعت دالله جل جلاله په معصیت او ګناه کولو کې نشته .

امام قرطبي رحمت الله علیه ویلي دي :-- جابر بن عبدالله رضی الله عنه ، ابن عباس رضی الله عنه،مجاهد،عطاء،حسن بصري اوابوالعاليه رحمت الله علیهم اجمعین ویلي دي :-- اولو الا مر،اهل القرآن،علماء،فقهاؤ ته ویل کیږي . همدا د امام مالک رحمت الله علیه نظر دی په همدې دول امام ضحاک رحمت الله علیه هم ویلي د ي چې داولو الأمر څخه مطلب فقهاء او ديني علماءدي اوداامام مجاهد رحمت الله علیه څخه روایت دی چې مطلب تري علماء او فقهاء دي : فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ ....﴿59﴾ 145

ژباړه :- نوبیا که،ستاسو په منځ کې جګړه راشي ، په څه خبره کې ، نو واپس کوی هغه ، الله ته او رسول ته .

یعني دشخړي په وخت کي خپله پریکړه دالله جل جلاله او نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارکو سنتو ته وړاندي کړي او حاکمانو ته هیڅ شي مه وړاندي کوي .

---

144 - سورت البقره آیت 124 .
145 - سورت النساء آیت 59 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله بن امام احمد رحمت الله علیه ویلي دي :--داولو الامر څخه مطلب علماء فقها ء او دالله جل جلاله اطاعت کوونکي بندګان دي کوم چې خلکو ته دين ورزده کوي او هغوی ته په نيکی سره امراو اوله بدي څخه يي منع کوي الله جل جلاله په خلکو باندې ددوی اطاعت واجب کړيدی دحضرت ابوهريره رضی الله عنه، میمون بن مهران رحمت الله عليه اومقا تل رحمت الله علیه اوکلبي څخه روايت دی چې داولو الا مر څخه مطلب : دجهادي ګروپونو مجاهدين دي،سهل بن عبدالله رحمت الله عليه ويلي دي :خلک به تر هغه پوري ښه او په خير وي چي دخليفه او علماءکرامو عزت کوي خوکله چي دغه دواړو ته په سپکه سترګه وګوري دنيا او آخرت به يي خراب شي پدي اړه .[146]

په ظاهره خو، والله اعلم داسې ښکاري چې دغه اطاعت دټولو اميرانو اوعلماؤ لپاره دی ، ځکه چې پدې نوم کې ټول شامل دي ځکه چې دلښکر و او نظامي ګروپونو سمبالښت ددښمن دجګړې مشري کول، اوعلماءکرام د اسلامي شريعت ساتنه کوي اوخلکو ته روا او ناروا ښيي نو الله جل جلاله خلکو ته دهغوی داطاعت او دخبري منلو امر کړی ترڅو چې اميران او پاچايان عدل وکړي او علماء کرام په خپلو دندو کې امانت کار ، پخپل دين پوره ټينګ ، عادل او خوښ کړی شوي خلک دي ځکه چې امام شوکاني رحمت الله عليه ددې مبارک آيت په تفسير کې فرمايلي دي : (اولو لامر ) امامان پاچايان او قاضيان دي اوهر هغه څوک چې ولايت او مشري يي شرعي بنه ولري نه طاغوتي او ظالمانه مشري. [147]

هلته په مبارک آيت کې يوه باريکه نکته شته چې الله جل جلاله پدي مبارک آيت کې چې (أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ) [148] بيا پدې آيت کې ديته اشاره ده چې د الله جل جلاله اطاعت مستقل او د پيغبرصلی الله عليه وسلم اطاعت ځانته دی او دااطاعت يي بيا په اولي الا مر کې دوهم ځل تکرار نکړ پدې کې دااشاره ده چې پدې حاکمانو کې به داسې څوک هم وي چې اطا عت او تابعداري يي واجب نه وي بيايي داپدې قول دالله جل جلاله کې بيان کړل چې (( فان تنازعتم في شي )) يعني که چيرې موجګړه وکړه په کوم شي کې يعني : که چيري يي په حق اوعدل سره عمل ونکړنوتاسو يي اطاعت مه کوی اوهغه څه چې تاسو اودوی يي په اړه اختلاف لری دالله جل جلاله او دهغه درسول الله صلی الله عليه وسلم پريکړې ته وړاندې کړی.[149]

---

- تفسير قرطبی ج 5 ص 362 . [146]
- فتح القدير ج 1 ص 481 . [147]
- سورت النساء آيت 59 . [148]
- فتتح البارى ج 13 ص 112 . [149]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- دامیر دخبرې اوریدل او دهغه اطاعت کول لازم دي تر څو يي چې په معصیت او دالله جل جلاله په نافرمانی امر نه وي کړی، او که په ګناه سره امر وکړ بیايي نه دخبرې اوریدل شته او نه اطاعت . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه او امام مسلم رحمت الله علیه، اوامام احمد رحمت الله علیه روایت کړیدی .

اوهمدارنګه دابن عمر رضی الله عنهما څخه په مرفوع ډول روایت دی :- چاچې زمااطاعت وکړ په یقیني ډول هغه دالله جل جلاله اطا عت وکړو اوچاچې زما نافرماني وکړه په یقیني دول يي دالله جل جلاله نافرماني وکړه اوچاچې دامیر اطاعت وکړ په یقیني ډول هغه زما اطاعت وکړ اوچاچې دامیرنافرماني وکړه هغه په یقیني ډول زما نافرماني وکړه بیشکه امام (امیر ) ډال دی چې دهغه ترشا ددښمن سره جګړه کیږي او په همده باندې ځان ساتل کیږي که چیري يي دالله جل جلاله په تقوی اونیکي سره امر وکړ او پخپلو کړوکې يي عدل اختیار کړ ده ته پدې سره ثواب دی اوکه يي بل څه وویل نو پده باندې دهغې جزا ده. داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام نسایي رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه ، دابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کړیدی او دده په څیر يي دابوهریره رضی الله علیه عنه څخه روایت کړیدی.

**دلته یوه مهمه مسأله ده چې پخواني حدیث اشاره ورته کړیده:**

او دادهغه عمومي مفهوم څخه چې پدې حدیث کې منځته راغلي او هغه داقول دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دی : چاچې دامیر اطاعت وکړ په یقیني ډول يي زما اطاعت وکړ او چاچې دامیر نا فرماني وکړه په یقیني ډول هغه زما نافرماني وکړه دادهر امیر په اړه ده چې په شرعي ډول يي امارت تر لاسه کړی وي له همدې امله حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي:-- چاچې زما دامیر ا طاعت وکړ په یقیني ډول هغه زما اطاعت وکړ او دامام مسلم رحمت الله علیه په روایت کې راغلي ( چاچې دامیر اطاعت وکړ ) ددواړو لفظونو یوې معنی ته راګرځیدل ممکن دي ځکه هر یوچې په حق سره امر کوي او پخپله پریکړه کې عدل کوي هغه شرعي امر دی ځکه چې دی دشریعت او دشارع دامر سره سم چاري پر مخ بیايي . همدغه په دواړو حالاتو کې شریک ځواب دی چې تایید يي کوي دا قول دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دی :- بیشکه هغه زما اطاعت وکړ یعني په هغه څه عمل وکړي چې ما ورته روا کړیدي او دستوریي ورته ورکړی تردې چې ویي ویل :- په حدیث کې دامیرانو دامر وجوب راغلی پدې شرط چې په معصیت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه باندې امر ورته ونکړي ددوی دامر دمنلو حکمت دادی چې دمسلمانانو وحدت وساتل شي څکه چې په افتراق او تيتوالي کې فتنه او فساد دی.[150]

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :-- تاسې يې خبره واروی او اطاعت يې وکړی اګر که په تاسې يو حبشي سړی هم امير وټاکل شي . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ،امام ترمذي رحمت الله عليه،امام نسايي رحمت الله عليه،امام ابن ماجه رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه، امام طبراني رحمت الله عليه ، امام بيهقي رحمت الله عليه ، امام حاکم رحمت الله عليه ، امام ابن ابي عاصم رحمت الله عليه روايت کړيدی، يعني مسؤول وګرځول شي څکه چې دامارت مسأله عامه ده دساري په ډول ديوښار مسوول او يا داچې په څه خاص امامت وګومارل شي لکه: دلمانځه امامت يا خراج ټولولو مسؤليت او سمدلاسه جګړې کول څکه چې د خلفاء راشدينو په وخت کې داسې کسان هم وه . چې په يو وخت کې دا دري واړه دندې ورکول کيدې يابه ځينو ته بعضې وظيفې سپارل کيدې .

امام مسلم رحمت الله عليه د أبوذر رضی الله عنه څخه روايت کوي چې فرمايلی يی دي : زما خوږ دوست پيغمبر صلی الله عليه ماته وصيت کړی چې زه خبره واروم او اطاعت وکړم ، خپل مشر اګر که هغه حبشي مريی ، پزه او غوږونه يي پرې شوي هم وی ، داحديث په همدې لفظ امام ابن ماجه رحمت الله عليه ،امام حاکم رحمت الله عليه ، امام بيهقي رحمت الله عليه روايت کړيدی.

همدارنګه امام مسلم رحمت الله عليه ديحيی بن حصين څخه روايت کړيدی هغه وايي چې :-- مامې دخپلې نيا څخه اوريدلي چې ويل يي ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې دحجة الوداع په خطبه کې يي فرمايلي دي :-اګر که په تاسو يوسړي وټاکل شي چې تاسې دالله جل جلاله دکتاب سره سم رهبري کوي . يعني تاسي يی اطاعت وکړی.دغه حديث په همدې لفظ سره امام احمد رحمت الله عليه ، امام أبوعوانه رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه روايت کړی اوامام حاکم رحمت الله عليه پخپل مستدرک کې په غلطی سره ذکرکړی . اوحديث په صحيح امام مسلم کې موجوددی اوداقول دپيغمبرصلی الله عليه وسلم دی چې :- که سريي دمميزيه څيرهم و ي. يعني تاسې به يي اطاعت کوی علمای کراموددې په اړه ويلي دي : ويل کيږي چې پدي سره يی دسرمشابهت دوړوکوالي له کبله ورکړ، اودا په حبشه کي معروف اومشهوردي ويل کيږي چې دهغه دتوروالي له کبله يي مشابه کړی ، او همدارنګه ويل کيږي چې دويښتانو دوړوکوالي او غونډوالي له امله يی مشابهت ورکړي، پدي

- فتح الباری ج 13 ص 112. 150

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يي پدي دليل نيولی چې که پاچايان ظلم هم وکړي بايد په ضد يي پاڅون ونشي ځکه چې زياتره وخت پاڅون دحاکمانو دظلم څخه دلوېې فتني سبب کيږي . [151]

دحضرت أبو هريره رضی الله عنه څخه روايت شويدی چې :- پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- تاسوته په دريو څيزونو امرکوم اوله دريو څيزونو مو منع کوم تاسو ته امرکوم چې دالله جل جلاله عبادت وکړی او دهغه سره شريک مه نيسی او دالله جل جلاله په رسی منګولي ولګوی او اختلاف مه کوی غوږ ونيسي او اطاعت يې وکړی دهغه امير چې الله جل جلاله په تاسو مقرر کړيدی ، دا حديث امام ابن حبان رحمت الله عليه پخپله صحيح او امام ابو نعيم رحمت الله عليه په حلية الأولياء نومي کتاب کې روايت کړی اوسند يي صحيح دی . د علي رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم دمجاهدينو ګروپ وليږه پدوی يي دانصاروڅخه يو کس امير وټاکه امر يي ورته وکړچي دخپل اميراطاعت به کوی امير په قهر شو اوورته يې وويل آيا تاسو ته پيغمبرصلی الله عليه وسلم امر ندی کړی چې زما اطاعت به کوی دوی ورته وويل هو : هغه وويل ماته لرګي راغونډ کړی هغوی لرګي راټول کړل بيايي وويل : اوربل کړی هغوی اور بل کړ امير يي وويل : اورته ورننوځی دوی دورداخلدو قصدوکړ ځينويې ځيني نورکلک ونيول اوويې ويل : موږ پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته داورڅخه وروتښتيدو ترڅو دوی په همدې کش مکش کې وه ، چې اور مړشو او دامير غوسه سړه شوه دغه قيصه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورسيده هغه مبارک وفرمايل : - که چيرې اورته ننوتلي وای نو دقيامت تروڅې پورې به بيرته نړې وتلي نه وای اطاعت په نيک کار کې دی . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ،امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه ، امام ابواعوانه رحمت الله عليه،ابويعلي ،امام بيهقي رحمت الله عليه ، امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه دعلي رضی الله عنه څخه روايت کړيدی.

دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- په مسلمان سړي باندې دخپل امير خبره اوريدل او اطاعت کول دي که يي خوښه وي يعني تر هغې پورې چې په ګناه ورته امر ونکړي که چيرې په ګناه ورته امر وکړي بيايي نه دخبري اوريدل شته او نه اطاعت . ددي حديث شرح مخکي تيره شوې ده .

---

[151] - فتح الباری ج 13 ص 122 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی ده ويلي چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- په تا باندي امير ته غوږ نيول ، اطاعت کول په سختی ، آسانی ، خوښی ، ناخوښی ټولو حالاتو کې لازم دي يعني : هغه ته غوږ نيول او اطاعت يې اګر که اميرانو ته مال اودنيوي ځيزونه خاص کړي شي او تاسو ته خپل حقوق هم در نکړي او دابن عمر رضی الله عليه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : په مسلمان سړي باندې امير ته غوږ نيول اواطاعت کول دي په هغه څه کې چې خوښ يې وي اوکه خوښ يې نه وي مګر کله چې په ګناه باندې امر ورته وکړل شي بيا يې اطاعت نشته که يې په ګناه ورته امر وکړ بيا يې خبره اوريدل او اطاعت کول نشته . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام نسايي رحمت الله عليه ،امام ترمذي رحمت الله عليه ، امام أبوداود رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه، امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام أبوعوانه رحمت الله عليه ، او امام بيهقي رحمت الله عليه روايت کړيدي .

دجنا ده ابن أبې أميه څخه روايت دی وايي :- موږ عباده بن الصامت رضی الله عنه ته دپوښتنې لپاره ورغلو موږ ورته وويل : الله جل جلاله دجوړ کړه موږ ته يوحديث ووايه چې الله جل جلاله يی درته ګټور کړي او تري مستفيد شو چې د پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه د اوريدلی وي هغه وويل :- پيغمبر صلی الله عليه وسلم موږ ته دعوت راکړ موږ بيعت ورسره وکړ ده وويل :- کوم شروط چې په موږ يې کيښودل دا وه ، چې موږ ورسره دامير خبره اوريدل اودهغه اطاعت د خوښی اوناخوښی په حالت کې .

**په يوروايت کې راځي :**

د خوښی،ناخوښی په سختی اوآسانی کې اوپه هغه دنيايي حقوقو کې چې زموږ څخه يي اخستي وي او چې څوک دامارت وړوي دهغه سره به جګړه نه کوو . ويي ويل :-( ( الا ان تروااکفر بواحا عند کم من الله فيه برهان )) .

ژباړه :-- کله چې تاسو يو څرګند کفر ترې ووينی چې دالله جل جلاله له پلوه په هغه کې دليل موجودوي .

دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه، امام ابن حبان رحمت الله عليه ، امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام بيهقي رحمت الله عليه او امام أبوعوانه رحمت الله عليه روايت کړيدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يوبل روايت کې څه زياتوالى هم شته چې : ووايو ، ياودريږو په حقه سره پدې ډول چې دالله جل جلاله درضا لپاره دملامت کوونکي دملامتيا څخه ونه ويريږو . دا قول يې (( المنشط والمکره )) ، المنشط : دنشاط اوخوښی وخت چې دالله جل جلاله اوامر په کې عملي شي اوهمدارنګه د تکليف او ناخوښی په وخت کې .

امام ابن التين رحمت الله عليه ويلي دي : - ظاهرا داسې ده چې دسستی او تکليف وخت، دغه معنی هغه روايت تائيد وي چې امام احمد رحمت الله عليه ذکر کړيدی وايي ( په تکره والي او سستی کې )

امام طيبي رحمت الله عليه وايي :-- موږ په طاعت اوعبادت کولو کې په دواړو حالتوکې لکه سختي اوآساني ، تکليف او راحت و له دې څخه يې ځکه په مفاعلت سره تعبيروکړ چې مطلب يې ترې مبالغه اواجازه غوښتل دي .ځکه چې ده دوی ته داجر او ثواب ، دقيامت په ورځ دشفاعت وعده ده ،که دوی پخپله وعده وفا وکړي ،دا دامام احمد رحمت الله عليه په مسند کې زيات دی چې :-- اګر که تاوليدل چې په امارت کې ورسره حق هم لري ، لکه چې وايي :- دهيڅا دملامتيا څخه نه ويريږو پدې کې دمنکر تغيير دهر هغه کس دنده ده چې توان يې لري بيا که دبدی په تغير کولو کې يواځې هغه ملامتيا چې ضرر او زيان نلري نوبرې واجب دي چې دغه بدي په لاس سره لرې کړي که ددې توان نلري نوبيا به يې په ژبه سره لرې کړي اوکه ددې توان هم نلري نوبيا به يې په زړه کې ورسره کرکه ساتي لکه څنکه چې دکفارو په ضد جهاد کول واجب دي ترڅو چې دالله جل جلاله دين برياله شي لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي :- دالله جل جلاله په لاره کې حق جهاد وکړي ، همدارنګه دټولوخلکو چې دحق سره عناد کوي جهاد کول واجب دي ترڅو چې په هغه چا برياليتوب ترلاسه کړي چې پرې وتوانيږي .

دابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی ده ويلي :- چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : چاچې دخپل امير څخه کوم بدشی (تکليف) وليده نوصبر دې پرې وکړي نودی ديوې لويشتې په اندازه دډلې څخه لرې اوجلا شو، نه مړکيږي مګر دجاهليت په مرګ سره مري.داحيث امام بخاری رحمت الله عليه،امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه،امام ابويعلی رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه،امام ابواعوانه رحمت الله عليه او امام دارمي رحمت الله عليه روايت کړيدی .

او همدرانګه دابن عمر رضی الله عنهما څه روايت دی چې ده دپيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايلي يې دي :-چاچې خپل لاس دامير داطاعت څخه وويست دقيامت په ورځ به دالله جل جلاله سره پداسې حال کې مخامخ شي چې هيڅ دليل به نلري ، څوک چې پداسې حال کې مړشي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه کې يي بيعت نه وي نودجاهليت په مرګ به مړکيږي. دا حديث امام مسلم رحمت الله عليه، امام بيهقي رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه ،امام ابواعوانه رحمت الله عليه،اوامام ابن ابي عاصم رحمت الله عليه روايت کړيدی .

دعبدالرحمن بن عبدرب الکعبة رحمت الله عليه څخه روايت دی ده ويلي چي :- زه جومات ته ننوتم اوهلته عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه دکعبې په سيوري کې ناست وه او خلک ترې چاپيروو زه ورته راغلم اوورته کيناستم ويي ويل :- موږ دپيغمبر صلی الله عليه وسلم سره په يوسفرکې ملګري وويوځای کې مو واړول چايي خپل غشي جوړول او چايي خپل ځانونه تيارول پدې وخت کې درسول الله صلی الله عليه وسلم جارچي غږ وکړ لمونځ تياردی، موږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورټول شوو اوهغه وفرمايل :-- زما نه مخکې کوم نبي ندی تير شوی مګرپده باندې داحق اوواجب وه چې خپل امت ته خير اونيکي وروښيي اوله شراوبدی څخه يي وويروي ،د اسلامي امت خير اوعافيت يی په اول کې ګرځولی دی او په آخر کې به بلا او مصيبت پرې راشي اوداسې کارونه به منځته راځي چې بدبه يي بولي اوداسې فتنې به منځته راځي چې يوه دبلې په نسبت وړه اوکوچنی وي مومن بنده به وايي دغه زما لپاره هلاکت اوتباهي ده بيابه دافتنه له منځه ځي بيابه بله فتنه راځي،اومومن بنده به وايي همدغه ده همدغه ده که څوک داخوښوي چې داور څخه لرې شي اوجنت ته ننوځي نو پداسې حال کې د مرګ ورته راشي چې په الله جل جلاله اوداخرت په ورځ ايمان لري او خلکوته د په هغه ډول راشي چې خپل ځان ته يي ورتلل خوښوي اوچاچي دامام سره بيعت وکړ اولاس يي ورکړ اودخپل زړه ميوه اوخوړه يي ورکړه دخپل توان په اندازه يي دورکړي که چيري بل امام اوامير راشي غواړي چې واک ترې واخلي نوددغه بل غاړه دووهي يعني وبي د وژني دی وايي :-- زه ورنږدې شوم اوورته ومي ويل :- دالله جل جلاله په ذات درڅخه پوښتنه کوم .آيا تادرسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي ده خپل لاسونه وموښل اوويي ويل :- غوږونو مي اوريدلي اوزړه مي حفظ کړي اوساتلي دي ماورته وويل : دغه ستا دتره ځوی معاويه رضی الله عنه موږ ته امرکوي چې خپل مالونه پخپلو منځونو کې په ناحقه وخورو اوخپل ځانونه ووژنو اوالله جل جلاله فرمايلي دي: - يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿29﴾ [152]

[152] ـ سورت النساء آيت ۲۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :-ای هغو کسانو، چې ایمان مو راوړی دی،مه خورئ تاسو،مالونه دیو بل،په خپل منځ، په ناجائزه طریقه،پرته ددې نه،چې وي،سوداګري ، په رضامندی سره،ستاسو دطرفه،اومه قتلوی ځانونه خپل ، بیشکه الله دی په تاسو باندې ، مهربانه.

یوساعت چوپ شو بیاېي وویل : کله چې دالله جل جلاله اطاعت يي کوو او دالله جل جلاله نافرمانی په وخت کې يي ته هم نافرماني کوه. داحدیث امام مسلم رحمت الله علیه، امام نسايي رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه او امام ابن ابي شیبه رحمت الله علیه روایت کړیدی .

دعوف بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی : - چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :- ستاسو دغوره اوښو امامانو څخه هغه څوک دي چې مینه ورسره لری اودوی له تاسې سره مینه لري اودعا درته کوي اوتاسې هم ورته دعا کوی .

او ستاسې بدترین امامان هغه دي چې کرکه ورڅخه لری اودوی له تاسې سره کرکه لري او بدپرې وایي اودوی پرتاسو بدوايي، وويل شو اي دالله جل جلاله رسوله ! آیا په توره يي لرې نکړو پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل :- ترهغه وخته يي مه لرې کوی ترڅو يي چې په تاسو کې لمونځ قائم کاوه اوکله موچې دخپلو امیرانو څخه کوم بدشی ولیدل نوعمل اوکړنه يي بده وبولی اوخپل لاس داطاعت څخه مه باسی، داحدیث امام مسلم رحمت الله علیه، امام نسايي رحمت الله علیه ،امام ترمذي رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام طبراني رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه او امام دارمي رحمت الله علیه روایت کړیدی.

**داقول : خیارأئمتکم، پدې حدیث کې :**

**۱- دامامانو سره دمینې کولو هغوی ته ددعا کولو دمشروعیت دلیل دی :**

کوم امام اومشر چې خپل ولس ته ګران وي اودوی ته محبوب وي دوی ته دعا کوونکي وي اودوی هم ورته دعا کوي نودادغوره اوښومشرانوڅخه دي او دچا څخه خپل ولې کرکه لري اوڅوک چې خپل ولس هم کرکه ترې لري ولس ته بد رد وايي اوولس هم ورته بدرد وايي نو دغه امام اومشر ددوی دبدواو شریروخلکو له ډلې څخه دي داځکه چې که ده عدل کړی وای او ولس ته يي ښه خطاب کړی وايي ولس به يي اطاعت اوپیروي کړې وای اوسرونه به يي ورته ښکته کړي وه اوصفت اوستاینه به يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي وه کله چې همدغه دعدل اوانصاف لامل دي اوښي خبري اوخطاب يې ورته کولی همداد مېني،اطاعت اوستاينې سبب کيده نودغه امير به دښو اوغوره اميرانو څخه وه اوکله چې همدي ولس ته دظلم او ښکنځلو په سبب دهغوی دناخوښی اوبدوويلو لامل جوړيږي نوبيشکه دبدترينو امامانواومشرانو څخه ګڼل کيږي .

**دوهمه دنده :- دامام په بدی باندي صبرکول :**

اګرکه دولس دځينو کسانو ځينې حقوق ورنکړي دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- چاچې دخپل امير څخه څه بدوليدل صبردوکړي ځکه څوک چې دپاچا داطاعت څخه ديوي لويشتې په اندازه ووت دجاهليت په مرګ مړشو . دا حديث امام بخاری رحمت الله عليه،امام مسلم رحمت الله عليه اوامام احمد رحمت الله عليه روايت کړيدی.

دعبدالله بن مسعودرضی الله عنه څخه روايت دی ده ويلي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- بيشکه زما څخه وروسته به هرڅوک خپل ځان ته په نورو غوره والی ورکوي اوداسې څيزونه به وي چې بديي ګڼي صحابه کرامو وويل :- اي دالله رسوله که زموږ څخه څوک دغه وخت ته ورسيدل موږته څه امر کوي ؟پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل :کوم حق چې پرتاسودی اداېي کړی اوکوم چې ستاسو حق دی دالله جل جلاله څخه يې وغواړی . داحديث امام بخاری رحمت الله عليه ،امام مسلم رحمت الله عليه، امام نسايي رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ،امام احمد رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه،امام بزار رحمت الله عليه اوامام أبوعوانه رحمت الله عليه روايت کړيدی .

ښايي دپيغمبر صلی الله عليه وسلم امر دولس لپاره داميرانو خبروته دغوږ نيولواودهغوي اطاعت کولو کې وي اګرکه دځينو وګړوحقوق هم نه ورکوي اويا هم ځينې دنيوي ګټې او متاع خپلوځانونو ته ځانګړې کوي دا چې لږ زيان اوضرر وګالي ځکه چې يقينا دولس زيان ددوی دحقوقودنه ورکولو ياخپلو ځانونو ته دنيوي مال اومتاع ساتل تر هغه ډير لږدي چې داميرانوپه ضد پاڅون را منځته شي اوپه درشل کي يې اختلاف،تيتوالی اوستونزي رامنځته شي .

ځينې خلک په يوشي داستبداد ګومان کوي خو هغه په اصل کې داسې نه وي له همدې کبله پيغمبرصلی الله عليه وسلم دلته په اطاعت کولو امرکړی ترڅو هغه ټولې لارې چې داسلامي ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزوري او دامير نافرمانی ته رسيږي بندې شي تردې چې هيڅوک دپاڅون لاملونه اواسباب بهانه ونه ګرځوي ددې مثال هغه دی چې امام بخاری رحمت الله عليه داسيدبن حضير رضی الله عنه څخه روايت کړی چې يو سړی پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغئ اوورته يي وويل :- اي دالله رسوله !فلانی سړی دې مقررکړی اومانه مقرروې چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل : زما څخه وروسته به يوپر بل غوره والئ ووينئ په هغه کار صبر وکړئ تردې چې ماته راشئ . ابن حجر رحمت الله عليه ددې حديث په شرح کې وېلي دي :-دوظيفې غوښتنې په اړه پيغمبرصلی الله عليه وسلم په ځواب کې دا مير پټ والئ دی چې ويي فرمايل :- زما ورسته به يو پر بل برتري او غوره والئ ووينئ .هدف يي داووچې هغه سړئ د ګومان لرې کړي چې هغه بل ته بهتري پرې ورکړي کوم يي چې مقرر کړيدئ دايي ورته په ډاګه کړه چې داکارزما په زمانه کې ناشونئ دی اوهغه شخص يي په ذاتي لحاظ سره انتخاب کړی ندی بلکې دمسلمانانو دعامه ګټو په خاطر يي ټاکلی دی او ددنيوي ګټولپاره ټاکل به دده څخه وروسته وختو کې ترسره کيږي اودا امريي ورته وکړ چې بيا په هغه وخت کې صبر کوئ . [153]

.علقمه بن وائل الحضرمي رحمت الله عليه دخپل پلار څخه روايت کوي هغه وېلي چې سلمه بن يزيدالجعفی رضی الله عنه دپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل اوورته ويي ويل :-اي دالله جل جلاله رسوله ! که په موږ داسي چارواکي وټاکل شي چې خپل حق غواړو او موږ ته حق نه راکوي دڅه کولو امر راته کوي ؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم مخ تري تاوکړ، بيا يي وپوښتل ، هغه مخ ترې تاوکړ، بيا يي په دوهم يا په دريم ځل وپوښتل ، اشعث بن قيس رضی الله عنه راکش کړ، اوورته ويي ويل : تاسو يي خبره واروئ اواطاعت يي وکړئ، بيشکه پردوی باندې يي دخپل عمل باردی اوپرتاسو دخپل عمل باردی. داحديث امام مسلم رحمت الله عليه ،امام نسايي رحمت الله عليه،امام بخاری رحمت الله عليه په خپل تاريخ کې امام ابواعوانه رحمت الله عليه امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه اوامام طبراني رحمت الله عليه روايت کړيدی .

ام سلمه رضی الله عنها دپيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی چې فرمايلي يی دي :- يقينا پرتاسي به داسي اميران او چارواکي ټاکل کيږي چې ځينې کارونه به يی ښه وي او ځينې نور به يی بد ګڼې چاچې بدوګانه بيشکه خپله غاړه يي خلاصه کړه او چاچې انکاروکړ دالله جل جلاله دعذاب څخه وژغورل شو،مګرهغه څوک چې ددوی په کړنه راضي شول اودهغوی متابعت يي وکړ دهغوی په ګناه

---

[153] ـ فتح الباری ج ۱۳ ص ۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته شول صحابه ؤ رضی الله عنهم وویل :- آیا جګړه ورسره نه کوو؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نه ، ترڅو یي چې لمونځونه کول . دا حدیث امام مسلم رحمت الله علیه او امام ابوادود رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه، امام ابویعلی رحمت الله علیه اوامام طبراني رحمت الله علیه روایت کړیدی، کوم احایت چې دامیر لپاره داوریدلو او اطاعت کولو وجوب افاده کوي په دوه بندونو سره بند شوي دي او هغه دا چې :-

**لو مړي :- دامیر لخوا په ګناه باندې امرکول .**

۲:-- دمامور (ولس ) لخوا توانمندي دلومړي بند په هکله چې په ګناه سره امر کول دي ډېردلایل مو وړاندې کړل چې نچوړيې دادی . دالله جل جلاله په نافرمانۍ کې دمخلوق اطاعت نشته له دې څخه دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما حدیث دی چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :-

**په مسلمان سړي باندې دخپل امیر دخبرې اوریدل** او دهغه اطاعت په هر حالت کې چې خوښه يي او کنه لازم دي تردې چې امر يي په ګناه نه وي ورته کړی که چیرې یي په ګناه سره ورته امر وکړ، بیانه دخبرې اوریدل شته او نه اطاعت شته ، دامیر په ناوړه کارونو صبرکول سره ددې چې نصیحت ورته وکړي امر په نیکی ورته وکړي او دبدی څخه يي منع کړي همداکار پدې حالت کې واجب دی ،او رښتیني لارښوونه کومه چې دریدنه او تأمل ورته لازم دی دتیرشوو دلایلوترمنځ جمع ده لکه څرنګه چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :-چاچې دخپل امیرنه داسې څه ولیدل چې بدیي ګڼل باید صبروکړي،او صحابه کرامو دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سره پدې بیعت وکړ چې حق به وايي اودملامت کوونکي دملامتیا څخه به نه ویریږي دغه ټول دلایل په هغه څه دلالت کوي اودا دپیغمبرصلی الله علیه وسلم پدي مبارک حدیث کې ښکاري چې : - مګر کله چې تاسې دامیر څخه ښکاره کفرووینئ چې دالله جل جلاله له پلوه په هغه کې دلیل موجودوي او همدارنګه دالله جل جلاله ددې مبارک فرمان غوښتونکي چې فرمايي :- وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿2﴾

ژباړه :- او مدد کوئ،د یوبل سره په نیکی کې،او په تقوی کې،او مه کوی مدد د یو بل سره په ګناه،او په زیاتي کې،او وویریږی د الله نه،بیشکه الله ، ډیر سخت دی په عذاب کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم :- دولس له پلوه توانمندي : ددې څخه دا مطلب دی چې ولس دامیر په هغه اطاعت سره نه مجبوریږي چې په وس او توان کې یې نه وي دډولو شرعي احکامو څرخیدل په توان پوري تړاو لري الله جل جلاله هیڅوک پدې نه مجبوروي چې وس یې نلري او هیڅ انسان پدې سره نه مکلفوي چې دهغه دکولو توان نلري الله جل جلاله فرمایلي :- لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا .... ﴿286﴾ [154]

ژباړه :- نه ورکوي تکلیف الله ، هیچاته مکر ، دهغه د وس مطابق .

پدې پاندې دالله جل جلاله دا فرمان کوي چې :- فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴿16﴾ [155]

ژباړه :- پس ووېرېږئ د الله نه ، ترڅو چې طاقت کېږي ستاسو .

.او دا قول دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دی چې :- په هغه چې تاسې ته امر کوم هغه څه ترسره کړی چې توان یې لری. داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ، امام مسلم رحمت الله علیه، امام احمد رحمت الله علیه، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام طبراني رحمت الله علیه ،امام شافعي رحمت الله علیه، او امام أبوعوانه رحمت الله علیه روایت کړیدی.

**استطاعت (توانمندي ) :**

یوداسې کار دی چې په نشت یې الله جل جلاله ښه پوهیږي که کوم بنده دالله جل جلاله په عبادت کې ناغیږي اوسستي کوي پدې دعوی سره چې زما په وس کې نشته الله جل جلاله پدې باندې ورسره حساب کوي اوکه بنده پخپله خبره کې دروغژن وي الله جل جلاله ښه پرې پوهیږي او جزا به ورکوي .

پدې باندي هغه حدیث شریف چې عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت کړی ښه دلالت کوي چې فرمایي : موږ به چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په سمع او طاعت بیعت کاوه هغه مبارک به راته فرمایل :- په هغه څه چې ستاسو په توان کې وي .داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه،امام ترمذي رحمت الله علیه،امام نسایي رحمت الله علیه،امام احمد رحمت الله علیه،امام ابن حبان رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه،امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام أبوعوانه رحمت الله علیه اوامام مالک رحمت الله علیه روایت کړیدی .

---

154 ـ سورت البقرة آیت ۲۸۶ .

155 ـ سورت التغابن آیت ۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دجریر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی چي ویل یي :- ماد پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په سمع ( اوریدلو ) او طاعت سره بیعت وکړنو زه یی پدې وپوهولم چې :- په هغه څه سره چې زما په توان کې وي اودهرمسلمان لپاره په نصیحت کولو باندې.

داحدیث امام بخاري رحمت الله علیه،امام مسلم رحمت الله علیه، امام نسايي رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه،امام طبراني رحمت الله علیه او امام ابن مندة رحمت الله علیه روایت کړیدی.

دعبدالله بن دینار رحمت الله علیه څخه روایت دی وایي :- کله چې خلکو دعبدالمالک بن مروان سره بیعت وکړ عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ورته ولیکل :-دعبدالله بن عمرلخوا عبدالملک بن مروان امیرالمؤمنین ته :- زه پدې اعتراف کوم چې دامیرالمؤمنین عبدالملک سمع او اطاعت به دالله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو سره سم دخپل وس مطابق پلي کوم او زما زامنو هم پدې اعتراف وکړ. داا ثرامام بخاری رحمت الله علیه پخپل صحیح اوادب مفرد او امام بیهقي رحمت الله علیه په سننو کې روایت کړیدی.

ښايي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دامیرانو لپاره په سمع اوطاعت باندې په امرکولو کې سره ددې چې دځینوخلکو حقونه هم نه ورکوي اودنیوي ګټې یې هم خپلو ځانونو ته ځانګړې کړې وي داحکمت دی چې دلږ زیان اوضررتحمل وکړی شي ځکه چې دولس زیان دهغوی دحقوقو په نه ورکولو اویاهم کوم زیانونه اوستونزې چې بیاوروسته منځته راځي لکه اختلاف او تفرقه ډیر لږ دی سره ددې چې کله داستبداد ګومان وکړی شي خوهغه استبداد نه وي نو دپیغمبرصلی الله علیه وسلم امر پدې ځای کې دمشکلاتو دمخ نیوي په خاطر دی، تردې چې هیڅوک دامیر داطاعت څخه دسرتاووني بهانه ونه لټوي،ددې مثال لکه څنګه چې پخوا موداسید بن حضیر رضی الله عنه څخه یادونه وکړه چې یوسړی پیغمبرصلی الله علیه ته راغی اوورته ویي ویل :- اي دالله جل جلاله رسوله ! فلاني ته دکارورکړاو ماته یي نه راکوي ؟پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل : زردی چې زما څخه وروسته دیو په بل غوره والی ووینی نوصبر وکړئ تردې چې ماته راشئ

ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي :- دوظیفې دغوښتنې دجواب ورکولو علت پدې قول سره چې زماڅخه وروسته به یوپربل غوره والی ووینئ دامطلب دی چې دهغه دا ګومان لرې کړي چې هغه بل شخص یي تاکلی دی نودایي ورته وښودل چې دغه کار دده په مبارکه زمانه کې منځته نه راځي او ټاکل شوی شخص یي دهغه دذاتي ځانګړتیا له کبله ندی ټاکلی بلکې دمسلمانانو دعامه ګټو په خاطریي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګومارلی دی او ددنیوي ګټولپاره غوره والی دده دوخت څخه وروسته منځته راځي اوده ته يي دداسې وخت په راتللو دصبر کولو توصيه وکړه .[156]

**دسمعې اواطاعت دوجوب ددلايلو لنډيز:-**

**۱:- دامير اطاعت په خوښي ،ناخوښي،**

تکليف،او راحت ټولو حالاتو کې واجب دی دانه چې يواځې په خوښۍ اوآسانۍ کې واجب وي بلکې بايد وويل شي چې حقيقي ازموينه داطاعت په رښتينوالي کې يواځې په هغه حالت کې رامنځته کيږي چې په انساني نفس سخت تماميږي او بديي ګڼي ټول يي دخوښی په حالاتو کې اطاعت کوي په آسانه اعمالو اوکوم چې دنږدي او زړګټي لرونکي او نفس ته ګران وي اطاعت او پيروي يي کيږي مګر په ناخوښي حالاتو اوهغه اعمالو کې چې نفس يي نه غواړي پداسې حالت کې يي يواځې صادق او رښتيني خلک اطاعت کوي ،امکان لري چې وويل شي دتکليف په وخت کې اطاعت دمؤمن او منافق تر منځ دمحک حيثيت لري کوم چې زياتره وخت يي دخوښي دحالت نه دناخوښی په صورت کې اطاعت کوي اودليل يي دالله جل جلاله دا سپيڅلئ فرمان دی چې فرمايي : لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لاَّتَّبَعُوكَ وَلَكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿42﴾ [157]

ژباړه :- که چيرې وي ، فائده، نږدي ، اوسفر ، درميانه ، نوخامخا به پيروي کړي وه دوئ ستا ليکن ، لرې شو ، په دوئ باندې ، مزل ، او زرده چې قسمونه به خوري دوئ ، په الله ، که چيرې طاقت وي زموږ ، نو خامخا به وتلي وو موږ ، تاسوسره ، هلاک کوي دوی ، ځانونه خپل ، او الله پوهيږي ، چې دوئ ، دروغژن دي .

دغه منافقان يواځې دخوښی اوراحت په وخت کې اطاعت کوي بياپه دروغو بهاني جوړوي چې داطاعت څخه ووځي پدې سره دالله جل جلاله دافرمان دليل دي چې فرمايي : فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللّهِ وَكَرِهُواْ أَن يُجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَقَالُواْ لاَ تَنفِرُواْ فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿81﴾ [158]

[156] ـ فتتح البارى ج ۱۳ص ۸

[157] ـ سورت توبه آيت ۴۲.

[158] ـ سورت توبه آيت ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :-خوشحاله شو ل پاتي شوي خلک ، په کيناستلو خپلو سره ، په ملګرتيا نه کولو ، د رسول دالله ، او بد ګڼلوهغوی ، چې جهاد وکړي ، په مالونو خپلو سره ، او نفسونو خپلو سره ، په لاره د الله کې ، او وويل هغوی مه وځئ ، په ګرمئ کې ، ورته ، او وايه ، اور ددوزخ ، زيات سخت دی ، په لحاظ دګرمئ سره ، کاش ، چې وي دوی ، چې پوهيدلئ .

چاچې دخوښی او راحت په وخت کې اطاعت وکړ اود تکليف په وخت کې کيناست په ده کې دخپل ناستي په اندازه نفاق شته ،دالله جل جلاله څخه دخپلو ځانونو اوټولو مجاهدينو لپاره دنفاق اودهغه دخاصيتونو څخه دخلاصون اوژغورنې دعاکوو.

**زما مجاهد وروره :-**

تا ته داسلامي لښکر دسپاهيانو داطاعت څو بيلګې چې دخپلو اميرانويې کړي واړندې کوم .

کله چې ابوبکر رضی الله عنه وغوښتل شام ته لښکر وليږي پدې وخت کې عمروبن العاص رضی الله عنه دوليد بن عقبه سره يو ځای دقضاعة قبيلې دزکات راټولو لپاره ليږلی وه هغه ته يې وليکل او شام ته يې وليږلو امريی ورته وکړ اوويې ويل :- مابيرته هغه وظيفې ته راوګرځولې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو ځل ته پرې ټاکلی وې اوبيايې بله درته ويلې وه ، ماهغه وظيفه درته غوره وګڼله چې تاته په دنيااو آخرت کې ګټوره ده مګر که هغه وظيفه چې په کې يې تاته ډيره ګرانه وي نوبيااختيارلرې، عمروبن العاص رضی الله عنه ورته وليکل :- زه داسلام دغشو څخه يو غشی يم اوته دالله جل جلاله بنده دهغه ويشتونکئ اوراټولوونکی يې نوته هغه سخت او دخطر ځای وګوره اوماپرې فيرکړه وليد بن عقبه ته يې هم داسې وليکل اوپه همدې ډول يې جواب ورکړ. [159]

کله چې عمر رضی الله عنه خلافت ته ورسيد خالد بن وليد رضی الله عنه يې دلښکر دقوماندانی نه منفک کړ او ابوعبيده بن جراح رضی الله عنه ته يې وليکل : - لونګی يې دسر څخه ښکته کړه او مال يې دوه ځايه کړ ، امام ابن کثيرحمت الله عليه وايي :- ابوعبيده رضی الله عنه يې مال داسې دوه ځايه کړ چې يوه څپلی يې واخسته او بله يې ورته پريښوده . خالد رضی الله عنه به ويل :- داميرالمؤمنين خبره اورم او دهغه اطاعت کوم . [160]

**٢:- دخبرې اوريدل او دهغه اطاعت لازم دی :**

---

159 ـ الاكتفاء بماتضمنه من مغازى رسول الله والخلفاءج ٣ ص ١٤١، البداية والنهاية لابن كثيرج ٧ ص ٢-٣ .

160 ـ البداية والنهاية ج ٧ ص ١٨-١٩ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اګرکه امیرځینې شرعي غلطی هم وکړي ، ته به یي دالله جل جلاله په اطاعت کې پیروي اواطاعت کوي اوکه یي غلطي وکړه بیا به یي پیروي نه کوې دشرعي ادب سره سم به په نیکی امرورته کوي اوله بدی څخه به یي منع کوي لکه څنګه چې په راتلونکي کې یي ان شاالله بیان راځي ددې څخه مطلب دادی چې :- دامیرڅخه دځینو غلطیو سروهل ددې دلیل نشي کیدی چې په ضد یي پاڅون وشي اویاهم دواک څخه یي دګوښه کیدو هڅه وشي ځکه هر انسان دخطاء سره مخ دی نوهغه به څوک وي چې هیڅکله یی بدي نه وي کړي اویا هم داسې به څوک وي چې یواځې نیکي یي کړیوي بلکې صحیح اوسمه خبره داده چې کله دالله جل جلاله اطاعت کوي ته یي هم اطاعت وکړه اوکله چې دالله جل جلاله نا فرماني کوي بیایي اطاعت مه کوه امر په نیکی ورته کوه اود بدی څخه یي منع کوه .

دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم د امیرانوڅخه ځینې داسې خطاګانې شوې دي ځینې هغه وي کله چې خالد بن ولید رضی الله عنه د بنوجذیمه قبیلې دبندیانو دوژلوامروکړ،عبدالله بن عمررضی الله عنهما او ملګرویي داامر ونه مانه اوکله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدې خبر شوویي فرمایل :- اې الله جل جلاله زه دخالد دکړني اوعمل څخه بري او پاک یم دایي دوه ځله وویل . داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه په – (اذا قضی الحاکم بجور او خلاف أهل العلم فهورد – په باب کې اوهمدارنګه امام احمد رحمت الله علیه،امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام نسایي رحمت الله علیه اوامام بیهقي رحمت الله علیه روایت کړیدی .

اوسره ددې پیغمبرصلی الله علیه وسلم خالد منفک نکړاو په غزاګانو کې به یي مقرراوه او مسلمانانو هم د موته په غزا کې ددریو امیرانو دشهادت څخه وروسته چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم تاکلئ وه مقررکړ .

**۳:- دامیراطاعت واجب دی :**

اګرکه دځینو خلکو حق ترې ګرځوي اویا هم څه دنیوي مال اومتاع خپل ځان ته پریږدي ددې تفصیل وړاندې شوی دی .

**٤:- دامیر دخبرې اوریدل او دهغه اطاعت کول حق اولازم دی :**

اګر که امیرد نسب او حسب له پلوه ښکته اوخوار وي،یایي ظاهري بڼه بده او یایي عمرکم وي مګر امارت ته په شرعي طریقه یاد خلیفه په امراو یاهم داتباعو په پیروی اواطاعت سره واک ته رسیدلی وي پدې ټولو حالاتو کې یي پیروي لازمي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵:- او هغه څه چې دامیر په اطاعت کې داخلیږي دادي .**

په اجتهادي څیزونو کې دامیر دنظر متابعت لکه د لمانځه لنډول یادهغه بشپړول اویا دالمانځه یوځای کول اویا یې نه کول اوکه چیرې امیر په فقهي مسایلو کې څه کمزورتیا ولري نوباید په هغوسختو مسایلو کې دهغو علماکرامو څخه پوښتنه وکړي چې په دربار کې شتون لري دامیر درایي اونظر منلو دلیل دالله جل جلاله دا فرمان دی چې: - ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ ]النساء: 59 [161]

ژباړه :- ای هغو کسانو ، چې ایمان مو راوړئ دی، حکم ومنئ دالله ، اوحکم ومنئ درسول ، او د خاوندانو دحکم ستاسو نه ، نو بیا که ، ستاسو په منځ کې جګړه راشي ، په څه خبره کې ، نو واپس کوئ هغه ، الله ته او رسول ته ، که یئ تاسو ، چې ایمان لرئ ، په الله ، او په ورځ دآخرت ، دا کار ، غوره دی ، او ډیر ښه دی د انجام په لحاظ سره .

امام ابن ابي العز رحمت الله علیه دعقیده طحا ویه په شرح کې وایي دي :-- دالله جل جلاله دکتاب قران کریم،نبوي احادیثو او سلفو صالحو په اجماع سره دلالت کوي چې دامیردلمانځه امام (مشر) دجګړې دامیر دزکات ټولولو دمامور اطاعت به په اجتهادي مسایلو کې کړل کیږي،امیر به په اجتهادي مسایلو کې دخپلو پیروانو پیروي نه کوي بلکې په دوی باندې لازم دي چې په داډول مسایلو کې دامیر اطاعت وکړی او خپل نظریات دامیر رایي او نظر ته پریږدي ځکه چې دوحدت،یووالي ګټي اودتیت والي او اختلاف زیانونه دداسې وړوکو مسایلو په نسبت ډیري لویي دي . [162].

امام نافع رحمت الله علیه دابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کړی چې وایي یي دي :- پیغمبرصلی الله علیه وسلم په منی کې دوه رکعته لمونځ وکړ ، ابوبکر رضی الله عنه هم دوه رکعته لمونځ وکړ ، وروسته دابوبکر رضی الله عنه څخه عمر رضی الله عنه هم دوه رکعته لمونځ وکړ، عثمان رضی الله عنه هم دخلافت په لومړي سرکې دوه رکعته لمونځ وکړ بیا عثمان رضی الله عنه څلور رکعته لمونځ وکړ،نوعبدالله بن عمر رضی الله عنه به چې دامام سره لمونځ کاوه څلور رکعته به یي اداء کول او که یواځې به یي کاوه نو دوه رکعته لمونځ به یي اداء کاوه. داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه،امام مسلم

---

[161] -سورت النساء آیت 59.

[162] - شرح العقیده الطحاویة ص 422.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت الله علیه،امام نسايي رحمت الله علیه،امام احمد رحمت الله علیه،امام ابن حبان رحمت الله علیه،امام دارمي رحمت الله علیه،امام ابویعلی رحمت الله علیه ،امام طبراني رحمت الله علیه،او امام ابواعوانه رحمت الله علیه روایت کړیدی .

امام بخاری رحمت الله علیه او امام مسلم رحمت الله علیه ددغه حدیث سره ډیر نیږدې دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړیدی دعبدالرحمن بن یزید رحمت الله علیه څخه روایت دی چې ویل یي :-عمثان رضی الله عنه موږ ته په منی کې څلور رکعته لمونځ راکړ،دا خبره عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته وویل شوه هغه ددې درجوع غوښتنه وکړه بیایي وویل : مادپیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په منی کي دوه رکعته لمونځ ادا کړي،او ابوبکر رضی الله عنه سره په منی کې دوه رکعته لمونځ اداء کړي او عمر رضی الله عنه سره مي په منی کې دوه رکعته لمونځ اداء کړی،کاشکي زما په نصیب دڅلورو قبول شویو رکعتونو شي،داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ،امام احمد رحمت الله علیه، امام ابن خزیمه رحمت الله علیه، امام ابویعلی رحمت الله علیه،امام بیهقي رحمت الله علیه او امام طبراني رحمت الله علیه روایت کړیدی.

حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي : ابن مسعود رضی الله عنه ځکه درجوع غوښتنه وکړه چې دده په وړاندې دغوره والي او بهتروالي مخالفت وشو، همداقول دامام أبوداود رحمت الله علیه روایت تائید وي چې :- ابن مسعور رضی الله عنه څلوررکعته لمونځ اداء کړ،هغه ته وویل شو : عثمان رضی الله عنه دی ملامت کاوه او پخپله یی څلوررکعته لمونځ وکړ هغه وفرمایل : مخالفت بددی، دامام بیهقي رحمت الله علیه په روایت کې راغلي دي : زه مخالفت بد ګڼم. [163]

دلته صحابه کرامو رضی الله عنه دعمل پیروي چې په منی کې دلمانځه پوره کول دي، دضعیف او مرجوح دلیل په نظر کې نیولو سره ترسره کړ،او بهتره عمل چې هغه دلمانځه قصر (کوتاه کول وه)داختلاف دلاملونو دمخنیوي لپاره پریښود لکه چې وړاندې ابن مسعود رضی الله عنه وویل : - یقینا عثمان رضی الله عنه دلمانځه په پشپړولو کي تاویل کوونکی وه .

- فتح الباری ج 2 ص 465 . [163]

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دامام په اطاعت کې هغه ته دمباحو کارونو سپارل او کوم څيزونه چې دجګړې او جنګي تکتيک پورې اړه لري دامير رايي او دهغه تد بيرته سپارل کيږي ترڅو دامت اراء او نظرونه ونه ويشل شي ځکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي :- وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُوْلِي الأَمْرِ مِنْهُمْ ... ﴿83﴾ [164]

ژباړه:- اوکه رسولي وي دوی دغه خبر ، رسول ته او ذمه وارو کسانو ته ، د دوی نه .

ددي مثال داسې دي لکه چې د عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روايت شوی چې دذات السلاسل په غزا کې پيغمبر صلی الله عليه وسلم عمرو رضی الله عنه امير و تاکه نوده خلکوته امر وکړ چې :- خلک به تردري ورځو اورونه نه بلوي،عمرو رضی الله عنه وايي : خلکو ابوبکر رضی الله عنه ته وويل : چې زموږ سره خبرې وکړئ نو بيا ابوبکر رضی الله عنه عمرو رضی الله عنه ته راغی، عمرو رضی الله عنه وايي : ته خلکو ماته راليږلی يی نو هيڅوک بايد اور بل نکړي که چا داکار وکړ نوزه به يی په همغه بل کړي اورکې وغورځوم ،

، بيا صحابه کرام ددښمن سره مخامخ شول دښمن ته يي ماتي ورکړه، بيا هم عمرو رضی الله عنه چاته اجازه ورنکړه چې په دښمن پسې لاړ شي او تعيقب يې کړي کله چې صحابه کرام پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راستانه شول ټوله کيسه يي ورته وکړه او دعمرو رضی الله عنه څخه يي ګيله او شکايت ورته وکړ ،عمرو رضی الله عنه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل :- اې دالله جل جلاله رسوله! دوی لږ وه ماښه ونه ګڼله چې دښمن تعيقب کړي او له دې څخه وويريدم چې دوی لږ دي نو عطف او شفقت مې پري وکړ .

پيغمبر صلی الله عليه وسلم دده داکار وستايه،په يو روايت کې راغلي دي چې عمرو رضی الله عنه وويل :- دوی مي داور بلولو څخه پدې خاطر منع کړل چې دښمن يي لړوالی ونه ويني، ذات السلاسل دغزا حديث دعمروبن العاص رضی الله عنه امارت او کومې پيښې چې پدې غزا کې رامنځته شوې دي ، امام بخاری رحمت الله عليه ،امام مسلم رحمت الله عليه،امام ابواود رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ،امام ترمذي رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه ، امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه،امام ابويعلی رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه او امام طبري رحمت الله عليه په خپل تاريخ کې امام نسايي رحمت الله عليه په فضايل الصحابه او امام ذهبي په سير اعلام النبلاء کې په تفصيل او لنډيز سره روايت کړيدی.

---

[164] - سورت النساء آيت 83 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامیر په اطاعت کې دا هم داخلیږي چې دخپلې ورسپارل شوې دندې څخه ونه ګرځوي او هیڅوک دخپل ځای څخه دامیر داجازي پرته لاړنشي اوهیڅکله داجازي څخه پرته هغه کارونکړي چې ورته معین شوي نه وي ځکه چې الله جل جلاله فرمايي : إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ ﴿62﴾ [165]

ژباړه :- بیشکه مومنان ، په اصل کې هغه کسان دي ، چې ایمان مو راوړئ ، په الله ، او په رسول د هغه ، او کله چې ، وي هغوی ، د هغه سره ، په يو کار راجمع کوونکي باندې نو نه ځي هغوی، ترهغې پورې چې اجازت وغواړئ دهغه نه .

- دامیر په اطاعت کې داهم داخلیږي چې دخپلې ورسپارل شوې وظیفې څخه مخ و نه ګرځوي او هیڅوک دخپل ځای څخه د امیر داجازې پرته لاړ نشي او هیڅکله د اجازې څخه پرته هغه کار ونکړي چې ورته معینه شوي نه وي ځکه چې الله جل جلاله فرمايي :- إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ ﴿62﴾ [166]

ژباړه : بیشکه مومنان ، په اصل کې هغه کسان دي ، چې ایمان مو راوړئ ، په الله ، او په رسول د هغه ، او کله چې ، وي هغوی ، د هغه سره ، په يو کار راجمع کوونکي باندې نو نه ځي هغوی، ترهغې پورې چې اجازت وغواړئ دهغه نه .

امام بخاری رحمت الله علیه پدي مبارک آیت باندې دامیر څخه دعسکرو داجازې دغوښتلو په وجوب دلیل نیسي اووايي :- دامیر څخه دعسکر داجازي غوښتلو باب،دغه مبارک آیت یي ذکر کړیدی بیایي دجابر رضی الله عنه هغه حدیث راوړی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په غزا کې شریک وه ، جابر بن عبدالله رضی الله عنه وايي :- ماوویل: اي دالله رسوله ! ما نوی واده کړی ماته اجازه راکړه نوماته یی اجازه وکړه اودخلکو څخه تر مخه مدینې منورې ته راورسیدم . [167]

له همدې امله ابن قدامه رحمت الله علیه ویلي دي :- دحیواناتولپاره دوښوکولو یالرګیو راټولولو اوداسې نورو څیزونو لپاره به دامیر داجازې څخه پرته هیڅ سر باز نه وځي ځکه چې الله جل جلاله

---

- سورت النور آیت 62 . [165]
- سورت النور آیت 62 . [166]
- فتح الباری ج 6 ص 121 . [167]

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمايلي دي: - إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ ﴿62﴾ [168]

ژباړه :- بيشكه مومنان ، په اصل کې هغه کسان دي ، چې ايمان مو راوئ ، په الله ، او په رسول د هغه ، او کله چې ، وي هغوی ، د هغه سره ، په يو کار راجمع کوونکي باندې نو نه ځي هغوی، ترهغې پورې چې اجازت وغواړئ دهغه نه .

امير دخلکو په حالت او ددښمن په حال اودهغه په مورچو،سنګرونو په لريوالي نږديوالي باندې ډير ښه پوه او خبروي،ځکه چې که کوم سرباز دمجاهد دامير داجازې څخه پرته لاړشي ښايي ددښمن په کمين کې ولويږي او ياهم دکوم نظامي ګروپ سره مخامخ شي او امير دنورو مجاهدينو سره لاړ شي او دی پاتي شي چې دابه يې دهلاکت او تباهۍ سبب وګرځي. [169]

پدې هم وپوهيدو چې داحد په غزاکې دمسلمانانو د ناکامی سبب هم دامير داجازې څخه پرته د غشو وشتونکو دخپلو سنګرونو پريښودل وه اوامير يې هم نبي کريم صلی الله عليه وسلم وه کله يې چې دوی ته وفرمايل :- که چيرې تاسو وليدو چې مرغانو يوړو هم په همدې ځای به پاتي کيږئ او که وموليدل چې دښمن دناکامی سره مخ کړو او پښو يې لاندې کړو هم پخپلو ځايونو کې پاتې کيږی تردې چې څوک دروليږم .دغه روايت دغزاګانو دمصادروڅخه پرته امام بخاری رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه، امام أبوداود رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه او امام أبوعوانه رحمت الله عليه روات کړيدی .

نو کله چې دوی وليدل دښمن ماته وخوړه خپل سنګرونه يې پريښودل او غنيمتونو پسې په ډيره تيزی ورغلل نو دښمن يې تر شا راتاوشو تردې چې هغوی مسلمانانو ته ورسيدل چې ټوله فضاء غم او تکليف شو ، نو دهيڅچا لپاره مناسب ندي چې دامير اجازې ته په کمه سترګه وګوري ترڅو عام نظام او جوړښت زيانمن نشي .

**مهمه فايده :-**

هغه شرعي مسايل چې دحاکم اوامير په حکم کې داخليږي شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه ويلي دي :- که چيرې اسلامي امت دکوم قراني آيت يا نبوي حديث يا دکومې خبرې يا طلبي حکم په اړه پخپل

---

[168] - سورت النور آيت 62 .

[169] - المغني لابن قدامه ج 9 ص 176 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ کې شخړه وکړي نودیوه قول صحت اودبل فساد یواځې دحاکم په حکم سره نه ثابتږي بلکې حکم یي په معینو کارونو پلی کیږي په عا مو ځیزونو کې، اودامت په منځ کې دشخړو او جنجالي مسایلو په اړه دامیر دنده داده چې یاټول امت دقران کریم اونبوي احادیثو دسلفو صالحو داتفاقي کړنلارې سره سم پر مخ بوځي ځکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي : - فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ .... ﴿59﴾[170]

ژباړه :- نو بیا که ، ستاسو په منځ کې جګړه راشي ، په څه خبره کې ، نو واپس کوئ هغه ، الله ته او رسول ته .

کله یي چې دهغوی دخبرودنه پوهیدو په سبب شخړه وکړه او امیر دداسې خلکو څخه وه چې حق یي پیژندلای شوه او هغه څه ورته په ډاګه شو ل چې په قران کریم اونبوي احادیثو کې شته خلک ددهغه پیروی ته راوبولي .

مګر که چیرې بدعت ظاهراو واضح وي عام خلک پدې پوهیدل چې داداسلامي شریعت مخالف دي لکه دخوارجو،روافضو،قدریه ؤ او جهمیه ؤ بدعت شو،نوپدې حالت کې په امیر ددې بدعت له منځه وړل لازم دي ځکه چې هر څوک پرې پوهیږي لکه هغه څوک چې فحشاء، دشرابو څښل او دلمانځه ترک کول اوداسې نورحلال و بولي نوپه امیر ددې بدی له منځه وړل لازم دي خوددې سره سره بدعتیانو دځینو ځایونو اووختونو زیاته یادونه کوي چې ددوی دډیر یادښت په سبب دجاهلانو او ناپوهو خلکو په اند دعلماءکرامو اواهل سنتو دخبرو سره یوشان شي تردې چې پداسې حالت کې په امیر باندې شک او اشتباه راشي نوپدې وخت کې داسې چاته ضرورت پیداکیږي چې دالله جل جلاله دحکم دښکاره کیدواوپه ډاګه کیدو ته مټې راونغاړي .

مګر په جنجالي مسایلو کې دقران کریم او نبوي احادیثو ددلیل څخه پرته دامیر لخوا دیو قول ټینګ نیول او په هغه باندې ټینګار کول دمسلمانانو په اتفاق سره ناروادي پدې ډول مسألو کې دیو قول صحت او دبل قول فساد دامیر په امر سره نه ثابتیږي مګر که له ده سره داسې یودلیل موجودوي چې هغه ته رجوع اوورګرځیدل واجبوي نوپدې صورت کي داقول دامارت څخه وړاندې اووروسته یو شان

---

- سورت النساء آیت 59 . [170]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي خو دامارت په وسيله کولای شي چې حق ووايي اوعلم خپور کړي چې پرته دامارت څخه ددې توان نلري،او دتوانمندی او کمزوری حالت داسې ندی لکه داستحقاق اودهغه دنشتوالي حالت. [171]

**دولس دريمه دنده او مسؤوليت :-**

امیر ته دعا کول دهغه احترام ساتل او دشرعي ادب په نيولو سره هغه ته نصيحت کول :

دعائشي رضی الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :- اي الله جل جلاله چاچې زمادامت څه مشري په غاړه واخسته او په دوی يي سختي وکړه په ده هم تکليف او سختي راولې او چاچې زما دامت څه مشري په غاړه واخسته اوله دوی سره يي آساني وکړه ته هم پري آساني راولې . داحديث امام مسلم رحمت الله عليه او پخواني نيکانو لکه فضيل بن عياض رحمت الله عليه او امام احمد بن حنبل رحمت الله عليه به ويل: که زموږ کومه قبوله شوي دعا وي نو د امير لپاره به موکړي وې ، عبدالله بن امام احمد رحمت الله عليه په صيح سند سره په کتاب السنة کې ذکر کړي چي ابوبکر مروزي رحمت الله عليه ويلي دي چې : مادابو عبدالله امام احمد بن حنبل رحمت الله عليه څخه اوريدلي چې: خليفه متوکل يي ياد کړاو وويل : په يقيني ډول دده لپاره دنيکی او روغتيا دعاکوم اوويل يی : که دده ته څه تکليف ورسي،يقينا چې ته به يی وګوري چې اسلام ته څه پيښيږي او څه پرې راځي ، فضيل بن عياض رحمت الله عليه وايي : دعادل امير مخ ته کتل عبادت دی .

د زيادبن کسيب عدوي رحمت الله عليه څخه روايت دی وايي : دابوبکرة سره دابن عامر تر منبر لاندې وم هغه خطبه ورکوله او نری جامې يي په تن وي ابو بلال وويل : زموږ امير ته وګوری چې دفاسقانو جامې يي اغوستي دي ابوبکرة رضی الله عنه وويل: غلئ شه ما دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يی : پاچا دځمکې پر مخ دالله جل جلاله سيوری دی چا چې دهغه قدر وکړ الله جل جلاله به يي قدر وکړي او چاچې دالله جل جلاله دپاچا اهانت وکړ الله جل جلاله به يي هم خوار او ذليل کړي . داحديث په مختلفو الفاظو سره امام ترمذي رحمت الله عليه،امام ابن خزيمه رحمت الله عليه ،امام طبراني رحمت الله عليه،امام بزار رحمت الله عليه،او امام ابونعيم رحمت الله عليه روايت کړيدی، او امام ترمذي ويلي دي: داحديث حسن او غريب دی،امام الياني رحمت الله عليه حسن بللی دی، او امام هيشمي رحمت الله عليه ويلي دي : په سند کې يی سعد بن او يس دی، که چيري

---

[171] - مجموع الفتاوی ج 3 ص 239-240 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه عبسي وي نوامام ازدي رحمت الله علیه ضعیف بللی دی، که چیرې بصري وي بیا امام ابن معین رحمت الله علیه ضعیف بللی دی، امام ذهبي رحمت الله علیه په ضعیفانوکې یاد کړی دی. ښایی د ډیرو روایاتو له کبله حسن لغیره وي.

دعبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې معاذ رضی الله عنه ویلي دي :- موږ ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم دپنځوڅیزونو په کلکه ویلي چاچې دهغه څخه ځینې یی تر سره کړل په الله جل جلاله دهغه ضمانت لازمي شو ،چاچې دمریض پوښتنه وکړه ،یادجنازې سره ووت ، یادالله جل جلاله په لاره کې د غزا لپاره ووت او یا یي هم امیر ته دهغه دعزت اوقدر کولو لپاره ورغئ یا پخپل کور کې کیناست ترڅوخلک دده له شره اودی دخلکو له شره په امان پاتې شي .داحدیث امام احمد رحمت الله علیه،امام طبرانی رحمت الله علیه اوامام بیهقي رحمت الله علیه په شعب الایمان کی روایت کړی دی .

دابو بکرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چاچې دهغه چا عزت او قدر وکړ،الله جل جلاله به یی عزت اواحترام وکړی، الله جل جلاله به یی دقیامت به ورځ محترم او عزتمن وګرځوی ، دا حدیث امام احمد رحمت الله علیه، امام طبرانی رحمت الله علیه ، امام ابن ابی حاتم رحمت الله علیه او امام ابن ابی عاصم رحمت الله علیه روایت کړی ، سند یی صحیح دی .

او دابوموسی رضی الله عنه څخه روایت دی چې بیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : دالله جل جلاله دتعظیم اولویۍ څخه د سپین ږیری مسلمان دقرانکریم دحافظ،قاری،او مفسرعزت او احترام او دعادل پاچا قدر اوعزت کول دي . داحدیث د امام ابو داود رحمت الله علیه،او امام بیهقي رحمت الله علیه ، روایت کړی دی. پدې ډول چې نه په کې ډیرسختی کوونکی اونه مخ تری اړوونکی وي ، سهل بن عبدالله تستري رحمت الله علیه ویلی دي : ترهغه به خلک ښه او په خیر وی چې د پاچاو علماءکرامو عزت کوي کله یی چې دغه دواړو ته په درنه سترګه وکتل الله جل جلاله به یی دنیا او آخرت جوړ کړي او که یی ددې دواړو سپکاویٔ وکړ الله جل جلاله به یی دنیا او آخرت خراب کړي . [172]

---

172 - تفسیر قرطبي ج 5 ص 362 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**- داميراو مشر سپکاوئ :**

کله دهغه داوامرو په نه منلو او هغه ته په سپکه سترګه کتل اويا يې په تمسخر سره نيول ، او يا هم په پټه او ښکاره سره يې عيب بيانول او يايې داسې يو بدصفت بيانول چې دده په جسمي اويا اخلاقي اړخ پورې ارتباط ولري اودده بدي او سپکاوی ترې ښکاريږي،او يا هم دبل چا داسې ستاينه او صفت وشي چې اشارتاءِ ددغه امير بدي ترې څرګنديږي ، يا دنورو خلکوداميرپه ضد دسپکاوي او نا فرمانۍ په لور هڅول،په عام ډول دامير په سپکاوې کې ټول هغه څه دا خليږي چې دامير دبې عزتی او دهغه دعيبجن کيدو سره تړاو ولری ځکه چې پيغيمبر صلی الله عليه وسلم دامير داطاعت امر کړيدئ اګر که هغه حبشی غلام وي اوسريې دمميز په اندازه او يايې غوږونه او پوزه پرې شوې هم وي لکه څنګه چې مخکې ذکرشو،نوکه څوک دامير سپکوالي ته ملاوتړی الله جل جلاله به يې په دنيا کې خوار او ذليل اوپه آخرت کې به يې په عذاب اخته او دجنت څخه محروم کړي .

- داميرانو لپاره دنصيحت په اړه زموږ دخوږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه ډير احاديث ذکر شوي دي چې له هغې څخه يو دادئ چې: پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : دين نصيحت دی،صحابه کرامو وويل: اي دالله جل جلاله رسوله ! دچا لپاره نصيحت دی ؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : دالله جل جلاله ، دهغه دکتاب ، دهغه درسول ، دمسلمانو مشرانو او عامو مسلمانانو لپاره نصيحت دی. دا حديث امام مسلم رحمت الله عليه پخپل صحيح،کتاب الايمان باب بيان ان الدين النصيحة کي روايت کړی دی،همدا رنګه امام بخاری رحمت الله عليه پخپل صحيح کې په سر ليک کې راوړی دی ، همداسې امام احمد رحمت الله عليه، امام ابوداود رحمت الله عليه امام نسائی رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ، امام ابو عوانه رحمت الله عليه ، امام بيهقي رحمت الله عليه په سنن کبری او اعتقادکې او امام شافعی رحمت الله عليه،او امام طبرانی رحمت الله عليه په معجم کبير کې د تميم داري رضی الله عنه څخه روايت کړی ، همدارنګه : امام احمد رحمت الله عليه،امام ترمذی رحمت الله عليه، امام نسايی رحمت الله عليه ، امام ابن ابی عاصم رحمت الله عليه دابو هرير ة رضی الله عنه څخه ، امام دارمی رحمت الله عليه دابن عمر رضی الله عنه څخه ، امام احمد رحمت الله عليه، امام ابو يعلی رحمت الله عليه ،او امام طبرانی رحمت الله عليه دابن عباس رضی الله عنهما څخه، اوهمدارنګه امام طبرانی رحمت الله عليه دثوبان رضی الله عنه څخه پدې لفظ سره چې : نصيحت ددين اصل،اوچته څوکه او اساس دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : په درى څیزونو سره دمسلمان زړه کې کینه او حسد نه راځي :

۱-یواځې دالله جل جلاله لپاره دیو عمل په کولو.

۲-دمشرانو لپاره په نصیحت کولو.

۳-دمسلمانانو په ډلې او جماعت پورې په منګلو کې ټینګولو سره،ځکه ددوی دعوت د شاته کسانو لپاره دی .

همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : الله جل جلاله ستاسو لپاره درې څیزونه خوښوي او درې څیزونه درته بد بولې هغه چې تاسو ته یې خو ښوي دادي : چې دالله جل جلاله عبادت وکړئ او هغه سره څه شی شریک نکړی ، او دالله جل جلاله عبادت وکړئ او اختلاف ونکړئ او دالله جل جلاله په رسی ټول منګولې ټینګې کړی او اختلاف ونکړی او چې څوک الله جل جلاله درباندې مقررکړل هغه ته نصیحت وکړئ ، او دا درته بد بولې چې : وایی، دایی ویلی وه داوایی ، ډیرې پو ښتنې ، او بی ځایه مال مصرفول. داحدیث امام بخاری رحمت الله علیه ،امام مسلم رحمت الله علیه، امام ابن خزیمه رحمت الله علیه، امام احمد رحمت الله علیه،امام ابوعوانه رحمت الله علیه ، امام دار می رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله او امام طبرانی رحمت الله علیه روایت کړیدی.

امام نووی رحمت الله علیه پخپله هر اړخیزه وینا کې مشرانو ته دنصیحت دمعنا په اړه ویلی دي : دمسلمانانو دمشرانو لپاره دادي چې : دهغوی سره دحق ویل کیدو لپاره مرسته کول،دهغوی اطاعت کول،پدې سره د هغوئ امرمنل،هغوی متوجه کول او دیته یی پام کول چې دولسونو سره نرمي وکړئ او کوم څیزته یی چی پام نه وي هغه ته توجه راګرځول،اوکوم چې د مسلمانانو دحقوقو څخه پاتې وي هغه ته توجه کول، او په ضد یی پاڅون نه کول،ددوی داطاعت او پیروی لپاره دمسلمانانو د زړونو راګرځول او یو ځای کول،امام خطابي رحمت الله علیه ویلی دي : دمشرانو د نصیحت څخه مطلب دادی چې : ددوی په امامت لمو نځ کول،له دوی سره جهاد ته تلل ، دوی ته زکات ورکول او په ضد یی وسله وال پاڅون نه کول ، اوکه ددوی څخه څه ناوړه یا بد چلند ښکاره شو، او دوی ته د نیکی دعا کول ، دا ټول هغه څه دي چې د مسلمانانو پاچایانو څخه مطلب خلفاء راشدین او یا هغه څوک دي چې د مسلمانانو چارې پرمخ بیایي لکه : امیران او مشران .[173]

[173] - شرح صحیح مسلم ج 2 ص 83 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- همدارنګه هغه څه چې د پاچايانو او نورو مسلمانانو لپاره په نصيحت کې شامليږي دادي : د الله جل جلاله ددې مبارک فرمان په تفسير کې چې .... وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ (65)[174]

ژباړه :- او که چیرې تپوس وکړې ته ددوئ نه ، نو خامخا به وائي ، چې بیشکه ، وو موږ ، چې مشغولیدو موږ ، او لوبې کولې موږ او ورته ووایه ، آیا په الله پورې ، او په آیاتونو دهغه پورې ، او په رسول دهغه پورې ، وئ تاسو ، چې ټوکې مو کولې .

مفسرینو ویلی دي: دتبوک په غزاکې يو سړي وويل : موږ د ددې قاريانو په څير داسې څوک ندي ليدلي چې يواځې خيټې مړوي په خوله دروغ وايي،او دجګړې په وخت کې ډارن وي،دروغ د وويل ته منافق يې اوخامخابه رسول الله صلى الله عليه وسلم ستا په خبر باندې خبروم،نو پدې يې پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبرکړ .[175]

**داد ټولو مسلمانانو او پاچايانو لپاره نصيحت دی او په هيڅ ډول غيبت حرام ندي .**

امام بخاري رحمت الله عليه د زيد بن ارقم رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې ويل يې : زه د خپل تره سره وم چې دعبد الله بن أبی بن سلول څخه مې واوريدل چې ويل يې : په هغه چاچې د رسول صلی الله عليه وسلم سره دې انفاق او خيرات مه ورکوئ ترڅو چې ترې لاړشي او دا ټولی تيت شي ، او همدارنګه يې په ډير ذلت سره ترې ايستل کيږي،نو داخبره مې خپل تره ته وکړه بيا مې تره رسول صلی الله عليه ته وکړه نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم عبد الله بن أبی او دهغه ملګروته څوک ورولیږل نو هغوی قسم وکړ چې دا کار يې ندی کړی او داسې څه يې ندي ويلي،نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ددوی خبره رښتيا او زمايې دروغ وګڼله نو داسې غم راته ورسيد چې سارئ يې نه درلود او په کور کيناستم،نو الله جل جلاله دغه آيت شريف نازل کړ چې :

إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ (1) اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (2) ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ (3) وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ

[174] - سورت توبه آيت 65 .
[175] - الصارم المسلول لابن تيمية ص 31-32 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(4) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ (5) سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ (6) هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ (7) يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ... [176]

ژباړه : - کله چې ، راشي تاته ، دا منافقان ، نو وايي ، موږ ګواهي کوو ، چې بيشکه ته ، خامخا رسول د الله يې او الله ، ښه پوهيږئ ، چې بيشکه، ته خامخا رسول د هغه يې ، او الله ګواهي کوي ، چې بيشکه دا منافقان خامخا دروغژن دي / جوړ کړي دي دوئ ، له قسمونوخپلو نه ، ډال ، پس منع کوي خلک ، دلارې دالله نه بيشکه دوی چې دي و ډير بد دي ، هغه عملونه چې ددوی ، چې کوي يې / داهر څه په سبب ددې چې دوی ، ايما ن رواړو ، بيا ، کفر وکړ دوئ ، پس مهر ووهلئ شو ، په زړونو ددوئ باندې نو اوس دوئ ، نه پوهيږي / اوکله چې ، ووينې ته دوی لره ، نو په تعجب کې به واچوي تالره جسمونه ددوئ ، او که خبرې کوي دوئ ، نو غوږ ږدئ ، خبرو ددوئ ته ، لکه چې دوئ لرګي دي ود رول شوي ديوال ته ، ګومان کوي دوئ ، هرآواز ، خلاف د خپل ځان ، همدوئ ( پاخه ) دښمنان دي ، خپل ځان وساته د دوئ نه ، هلاک د کړي دوئ لره الله ، کوم طرف ته ، دوئ بوتلل کيږي / اوکله چې وويل شي ، دوئ ته ، چې راشي ، چې بښنه وغواړي ، ستاسو دپاره ، رسول د الله نو تاو کړي دوئ ، سرونه خپل او وينې ته دوئ لره ، چې منع کيږي د راتلو نه ، او دوئ ، تکبر کوونکي دي / يو شان ده ، په حق د دوئ کې ،که بښنه وغواړې ته ( ای نبی صلی الله علیه وسلم ) د پاره د دوئ ، او که بښنه ونه غواړې د پاره د دوئ ، هرګز به بښنه ونکړي الله ، دوئ ته ، بيشکه الله ، لار نه ښئ ، قوم ، فاسق ته / دا هم هغه خلک دي ، چې وايي ، چې خرڅ مه کوئ ، په هغه چا باندې چې دالله درسول سره دي ، تردې پورې ، چې تيت شي ، او الله لره دي ، خزانې دآسمانونو ، او د ځمکې ، وليکن دا منافقان خلک ، نه پوهيږي .

نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ماته څوک راوليږل بيايې دغه آياتونه راته تلاوت کړل بيايې وفرمايل : الله جل جلاله ريښتينی کړې،داحديث شريف امام بخاری رحمت الله عليه او امام ترمذی رحمت الله عليه روايت کړی دی.

په همدې ډول د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه راغلي دي چې فرمايلي يې دي : کله چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د حنين د غزا غنيمتونه وويشل ، دانصارو څخه يو سړي وويل : پدې ويش سره

[176] - سورت المنافقون د 1- 7 آيت پورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالله جل جلاله رضاء مطلب نه وه ، نو پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته راغلم او خبر مې کړ.داحديث شريف امام بخاري رحمت الله عليه روايت کړی دی .

امام ابن حجر رحمت الله عليه ددې حديث په شرحه کې وايي : پدی حديث کې دامېر او نورو نيکو خلکو دخبرېدو روا والئ دی چې ددوی په اړه هغه څه وه نه ويل شي چې وړاو لايق ورسره نه وي ترڅوويونکئ له دې منع کړئ شي اووېی وېروي،او پدی کې دغيبت او چُغلی ذکر دی کوم چې د ابن مسعود رضی الله عنه په کړنه کې موجود وه او پيغمبرصلی الله عليه وسلم تری منع نکړ،ځکه چې د ابن مسعود رضی الله عنه موخه اوهدف دپيغمبرصلی الله عليه وسلم نصيحت او پدی خبره يی خبرول وه ، هغه څوک چې اسلام ښکاروي او منافقت پټوي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بدي بيانوي نو بايد ځان ترې وساتئ ، دغه کارروا دی لکه څنګه چې دکفارو په ضد جاسوسي او خبرراوړ ل روا دې ترڅو دهغوی ددسيسو څخه ځانونه وژغوري . [177]

دفاطمې بنت قيس رضی الله عنها څخه روايت دی چې ويل يی : زه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او ماورته وويل ای دالله جل جلاله رسوله ! ابو الجهم او معاويه زما دنکاح غوښتنه وکړه پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل : معاويه رضی الله عنه مسکين دی مال نه لري او ابو الجهم دخپلی اوږی نه امسانه ښکته کوی (وهل کوي ): داحديث امام مسلم رحمت الله عليه، امام ابن حبان رحمت الله عليه ،امام نسايی رحمت الله عليه،امام أبوداود رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه، امام طبرانی رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه او امام مالک رحمت الله عليه په موطاء اوامام شافعی رحمت الله عليه په رساله نومي کتاب کې روايت کړيدی .

نوکله چې په يو دنيايی کار کې چې هغه دواده مسأله ده ديوې مسلمانې ښځې لپاره دنصيحت په ډول دغوښتونکو دعيبونو يادول رواکوي نو د اسلامی امت لپاره ددينې کار لپاره دضرورت په وخت کې دځينو عيبونو يادول روانه بولی ؟

خطيب بغدادی رحمت الله عليه ددغه حديث شريف په شرحه کې ويلی دي : اوهغه غيبت چې الله جل جلاله پدې مبارک فرمان کې چې : وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ ...﴿١٢﴾ [178]

ژباړه : - او غيبت د نه کوي ، ځينې ستاسو .

---

- فتح الباری ج 10ص 512 . [177]
- سورت الحجرات آيت 12 .[178]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې آيت شريف کې يې غيبت منع کړی دی او پيغمبر صلی الله عليه وسلم پدې مبارک حديث کې ډير بدبللی چې وايې : اې هغه ډلې چې په ژبه يې ايمان راوړی او دايې زړه ته ندی ښکته شوي دمسلمانانو غيبت مه کوئ او دهغوی پټ ځيزونه مه ښکاره کوی . دا حديث شريف امام احمد رحمت الله عليه،او امام ابويعلی رحمت الله عليه روايت کړی دی. امام هيثمي رحمت الله عليه ويلی دي،رجال يې ثقات دي،او قضاعی رحمت الله عليه په مسندالشهاب او امام بيهقي رحمت الله عليه په شعب الايمان اوامام طبرانی رحمت الله عليه په صريح السنه،امام أبوداود رحمت الله عليه په سننو کې دابو برزه أسلمي رضی الله عنه څخه روايت کړی دی اوويلی يې دی چې: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي : اې هغی ډلی چی په ژبه مو ايمان راوړی او زړه ته موندی ننوتی دمسلمانانو غيبت مه کوی او دهغوی پټ رازونه مه ښکاره کوی ځکه چاچی دمسلمانانو ستر مات کړ الله جل جلاله به دده سترمات کړي او الله جل جلاله چې دچا سترمات کړي پخپل کو ر کې به يی سپک او شرمنده کړي ، امام ابو يعلی رحمت الله عليه په حسن سند سره دبراءرضی الله عنه څخه روايت کړی د ی، دابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم منبر ته وخوت او په لوړ اواز يې وفرمايل : اې هغو خلکو چی په ژبو مو ايمان راوړی او زړونو ته مو ښکته شوی ندی مسلمانانو ته تکليف مه رسوی اونه دهغوی درازونو دښکاره والي يعنی: دخلا ګانو دبر بند توب هڅه کوی ځکه چاچې دمسلمان ورور دراز لوځوالي هڅه وکړه الله جل جلاله به دده راز ښکاره کړي کله چې الله جل جلاله دچا دراز ښکاره کيدواراده وکړي سپک او ذليل به يې کړي اګر که دکور په منځ کی هم وي .

ابن عمررضی الله عنه کعبی شريفی ته وکتل اوويې ويل :څومره قدرمنه يی او څومره اوچت مقام لري ، يومؤمن دالله جل جلاله په وړاندې ستا څخه ډيرمحترم او قدرمن دی. داحديث امام ترمذی رحمت الله عليه اوامام ابن حبان رحمت الله عليه پخپل صحيح کې روايت کړی دی مګرويلی يی دي چې : اې هغوخلکو چې يوازې په ژبه مسلمانان ياست او زړونوته موايمان ندی ښکته شوی ،مسلمانان مه آزاروی او عيبونه يی مه په ګوته کوی اوخطاګانی يی مه لټوی ، دمعاويه رضی الله عنه څخه روايت دی چې فرمايل يی : يقينا که دې د مسلمانانو پټ رازونه «خلاګانی» ښکاره کول وغوښتل،نو فاسد به يی کړي اويا نږدی دی چې فاسد يې کړي او په زړونو کې به يی کينه درته پيداشی ». داحديث امام أبوداود رحمت الله عليه اوامام ابن حبان رحمت الله عليه پخپل صحيح کتاب کی روايت کړيدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دعورت دمتابعت څخه مطلب دادی چې :**

یوشخص د مسلمان ورورعیبونه بیانوي اوهدف یې دهغه مقام ښکته کول،سپکوالۍ اوپه کم نظرورته کتل وي،پدې ډول چې دغه کار دنصیحت حکم ته نه راګرځي اونه هم دیني اړخ دالازموي چې خائن دامین ګرځولو اودفاسق دخبرقبلولواو دروغجن دګواهي اوریدلوڅخه دې ونه ویرول شي ، داچې یوه کلیمه دوبونکی دحالت په توپیرسره دوه معناوې ولري چې په یوه حالت کې ګناه ګار او په بل حالت کې بیا ګناه ګار نه ښکاریږی .

دساری په ډول : ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها یوه ښځه یاده کړه اوویی ویل: دغه ښځه ټیټه(قدیی وړوکی) دی،پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : غیبت یی دوکړ » . داحدیث شریف امام ابو داود رحمت الله علیه اوامام احمد رحمت الله علیه پخپل مسند،امام ابن ابی دنیا رحمت الله علیه دغیبت په کتاب او امام ترمذی رحمت الله علیه روایت کړی ویلی یی دي : داحدیث حسن او صحیح دی .

پخپل سند یی امام زهری رحمت الله علیه نه روایت کړی وایي ماته ابن ابی رهم غفاری ویلي چې ما دابورهم څخه اوریدلی دي . دي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دهغه صحابه ؤ څخه وه چی ترونه لاندې یی ورسره بیعت کړی وه . فرمایل یی : زه دپیغمبرصلی الله علیه وسلم سره دتبوک په غزاکی وم بیا یی حدیث ووایه تردې چې ویې ویل : پیغمبرصلی الله علیه وسلم پیل وکړ و، زما څخه یی دبنو غفار قبیلې دهغو خلکو په اړه پوښته کوله چې دغزا څخه پاتې شوي وه ماخبرکړ، پیغمبرصلی الله علیه وسلم راڅخه پوښتنه کوله سپینو خلکو څه کول ؟ نوماورته دهغوی دغزاڅخه وروسته پاتې کیدو خبرورکړ نو ویی فرمایل: سرو او دکوڅیو والاؤ خلکو څه وکړل ؟ نو ماورته د هغوی د غزا څخه دوروسته والي خبرورکړ، بیایې وفرمایل : هغو تورو دوړو ویښتو څښتنانوڅه کول ؟ بیایی دحدیث شریف پاتی برخه ذکر کړه .

داحدیث امام احمد رحمت الله علیه، امام طبرانی رحمت الله علیه په معجم کبیر اوامام ابن حبان رحمت الله علیه،امام بخاری رحمت الله علیه په ادب مفرد کې ، امام معافری رحمت الله علیه په سیرت نبوی ، امام احمد بن عمر والشیبانی رحمت الله علیه په آحاد او مثاني کې روایت کړی ، امام هیثمی رحمت الله علیه ویلی دی : په دواړو سندونو کی دابورهم وراره دی چی زه یی نه پیژنم .

نودغه دواړه کلمې دقداو ونې په ټیټوالي کې کارول شوې دي چې لفظ یی یو اومعناوی یی بیلې دي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد پیژندنه او څرګوالۍ وه اودعایشی رضی الله عنها مطلب دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عيب او بدي بيانول وه .. دافک حديث مشهور حديث دی امام بخاری رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه، امام ترمذی رحمت الله عليه، امام أبوداود رحمت الله عليه ، امام بيهقی رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ،امام حاکم رحمت الله عليه،امام ابويعلی رضی الله عنه،امام طبرانی رحمت الله عليه او نورو روايت کړی دی .

امام ابن حجر رحمت الله عليه ددی په شرحه کی هم ويلی دی چې : ددی حديث څخه دامسأله په لاس راځي چې : هغه څوک چې فسق او او شر په ښکاره ډول سرته رسوي نو هغه څه چې دده په غياب کې يی بدي بيانيږي ، د مذموم غيب څخه ندی،علماء کرامو ويلي دي : غيبت د هرصحيح شرعي مقصد د حصول لپاره پدې ډول چې هغه ته له دې پرته رسيدل سخت وي رواا‌و جائز دی لکه : د ظلم مخ نيوی ، د بدی او منکردله منځه وړلو لپاره مرسته غوښتل،د فتوی غوښتل،دمحاکمې دائرول،دشراو بدی څخه د چا ويرول،په همدې کې دراويانو او ګواهانو جرحه او بدي بيانول هم شامل دي ، خليفه ته دهغه لاس لاندې خلکو د کړنې خبرورکول ، تردې چې ويی ويل : اوهمدارنګه چاچې يو فقيه او عالم وليده چې بدعتي ته ورتله او يافاسق ته ورتله او له دې څخه ويريده چې پيروي يی ونکړي،نوپدې د هغوی بدي په ګوته کول روادي،او دهغو خلکوغيبت روادی چې په ډاګه سره فسق،ظلم اوبدعت کوي .[179]

امام غزالي رحمت الله عليه د هغه عذرونوپه اړه چې غيبت ورته روا کوي داسې ويلي دي : پدې پوه شه چې اسلامي شريعت کې دبل شخص د بدی بيانولو د روا والي لپاره هغه صحيح مقصد ته چې پرته له دې څخه رسيدل ورته ناشوني وی دغيبت ګناه دفع کوي او هغه شپږ څيزونه دي .......... تردې چې ويی ويل : څلورم څيز،د شرڅخه دمسلمان ويرول،که چيرې وليدل شي چې يو فقيه او عالم شخص کوم مبتدع يا فاسق ته ورځي او له دې څخه وويريده چې دغه فسق او بدعت سرايت ورته ونکړي نو تاته روادي چې د مبتدع او فاسق بدعت او فسق ورته په ګوته کړې .[180]

امام نووي رحمت الله عليه په هغه باب کې چې ځينې غيبت کول روادي وايی: پده پوه شه چې غيبت د يو صحيح شرعي مطلب او مقصد لپاره چې له دې څخه پرته ورته رسيدل ناشونی وي روادی او هغه شپږ څيزونه دي :

---

[179] فتح الباری ج 10 ص 472 .

[180] - احياء علوم الدين ج 3 ص 161-162 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول : د خپل مظلومیت څرګندول،تردې چې ویی ویل : څلورم،مسلمانان د شر او فسادڅخه ویرول او هغوئ ته نصیحت کول دي،او له دې څخه یودادي چې که چیرې یو فقیه او عالم ولیدل شي چې یو بدعتي اوفاسق ته ورځي او له هغه څخه علم زده کوي او وویریده چې که دغه عالم ته به ترې زیان ورسي نوده ته داروداه چې د بدعتي حال ورته څرګند کړي او نصیحت ورته وکړي پدې شرط چې مقصد یی نصیحت کول وی .[181]

امام ابن القیم رحمت الله علیه دروا نصیحت او ناروا غیبت د توپیر په بیانولو کې ویلي دي :

د نصیحت او غیبت ترمنځ توپیر :

په نصیحت کې مطلب د بدعتي،فتنه اچوونکي،چلباز،او فاسد څخه ویرول دي تردې چې ویي ویل : کله چې غیبت د الله جل جلاله،رسو ل الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو بندګانو ته د نصیحت په ډول وي

نو دالله جل جلاله لپاره عبادت او د حسناتو له جملې څخه دي .[182]

پدې کې ان شاء الله کوم تعارض نشته چې موږ مخکې ذکر کړه چې امیرته د مسلمانانو په کتار کې د فاسد او فتنه باز سړي دشر اچولو خبر رسولو جواز یاد کړ ځکه چې دا د امیرانو او عامو مسلمانانو د نصیحت څخه ګڼل کیږي او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم ددې حدیث شریف ترمنځ چې فرمایي : ماته کوم یو زما دصحابه ؤ څخه کومه خبره نه رسوي ، نو داخوښوم چې تاسو ته درووځم او زما سینه پاکه وي ، اوکوم احادیث چې دمسلمان دغیبت حراموالئ بیانوي،همدغه احادیث دي چې د مسلمان د غیبت حراموالی ثابتوي،همدغه اصل او اساس دی،مګرد ضرورت په اندازه اود دخالص نصیحت په توګه د غیبت کولو جواز مستثنی دی ، لکه څنګه چې وړاندې تیر شول او امام نووي رحمت الله علیه په ریاض الصالحین کې امیرانوته دخلکو دخبرولواو حالاتو دور وړلو څخه منع شوی وه که چیرې ورته اړتیا نه وي لکه د فساد او فتنې خپرول او په همدې سره یی باب هم ایښئ دی،اصل همدادی چې باید امیرانوته د خلکوخبرې نقل شي او له دې څخه دضرورت په وخت کې د خبرو وړل مستثنی دي ترڅو د لویې فتنې او فساد مخه ونیول شې او دفساد خپروونکو څیرې بربنډې شي .

-ریاض الصالحین 575 – 578.[181]

- کتاب روح د ابن القیم ص 322 .[182]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اميرته په پټه سره نصيحت کول غوره دي :**

امام بخاري رحمت الله عليه روايت کړی دی لکه څنګه چې وړاندې ذکر هم شول چې اسامه رضی الله عنه ته وويل شول : آيا دغه سړی يعني عثمان رضی الله عنه ته څه نه وايې،اسامه رضی الله عنه وفرمايل : ماداسې خبرې ورته وکړې چې دغه دروازه خلاصول نه غواړم چې لومړی يې زه خلاصه کړم ، پدې سره د عياض بن غنم رحمت الله عليه دا ډول دليل وړاندې کيږي چې:هشام بن حکيم رحمت الله عليه ته يې وويل :آياد پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغه قول د اوريدلی ندی ؟ چې فرمايي : څوک چې غواړي امير يا دکومې رتبې والاته نصيحت وکړي بايد دا نصيحت په ښکاره ورته ونه وايي مګر ترلاس به يې نيسې يو آزاد ځای ته به يې بيايې که چيرې يې نصيحت ومانه نو ښه ترښه کوکه نه ، نو خپل مسوليت او دنده يې سرته ورسوله ، داحديث ابن ابی عاصم رحمت الله عليه پخپل کتاب السنة،باب کيفية نصيحة الرعية للولاة کې روايت کړی دی .

نور دلائل هم شته چې امير ته په ښکاره نصيحت کولو دلالت کوي لکه: هغه ښځه چې عمربن الخطاب رضی الله عنه ته يې د ښځو د مهرونو په اړه مراجعه وکړه او داکيسه علمای کرامو د الله جل جلاله ددې فرمان په تفسير کې چې : وآتيتم احداهن قنطارا .......آيت ۲۰ [183]

ژباړه : - حال داچې ورکړي وي تاسو ، يو د هغوئ ته ډير مال .

دی راوړې ده،امام ابن کثير رحمت الله عليه دغه واقعه قوي کړې ده او شيخ احمد شاکر رحمت الله عليه صحيح بللې ده،پدې اړه زيات دلائل موجوددي او همدارنګه دهغه چاپه هکله چې نصيحت ورته کړل بايد حالت يی په نظرکې ونيول شي تردې چې دانصيحت دلوئ فساد اوعظيمې فتنې مخه لامل نشي،هغه څوک بريالي دي چې الله جل جلاله هدايت ورته کړی دی او سمه لاره يې ورته ښودلې وي.

ترټولوغوره او ښه روايت هغه دی چې امام دارمی رحمت الله عليه پخپل سننو کې راوړی چې يوه ورځ سليمان بن عبدالملک مدينې منورې ته راغی او قصديی مکې مکرمې ته د تګ وه ، څو ورځې په مدينه منوره کې پاتې شو اووېې ويل : آياپه مدينه منوره کې داسې څوک شته چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين څخه يی څوک ليدلي وي ، خلکو ورته وويل : ابو حازم رحمت الله عليه دی ، هغه ته يي څوک وروليږل ،کله چې ورغی ، سليمان ورته وويل : دغه څه وضعيت او لرې والئ دی ؟ ابو حازم رحمت الله عليه ورته په ځواب کې وويل: اې امير المؤمنين !

---

- سورت النساء آيت [183]

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږڅخه د څه بدي ولیده ....... تردې چې سلیمان ورته وویل : موږولې مرګ بد ګڼو ؟ ابو حازم رحمت الله علیه وویل : تاسو دابده وګڼله چې دآبادی څخه خرابی ته لاړشی....... تردې چې سلیمان ورته وویل : زموږ دحالت په اړه څه وایی ؟ ابو حازم رحمت الله علیه وویل : اې امیر المؤمنین ! آیا بیابه مابښې ؟ سلیمان وویل : مګر داخویونصیحت چې ماته یې کوې ، ابوحازم رحمت الله علیه وویل : اې امیرالمؤمنین! ستاپلرونوخلک د تورې په زورسره رعیت او تابع کړل او دغه پاچاهي په زور سره دمسلمانانو د مشورې اودهغوی د رضاڅخه پرته ترلاسه کړې تردې چې زیات خلک یې ترې ووژل،نو په یقیني ډول ددې پاچاهی څخه لاړل ، که چیرې ته پوهیدلې چې دوی څه وویل او څه ورته وویل شول ؟ نو سلیمان د ناستوملګروڅخه یی یوه ورته وویل :اې ابوحازم ! ډیرې بدې خبرې د وکړې،ابو حازم وویل : دروغ د وویل په یقنیي ډول الله جل جلاله د علمای کرامو څخه داوعده اخیستې ده چې خامخابه خلکوته حق بیانوي او هغه به نه پټوي،سلیمان وویل : نوموږبه څنګه خپل ځانونه اصلاح کړو؟ هغه وویل : امتیازات به پریږدی اودتېولوسره به د ځوانمردی او یوشانته والي سلوک کوې ، سلیمان وویل : څنګه به وتوانیږوچې دغه کارته لاروموماووړته وسیږو؟ ابوحازم رحمت الله علیه وویل : حلال به اخلې او خپل مستحق ته به یې ورکوې .......... تردې چې نصیحت یې پای ته ورساوه ، دغه نصیحت په بشپړه توګه په تفسیر قرطبي کې ذکر شوی دی . [184]

**دظالموپاچایانوپه وړاندې پاڅون :**

په وړاندیني فصل کې د مسلمان عادل امیردندې اوصفات یادشوي کوم چې په ولس باندې یې اطاعت په ظلم باندې یی صبرکول،هغه ته دعاکول ، جهاد ته ورسره تلل،احترام یی کول ........... اوداسې نورکارونه چې پرې لازم شوي دي.... ترآخرپورې.

پدې فصل کې به ان شاء الله هغه حالات ذکرکړوچې دغه امیردعدالت دحد څخه وځي اګرکه دغه وتل د فسق له سببه وي چې عدالت ته زیان رسوي اویاهم دکفرله سببه وي چې اصل عدالت ته زیان رسوي .

علماء کرام د هغه امیر دحکم په هکله چې فسق ترې وتلئ وي او عدالت ته یي زیان رسوي اختلاف لري خو پدې سره داسلام دحدودوڅخه نه وځي .

---

[184] - تفسیر قرطبي ج 1 ص 347- 349 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- يوې ډلې دهغه اميرپه ضد چې په مطلق ډول فاسق ياظالم وي ، د پاڅون کولوجوازورکړي ترڅوپه هغه دلائلوعمل وشي چې دامربالمعروف اونهی عن المنکرواجبيدل بيانوي اودظلم په مقابل کې چُپوالی حرام بولي، او هغه مبارک احاديث چې د الله جل جلاله داطاعت څخه پرته دبل چا دخبرې اوريدل او دهغه اطاعت په کې نشته چې په څرګند ډول بيان شوی دی او ځينې احاديث مخکې هم يادشول او دلته به ان شاء الله هغه واضح دلائل دعلماؤ دمفصلودلائلوسره يوځای ذکر کړوچې دغه ډلې دامام د پاڅون په جوازترې اخستې .

2- بله ډله بيا دظالم او فاسق امير په ضد پاڅون په مطلق ډول حرام بولي ځکه چې بی ګناه وينې په کې توئيږي او فتنه راوړاليږي، اوله دې سببه چې دظالمواو فاسقواميرانودظلم په مقابل کې د صبر او زغم په اړه راغلي دي ، اوزياتره دلائل مخکې تير شوي ځکه زياتره هغه خلک چې ددې ډول ظالمواو فاسقو اميرانو په ضد يې پاڅون کړی پدې ندي توانيدلي چې موجوده بدی او منکرتغيرکړي اوحالات ښه لوري ته پرمخ بوځي ، دهمدې پاڅون په سبب ظالمواميرانودخلکوکورونه،مالونه او عزت يې پامال کړی ، چوراوچپاول يې ځانونوته روابللی دی .

3- دريمې ډلې يو وسط او ميانه نظر وړاندې کړی چې دابه ان شاء الله د شرعي دلائلوراټولوونکی او صحيح نظرڅښتن وي او هغه داچې : دظالمو اميرانوپه ضد پاڅون دعلماء کرامو،دخلکود مشرانو،دحکمت،پوهې او تجربې دڅښتنانوترڅيړنې لاندې نيول کيږي،که چيرې دهغو اميرانوپه ضدچې ظلم يې انتهاء ته رسيدلی وي اودپاڅون په صورت کې کومه فتنه اولوی فسادنه رامنځته کيږي تردې چې دظلم اوتجاوزپه مقابل کې صبروشي نو په مسلمانانوددغه ظلم دفع کول لازم دي او په ضدېې پاڅون واجبيږي،اوکه چيرې دپاڅون په درشل کې ددوی په آنداوپه زيات ګومان سره دهغه په ظلم سره د صبر کولو په عوض لوی فساد او عظيمه فتنه منځته راځي نوپدې صورت کې پاڅون جوازنلري داځکه چې دپاڅون په نتيجه کې داسې يوه فتنه رامنځته کيږي چې زيان يې عاموخلکوته رسيږي او داسې وضع منځته راځي چې دغه ظالم اميردټولوهغوپاڅون کوونکواوڅوک چې ورسره ذهناموافق وي،اوياپدې سره راضي وي اګرکه عملا په پاڅون کې ورسره شريک نه وي غج او انتقام اخلي اوداددوولويوبدیواو شرپه صبرسرهدفع کول دي ځکه چې ددې ظالم په مقابل کې دصبرتکليف نسبتاًلږوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنصوصودجَمعې اوراتولولوسره په هردليل باندې پخپل مناسب ځای کې عمل کيدئ شي،نوپه هغو دلائلوسره عمل کيدئ شي داميردظلم په مقابل کې صبراوزغم لازموي نو په هغه نصوصوکې چې دزغم په کولوسره امرکوي ، اوددې په مقابل کې که پاڅون کوونکي په غالب گومان سره د منکرپه تغيراودوضعې په ښه والي توانيږي نوبياپه همدې نصوصواو دلائلوعمل کړل کيږي.
پدې تفصيل او بيان سره چې پدې مسأله کې خنډله منځه ځي او دلائل سره غونډيږي پدې سره هيچاته روا ندي چې ووايي په مطلق ډول صبر کول اوياهم انقلاب جوړول دحل لارده .
ځکه چې دهغه چاچې دظالمواميرانودظلم اوتيري په مقابل کې په مطلق ډول د صبرکولوپه نظردي پدې سره هغه ډيردلائل چې د ظالموولسواکانوپه مقابل کې دجهادامرکوي له منځه ځي،اوهمدارنگه څوک چې په مطلق ډول دهغوئ په مقابل کې پاڅون کول واجب بولي نو هغه دلائل له منځه ځي چې دظالمواميرانودظلم او تيري په مقابل کې د صبراو زغم امرکوي اګر که دغه ظالمواميرانو په شاووهل او مال يې ترې واخست بيابه هم انقلاب ته نه وردانگي کوي،ځينې دغه دلائل مو وړاندي ذکرکړيدي ، تفصيل ددواړونظرونوترمنځ وسط او برابر نظردی ... الله جل جلاله پرې ډيرښه پوهيږي .ځينوعلماء کرامودظالموپاچايانوپه مقابل کې پاڅون په مطلق ډول د منع کولوپه اړه اجماع نقل کړيده خودامنع پدې سره اخستل کيږي چې پدې پاڅون سره به مسلمانان په لويه فتنه او شرکې ولويږي اودجگړواو بې ځايه وينې تويدوڅخه به بل څه سوغات او تحفه رانه وړي سره ددې چې ځينوعلماء کرامودغه اجماع ماته کړی هم ده .

**دظالموپاچانوپه مقابل کې دپاڅون په اړه تفصيل :**

لومړی نظر: ځينې علماء کرامو ويلي چې د توان په وخت کې د ظالمو پاچايانو په مقابل کې په مطلق ډول پاڅون کول روادي ، ځکه چې په ډيروشرعي دلائلو کې داثابت شوی چې د منکرتغيراو له منځه وړل واجب او دظالمواو فاسقوپه مقابل کې چپوالی اوسکوت حرام دی او الله جل جلاله هرهغه چاته سزاورکړې منکرته حاضرشي او هغه بد ونه بولي اګر که دا شخص د منکرکوونکی وي ، ياپدې عمل سره راضي او خوښ وي له دغه دلائلوڅخه دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله فرمايلي دي : وَاتَّقُواْ فِتْنَةً لاَّ تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿25﴾ [185]

ژباړه : - او ځان وساتئ دهغې فتنې نه ، چې نه رسيږي ، هغه کسانو ته ، چې ظلم يې کړئ وي ، ستاسو نه ، خاص ، او پوه شئ ، چې بيشکه الله ، سخت عذاب ورکوونکئ دی .

دغه آيت شريف پدې سره دليل دی چې دګناه او ظلم په سبب سزاورکول يواځې په فاعل پورې نه خلاصه کيږي بلکې هغه شخص ته هم سزا ورکيږي چې چُپ او غلی وي او ددې سره سره بياهم منکراو بدي له منځه نه وړي .

امام قرطبي رحمت الله عليه ددې مبارک آيت په تفسير کې ويلي دي چې زموږ علماء کراموويلي : کله چې فتنه عامه شي نو ټول هلاک کيږي اوداکار دګناهونودځرګنديدودمنکرخپريدواودهغه دنه تغيريدوله امله رامنځته کيږي ...تردې چې وېې ويل : کله چې خلک منکر او بدي په ځرګندډول ترسره کوي نوپه هرهغه چاچې دغه منکروينې فرض اولازم دي چې تغير ورکړی نودغه شخص ترې غلی‌شي ټول ګناه کار دي ځکه چې دغه کار پخپله کړنه او خپله خوښه کوي يقيناً الله جل جلاله پخپل حکم او حکمت سره د منکرکړونکی اوپه هغه سره راضي شخص يوشانته ګرځولی او په عذاب ورکولوکې يې سره سم کړي دي .[186]

امام ابن حجررحمت الله عليه د ابن عمر رضی الله عنهمادحديث په شرحه کې چې په مرفوع ډول يې روايت کړی دی وايي : کله چې الله جل جلاله په کوم قوم عذاب راولي نوټولوته رسيږي بيادقيامت په ورځ هرڅوک دخپل عمل او کړنې سره سم ژوندکيږي، داحديث شريف امام بخاری رحمت الله عليه امام مسلم رحمت الله عليه امام احمد رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ، امام ابويعلی رحمت الله عليه ، اوامام خطيب رحمت الله عليه په تاريخ بغدادکې روايت کړی دی .

حافظ رحمت الله عليه وايي : له دې څخه دکافرانو اوظالمانو څخه تښتيدل رواکيږي ځکه چې له دوی سره اوسيدل خپل ځان په هلاکت او تباهی کې اچول دي ، پداسې حال کې چې له کفاروسره مرسته ونکړي اوددوی په کړنوسره راضي هم نه وي که له کفاروسره مرسته وکړي او پرې راضي شي نو دغه خلک هم له دې ډلې څخه شميرل کيږي

---

- سورت انفال آيت 25 .[185]

- احکام القران ابن العربی ج 2 ص 847 ، تفسير قرطبي ج 7 ص 374 .[186]

(c) ketabton.com: The Digital Library

،[187]

دابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې ویلې دي : الله جل جلاله مؤمنانوته امرکړی چې پخپلومنځونوکې په منکراوبدی خوښ نشي اوهغه ونه مني که داکاریی وکړنوالله جل جلاله به په دوی عام عذاب راولي اوهمدرنګه په یقینې ډول پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : کله چې خلکوظالم ولیداودهغه لاس یې دظلم څخه بند نکړنېردې وه چې الله جل جلاله دخپل لوري څخه په ټولوعذاب راولي ،

داحدیث شریف امام ابوداود ، امام ترمذی رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه د ابوبکره رضی الله عنه څخه روایت کړی او سندیی صحیح دی .

دهغوبنی اسرائیلوپه کیسه کې چې دشنبې دورځې د کبانودښکارڅخه منع کړل شوي وه راغلي دي: چې الله جل جلاله هغه ډله چې ګناهکاران یې د خپلې سرکشی څخه منع کول وژغورله او نوروباندې یې خپل عذاب راوست الله جل جلاله فرمایلي دي : وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لاَ يَسْبِتُونَ لاَ تَأْتِيهِمْ كَذَلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿163﴾ وَإِذَ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا اللّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُواْ مَعْذِرَةً إِلَى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿164﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ ﴿165﴾ فَلَمَّا عَتَوْاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿166﴾ [188]

ژباړه : - او تپوس وکړه دهغوئ نه ، د حال دکلي ، هغه کلي ، چې وو ، په غاړه ، د سمندر ، کله چې دحد نه واوړیدل هغوئ ، په ورځ دشنبې ، کله چې ، راتلل به هغوئ ته ، کبان دهغوئ ، په ورځ د شنبې دهغوئ ، د اوبو سرته ، او په هغه ورځ کې ، چې داخل به نه وو هغوئ په شنبې کې ، نو نه به راتلل هغوئ ته ، آزمایو مونږ هغوئ ، په سبب دهغې ، چې وو هغوئ ، چې نافرماني به یې کوله / او هرکله چې ، وویل یوې ډلې ، دهغوئ نه ، ولې ، نصیحت کوئ تاسو ، هغه قوم ته ، چې الله ، هلاک کوونکئ دهغوئ دی یا عذابوونکئ دهغوی دی ، په عذاب ،سخت سره ، او ویل هغوی ، دپاره دعذر

- فتح الباری ج 13 ص 61.[187]
- سورت الاعراف د 163- 166 آیاتونه . [188]

(c) ketabton.com: The Digital Library

رب ستاسو ته وښائی چې هغوئ ، ویریږي / پس کله چې ، هیرکړو هغوئ ، هغه ، چې نصیحت شوی هغوئ ته ، په هغې سره ، نو خلاص کړل موږه ، هغه کسان ، چې منع کول خلک ، دبدئ نه ، او ونیول موږ هغه کسان ، چې ظلم یې کړی وه ، په عذاب ، سخت سره ، په سبب دهغې ، چې وو هغوئ ، چې نافرمانې به یې کوله .

پدې مبارک آیت کې ذکرشوچې الله جل جلاله هغه خلک هلاک کړل چې دده دحدودواونواهیوڅخه یې تجاوزوکړیېزوګان او خنزیران یې کړل ، اوهغه ډله چې دغه ظالمان یې دبدی او ګناه څخه منع کول نجات ورکړاوویې ژغورل اوقرآن کریم ددریمې ډلې دانجام څخه چُپ پاتې شوی یاددوی دحقارت اوذلت له سببه لکه څنګه چې علماءکراموبوې ډلې هم داذکرکړی چې دغه خلک دګناهکارانوسره یوځای هلاک شول .[189]

کوم چې دغه معنی تائیدوي دنعمان بن بشیر رضی الله عنه حدیث شریف دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : مثال دهغه چاچې د الله جل جلاله دحدودوپلې کوونکي وي او دهغه چاچې د الله جل جلاله د حدودو څخه مخ ګرځوونکي وي دهغوخلکوپه څیردي چې یوه کیښتۍترلاسه کړي ځینوته یې دپچې (قرعې) په واسطه پورتنۍبرخه او ځینې نوروته یې بیاښکتنۍ برخه ورسیږي نوهغه خلک چې د کیښتۍ په ښکته برخه کې وي کله چې اوبه راوړي نوپه پاسنیوخلکوتیریږي اوبیااوبه را اخلي نوداخلک وایي : که چیرې موږه خپله ښکتنۍ برخه کې سوری کړی وای اوبه به مواخستې اوپاسنیوخلکوته به موکوم تکلیف نه رساوه که چیرې داخلک پریږدي ترڅوخپل عزم ترسره کړي نوټول به هلاک شي اوکه هغوی منع کړی اولاسونه یې ونیسي پخپله به هم نجات ومومي او ټول به دهلاکت څخه وژغورل شي .

داحدیث شریف امام بخاري رحمت الله علیه،امام ترمذي رحمت الله علیه، امام احمد رحمت الله علیه ،امام بیهقي رحمت الله علیه اوامام بزاررحمت الله علیه روایت کړی دی .

دحذیفه بن الیمان رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : زما دپه هغه ذات سوګندوي چې زمانفس (روح) یې دهغه په بلاکیف لاس کې ده حتماًبه په معروف

---

[189] - تفسیر قرطبي ج 7 ص 290-292، تفسیر ابن کثیر ج 2 ص 408- 410 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونیکۍسره امرکوي،اوخامخابه له بدۍڅخه منع کوي که داسې ونکړي نونږدې ده چې الله جل جلاله به دخپل لوري څخه پرتاسې عذاب راولیږي بیابه خامخادعاکوۍاوهغه به درڅخه نه قبلیږي .[190]

داحدیث شریف امام ترمذي رحمت الله علیه،امام ابوداؤد رحمت الله علیه ، امام ابن ماجه رحمت الله علیه ،امام بیهقی رحمت الله علیه ، امام ابن ابی شیبه رحمت الله علیه،امام ابویعلی رحمت الله علیه ، امام طبراني رحمت الله علیه اوامام بزاررحمت الله علیه روایت کړی دی ، اوامام ترمذي رحمت الله علیه ویلي دي : داحدیث حسن دی .

په یقیني ډول الله جل جلاله امربالمعروف او نهی عن المنکر دمسلمانانو دخاصو او ځانګړو صفاتو او دا یې هغه لوی او عظیم صفت دی چې پدې سره دمنافقانو څخه جلاکیږي، څکه چې الله جل جلاله دمؤمنانو په وصف او څرنګوالي کې فرمایلي دي : وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ....﴿71﴾ [191]

ژباړه : - او مومنان سړي ، او مومنانې ښځې ، ځینې ددوئ ، دوستان دي دځینو ، حکم کوي دوئ ، په نیکۍ سره ، او منع کوي ، د بدۍ نه .

اوداللّه جل جلاله دمنافقانوپه څرنګوالي اووصف کې فرمایلي دي : الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ..﴿67﴾ [192]

ژباړه : - منافقان سړي ، او منافقانې ښځې ، ځینې د دوئ ، د ځینو نه دي ، حکم کوي دوئ ، په بدۍ باندې ، او منع کوي ، د نیکۍ نه ، اومنع ساتي دوئ ، لاسونه خپل .

اوبیشکه الله جل جلاله بیان کړی چې د بني اسرائیلو دځینو زړونه یې په ځینو نورو باندې پدې سبب ووهل چې دوی امربالمعروف او نهی عن المنکریې پریښودل په یقیني ډول الله جل جلاله فرمایلي دي : لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴿78﴾ كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿79﴾ [193]

ژباړه :- لعنت وویلئ شو ، په هغه کسانو ، چې د کفر لار یې خپله کړه ، د بنی اسرائیلو نه ، په ژ به د داؤد ، او دعیسي زوی د مریم ، دا ، پدې سبب وشو ، چې نافرمانې یې کړې وه او وه هغوئ چې زیاتی

---

- تفسیرابن کثیر ج 1 ص 593 . [190]
سورت توبه آیت 71 . [191]
- سورت توبه آیت 67 . [192]
- سورت مائده آیت 78،79. [193]

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې شروع کړی وو / وه هغوئ چې نه به يې منع کول يو بل ، د هغه بد کار نه ، چې کاوه به هغوئ هغه ډېر بد وه ، هغه کار ، چې کاوه به هغوئ .

پيغمبر صلی الله عليه وسلم دامربالمعروف او نهی عن المنکر پرېښودل دتوان په وخت کې دآخرت څخه وداندې په دنياکې دعذاب راتللو سبب ګرځولی دی ، که چېرې کوم انسان بل څوک د بدی اومنکر کولو په حالت کې وليدل اوپرته له کوم عذرڅخه يې دهغه منکرمخنيوی ونکړدمنکر دکوونکي سره به سم سيده عذاب ورته رسيږي .

دعدي بن عميررضی الله عنه څخه روايت دی وايي ماد پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې : الله جل جلاله عام وګړي دخاصو خلکوپه سبب نه په غذابوي تردې چې پخپلو منځونو کې منکرپه څرګنده وګوری اودوی ددې منکر دتغير او له منځه وړلو توان هم لري ،ولې انکارېې نه کوي او له منځه يې نه وړي کله چې دا کار وکړي نو الله جل جلاله عام او خاص ټول په عذابوي .

داحديث شريف امام احمد پخپل مسند کې روايت کړی دی ، حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ويلي دي : سند يې حسن دی .

داحديث دامام ابوداؤدرحمت الله عليه سره دعدي رضی الله عنه دورورعرس بن عميره رضی الله عنه له احاديثوڅخه دی ، اوددې لپاره دامام احمد اونوروسره دحذيفه ،جريراونوروصحابه کرامورضی الله عنهم اجمعين څخه شواهد موجوددي، امام هيثمي رحمت الله عليه په مجمع الزوائد کې ويلي دي : داحديث امام احمد رحمت الله عليه له دوه لارو( سندونو) څخه او امام طبراني رحمت الله عليه هم روايت کړی دی پدې کې يوراوي نوم په ډاګه شوی نه دی ( مجهول دی ) او نورروات يې ثقه دي .

دابوسعيدخدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:چاچې له ستاسې څخه کوم منکراوبدڅيزوليدنوحتماًدهغه په لاس منع کړي اوکه په لاس سره يې منع کولای‌نشي بيادپه ژبه سره منع کړي اوکه په ژبه سره هم نشي کولای بيايې دپه زړه سره بد وګڼي او دادزړه مرتبه دايمان ډېره شکته مرتبه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داحديث شريف امام مسلم رحمت الله عليه دابوسعيد خدری رضی الله عنه څخه روايت کړی دی او همدارنګه امام ابوداؤد رحمت الله عليه ، امام ترمذی رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه ، امام نسائی رحمت الله عليه او امام ابن ماجه رحمت الله عليه روايت کړی دی.

دحضرت أم سلمة رضی الله عنها( دپيغمبرصلی الله عليه وسلم ميرمن) څخه او هغې دپيغبمرصلی الله عليه څخه روايت کړی چې فرمايلي يې دي : پرتاسې به اميران او مشران مقرريږي چې ځينې اعمال او کړه يې ښه وي او ځينې نوربه بدوي چاچې ددوی دغه بد اعمال بد وګڼل دهغوی‌د ګناه اوبدی څخه په امان شو،اوچاچې وکولای شو ددوی‌دغه بداعمال په ژبه بد وبولي په يقيني ډول ددوئ سره د ګڼون دګناه څخه سالم او په امن پاتې شو،مګرهغه څوک چې په زړه سره ددوئ په بدواعمالوراضي شول اوپدې کې يې ددوی پيروي وکړه نوهمدغه په ګناه کې ورسره شريک شو، صحابه کرامو رضی الله عنهم وويل : اې دالله رسوله !آياله دوئ سره جګړه ونه کړو؟ پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل : نه ترهغې جګړه ورسره مه کوئ ترڅوېې چې لمونځ قايم کاوه يعني : چاچې ددوئ دغه بد اعمال په زړه بد وګڼل اودهغوئ انکاريې په زړه سره وکړ.

داحديث شريف امام مسلم رحمت الله عليه ،امام ابوداؤد رحمت الله عليه ، امام ترمذی رحمت الله عليه اونورو روايت کړی دی.

اوهمدارنګه دابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : زردی چې داسې ولس مشران راشي چې ځينې کړه وړه به يې خوښوئ او ځينې نوربه يې بد ګڼئ چاچې دهغوی دمتابعت پريښودوژغورل شو، اوچاچې ځان ترې پرډه کړدګناه څخه يې په امان پاتې شو،او څوک چې ورسره ګډ شوتباه شو . داحديث شريف امام طبراني رحمت الله عليه ، او امام ابن ابی شيبه ر حمت الله عليه په صحيح سند سره روايت کړئ دی.

دغه دليلونه اوکوم چې ددې په معنی سره راغلي دي هغوخلکودليل پرې نيولئ دی چې په مطلق ډول دظالم امير په ضدپاڅون واجب بولي .

له همدې امله ابومحمدابن حزم رحمت الله عليه ويلي دي : ټول اسلامي امت په اتفاق سره پرته له هيڅ يومخالف نه دامربالمعروف او نهی عن المنكرعمل واجب بولي ځکه چې الله جل جلاله فرمايلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي : وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿104﴾ [194]

ژباړه :-او ضرور د وي ، په تاسو کې ، يوه ډله ، چې رابولي ( خلک ) ، نيکۍ ته ، او حکم کوي ، د نيکۍ ، او منع کول کوي ، د بدۍ نه ، اود غصې خلک ، خاص هغوۍ ، خلاصۍ موندونکي دي .

بياددې عظيم مسؤليت او دندې دکيفيت په اړه سره مختلف شول چې :

ځينې أهل سنت دپخوانيوصحابه کرامورضی الله عنهم اوله هغوۍ څخه راوروسته لکه : امام احمد ابن حنبل رحمت الله عليه اوداسې نورهم پدې نظر شول ، اوداد حضرت سعد بن أبی وقاص رضی الله عنه ، أسامة بن زيد رضی الله عنهما ، ابن عمر رضی الله عنهما، محمد بن مسلمه رضی الله عنه او نورپدې نظر دي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر څخه هدف ا وغرض يواځې په زړه سره دۍ او که وتوانيږي په ژبه سره يې هم کولای شي اوپه لاس سره د تورې دايستلواودوسلې دراخستلوڅخه پرته اصلاًکيدۍ نشي ، همدادأبوبکرابن کيسان الاصم نظردۍ اوپدې سره ټول روافض هم دي دوۍ وايي : اګرکه ټول هم ووژل شي ، مګر دوۍ داکارپه هغه وخت کې کوي چې «ناطق» راښکاره شي نوکله چې ناطق څرګندشي بيا دتورو ويستل واجبيږي اوکه نه نوبيا دکار نشي کيدی .

مګر اهل سنت پدې کې عثمان رضی الله عنه خپل پيشوا نيسي اوهغه صحابه کرام چې ذکر موکړل اوله دوۍ څخه هغه څوک چې پدې حالت ناسته ښه بولي مګر داهل سنتو څخه ددې نظرټول ښتنان دهغه اميرپه وړاندې دانظر لري عادل نه وي که چيرې امير عادل وي اوکوم فاسق يې په مقابل کې پاڅون وکړي نوبياامام په ملتياپرته له کوم اختلاف څخه دتوروايستل واجبيږي.

دعبد الله بن عمررضی الله عنهما څخه يې دارروايت کړۍ چې دچادپوښتنې په ځواب کې يې وويل :زه نه پوهيږم چې باغي ډله کومه ده که پوهيدۍ نودهغې دوژلولپاره به نه ته او نه بل څوک راڅخه وړاندې شوي وای له همدې څخه پرته بل څه په دې صحابه کرامودبل څه ګومان نشي کيدی.

دأهل سنتو ځينې ډلې ، ټول معتزله ، ټول خوارج اوزيديه پدې نظر دي چې دامربالمعروف او نهی عن المنکردپلې کيدولپاره دتورو ويستل واجب دي، په هغه صورت کې چې پرته له دې څخه په بل څه نه ترسره کيږي ، دوی ويلي دي : که چيرې دحق ښتنان يوه داسې ډله وي چې خپله دفاع کولای شي اودبرياليتوب څخه ناهيلي نه وي نوپدوی سره دغه کارفرضيږي، اوکه شميرپې لږوي چې ددوی

---

[194] ـ سورت آل عمران آيت 104 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکموالي اوناتوانی له سببه يې دبرياليتوب هيله نه کيده نوبيادصحابه کرامو : ام المؤمنين عائشی رضی الله عنها ، طلحه رضی الله عنه ، زبير رضی الله عنه او ټول هغه صحابه کرام چې له دوی سره وه اوهمدارنګه د معاويه رضی الله عنه، عمرو رضی الله عنه ، نعمان بن بشير رضی الله عنه اونورهغه صحابه کرام چې له دوی سره وه هم پدی نظردي چې بايدپدې حالت کې دمنکر تغيراوله منځه وړل يې په لاس سره ترسره نشي ، همدا دعلی رضی الله عنه او هغو صحابه کراموچې ورسره وه همدانظردی ، اوهمدارنګه دعبد الله بن زبير رضی الله عنه ، محمد ، حسن بن علی رضی الله عنه اونوروټولومهاجرينواو انصاروصحابه کراموچې په يوم الحرة کې موجودوه همدغه نظر لري .

اوداقول دهغوخلکوهم دئ چې د فاسق حجاج بن يوسف په ضد راپاڅيدلي وه او چاچې دپاڅون کوونکومرسته کړې وه ، له صحابه کراموڅخه : أنس بن مالک رضی الله عنه اوټول هغه قدرمن اشخاص چې يادموکړل اوهغه عزتمن تابعين لکه : عبدالرحمن بن أبی ليلی رحمت الله عليه، سعيدبن جبيررحمت الله عليه ، ابن البحتری الطائی رحمت الله عليه ،عطاء السلمی الازدي ، حسن بصري رحمت الله عليه ، مالک بن ديناررحمت الله عليه ، مسلم بن بشاررحمت الله عليه ، ابوالحوراءرحمت الله عليه ، شعبی رحمت الله عليه ، عبدالله بن غالب رحمت الله عليه ، عقبه بن عبد الغافررحمت الله عليه ، عقبه بن صهبان رحمت الله عليه ، ماهان ، مطرف بن مغيره بن شعبه رحمت الله عليه ، ابوالمعد رحمت الله عليه ، حنظله بن عبد الله رحمت الله عليه ، ابوالسح الهنائی رحمت الله عليه ، طلق بن حبيب رحمت الله عليه ، مطرف بن عبد الله بن سخيررحمت الله عليه ، نصربن انس رحمت الله عليه ، عطاء بن سائب رحمت الله عليه ، ابراهيم بن يزيد التيمی رحمت الله عليه ، ابوالحوساء رحمت الله عليه ، اوجبله بن زحر رحمت الله عليه اوداسې نور.

له دوئ څخه وروسته داتباع التابعينواونوروقدرمنوڅخه لکه : عبدالله بن عبد العزيزبن عبدالله بن عمررحمت الله عليه ، عبدالله بن عمر رحمت الله عليه ، محمدبن عجلان رحمت الله عليه اوهغه کسان چې دمحمد بن عبدالله بن حسن رحمت الله عليه ، هاشم بن بشر رحمت الله ، اومطررحمت الله عليه په ملتياسره يې پاڅون کړی وه اوهغه خلک چې دابراهيم بن عبدالله سره ويستل شوي وه ، اوداهغه نظر دی چې دفقهاؤ اقوال هم پرې دلالت کوي لکه : امام ابوحنيفه رحمت الله عليه ، حسن بن حيی رحمت الله عليه ، شريک رحمت الله عليه ، امام مالک رحمت الله عليه ، امام شافعی رحمت الله عليه ، داؤد رحمت الله عليه او ملګري يې ، دغه ټول اشخاص چې يادموکړل که پخواني دي اوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني يايې پخپله فتوی کې ددې نظرويونکي دي اوياهم په عملي ډول دتورې په ويستلوسره يې دمنکردليدلوپه صورت کې دهغه دتغيرپه منظورورداتګلي دي

امام ابومحمد رحمت الله عليه ويلې دي : يادې شوې ډلې لومړی په احاديثو دليل نيولئ دی چې له هغه څخه : صحابه کرامو وويل : اې دالله جل جلاله رسوله ! آيا جګړه ورسره وکړو ، پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : نه ، ترهغه چې لمونځونه يې قائمول .

په ځينو احاديثوکې راغلي دي چې : ترهغه جګړه ورسره مه کوئ چې ترڅومو پخپل منځ کې ډاګيز کفر ترې ليدلی نه وي چې په هغه کې د الله جل جلاله له پلوه دليل او حجت موجود نه وي .

او په ځينو نورو الفاظو کې بيا راغلي دي : چې په صبر کولو سره يې توصيه کوئ او واجب ئې بولئ ، او وايي اګر که يې يو له موږ څخه په شا وواهه او مال ئې ترې واخست .

او په ځينو رواياتو کې دي : که ويريدی چې د تورې برښنا د بيدار او ويښ نکړي ، نو په مخ د درخت توټه واچوه او ووايه زه غواړم چې زما او خپله ګناه د دواړه ترغاړه شي ( پرتابارشي ) او ددوزخيانو څخه شي .

په ځينو رواياتو کې دي : د الله جل جلاله وژل شوی بنده شه او دالله جل جلاله قاتل بنده مه کيږه .

دغه حديث شريف امام طبراني رحمت الله عليه دشهر بن حوشب او هغه له جندب بن سفيان څخه روايت کړئ دئ او دحديث شريف په آخر کې راغلي دي : د الله جل جلاله مقتول بنده شه .

او دخباب رضی الله عنه په حديث کې همداسې ذکر شوي او په کې زياته شوې چې : د الله جل جلاله قاتل بنده مه کيږه .

او همدارنګه امام احمد رحمت الله عليه ، امام حاکم رحمت الله عليه ، او امام طبراني رحمت الله عليه دحماد بن سلمه رحمت الله عليه او هغه له علی بن زيد او هغه له ابو عثمان څخه او هغه له خالد بن عرفطه څخه پدې لفظ روايت کړئ چې : زردی چې ما څخه وروسته به فتنې پيښې او اختلاف به منځته راشي که دوکولای شوای چې د الله جل جلاله مقتول بنده شي نه قاتل ، نو داکار ترسره کړه . په سند کې علی بن زيد بن جدعان ضعيف دی، مګر ضعف يې جبيره شوی او د اعتماد وړ ګرځيدلئ دی ، دحذيفه رضی الله عنه د روايت په هکله حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ويلې دي : دحذيفه رضی الله عنه حديث شريف داسې دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د فتنو په هکله فرمايلي دي : د الله جل جلاله مقتول بنده شه او دالله جل جلاله قاتل بنده مه کيږه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه حديث اصل دحذيفه رضى الله عنه څخه نشته ، اګر که امام الحرمين رحمت الله عليه په نهاية کتاب کې صحيح بللئ دئ ، مګر حافظ ابن صلاح رحمت الله عليه تعقيب کړئ او ويلي يې دي : په معتمدو کتابونو کې مې و نه موند ، بدې فن کې دامام الحرمين قول د اعتبار وړ ندئ .

په ځينې آثارو کې راغلي دي : دآدم عليه السلام د غوره زامنو څخه شه يعني قابيل او هابيل .

دغه حديث شريف امام احمد ر حمت الله عليه او امام ترمذی رحمت الله عليه د سعد بن وقاص رضی الله عنه څخه روايت دی چې دعثمان رضی الله عنه د فتنې په مهال يې ويلي وه : پدې ګواهي ورکوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : په يقيني ډول چې وروسته به داسې حالت راشي چې ناست شخص به په هغه کې د ولاړ شخص څخه غوره او بهتر وي .

پدې حديث کې دي چې : که ماته کورته را ننوځي او خپل لاس راته زما د وژنې لپاره را اوږد کړي ، ويې ويل : دآدم عليه السلام د ځوی په څير شه ، امام احمد رحمت الله عليه د ابن عمر رضی الله عنهما د حديث شريف څخه پدې لفظ روايت کړی چې : ستاسو څخه د کوم يو له دې کړنې څخه نه منع کوي چې څوک يې د مرګ لپاره ورته راشي او د آدم عليه السلام د ځوی په څير عمل وکړي قاتل به په اورکې وي ، او مقتول به په جنت کې وي .

امام احمد رحمت الله عليه ، امام ابوداؤد رحمت الله عليه ، امام ترمذي رحمت الله عليه ، امام ابن ماجه رحمت الله عليه او امام ابن حبان رحمت الله عليه د ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د فتنې په اړه فرمايلي دي : د فتنې په مهال خپلې ليندې او غشي مات کړئ او خپلې تورې په ډبرو ووهئ که چيرې ستاسې د کوم يو کورته څوک ورننوتل نو دآدم عليه السلام د غوره ځوئ عمل او کړنه ترسره کړئ ، داحديث شريف امام قشيري رحمت الله عليه صحيح بللئ دئ .[195]

اود الله جل جلاله پدې فرمان سره يې دليل نيولی دی چې : وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِن أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿27﴾ [196]

---

[195] - التلخيص الحبير ج 4 ص 84 .
[196] - سورت المائدة آيت 27 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : - او ولوله ، په دوئ باندې قصه ، د دواړو زامنو، د آدم علیه السلام ، په حقه سره کله چې وکړه دواړو ، قرباني ، نو قبوله کړی شوه د یو د دې دواړو نه ، او قبوله نکړی شوه د، دبل نه ، او ویل هغه ( قابیل) ، چې خامخا به زه قتل کړم تا او ویل ( هابیل ) ، چې بیشکه ، قبلوي الله ، د پرهیز ګارانو نه .

امام ابو محمد رحمت الله علیه ویلي دي : پدې ټولو دلائلو او څیز نه کې چې په آخره اندازه مو څیړلي دي کوم حجت او دلیل نلري ، کوم مو چې یو یو حدیث دهغه د سند او معنی سره یو ځای ذکر کړي او دلته هم ان شاء الله یوه بشپړه فقره ذکر کوو او د الله جل جلاله څخه مرسته او کومک غواړو . [197]

دامیر لخوا د مال اخستلو او دشا وهلو په وخت کې صبر کولو امر په یقیني ډول په هغه صورت کې منځته راځي چې امام دغه واکې په حقه سره ترلاسه کړي وي ، پدې حالت کې په یقیني ډول په موږ باندې د امیر په مقابل کې صبر کول فرض دي او که یې له دې څخه ممانعت وکړ ، بیایې د غاړې وهل هم لازم دي نو دغه شخص فاسق او د الله جل جلاله ګناه کاردی ، مګر که دغه په باطل سره وي نو د الله جل جلاله څخه پناه غواړو چې د الله جل جلاله رسول په باطل سره امرکوي ددې دلیل د الله جل جلاله دا فرمان دی چې : وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿2﴾ [198]

ژباړه :- اومدد کوئ د یو بل سره په نیکئ سره او په تقوی کې او مه کوئ مدد د یو بل سره په ګناه ا وپه زیاتې کې او و ویریږئ د الله نه بیشکه الله ډیر سخت دی په عذاب کې .

په یقیني ډول پدې سره پوه یو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول د الله جل جلاله د قول مخالف ندی ، الله جل جلاله فرمایي : وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى ﴿3﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى ﴿4﴾ [199]

ژباړه : .او نه خبرې کوي د خواهش نه / ندی دا قرآن مګر وحې ده .

اوالله جل جلاله فرمایلي دي : ....... وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا ﴿82﴾ [200]

ژباړه : او که چیرته وې دا قرآن کې د طرفه د غیر الله نه ، نو موندلي به وو دوی پدې کې اختلاف ډیر .

---

[197] - الاتصال الی فهم معرفة الخصال وګوری ،لابی محمد ابن حزم رحمت الله علیه .

[198] - سورت المائده آیت 2 .

[199] - سورت النجم آیت 3، 4 .

[200] - سورت النساء آیت 82 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داصحيح خبرده چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ټول اقوال د الله جل جلاله له پلوه را ليږل شوي دي وحی ده پدې کې هيڅ تعارض ، اختلاف او تناقض نشته ، که چيرې دا همداسې وي نو پرته له کوم شک څخه ټول مسلمانان پدې پوهيږي چې دمسلمان ياذمي مال په ناحقه سره اخستل يائې په ناحقه وهل ګناه ده ، تيری دی اوحرام دي . پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : بيشکه ستاسو وينې ، ستاسو مالونه او ستاسې پت حرام دی .

داحديث امام بخاري رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه ، امام ابوداؤد رحمت الله عليه ، امام ترمذي رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه ، امام ابن ماجه رحمت الله عليه ، امام بيهقی رحمت الله عليه ، امام ابوعوانه رحمت الله عليه ، امام دارمي رحمت الله عليه ، امام بزار رحمت الله عليه اوامام طبراني رحمت الله عليه روايت کړی دی .

نوپدې شک نشته او هيڅ يو مسلمان هم پدې کې اختلاف نلري چې په ظلم د مسلمان مال اخستل او هغه وهل پداسې حال کې چې ددفع کيدو توان ئې هم ولري نو په څه سبب سره په ګناه او تيري باندې د ظالم مرستندوی شو ؟ دغه کار د قرآن کريم په نص سره حرام دی .

او کوم احاديث اود آدم عليه السلام د زامنو کيسه مو چې ياده کړه هيڅ کوم دليل او حجت په کې نشته ، دآدم عليه السلام د زامنو کيسه زموږ د شريعت څخه پرته په بل شريعت کې ده ، الله جل جلاله فرمايلي دي : لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا .......... ﴿48﴾ [201]

ژباړه :. مقرر کړي دي موږ دهر يو دپاره ستاسو نه يو شريعت او يوه لاره د عمل .

هغه شريعت چې زموږ څخه وړاندې دی دامطلب دی چې : هغه مخکيني احکام چې الله جل جلاله د تيرشوو امتونو لپاره راليږلي وه او دعلماء کرامو ترمنځ پدې کې اختلاف نشته چې وړاندينی شريعت زموږشريعت دی خوچې دهغه د وجوب، صحت او منلود اعتراف لپاره څه راغلي دي او پدې کې هم اختلاف نشته چې مخکينی شريعت زموږ شريعت په هغه صورت کې ندی چې په مخالفت کې يې څه راغلي وي ، مګر دعلماء کرامو ترمنځ په هغه صورت کې اختلاف موجود دی چې د مخکينيوامتونولپاره شريعت راغلی وي ، خو زموږ په شريعت کې دهغه د صحت ، اعتبار اويا ابطال لپاره څه موجود نه وي يعني دهغه خبر له جملې څخه دی چې په اړه يې سکوت شوی وي ، مګر راجح قول دادی – والله اعلم . چې مخکينی شريعت زموږشريعت دی چې زموږ په شريعت کې هغه څه رانشي

---

201 - سورت المائده آيت 48 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې داعتبار نشتوالی يې بيانوي ځکه چې دسکوت سره يې په هغه سره حکايت کول چې داقرار او اعتبار لرلو له جملې څخه ګڼل کېږي . [202]

- احاديث دادي درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه صحيح روايت نقل شوی چې : چاچې ستاسو څخه کوم منکر او بدکارولید نو حتماً هغه بايد په لاس سره ئې تغير کړي او مخه يې ونيسي او که دلاس توان يې نه در لود بياد دامنکر په ژبه سره بند کړي او که داوس يې هم نه درلود بيا د دغه منکر سره په زړه نفرت پيدا کړي او همدا ضعيفه مرتبه دايمان ده چې له دې څخه وروسته دايمان څه نه پاتې کيږي .

بل حديث د پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه په صحيح ډول ثابت دی چې : د الله جل جلاله په نافرماني کولوکې اطاعت نشته بلکې اطاعت په طاعت کې ده .

په بل حديث کې دي چې : يو ستاسې څخه د خبرې اوريدل او اطاعت ترهغه مهاله دی چې په ګناه يې امر ورته نه وي کړی که په ګناه يې امر ورته وکړ بيا نه د خبرې اوريدل شته او نه اطاعت .

پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : څوک چې دخپل څخه د دفاع په صورت کې مړ شي شهيد دئ او څوک چې دغصب شوي شي د حصول په سبب مړ شي شهيد دی . داحديث شريف امام احمد رحمت الله عليه او امام طبراني رحمت الله عليه روايت کړی دی.

پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: خامخا به په نيکئ سره امرکوي او خامخا به له بدی څخه منع کوي او که دا کار ونه کړي نو يقيناً چې الله جل جلاله به مو له خپل پلو څخه ټول په عذاب کړي

.

نوددې مبارکو احاديثو ظاهري بڼه داسې ده چې ځيني د نورو معارض واقع شوي نو صحيح او سمه خبره داده چې يوه جمله د بلې ناسخه ده اوبل څه امکان نلري نو دا واجب دي چې وکتل شي کوم يې ناسخ دی نو وموندل چې هغه احاديث چې د جګړې څخه ممانعت کوي هغه د اصل ( معهود) سره موافق او برابر دی کله چې دغه حالت پرته له کوم شک څخه د اسلام په لومړيو وختونو کې وه ، او دغه نور احاديث د اضافه حکم او شريعت په بڼه راغلي دي چې هغه جګړه ده او پدې کې هم کوم شک نشته ، نو د هغو احاديثو د معنی منسوخول اودحکم رفع کول يې صحيح وه کله چې پيغمبر

- پدې اره : المستصفی دامام غزالی ص 132 اوورروسته مخونه ، احکام دامام آمدي ج 2 ص 186 اوورروسته مخونه ، شرح مسلم الثبوت ج 2 ص 184- 185 ، احکام دابن حزم ج 5 ص 724 ، تفسير قرطبی ج 7 ص 28 ، تفسير ابن کثير ج 2 ص 63 ، فتح القدير للشوکانی ج 2 ص 46 . [202]

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم پردې نورو احادیثو تلفظ وکړ اوداکار هم یقیني دی نوداکار ناشونی او حرام کاردی چې منسوخ احادیث واخستلئ شي او عمل پرې وشي او ناسخ پرېښودئ شي ، یعني شک واخستل شي او یقین پرېښودل شي او چاچې دعوی وکړه چې دغه یادشوي احادیث لومړی ناسخ وه او بیا منسوخ شول نودا باطله دعوی ده او پرهغه څه وردید چې نه پرې پوهیږي او په الله جل جلاله پورې یې هغه څه وتړل چې ورته معلوم ندي او داکار ناروا اوحرام دی او که دا صحیح وي نو الله جل جلاله به دغه حکم ددلیل او حجت څخه خالي کړی نه وای چې په هغه کې به یی د منسوخ راګرځیدل دناسخ په بڼه ښودلی وای ځکه چې الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایلي دي : تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ... ﴿89﴾[203]

ژباړه : چې وضاحت کوونکی دی د پاره د هر څیز .

بل دلیل دادی چې الله جل جلاله فرمایلي دي : وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ ...﴿9﴾ [204]

ژباړه : او که چیرې دوې ډلې د مومنانو نه و جنګیږي پس صلحه وکړئ په منځ دهغوئ دواړو کې پس که چیرې زیاتئ وکړ یو د دواړ و نه ، په بله ډله باندې پس جنګ کوئ تاسې دهغې ډلې سره چې هغه ز یاتئ کوي تر دې پورې چې واپس راشي حکم د الله ته .

پدې کې هیڅ یومسلمان اختلاف نلري چې دغه مبارک آیت چې د یاغي ډلې وژل په کې راغلئ محکم دی او منسوخ ندی نوداصحیح خبره ده چې همدغه آیت د هغه مبارکو احادیثو لپاره محکم دی نوکوم چې ددغه مبارک آیت سره موافق اوبرابر وي هغه ثابت ناسخ دی او کوم چې ددې آیت شریف مخالف وي هغه منسوخ دی او حکم یې پورته شوی او عمل نه پرې کیږي ، یوې ډلې دادعوی هم کړې چې دغه مبارک آیت او احادیث د غلو ( ډاکوانو) په برخه کې راغلي نه دامیر او پاچا په هکله ، ددوی دغه دعوی یقیناً باطله ده ځکه چې دغه قول کوم دلیل او حجت نلري ، اوبل داچې په دغه احادیثوکې دعوی کوونکی عاجزوي له دې څخه چې ووایي : دغه احادیث د ځینې خلکوپه هکله راغلي او یاهم په خاص وخت کې ویلی شوي نو دعوی ددلیل څخه پرته نه صحیح کیږي او په دعوی سره د نصوصو خاص والی رواندی ځکه چې دا په الله جل جلاله باندې په ناپوهی سره څه تړل دی .

---

- سورت النحل آیت 89 . [203]
- سورت الحجرات آیت 9 . [204]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی دی چې یو پوښتونکي دهغه چاپه هکله چې په ناحقه یې مال اخلي پوښتنه وکړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : مال د مه ورکوه ، هغه وویل : که ووژلم ؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : جګړه ورسره وکړه ، پوښتونکي وویل : که مې ووژلو؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هغه به دوزخ ته ځي ، بیاهغه سړي وویل: که زه یې ووژلم ؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ته به جنت ته ځي .

لیکوال وایي : پدې لفظ سره مې داحدیث ونه موند ، مګر نور روایات په نورو الفاظو سره شته چې امام بخاري رحمت الله علیه په صحیح الجامع ، تاریخ کبیر او همداسې امام مسلم رحمت الله علیه ، امام ترمذی رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه ، امام ابن ماجه رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، امام طبراني رحمت الله علیه او امام دارقطني رحمت الله علیه روایت کړی دی .

یاپې پدې معنی سره حدیث فرمایلئ دی، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : مسلمان دبل مسلمان ورورد‌ی نه یې مال غلاکوي او نه ظلم پرې کوي ، اوهمدارنګه داثابت دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم په زکات کې فرمایلي دي : چاچې خپل حق بللو او غوښتنه یې وکړه هغه ته دورکړل شي او چاچې په ناحقه دهغه غوښتنه وکړه نو نه د ورکول کیږي . داحدیث امام بخاري رحمت الله علیه دأنس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت کړی چې کله یې بحرین ته لیږه نو ابوبکرالصدیق رضی الله عنه دغه لیک ورته ولیکه چې :

بسم الله الرحمن الرحیم ، دادزکات هغه حکم دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسلمانانو باندې دهغه د ملکیت په صورت کې فرض کړی دی الله جل جلاله خپل پیغمبر ته ددې امر کړی دی ، چاچې د مسلمانانو څخه ددې غوښتنه وکړه او هغه یې مستحق وه نو ورد کړل شي او چاچې دهغه څخه د زیات څه غوښتنه وکړه نه د ورکول کیږي. الحدیث .

همدازنګه دا حدیث امام ابوداؤد رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله ، امام ابن خزیمه رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه ، امام حاکم رحمت الله علیه ، امام بیهقي رحمت الله علیه ، اوامام بزار رحمت الله علیه روایت کړی دی .

داصحیح حدیث دی چې د ثقاتو دلیارې څخه مو دأنس رضی الله عنه څخه هغه د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه اوهغه بیا درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی ، داد هغه چا دا تأویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

باطلوي چې د مال څخه ددفاع په سبب جګړه کول یواځې په غلو او داړه مارانو پورې ځانګړی کوي ځکه چې غله زکات نه غواړي بلکې امیر او پاچا یې غواړي نو یواځې په همده پورې تړاو نیسي که چیرې یې دخپل حق څخه زیات وغوښت نو تیرئ یې وکړ ، که چیرې د حق څښتنان یو موټئ وي نو باطل به هیڅکله قوت نه وه موندلی د الله جل جلاله څخه مرسته او کومک غواړو.

اوکوم یې چې دعثمان رضی الله عنه د کړنې په ارتباط اعتراض کړی نو هغه هیڅکله نه پوهیده چې وژل کیږي به ، بلکې هغه د لیده چې یواځې به دکلابندی کردار ترسره کوي او دوی هم دهغه مبارک شهادت نه غوښت او د عادل امیر لپاره دا تقاضانه وه بلکې دده ملتیا او دده ترقوماندې لاندې جګره کول یې فرض بلل نو دوی دعثمان رضی الله عنه په پیښه کې هیڅ دلیل نشته .

ځینوویلی: په پاڅون او انقلاب کې دحدودو څخه تیری ، دوینې توئیدل ، دمالونو لوټ کیدل ، بې پرده توب ، هرې سیمې ته ددوی لمن خپریدل ، نورو ددوی په ځواب کې وویل : هیڅکله داسې نده ځکه دهغه چالپاره چې په نیکئ امر کوي او له بدی څخه منع کوي دا جواز نلري چې څوک بې پردې کړي یاپه ناحقه دچا مال ته لاس واچوي یاهغه چاته ضرررورسوي چې جګړه ورسره نه کوي ، نو کوم کار یې له دې څخه ترسره کړ ، نو ده هغه څه وکړل چې باید مخه یې نیولې وای ، مګر د بدو او ناوړه خلکو له پلوه د عامه وګړو وژل یا دهغوی مالونه لوټول یاپې بې عزتي کول دا ټول هغه هغه څه دي چې په خلکو دهغه تغیر کول او له منځه یې وړل لازم دي .

اوهمدارنګه که سنګر له منځه وړل دهغه بدو پایلو له ویرې څخه وي اویاهم په نیکی سره امر کول ویره رامنځته کوي نوهمدغه بعینه د اشغالګرواو استعمارګرو په مقابل کې د جهاد په مخ کې خنډ دی اودا هیڅکله مسلمان نه وایي .

اوکه دا دعوی یی وکړه چې : پدې سره به عیسویان د ملسمانانو ښځې وینزې کړي اولادونه به یې غلامان کړي مالونه به یې چور او تالان کړي وینې به یې توئې کړي ، بی عفته او بې عزته به یې کړي ، خوددې ټولو سره سره مسلمانانو ترمنځ څه توپیر نشته او داټول دالله جل جلاله په لارکې جهاد او قرآن کریم او نبوي احادیثوته دعوت او بلنه ده .

امام ابن حزم رحمت الله علیه ویلي دي : دوی ته ویل کیږي چې دهغه پاچا په اړه څه وایي چې یهودان یې واکداران کړي او دنصاراوو څخه یې خپل لښکر جوړکړی او په مسلمانانو یې جزیه ایښې ده ، د مسلمانانو ماشومان د تورې لاندې حلالوي ، مسلمانې عفیفې میرمنې یې بد لمنی او زناته راکش کړې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چیرې یې چې مسلمانان موندلي په غاړه یې ورته توره ایښې ده ترڅو یې میرمنې خپلې وینزې او ماشومان یې غلامان کړي او دهر څه چور او تالان یې ځان ته روا کړي ، خو ددې ټولو جرمونو او فجائعو سره سره بیاهم په ډاګه د مسلمانۍ اعلان کوي ، لمونځ قائموي ؟ که چیرې ووایې چې په مقابل کې یې پاڅون ناروا دی ، ورته ویل کیږي چې : دغه پاچا چې چیرته مسلمان موندلی وژلی یې دی آن تردې چې په ټولیز ډول یې په شهادت رسولي دي ، نودغه شخص پریښودی شي او په ضد یې پاڅون ونکړی شي نو حتماً په لازمي ډول به یواځې همدی او کفار ملګري به یې ورسره پاتې شي ، که چیرې دده دظلم او تیري په مقابل کې صبر روا بولي نو په بشپړه توګه یې د اسلام مخالفت وکړ او ترې ووتل ، په ضد یې باید پاڅون وشي او جګړه د ورسره وشي همدایې نظر دی .

موږ ورته وایو : که چیرې د مسلمانانو څخه نهه برخې ووژل یاداچې ټول یې ووژل یواځې یو یې ژوندی پریښود او مسلمانې میرمنې یې وینزې کړې او مالونه یې چور او تالان کړل نوکه چیرې یې په ضد باندې د پاڅون څخه ممانعت کوي اقوال یې پخپله یو دبل په ضد واقع کیږي او که یې په ضد پاڅون کولو ته جواز ورکوي ، نو یوه کوچنۍ پوښتنه ترې کوو او ترهغه ور پسې یو چې د یو مسلمان په وژنه او یا د مسلمانې میرمنې په وژنه یا د هغوی د مال په ناحقه اخستلو او یا دکوم انسان په ناحقه سره بې عزتي او بې عفتی په کولو سره یې ود روو نو که چیرې یې ددې ځیزونو ترمنځ توپیر وښود اقوال یې پخپله یو دبل سره په ټکر کې راغلل او پرته له کوم دلیل او حجت څخه یې حکم وکړ او داکار ناروا دی او که چیرې پرته له توپیر څخه د پورتنیو ټولو جرائمو د له منځه وړل واجب و بلل حق ته راو ګرځیدل .

او دهغه چا څخه پوښتنه کوو چې ظالم او فاجر پاچا یې میرمن لور او ځوی غصب کړی وي چې دوی خپل شهواني غوښتنې پرې اشباع کړي یایې پخپله د فحشا لپاره وکاروي آیا دغه شخص د خپل ځان میرمنې ځوی او لور فحشا او فساد ته وړاندې کول امکان لري یا په دغه شخص د هغه چاپه مقابل کې چې ددغه ځیز اراده لري دفاع او مقابله کول فرض دي ؟ که چیرې یې وویل : په باندې د خپل ځان اوکورنی فحشاته و ړاندې کول لازم دي نو ډیر لوی جرم او ګناه یې وکړه چې هیڅ یو مسلمان دانظر نلري .اوکه یې وویل : بلکې په ده باندې فرض دي چې ددغه ناروا مخه ونیسي او جګړه ورسره وکړي نو حق او سې لارې ته راو ګرځیدل او همدا کار په ټولو مسلمانانو د ټولو مسلمانانو لپاره دهغوی دځان او مال په هکله لازم او ضروری دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابو محمد رحمت الله علیه ویلي دي : که چیرې کوم ظلم او تیری پیښ شو اګر که ډیر لږ هم وي باید په اړه یې د امام سره خبرې وشي او دهغه څخه منع کړی شي ، که چیرې منع شو او حق ته راو ګرځیده د قصاص ورکولو ته یې په ځان او غړو کیښوده او دزنا، قذف ( تور) او شرابو حد یې قائم کړ نو د هغه امیر منفکي او له منځه وړلو ته څه اړتیا نشته هغه د تیر په څیر امام او امیر دې لیرې کول یې روا ندي ، او که چیرې یې د خپلو دندو او مسؤلیتونو د پلي کیدو څخه مخ و ګرځاوه او حق ته یې رجوع ونکړه نو لیرې کول یې واجب دي او دداسې چا ټاکل چې د الله جل جلاله قوانین نافذوي لازم دي ، ځکه چې الله جل جلاله فرمایلي دی : وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ... ﴿2﴾ [205]

ژباړه : :- اومدد کوئ د یو بل سره په نیکئ سره او په تقوی کې او مه کوئ مدد د یو بل سره په ګناه ا وپه زیاتې کې.

دشرعي دندو او مسؤلیتونو د هیڅ څیز ضائع کول او هغه ته دعمل جامه نه اغوستل روا ندي ، اود الله جل جلاله څخه مرسته او کومک غواړم . [206]

امام قرطبي رحمت الله علیه ویلي دي : کله چې امام وټاکل شي بیا دبیعت کولو څخه وروسته فاسق شي نو جمهورو علماؤ ویلي دي : امامت یې له منځه ځي او د ظاهر او ځرګند فسق په سبب د قدرت څخه ګوښه کیږي ځکه دا ثابته خبرده چې امام د حدودو د پلې کولو او حقوقو د اخستلو ، د یتیمانو او لیونیانو د مالونو د ساتلو او د دوی د نورو حالاتو په نظر کې نیولو او هغوی ته د اهتمام کولو اوداسې نورو کارونو لپاره ټاکل کیږي نوکله چې دغه امیر فاسق وي دداسې کارونو د پرمخ بیولو او دهغو دپلې کولو څخه یې وګرځوي او مخه یې ونیسي .

که چیرې دا روا وبولو چې امیر فاسق دی او دغه فسق یې د هغو دندو او مسؤلیتونو چې دهغه پلي کیدو لپاره ټاکل کیږي مخنیوی کول ، آیا دا په لومړي سر کې مناسب نه بولې چې دا دامیر ددندو د پلي کیدو لپاره خنډ کیږي او دغه کارهم همداسې دی .

اونور ویلي دي : چې امیر تر هغه پورې د قدرت څخه نه ګوښه کیږي ترڅو کافر شوی نه وي اویا یې لمونځ نه وي ترک کړی او یاهم لمانځه ته یې دعوت نه وي پریښی اویاهم د شریعت څخه یې کوم څه

---

[205] - سورت المائده آیت 2 .
[206] - الفصل فی الملل والاهواء والنحل لابن حزم ج 4 ص 132- 135 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترک کړي نه وي ، څکه چې دحضرت عباده رضی الله عنه په حدیث کې راغلي دي : ترهغه امیرد قدرت څخه لیرې کیدی نشي چې دهغه څخه څرګند کفر ووینې چې ستاسې په وړاندې دهغه په اړه د الله جل جلاله له لوري بشپړ دلیل او حجت موجود وي .

دعوف بن مالک رضی الله عنه په حدیث کې راغلي دي : نه ، ترهغه به دامیر اطاعت کوی ترڅو ستاسې ترمنځ لمونځ قائموي ، اود حضرت ام سلمه رضی الله عنها په حدیث کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی چې : یقیناُ به پرتاسې امیران ټاکل کیږي چې ځینې افعال او کړه وړه به یې خوښوی او ځینې نور به بد بولی چاچې د هغوی بد افعال په زړه سره بد و بلل یقیناً غاړه یې خلاصه شوه او چاچې په زړه باندې د دوی بد افعال بد وبلل یقیناً دهغوی د ګناه څخه یې په امن شول مګر چاچې د دوی په بدو افعالو راضی شول او دهغوی متابعت یې وکړ ( هغوی ګناه ګار شول ) صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل : اې د الله رسوله ! آیا له دوی سره جګړه نه کوو او نه یې وژنو ؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نه ،ترهغه چې لمونځونه یې کول ، یعني چاچې په زړه بد ګڼل او په زړه یې دهغو انکار وکړ . [207]

امام قرطبي رحمت الله علیه وسلم د الله جل جلاله ددې فرمان په اړه چې : لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿124﴾ [208]

ژباړه : نه شاملیږي وعده زما ظالمانو ته .

امام قرطبي رحمت الله علیه وایي امام ابن خویزمنداد رحمت الله علیه ویلي دي : هرهغه څوک چې ظالم وي ، پیغمبر ، خلیفه ، امیر ، مفتي او د لمانځه امام نشي ټاکل کیدی اوهر هغه روایات چې د شارع څخه یې روایت کوي نه منل کیږي اوپه احکامو کې یې ګواهي نه قبلیږي تردې هغه د فسق په سبب د قدرت څخه نه ګوښه کیږي تردې چې أهل الحل والعقد شوری یې له قدرته لیرې کړي . [209]

امام نووي رحمت الله علیه ویلي دي : چې قاضي عیاض رحمت الله علیه ویلي : که چیرې په امیر باندې کفر یا دشرعي احکامو تغیراویاهم بدعت واقع شي نو پدې صورت کې یې مشري ختمه او اطاعت یې نشته په مسلمانانوواجب دي چې په ضد یې پاڅون وکړي او قدرت واکې ترې واخلي او که امکان ولري په ځای یې بل امام وټاکي که چیرې دغه توان یوازې د یوې ډلې سره وي نود کافر امیر په ضد پاڅون

- تفسیر قرطبی ح 1 ص 186- 187 . [207]
- سورت البقرة آیت 124 . [208]
- تفسیر قرطبي ج 2 ص 115- 116 . [209]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول واجب دي اود بدعتي امیر په مقابل کې دغه کارنشته خوکه چیري دده په مقابل کې د بریالیتوب ګومان ولري نوبیا دا پاڅون هم واجبیږي ، اوکه چیرې یې ناتواني او ناکامي یقیني وي بیا پاڅون نه واجبیږي نو مسلمان باید له خپل هیواد او سیمې څخه بل ځای ته هجرت وکړي اودخپل دین دساتنې په خاطر لاړشي .

ویلې یې دي : دفاسق لپاره په لومړي سرکې امامت نه صحیح کیږي اوکه بیا وروسته فاسق شو نو ځینې علماء کرامو ویلي دي : د قدرت څخه ګوښه کیدل یې واجب دي مګر که چیرې پدې کارسره فتنه او جګړه منځته راتلله بیاداکار نشته .

جمهورو اهل سنتو له فقهاء ، محدثینو، او متکلمینوڅخه ویلي دي : امیر دفسق ، ظلم ، اود حقوقوپه پامال کیدوسره د قدرت څخه نه لیرې کیږي او نه هم منفک کیږي او پدې کارسره یې په ضد پاڅون کول روا نه دي بلکې پدې اړه دراغلو احادیثو په رڼاکې یې ویرول او نصیحت کول واجب دي .

قاضی رحمت الله علیه ویلي دي : پدې اړه ابوبکر بن مجاهد رحمت الله علیه د اجماع دعوی هم کړیده ، خو ځینو دا اجماع د حسن رضی الله عنه او ابن زبیر رضی الله عنه او دمدینې دخلکو پاڅونونه د بنو امیه ؤ په ضد ذکر کړی دي او همدارنګه د تابعینودیوې ډلې او داسلام دمبارک دین د لومړئ پیړئ نیکو او صالحو خلکو د ابن الاشعث په ملګرتیا د حجاج بن یوسف په ضد پاڅون کول یاد کړي دي .

دغه وینکي داحدیث شریف چې وایي : موږبه دامامت د مستحقینوسره لانجه نه کوو .

پدې سره تأویل کوي چې داپه عادلوامامانو کې ویل شوي دی .

د جمهورو علماؤ داحجت او دلیل دی چې د حجاج بن یوسف په ضد پاڅون کول صرف دهغه دفسق په سبب نه وه بلکې کله یې چې شرعي امور بدل او کفریې ښکاره کړ.

قاضی رحمت الله علیه ویلي دي :ویل کیږي چې دغه اختلاف په لومړي سرکې موجود وه بیا دامیرانوپه ضد پاڅون کول په اجماع سره منع کړی شول ، والله اعلم [210]

امام اشعري رحمت الله علیه ویلي دي : چې دظالمانو امیرانو په ضد پاڅون کول دأهل سنتو دځینو علماؤ نظر دی .

---

- شرح صحیح مسلم ج 1 ص 468 .[210]

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهل سنتو څخه يوې ډلې ، خوارو ، معتزله ؤ ، زيديه ؤ او زياترو مرجئه ؤ دانظر دی چې دفاسق امام په مقابل کې پاڅون کول او دوسلې او زور کارول واجب دي .[211]

حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ويلي دي : امام ابن التين رحمت الله عليه د امام داؤدي رحمت الله عليه څخه نقل کړی چې ويلي يې دي : د ظالمانو اميرانو په اړه د علماء کرامو نظر دادی چې که د فتنې ، جنجال او ظلم څخه پرته يې ليرې کول ممکن وي نو ترسره کول يې واجب دي او که داکار امکان نلري بيا صبر کول واجب دي ، ځينې علماء څخه راغلي دي چې د لومړي سر څخه د فاسق لپاره د چارو واکې ورکول روا ندي خو که چيرې په اول کې عادل وه بيا ظالم شو نو په ضدېې د پاڅون کولو د جواز په اړه اختلاف لري ، خو صحيح خبره داده چې پاڅون رواندی ترڅو چې کافر شوی نه وي که کافر شو نوبيا يې په ضد پاڅيدل واجب دي .[212]

**۱- ځرګند خبر داده چې د ظالمو اميرانو په ضد پاڅون کول د امام ابو حنيفه رحمت الله عليه مذهب دی .**

دا له دې څخه په ډاګه کيږي چې ابو اسحاق فزاري رحمت الله عليه دامام ابوحنيفه رحمت الله عليه په هکله ويلي دي : آيا د الله جل جلاله څخه نه ويريدې چې دابراهيم بن عبد الله بن حسن سره د زما ورور پاڅون کولوته وهڅاوه هغه وويل : دا داسې وه لکه د بدر په ورځ چې وژل شوی وي ، زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې زما په اند دغه پاڅون وړوکی بدر دی ( يعني د ثواب له اړخه لکه چې د وړوکي بدر په غزا کې شرکت کړی وي .[213]

ابوبکر جصاص رحمت الله عليه ويلي دي : دامام ابوحنيفه رحمت الله عليه مذهب د ظالمو اميرانو په وژلو کې مشهور او واضح دی .[214]

هغه څه چې خورا ځرګند او واضح دي چې د ظالمو اميرانو په ضد د پاڅون جواز د تابعينو څخه وروسته هم پخپل ځای پاتې مذهب دی لکه څنګه چې حافظ ابن کثير رحمت الله عليه د شهيد احمد بن نصر الخزاعي رحمت الله عليه په سوانحو کې ليکلي او وايي : دعلماؤ ، ديندارو ، د نيک عمل

---

- مقالات الاسلاميين ص 145 . [211]
- فتح الباری ج 13ص 8 . [212]
- شذرات الذهب د ابن عماد الحنبلی ج 1 ص 44 ، تاريخ بغداد ج 13ص 384 . [213]
- احکام القرآن للجصاص ج 1 ص 86 . [214]

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکو او په نیکی کې د هڅو کوونکو او د اهل سنتو امامانو څخه وه چې په نیکۍ به یې امر کاوه او له بدۍ څخه به یې خلک منع کول او دخلیفه واثق بالله په ضد یې قیام وکړ کوم چې قرآن کریم یې مخلوق باله ډیر زیات سخي سړۍ وه دخپل سرڅخه تیرشو .......... تردې چې ویې ویل : امام غزالي رحمت الله علیه ویلي دي : په ظالم پاچا لازم دي چې د قدرت څخه لاس واخلي ځکه دا پاچا یا گوښه شوی او یا یې گوښه کول واجب گرځیدلي او هغه په یقیني ډول پاچا ندی .[215]

امام ابن الوزیر رحمت الله علیه د حسین رضی الله عنه د قیام په هکله د فقهاؤ د خبرو په اړه ویلي دي : پدې مسأله کې د دوی د اتفاق ذکر دی چې دحسین رضی الله عنه کړنه یې دیزید سره د ابن الاشعث او ملگرو کړنه یې دحجاج په ضد ښه او غوره کار بللۍ دی ، خو زیاترو یې د پاڅون جواز دهغه چا په ضد ورکړی چې د یزید او حجاج په څیروي ، او ځینو یې بیا دهرظالم پاچا په ضد پاڅون روا بللۍ دی .

او همدارنگه امام ابن الوزیر رحمت الله علیه ویلي دي : د ظالمو پاچایانو په ضد د پاڅون څخه د ممانعت نه هغه څوک مستثنی ( ځانگړی) شوی دی چې ظلم یې آخری حد ته ورسیږي اوپه پاچاهۍ کې لویه فتنه رابره شي لکه یزید او حجاج بن یوسف او هیڅوک د نظر او امامت له څښتنانو څخه د داسې ظالمو امیرانو په خیر د امامت او واکدارۍ په  ورکولو نه وایې .

د تیر شوو علماء کرامو د اقوالو څخه داسې څرگندیږي چې هلته یو دریم قول هم شته او هغه د قاضی عیاض رحمت الله علیه د خبرو په درشل کې چې ذکر شو ، او هم د ابن التین رحمت الله علیه قول چې د داؤدی رحمت الله علیه څخه یې نقل کړی وه او په همدې نظر سره امام ابن حزم رحمت الله علیه او امام قرطبي رحمت الله علیه او نور هم دي .

په همدې سره دلائل را ټولیږي او هغه پدې تفصیل سره چې که گومان یې وه چې د منکر تغیر او برابروالی یې په توان کې وه ځکه چې پدې کې وینې توئیږي که داسې گومان یې درلود چې د پاڅون په صورت کې هیڅکله د ظالم او فاسق پاچا په وړاندې د صبر کولو څخه زیات ضرر او زیان منځته نه راځي نو پاڅون کول واجبیږي او که داسې نه وه نو بیا پاڅون کول روا ندي ددې نظر تفصیل به ان شاء الله وروسته راشي .

---

[215] - احیاء علوم الدین ج 2 ص 34 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم قول :**

زیاتره علماء کرام پدې نظر دي چې باید د ظالمو پاچایانو په مقابل کې پاڅون ونکړی شي ځکه چې ددې په پایله کې بیا د مسلمانانو وینې توئیږي په لویه آزموینه کې لویږي پاچایان خپل انتقام او بدل ترې اخلي کورونه او مالونه یې چور او تالان سره مخ کیږي .امام نووي رحمت الله علیه ویلي دي : د ظالمو پاچایانو په ضد پاڅون کول او دهغوئ وژل د مسلمانانو په اجماع سره حرام بلل شوی دي اګر که دغه امیران فاسق او ظالم هم وي . له دې معنی سره سم په څرګند ډول احادیث مو جود دي .

اهل سنت ټول پدې سره متفق دي چې پاچا په فسق سره د قدرت څخه نه ګوښه کیږي خو دفقهی په کتابونو کې زموږ د ځینې اصحابو په نزد پاچا په فسق سره د قدرت څخه ګوښه کیدی شي او همدارنګه دا نظر د معتزله ۋ څخه هم ذکر شوی نو ویونکی یې غلط شوی او دا د اجماع مخالف دي .

علماء کرامو ویلي دي : د قدرت څخه یې نه ګوښه کیدل او په ضد یې د پاڅون حرمت او نه روا کیدل پدې سره دي چې په درشل کې یې د فتنو ، بې ځایه وینې توئیدو او خپل منځي جګړو منځته راتلل دي نو د منځه تللو زیان یې ترپاته کیدو خورا زیات دی .[216]
شیخ ابو عمرو عبد الحکیم حسان وایي : کومه اجماع چې امام نووي رحمت الله علیه ذکر کړې ده د زیاتو علماء کرامو په اند د ظالم پاچا په ضد د قیام په جواز ورکولو سره ماته شوې ده .
همدا امام ابن الوزیر رحمت الله علیه بیان کړې وایي : له همدې څخه امام ابن حزم رحمت الله علیه په امام ابوبکر بن مجاهد رحمت الله علیه باندې رد کړی چې دظالمو امیرانو په ضد د قیام په حراموالي یې اجماع نقل کړی وه ، نو امام ابن حزم رحمت الله علیه دا اجماع صحیح ونه بلله او دلیل یې د حسین بن علی رضی الله عنهما او ملګرو پاڅون یې د یزید په مقابل کې او دابن الاشعث رحمت الله علیه او ملګرو پاڅون یې چې کبار تابعین او غوره مسلمانان په کې وه د حجاج بن یوسف په مقابل کې ....... تردې چې وېې ویل : دغه مسأله قاضی عیاض رحمت الله علیه ذکر کړی او دابن مجاهد رحمت الله علیه د اجماع دعوی یې هم په کې راوړې ده .

---

[216] - شرح صحیح مسلم ج 12ص 469 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضی عیاض رحمت الله علیه ویلي دي : ځینو په ده باندې د اجماع ماتوالی پدې دلیل سره وښود چې حسین بن علی رضی الله عنه ، عبد الله بن زبیر رضی الله عنه د مدینې منورې عامو مسلمانانو د بنو امیه په ضد قیامونه وکړل او همدارنګه د تابعینو څخه یوې ډلې او لومړئ پیړئ غوره ملسمانانو د ابن الاشعث په مشرئ د حجاج بن یوسف په مقابل کې ترسره کړ .[217]

دامام شافعی رحمت الله علیه د پیروانو په نزد د قیام او پاڅون کوونکو په هکله دوه مشهورې نظریې شته دي :

حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ددې حدیث شریف په شرحه کې چې : یقیناً تاسې به زما څخه وروسته به ځان خوښونه او هرڅه ځان ته غوره کول اوداسې نور کارونه ووینۍ چې بد به یې بولۍ ........ أثرة : معنی داده چې : یو څوک د خپل ځان لپاره یو څه دنیوی مال او متاع ځانګړې کوي ، داقول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې : د الله جل جلاله څخه خپل حق وغواړئ . دامام سفیان ثوري رحمت الله علیه په روایت کې راغلي چې : د الله جل جلاله څخه هغه څه غواړي چې ستاسې دي . یعني چې تاسې ته خپل حق در وښئي او یاپې غوره عوض او بدل درکړي ، یعني نورښه او غوره امیران درته راولي ، دحضرت یزید بن سلمه جعفي رضی الله عنه په حدیث کې چې امام طبراني رحمت الله علیه روایت کړی راغلي دي : چې ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل : اې د الله جل جلاله رسوله ! که زموږ داسې امیران او مشران وي چې زموږ څخه خپل حقوق اخلي او زموږ حق نه راکوي او راڅخه ګرځوی یي آیا موږ جګړه ورسره وکړو؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : نه ، جګړه مه ورسره کوئ په دوی باندې دهغه څه ملامتیا ده چې کړی یې دي او پرتاسو هم دخپلې کړنې مسولیت دی .

دامام اسماعیلي رحمت الله علیه د ابومسلم خولاني رحمت الله علیه په سند سره د ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه او هغه دعمر رضی الله عنه په مرفوع ډول روایت کړی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ماته جبریل علیه السلام راغی ویې ویل : ستا امت ستا څخه وروسته په فتنه او ازمایښت کې لویدونکی دی ، ماورته وویل : دکوم لوري څخه ؟ هغه وویل : دهغوئ د مشرانو او قاریانو له پلوه ځکه چې مشران د خلکو حقوق ترې اخلي بیا خلک خپل حقوق غواړي نو پدې سره په فتنه او ازمیښت کې لویږي ، او قاریان ددغه مشرانو پیروي کوي ، ماورته وویل : نو څنګه به هغه

[217] - الورض الباسم فی الذب عن سنة أبی القاسم د ابن الوزیر لیکنه ج 2 ص 34 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک سالم او بې زيانه پاتې شي چې له دوی څخه ژغورل شوي دي ؟ پيغبمر صلی الله عليه وسلم وفرمايل : دوی به دلاس په بندولو او صبر کولو سره وژغورل شي که چيرې دوی ته خپل حق ورکړل شي هغه اخلي او که بې له خپل حق څخه منع کړي هغه پريږدي .[218]

اوددې حديث شريف په شرحه کې : ( چې چا دامير څخه څه بدعمل وليد نو صبر د وکړي ) .

داقول د پيغمبر صلی الله عليه وسلم چې ځوک د پاچا داطاعت او پيروئ څخه ووتل ، او په دوهم روايت کې دي چې ځوک د جماعت او ډلې څخه خارج شول ، ابن ابی جمره رحمت الله عليه ويلي دي : د مفارقت څخه مطلب د بيعت د غوټې د خلاصيدلو په هکله هڅه کول دي کومه چې دهغه امير لپاره را منځته شوی وي اگر که دا ډير لږ ځيز هم وي نودهغه څخه بې د لوشتې په اندازه په کنايې ډول يادونه وکړه ځکه چې په دومره لږشي سره حساب کول په ناحقه د وينو توئيدلوته رسيږي .

اوداقول د پيغمبر صلی الله عليه وسلم چې ( دجاهليت په مرگ ومړ) ، حافظ

ابن حجررحمت الله عليه وسلم ويلي دي : دامرگ داسې دی لکه د جاهليت د خلکو چې په لاروركي او ضلالت سره وه داسې امام بې نه درلود چې پيروي او اطاعت بې کيده ځکه چې دوی دانه پيژانده ، مطلب بې داندی چې کافر مرکيږي بلکې گناهگارمري ، ښايي چې تشبيه بې په ظاهره سره وي ، معنی بې داده چې د جاهليت د اهل څخه نه وي اويا داچې داد رټني او کرکې په ځای کې راغلي او ظاهرېې ترې مطلب ندی . د بيغمبرصلی الله عليه وسلم مبارک قول په بل حديث کې دا تائيدوي چې دجاهليت څخه هدف شباهت دی اوهغه داچې ( ځوک چې د مسلمانانو د ټولې څخه د يوې لوشتې په اندازه لرې شو لکه چې ده د خپلې غاړې څخه داسلام غاړئ وويسته .

داحديث شريف امام ترمذی رحمت الله عليه ، امام ابن خزيمه رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه ، د حارث اشعري رضی الله عنه له حديث څخه روايت کړی او صحيح بې بللی دی .

امام ابن بطال رحمت الله عليه : په حديث کې د امير او مشر په مقابل کې د پاڅون نه کولو دليل دی اگر که دا پاچا ظالم وي .

فقهاء پدې سره متفق دي چې د برپالي پاچا اطاعت او دهغه سره جهاد ته تلل واجب دي ځکه چې اطاعت بې له نافرمانئ څخه غوره دی ځکه چې په اطاعت اوپيروی کې بې د ناحقه وينې توئيدل او دفتنې غلي کيدل موجود دی ، دليل بې همدا حديث شريف او نور دلائل د تأئيد لپاره شته له دې

---

[218] - فتح الباری كتاب الفتن ج 13 ص 6 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه یې هیڅ څیز مستثنی او ځانګړي کړي دي مګرکله چې د پاچاڅخه واضح کفرولیدل شي نو بیایې اطاعت او پیروي جواز نلري او چې څوک وس لري په ضد یې جهاد کول واجب دی .[219]

دحضرت عبادة رضی الله عنه د دغه حدیث « چې عندکم من الله برهان » په شرحه کې حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي : چې پدې اړه دقرآن کریم آیت یا نبوي صحیح حدیث کوم چې تأویل نه مني موجود وي ، یعني مطلب دا چې ترهغه مهاله یې په ضد پاڅون روا نه دی ترڅو یې چې کړنو څه تأویل لرلو .

امام نووي رحمت الله علیه ویلي دي : دلته د کفر څخه مطلب ګناه ده اوحدیث شریف معنی داده چې تاسې د خپلو مشرانو سره دهغوی په مشری کې جنجال مه کوی ، او په هغوی باندې اعتراض هم مه کوی ترهغه چې له دوی څخه یویقیني بد کاروویني کوم چې اسلامي شریعت داساساتوڅخه وي خو کله موچې دا څیز ترې ولید بیایې بد وبولې او انتقاد پرې وکړي او چیرته چې یاست حق اورښتیا خبره وکړی .[220]

او نورو علماء کراموویلي دی : دلته له «اثم » څخه مطلب ګناه او کفردی په مشر او پاچاباندې ترهرهغه اعتراض او انتقاد نشي کیدی ترڅو چې په څرګند کفر کې واقع شي کوم چې دلته ښکاریږي د کفردروایت حمل کول په هغه صورت کې کیږي چې په قدرت او مشری کې وي ، په مشری کې ترهغه بد نه ګڼل ترڅو یې چې کفرنه وي کړی ، اود ګناه روایت د مشری څخه پرته په نور جنجال او منازعه سره اخستل کیږي که په مشری کې یې بده اغیزه ونلري نو دګناه په کولو سره باید جنجال ورسره وشي پدې ډول چې دا بد عمل ته یې باید د انتقاد ګوته ونیول شي او دسختی او تشدد څخه پرته حق ته یې رسیدل ترسره شي پدې سره چې ددغه کار توان ولري . والله أعلم .

امام ابن التین رحمت الله علیه د امام داؤدی رحمت الله علیه څخه نقل کړی چې ویلي یې دي : د ظالمو پاچایانو په اړه د علماء کرامو د انظر دی که چیرې د ظلم او فتنې څخه پرته یې د ګوښه کیدو توان درلود نو داکار پرې واجب دی او که داسې نه وه نوبیا صبر کول پرې واجب دي ، ځینې علماء کرامو ویلي دي : دلومړي سر څخه د فاسق لپاره بیعت اخستل نشته ، مګر که چیرې لومړی عادل وه بیا یې

---

- فتح الباری ج 13 ص 7 . [219]
- شرح صحیح مسلم ج 12 ص 469.[220]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم پیل کړ نودده په مقابل کې د پاځون په اړه سره اختلاف لري خو صحیح قول دادی چې پاځون نشته ترهغه چې کافر شوی نه وي بیا یې په ضد پاځون کول واجبیږي .[221]

او ددې حدیث شریف په شرحه کې چې : زما دامت هلاکت او تباهي به د قریشو د ماشومانو په لاسونو سره وي .

حافظ ابن حجر رحمت الله علیه وایي : امام ابن بطال رحمت الله علیه ویلي : همدارنګه په حدیث شریف کې لکه وړاندې چې ذکر شول دلیل دی چې د پاچا په مقابل کې اګر که ظالم هم وي پاځون کول نشته ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم أبوهریرة رضی الله عنه ته د هغو پاچایانو نومونه اودهغوی د پلرونو نومونه وروښودل خو په مقابل کې یې د پاځون کولو امرورته ونکړ سره ددې چې ددوی په لاسونو یې د اسلامی امت د هلاکت خبرهم ورکړ ځکه چې پاځون کول په هلاکت او تباهی کې ډیرسخت دی او ددوی د اطاعت څخه ددوی دبیخ کندنې ته ډیر نږدې دی ، نودوړوکې فتنې او دآسانه کار کړنې ته یې ترجیح او غوره والی ورکړ . [222]

دریم قول :

د توان اوقدرت په شتون کې د پاځون کولو جواز او روا والی دی او هغو چې د پاځون کوونکو بریالیتوب او دمنکر له منځه وړلو ګومان غالب وي ، د وینې توئیدو او داسې نورو کارونوسره سره چې ددغه ظالم او تیري کوونکي پاچا د له منځه وړلو او پرځای یې د عادل پاچا د تعین کولو او ټاکلو په مقابل کې منځ ته راځي . علماء کرام او دخلکو مشران دغه توانمندي او بریالیتوب ټاکي . ددغه نظر دلائل وړاندې د لومړني نظر په شرحه او بیان کې تیر شول پدې سره دلائل را ټولیږي . والله أعلم ، داد یو شمیر علماء کرامو نظر دی ددې د بیانولو لپاره د علماء کرامو اقوال په لاندې ډول سره ذکر کیږي .

حافظ ابن حجر رحمت الله علیه ویلي دي : امام ابن التین رحمت الله علیه د امام داؤدي رحمت الله علیه څخه نقل کړی دی چې ویلي یې دي : کوم چې پدې اړه دعلماء کرامو نظر دی وایي : د ظالمو پاچایانو په هکله د پاځون مسأله داسې ده که چیرې د ظلم او فتنې څخه پرته یې د ګوښه کیدو توان لري نو ګوښه کول یې واجب دي ، اوکه یې توان نه درلود نوبیا صبر کول پرې واجبیږي . [223]

---

- فتح الباری ج 13 ص 8 . [221]
- فتح الباری ج 13 ص 11 ، شرح العقیده الطحاویه ج 1 ص 428- 430 . [222]
- فتح الباری ج 13 ص 8 ، نیل الاوطار ج 7ص 108 . [223]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام نووي رحمت الله علیه د امام قاضي عیاض رحمت الله علیه څخه نقل کړی چې ویلي یې دي : د لومړي سرڅخه د فاسق لپاره بیعت نه اخستل کیږي ، که چیرې وروسته خلیفه فاسق شو نو ځینې علماء کرامو ویلي دي : ګوښه کول یې واجب دي ، مګرکه له دې امله جګړه او فتننه رامنځته کیده بیاپې لرې کول نشته .[224]

امام ایجي رحمت الله علیه ویلي دي : د یو معقول لامل په سبب امت ته دامام ګوښه کیدل شته ، اګرکه دغه کار فتنې او جنجال ته هم ورسیږي نو پدې صورت کې به وړوکې فتنه اولږ زیان غوره کړای شي .[225]

له همدې سببه امام ابن عابدین رحمت الله علیه ویلي دي : که چیرې دعادل امام پیروي وشوه بیا دغه امام ظلم وکړ او فاسق شو نو پدې سره د قدرت څخه ګوښه کیدی نشي مګر پدې صورت کې د ګوښه کیدومستحق ګرځي چې د فتنې رامنځته کیدل حتمي نه وي .[226]

امام حرمین جویني رحمت الله علیه ویلي دي : که چیرې یوداسې شخص امام شي چې خلک یې پخپله خوښه پیروي کوي زیاتره یې مني امرپه معروف او نهی له منکر څخه ترسره کوي او دمسلمانانو له اړخه د ورسپارل شوې دندې لپاره کفایت کوي او ددې لپاره یې کوټلي ګامونه اخستې وي نوپدې مشری کې د پرمخ لاړشي ، الله جل جلاله به یې نصرت وکړي .[227]

**دکافرولسمشرپه ضد پاڅون :**

وړاندې موياد کړه چې مشربه یاکافر وي او یاهم مسلمان ، همدارنګه مخکې مو ذکرکړه چې د عادل مسلمان مشرپه وړاندې امت څه دندې او مسؤلیتونه لري اودا موهم یادکړه چې که دغه پاچا په ښکاره فسق سره د هغه څه نه ووت چې د عدالت غوښتنه وه .

پدې مسأله کې به ان شاء الله د هغه پاچا حکم بیانوو چې د اسلام څخه وتلي وي که دا وتل هررنګ ولري لکه د اسلامی شریعت څخه پرته په وضعي قانون عمل کول ، یاد اسلامي شریعت بدلول ، یا د الله جل جلاله په دین اودهغه په احکامو پورې ملنډې وهل ، یا داسلام او مسلمانانو په ضد ددوی ددین په سبب جګړه تېل ، یا دسیکولر نظام رواج کول او دنورو باطلونظامونو لکه دیموکراسي

---

[224] - شرح صحیح مسلم ج 12 ص 468 .
[225] - المواقف دامام ایجي ص 400.
[226] - حاشیة ابن عابدین ج 1 ص 573 .
[227] - غیاث الامم ص 277 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداسې نور خپرول او دوسلې په زور دهغو حفاظت کول ، یا دمسلمانانو په مقابل کې د کافرانوسره دوستي د هغوی مرسته او هغوی ته لاس ورکول او داسې نورډولونه چې په هغې سره د اسلامی امت څخه وځي .

الله جل جلاله د مشرانو په اطاعت امر کړی دی چې هغوی علماء کرام او پاچایان دی ، الله جل جلاله فرمایلي دي : إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿58﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿59﴾[228]

ژباړه : بیشکه الله حکم کوي تاسو ته چې و سپارئ تاسو امانتو نه د امانت خاوندانو ته او هرکله چې فیصله کوئ تاسو په منځ د خلکو کې نو فیصله کوئ په انصاف سره ، بیشکه الله ښه ځیز دی هغه ، چې نصیحت کوي تاسې ته ، په هغې سره ، بیشکه الله ، دئ ، ښه اوریدونکئ او ښه لیدونکئ / اې هغه کسانو چې ایمان مو راو ړئ دی حکم ومنئ د الله ، او حکم ومنئ درسول ، او د خاوندانو د حکم ستاسو نه ، نو بیا که ستاسو په منځ کې جګړه راشي په څه خبره کې نو و اپس کوئ هغه الله ته او رسول ته که یی تاسې چې ایمان لرئ ، په الله او په ورځ د آخرت دا کار غوره دی او ډیر ښه دی د انجام په لحاظ سره .

علماء کرامو ویلي دي : لومړۍ مبارک آیت د پاچایانو په اړه نازل شوئ دی ، په دوی لازم دي چې امانتونه خپلو مستحقینوته وسپاري اوکله چې د خلکو ترمنځ پریکړه کوي باید په عدل او انصاف سره یې وکړي چې هغه قرآن کریم او نبوي احادیث دي ، اودوهم : مبارک آیت د لښکر او دولس د نورو ډلو په هکله نازل شوی پدوی لازم دي چې دخپل مشراطاعت او پیروي وکړي ، کوم چې دولس د غنیمتونو په ویش د هغوی د پریکړو او جهادي امورو او داسې نورو کارونو په اړه تصمیم نیسي او کارکوي تردې چې په ګناه امر ورته وکړي خوکله یې چې د الله جل جلاله د نافرمانئ ورته وویل بیا د الله جل جلاله په نافرمانئ کې د خلکو اطاعت نشته او که د خلکو او ولس ترمنځ په کوم واړه اویالوی څیزکې اختلاف پیدا شي بیا یې د الله جل جلاله په کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو ته ور وړي او دهغو مطابق پرې فیصله وکړي .

---

[228] - سورت النساء آیت 58، 59 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښکاره خبره چې کوم هغه پاچایان چې د الله جل جلاله د حکم په خلاف احکام صادروي او خلک د هغه باطلو قوانینو په منلو مجبوروي چې د الله جل جلاله دین سره په ټکر کې وي ، دغه حاکمان په هیڅ صورت کې مسلمانان ندي لکه څنګه چې مخکې یې دلائل ذکرشول نو ددوی اطاعت او پیروي واجب نده بلکې هرڅوک دخپل توان په اندازه باید د هغوی په مقابل کې جګړه وکړي اودا پري واجب دي .

له همدې سببه علماء کرمو ذکرکړي دي چې کوم مشران چې اطاعت کول یې واجب دي هغوی علماء ، فقهاء او هغه حاکمان دي چې د الله جل جلاله په اطاعت او پیروی سره امرکوي ، نه هغه کسان چې په منکر سره امر کوي د معروف له کولو څخه منع کوي او هغه حرام بولي او نه دهغو حاکمانو اطاعت شته چې خلک د وسلې په زورد اوسپنې او اور په کارولو سره کفرته بیايي نو دغسې حاکمان په هیڅ صورت سره هغه مشران نشي کیدی چې اطاعت او پیروي یې لازمیږي .

د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه د الله جل جلاله ددې مبارک فرمان په هکله چې « وأولی الأمر منکم » کې وایي : دغه خلک فقهاء او دیني علماء دي .

عبد الله بن احمد رحمت الله علیه ویلي دي : د الله جل جلاله پیروان اوتابعداران هغه څوک دي چې خلکو ته ددین معناوې ورښئي اوهغوی ته په معروف او نیکی امرکوي اوله بدی څخه یې منع کوي نو الله جل جلاله په خپلو بندګانو د دوی اطاعت لازم کړی دی .

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه څخه روایت دی چې دغه کسان فقهاء او علماء دي .

دعطاء رحمت الله علیه څخه د الله جل جلاله ددې مبارک فرمان په اړه چې : « أطیعوا الله و أطیعوا الرسول وأولی الأمر منکم » کې وایي : دغه کسان علماء او فقهاء دي او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اطاعت څخه مطلب د قرآن کریم او نبوي احادیثو پیروي او متابعت دی .

د میمون بن مهران رحمت الله علیه څخه راغلي دي : د الله جل جلاله ددې مبارک فرمان په اړه چې : « فان تنازعتم فی شئ فردوه الی الله والرسول » ترڅو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ژوندی وي اوکله چې وفات شي بیا خپله ستونزه دهغه سنتو ته وړاندې کوئ .

مجاهد رحمت الله علیه ویلي دي : « أطیعوا الله و أطیعوا الرسول وأولی الأمر منکم » څخه مطلب علماء او فقهاء دي ، « فان تنازعتم فی شئ فردوه الی الله والرسول » څخه مطلب د الله جل جلاله کتاب او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم مبارک حدیث دی او مشرانو ته هیڅ څیزمه وړاندې کوئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام قرطبي رحمت الله عليه ويلي دي : جابر بن عبد الله رضی الله عنه او مجاهد رحمت الله عليه ويلي دي : د « أولو الأمر » څخه مطلب قاريان او عالمان دي همدغه دامام مالک رحمت الله عليه نظر هم دی ، په همدې ډول امام ضحاک رحمت الله عليه هم ويلي دي : چې مطلب ترې فقهاء او ديني علماء دي ، ترديې چې امام قرطبي رحمت الله عليه ويلي دي : د ميمون بن مهران ، مقاتل او کلبي څخه روايت دی چې د « أولو الأمر » څخه مطلب د جهادي ګروپونو قوماندانان دي .

سهل بن عبد الله التستري رحمت الله عليه ويلي دي : ترهغه به خلک په خير او له فتنو څخه ژغورل شوي وي ترڅوچې د پاچايانو او علماؤ قدر او احترام کوي کله چې دغه کار وکړي نو الله جل جلاله به يې د آخرت او دنيا جوړه کړي او که دوی ته په سپکه سترګه وګوري آخرت او دنيا به يې خراب شي .[229]

امام ابوبکر جصاص رحمت الله عليه ويلي دي : د « أولی الأمر » په تفسير کې علماء کرام اختلاف لري ، د جابر بن عبد الله رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما څخه په يوه روايت کې راغلي ، اوهمدارنګه د حسن ، عطاء ، او مجاهد رحمت الله عليهم په نظر أولو الأمر فقهاء او علماء دي ، په بل روايت کې د عبد الله بن عباس او ابوهريرة رضی الله عنهما څخه راغلي دي چې : أولوالأمر د جهادي ګروپونو اميران دي ، داهم روا دي چې دآيت شريف څخه ټول مطلب دي ځکه چې دغه نوم کې ټول يادشوي کسان راځي ، ځکه چې اميران د لښکرو ، جهادي ګروپونو او دښمن د جګړې لپاره کارکوي او علماء کرام د اسلامي شريعت د ساتنې د روا او ناروا د بيانولو چارې په غاړه لري ، نو خلکو ته ددې اميرانو او مشرانو د اطاعت او دهغوی د امر منلو ويل تر هغه چې عدل کوي پداسې حال کې چې علماء کرام پخپله عادل او مراقبت والا ، پخپل دين باندې ټينګ په ورسپارل شوې دندې کې امانت کار او دا د الله جل جلاله ددې مبارک فرمان په څير دی لکه چې الله جل جلاله فرمايي : « فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ ﴿43﴾» [230]

ژباړه :- نو تپوس وکړئ د عالمانو نه که يئ تاسو چې نه پوهيږئ .

ځينې خلک داهم وايي : دلته په ډاګه معلوميږي چې د « أولو الأمر» څخه مطلب اميران دي ځکه چې په عدل او انصاف سره امر وړاندې تير شو او دغه خطاب دهغه لپاره دی چې د احکامو د پلې کولو

---

[229] - تفسير قرطبي ج 5 ص 362.، اعتقاد اهل السنه لعبدالله بن احمد ج 1 ص 72- 73 .
[230] - سورت النحل آيت 43 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختیار لري او هغه امیران او قاضیان دي بیا ورپسې د أولی الأمر د اطاعت امر پرې عطف شوی چې هغوی هغه امیران دي کوم چې په دوی باندې حکم او پریکړه کوي پداسې حال کې چې عادل وي او خلک ترې راضي او خوښ وي پدې کې ددې څخه ممانعت نشته چې د جهادي ګروپونو د امیرانو او علماء کرامو اطاعت وشي ځکه چې په عدل سره د فیصلې کولو د امرپه لومړې والي سره د امیرانو د اطاعت ځانګړتیا پرته له نورو څخه معلومیږي تردې چې ویې ویل : د الله جل جلاله مبارک فرمان له دې څخه وروسته چې : « فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ ...﴿59﴾[231]

ژباړه :- نو بیا که ستاسو په منځ کې جګړه راشي په څه خبره کې نو و اپس کوئ هغه الله ته او رسول ته .

پدې سره دلالت کوي چې د أولی الامر څخه مطلب فقهاء دي ځکه چې الله جل جلاله ټولو خلکو ته د دوی د اطاعت امر کړی دی او أولی الامر ته یې حکم کړی چې د تنازع او جنجال مسأله د الله جل جلاله کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنتو ته وړاندې کړه .

څوک چې عالم نه وي نو دغه مقام او منزلت نه لري ځکه چې جاهل د الله جل جلاله کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنتو ته د فیصلې په وړاندې کولو او په پیښو باندې د قرآن کریم او نبوي احادیثو د دلائلو په وجوهاتو نه پوهیږي نو له دې څخه دا ثابته شوه چې د أولی الأمر څخه مطب علماء کرام دي .[232]

په یقیني ډول امام ابن کثیر رحمت الله علیه ویلي دي: علي بن طلحه رحمت الله علیه د ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کوي چې ( أولو الأمر) فقهاء او دیني علما دي.

همدارنګه مجاهد عطاء حسن بصري او ابو العالیه ویلي دي: (اولوالامر) علماء دي، خو په ظاهري ډول داسې څرګندیږي چې دغه مبارك آیت عام دی په ټولو اولولامر امیرانو او علماء تطبیقیږي [233]

امام نووي رحمت الله علیه د علماء کرامو څخه نقل کوي چې : د أولوالأمر : څخه مطلب هغه څوك دي چې الله جل جلاله یې اطاعت پرې واجب کړی وي لکه علماء او امیران داد مخکینیو او وروستیو مفسرینو فقهاو او نورو نظر څښتنانو رای ده.

---

[231] - سورت النساء آیت 58، 59 .
[232] - احکام القرآن للجصاص ج 3 ص 177- 178 .
[233] - تفسیر ابن کثیر ج 1 ص 784 – 785 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهم ویل کېږي چې : مطلب يې علماء دي او همدارنگه ويل کېږي چې : اولي الامر اميران او علماء کرام دي. [234]

له همدې امله امام شوکاني رحمت الله عليه ددې آيت په تفسير کې ويلي دي: (اولي الامر: امامان، اميران او قاضيان دي او هر هغه څوك چې شرعي مشرتوب ولري نه طاغوتي مشري [235]

حافظ ابن حجررحمت الله عليه ويلي دي: امام طيبي ويلي د الله جل جلاله په دې فرمان کې چې (أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ)[236] کې د فعل اعاده او تکرار دي ته اشاره ده چې د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم اطاعت مستقل دی او په اولي الامر کې دفعل اعاده نه ده ذکر کړې دادېته اشاره ده چې په اولي الامر کې به ځينې داسې خلك هم وي چې اطاعت او پيروي يې نه واجبېږي بيايې د الله جل جلاله په دې فرمان کې بيان کړ چې : فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ) لکه چې وويل شي که چېرې په حق سره عمل ونکړي نو اطاعت يې مه کوئ او خپلې منځي شخړې د الله جل جلاله او رسول صلی الله عليه وسلم حکم ته وړاندې کړئ [237]

**شهيد سيد قطب رحمت الله عليه ويلي دي:**

الله جل جلاله فرمايلي دي چې: وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ) يعنې هغه مومنان چې د ايمان شرط په کې موجود وي ، په مبارك آيت کې د اسلامي شريعت څرگند حدد الله جل جلاله او پيغمبرصلی الله عليه وسلم د اطاعت او يوازې الله جل جلاله حاکم گڼل او د خلکو لپاره د ابتداء څخه د تشريع او قانون گرځول او د همدغه الله جل جلاله د لوري څخه د قانون او شريعت اخيستل او د هغه څه په اړه چې الله جل جلاله شرعی نص په کې رالېږلی او همدغه الله جل جلاله ته د هغه څه په هکله چې عقلونه او پوهه او نظر په کې اختلاف لري له هغه شي نه چې د الله جل جلاله له لوري د عامو اصولو د پلي کېدو په اړه يی کوم حکم نه وي په کې راغلی له هغه څه نه چې حکم په کې راغلی وي، حکم د الله جل جلاله اطاعت اصل گرځوي او همدارنگه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم اطاعت او پيروي هم اصل او اساس گرځوي، ستاسو څخه د اولي الامر اطاعت د الله جل جلاله او پيغمبر صلی الله عليه وسلم

- شرح صحيح مسلم ج 12 ص 464- 465 .، تفسير ابن کثير ج 1 ص 445 . [234]
- فتح القدير للشوکاني ج 1 ص 481 . [235]
- سورت النساء آيت 59 . [236]
- فتح الباری ج 13 ص 112 . [237]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اطاعت تابع دی تر څو دا وښيي او ثابت يې کړي چې د اميرانو اطاعت د الله جل جلاله او پيغمبرصلی الله عليه وسلم داطاعت څخه اخيستل شوی وروسته له دې چې دوی په دې سره اعتراف وکړي چې ستاسو له جملې څخه دي، په ايمان او د هغه په شرط تړل شوي دي. [238]

يقيناً چې الله جل جلاله فرمايلي دي: وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا [239]

ژباړه: او له سره به ونه ګرځوي الله لپاره د کافرانو په مومنانو باندی هيڅ لاره د حجت او د بري.

د الله جل جلاله په دې مبارك فرمان کې چې: ولن يجعل) نفي د نهي په معنی سره ده، يعنې تاسو په مسلمانانو باندې د کافرانو لخوا کوم تسلط او لاره مه ګرځوی. له همدې امله علماء کرامو ويلي دي: د کافر لپاره د مسلمان غلام مريتوب نشته د اخستلو په وسيله ملکيت هم يوه لار ده نو ځکه يې روا والی نشته په دې سره پيمان نه تړل کيږي [240]

دا دهغه چا نظر دی چې وايي آيت شريف د دنيا او اخرت اړوندو څيزونوته شامل دی ځينې علماء بيا داوايي چې آيت شريف د آخرت په څېزونو پورې اړه لري.

علماء کرامو په دې اجماع کړې ده چې : په مسلمان باندې د کافر نه په واده او نه په نورو څېزونو کې اختيار او تسلط شته له همدې امله امام ابن منذز رحمت الله عليه ويلي دي: ټول هغه علماء کرام چې علم ترې اخيستل کيږي په دې سره اتفاق لري چې په هيڅ ډول د کافر لپاره په مسلمان باندې سرپرستي نشته. [241] .

دغه قول او هغه لويه لار او سرپرستي چې په مبارك آيت کې يې رد او نفي شوې داده چې دغه کافران د مسلمانانو په سرحاکمان او مشران وي همدغه کافران په مسلمانانو د وکړه او مکړه حکم جاري کوي ځکه چې مشر دخپلې خوښې د حکم په پلي کېدو سره په خلکو زوراچوي او څوك چې ددې امر مخالفت کوي هغوی ته تعذيب ورکول کيږي ، وايو څرګند او واضح حقيقت دی نو کله چې سپڅلی شريعت د نارينه مسلمان او مسلمانې ښځې د واده په اړه د کافر سرپرستې منع ګرځولې په داسې حال کې دا ديو مسلمان نارينه او مسلمانې ښځې ځانګړنې کار دی نوڅنګه به د داسې يو لوی او عظيم کار مخه ونه نيسي چې هغه اسلامي خلافت او يا په کوم هېواد کې د زياترو مسلمانانو اسلامي امارت دی آيا دابه د يو مسلمان له ځانګړي کار څخه په منع کېدو زيات غوره او ارزښتناك نه وي.

- في ظلال القرآن ج 2 ص 690-691 . [238]
- سورت النساء آيت 141 . [239]
- تفسير قرطبي ج 5 ص 418 ، تفسير ابن کثير ج 1 ص 863 . [240]
- أحکام أهل الذمة لابن القيم ج 2 ص 414 . [241]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یقیني ډول صحابه کرامو دپیغمبرصلی الله علیه وسلم سره په دې بیعت و کړ چې د خپلو امیرانو به اطاعت کوي او خبره به یې اوري مګر کله چې د اسلام څخه په ظاهر،څرګند او ډاګیز کفر سره چې د الله جل جلاله په دین کې یې حکم معلوم وي خارج شي نو په دې مهال له دوی څخه وځي او دې ته کوم حق نه ثابتېږي او نه په دوی باندې کوم اطاعت او پیروي شته دغه پخوانی ثابته اجماع د علماؤ کرامو څخه نقل شوی او هېڅوك نشي کولای چې ددې اجماع په اړه ووایي چې ثبوت ته څه زیان ورسوي.

د جناده بن ابي امیه رحمت الله علیه څخه روایت دی چې موږ عباده بن الصامت رضی الله عنه ته ورغلو او هغه مریض وه ورته ومو ویل الله جل جلاله د روغ کړه موږ ته یوڅه خبره وکړه چې الله جل جلاله یې درته ګټه ورسوي هغه مبارك وویل: پیغمبرصلی الله علیه وسلم موږ اسلام ته راوبللو او موږ ورسره بیعت وکړ او ویې فرمایل په هغه څه کې چې بیعت یې را څخه واخیست: په رضا او ناخوښی، تکلیف او راحت کې د امیر خبره او رېدل او اطاعت پې کول او که څه هم دغه امیران کوم څیز د د نیوي مال او متاع څخه د خپلو ځانونو لپاره خاص وګرځوي.

د امارت او مشرئ د مستحق په وړاندې به جنجال نه کوو او مقابله به ورسره نه کوو تر څو چې ښکاره،څرګند او ډاګیز کفر ترې ووینی چې ستاسې سره د هغه په هکله د الله جل جلاله څخه په هغه کې دلیل او ثبوت وي. دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه او امام مسلم رحمت الله علیه روایت کړی او همدارنګه امام احمد رحمت الله علیه او امام ابن حبان رحمت الله علیه هم ذکر کړی دی.

بواح،: ښکاره او څرګند ته وویل کېږي.

امام نووي رحمت الله علیه د عباده رضی الله عنه د مخکیني حدیث شریف په شرح کې ویلي دي: قاضي عیاضي رحمت الله علیه ویلي دي: علماء کرام په دې سره متفق دي چې د کافر لپاره امامت نشته او بیعت نه ورته اخیستل کېږي او که چېرې کوم مسلمان امیر کافر شي نو د امارت څخه د عزل کړی شي.

او همدارنګه قاضي عیاض رحمت الله علیه ویلي دي: که چېرې کوم امیر لمونځ پرېږدي او خلك هغه ته نه رابولي نو معزول دکړی شي.

او همدارنګه قاضي عیاض رحمت الله علیه ویلي دي: که چېرې کوم مسلمان امیر کافر شي او یا شرعي احکامو ته تغیر ورکړي او یا مبتدع شي امارت او مشری څخه ووت او اطاعت یې نشته ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو واجب دي چې په ضد يې پاځون وکړي او د قدرت څخه يې لرې کړي او که يې توان وي يو عادل امام يې د پرځای و درووي که چېرې دغه کار پر ته له يوې ډلې څخه بل چاته امکان نه لري نو په دوی واجب دی چې کافر امير د قدرت څخه لرې کړي. [242]

حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ويلي دي: فقهاء په دې سره متفق دي چې د غالب امير اطاعت او تر امر لاندې يې جهاد كول واجب دي او اطاعت يې له هغه څخه چې په ضد يې پاځون وشي غوره دی. له دې څخه يواځې هغه څه مستثنى دي چې د امير څخه ښكاره كفر سر ووهي نو په دې مهال يې اطاعت نشته، بلكې د داسې امير په ضد په توان لرونكو جهاد واجب دی. [243]

او همدارنګه حافظ ابن حجر رحمت الله عليه ويلي دي: امير د كفر په سبب په اجماع سره ګوښه كېږي نو په هر مسلمان واجب دي چې ددې لپاره را اوچت شي چاچې دغه كارته مټې را و نغښتې هغه ته ثواب او اجر دی او چاچې فريب او چالبازي وكړه ګناهكار شو او څوك چې ددغه كار څخه عاجز او بې وسه شو په هغه باندې ددغه ځای او ټاټوبي څخه هجرت كول واجب شو،[244] په دې اړه فتح الباري ج١٣\١٣٣ مخ وګورئ دغه اجماع ابن حجر له ابن التين څخه نقل كړې[245]

امام ابن حجر رحمت الله عليه ويلي دي: ابن التين له داودي رحمت الله عليه څخه نقل كړي چې هغه ويلي دي : كوم نظر چې علما كرام يې د ظالمو اميرانو په هكله لري دادی چې: كه چېرې د فتنې او ظلم كولو پرته يې د ګوښه كېدو توان لري نو ګوښه كېدل يې واجب دي او كه نه بيا صبر كول واجب دي.

ځينې علماؤ ويلي چې : د لومړي سر څخه د فاسق لپاره د بيعت اخيستل نشته خو كه چېرې يو عادل امير وروسته ظالم شي نو په ضد يې پاځون نشته ترڅو كافر شوی نه وي كله چې كافر شو بيا پاځون واجب دی. [246]

امام ابويعلي رحمت الله عليه ويلي دي: كه چېرې د امير څخه يوداسې څه ښكاره شي چې په ديني لحاظ عيبناك ترې ښكاره كېږي نو په اړه يې دوكتل شي كه دايمان راوړلو څخه وروسته كافر شو نو

---

- شرح صحيح مسلم ج 12 ص 229 ، كتاب الامارة . [242]
- فتح البارى ج 13 ص 5 او وروسته پاني ، نيل الاوطار ج 7 ص 198 ، [243]
- فتح البارى ج 13 ص 133 ، [244]
- فتح البارى ج 13 ص 116 . [245]
- فتح البارى ج 13 ص 8 . [246]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامامت او مشرۍ څخه ووت په دې کې څه اشکال او سختي نشته ځکه چې د اسلامي امت څخه ووت وژل یې واجب شول.[247]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمت الله علیه ویلي دي: کوم امیر چې داسلامي نظام څخه پرته یی دبل نظام او قانون د پیروۍ اجازه وکړه کوښښ کېدل یې واجب شول او اطاعت یې حرام دی ځکه په داسې حالت کې دکفر د صفت ورکولو مستحق ګرځي.[248]

همدارنګه ابن تیمیه رحمت الله علیه ویلي دي: محمدصلی الله علیه وسلم د ټولوانسانانو او پیریانو دهدایت لپاره رالېږل شوی دی که چا داباور وکړ اوعقیده یې لرله چې یو چاته د محمدصلی الله علیه وسلم د شریعت څخه وتل او اطاعت نه کول روادي نو دغه کس کافر دی وژل یې واجب دي.[249]

دغه د قران کریم، نبوي احادیثو او د دیني امامانو اقوال په څرګند ډول ددې حکم ښکارندوی دی چې څوک د مشرانو او امیرانو څخه د الله جل جلاله د دین څخه ووزي په خلکو باندې یې اطاعت واجب نه دی بلکې په ضد یې پاڅون لازم دی او که پخپله قدرت پرې نړدي باید کوښښ کړی شي. په راتلونکو کرښو کې د ځینو علماؤ کرامو اقوال ذکر کوو چې چا دالله جل جلاله حکم پرېښود او یایې د الله جل جلاله د اجازې پرته نور وضعي قوانین جوړ کړل او یایې هم د خلکو ترمنځ د الله جل جلاله دحکم د پلي کولو څخه انکار وکړ.

امام ابن حزم رحمت الله علیه د هغه چاپه اړه یې د خلکو لپاره هغه قوانین جوړ وي کوم چې د الله جل جلاله په دین کې نشته وایي:

د قوانینو جوړول د څلورو وجو هاتو څخه خالي نه وي:

۱- یا لازمي فرض له منځه وړل لکه : ځینې لمونځونه، ځینې روژې ، ځینې زکاتونه ، ځینې ارکان حج یاد زنا څه اندازه حد کمول، او یا هم دقذف څه حد کمول یا ددې ټولو له منځه وړل .

۲- یا په کوم یادشوي شي کې زیاتوالی یا د نوي فرض منځ ته راوړل.

۳- یا د حرام څېز حلال ګڼل لکه د خنزیر غوښه، شراب څښل، د مردارو خوړل.

۴- یا د حلال څېز حرام ګڼل لکه د پسه غوښه او داسې نور هر یو ددې څخه چې څوک عقیده پرې ولري کافر او مشرك دی په یهودو او نصاری پورې تړل شوی او د هغوی څخه دي.

---

[247] - المعتمد فی اصول الدین لابی یعلی ص 234 .

[248] - الفتاوی المصریة لابن تیمیه ص 507 .

[249] - مجموع الفتاوی ج 3 ص 422 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هرمسلمان دا فرض دي چې که هر څوك داسې ووينې چې د څلورو يا دشويو امورو څخه په يو باندې عقيده ولري پرته د توبې له غوښتلو څخه يې ووژنئ او توبه يې قبوله نکړئ که توبه يې هم وکړه ، مال يې د مسلمانانو بيت المال ته وسپارئ ځکه چې د غه کس خپل دين بدل کړى يقيناً پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي جل جلاله چاچې خپل دين بدل کړى وي وبى وژنئ)[250] دغه حديث په احکام د ابن حزم ج ۶\ ۱۱۰ مخ او همدارنګه ۲\۱۱۷-۱۰۹-۷۸-۷۷ او حديث شريف امام بخارى رحمت الله عليه امام احمد رحمت الله عليه د ابن عباس رضى الله عنهما څخه روايت کړى دى.

همدارنګه ابن حزم رحمت الله عليه ويلي دي: که چېرې څوك داسې عقيده ولري چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د مرګ څخه وروسته يو شخص کولاى شي چې کوم حلال څيز حرام کړي او يا کوم حرام څيز حلال و ګرځوي او يا کوم حد واجب وګرځوي په داسې حال کې چې د پيغمبرصلى الله عليه وسلم ترمرګ وړاندې واجب شوي نه وي او يا داسې شريعت او قانون جوړ کړي چې د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په ژوند کې يې و جود نه در لود دغه شخص کافر او مشرك دى او مال يې حلال دى حکم يې د مرتد دى او هېڅ تو پير نه لري.[251]

امام ابن کثير رحمت الله عليه د الله جل جلاله ددې حکم پ اړه چې: أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ [252]

وايي: الله جل جلاله دهغه چابدي بيانوي چې د الله جل جلاله دهغه حکم څخه سرغړاوى کوي چې ټول خير او نيکي يى په کې ده دټول شر او بدى څخه سرغړاوي کوي او دغه شخص د نورو نظرياتو، شخص او نفسياتي غوښتنو او دهغه اصطلاحاتو نه مخ اړوي چې پرته له کوم شرعي دليل څخه پرې استناد او تکيه کوي.

لکه څنګه چې د جاهليت په زمانه کې جاهلانو دخپلو نظرياتو او نفسياتي غوښتنو په بنا به يې په ګمراهى او ناپوهى سره فيصلې کولې، لکه تاتاريانو به چې خپل سياسي امور د چنګيزخان په لاس جوړشوي قانون په اساس فيصلې کولې چې دهغه کتاب څخه عبارت وه چې ديهوديت،نصرانيت اسلامي امت څخه اخيستل شوى وه او نور هم ورسره ګډ شوي وه او په دې کې ډېر داسې احکام وه چې صرف دده د نظر او نفسي غوښتنې زېږنده وه او بس په دې سره د غه وضعي قانون يې زامنو ته په يو اساسي قانون واو ښته پيروي او اطاعت به يې کاوه،دالله جل جلاله په کتاب او د پيغمبرصلى

---

[250] - احکام ابن حزم ج 6 ص 110 ، اوهمدارنګه ج 2 ص 117 ، 78 ، 77 ،

[251] - مجموع الفتاوى ج 28 ص 524 ، سورت النساء آياتونه : 151- 152 ، الاحکام ج 1 ص 73 .

[252] - سورت مائدة آيت 50 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله علیه وسلم په نبوي سنتو به يې وړاندې کاوه چاچې داکار وکړ هغه کافر شو وژل يې واجب دي تر هغه چې د الله جل جلاله او د هغه د پیغمبرصلی الله علیه وسلم حکم ته بېرته راوګرځي په لړاو ډېر کې یواځې د الله جل جلاله او درسول الله صلی الله علیه وسلم دپرېکړې څخه پرته حکم و نه کړي.[253]

د الله جل جلاله دکتاب او دپیغمبرصلی الله علیه وسلم د سنتو څخه پرته بل چاته خپله فیصله وړل،شیخ حمدبن عتیق نجدی رحمت الله علیه د نواقض الاسلام د ذکر کولو په درشل کې ویلي دي :څوارلسم څیز چې داسلام ماتوونکی دی : د الله جل جلاله د کتاب او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دسنتوڅخه پرته بل چاته خپله فیصله وړل هم د ایمان د نواقضو څخه دی . شیخ حمد بن عتیق دحافظ ابن کثیر رحمت الله علیه ددې قول په هکله چې د الله جل جلاله ددې فرمان په اړه : أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ) ، کې راوړي ،وایي: ددې په څېر عام بانده چیان هم په دې کې واقع دي او ددوی په شان هغه کسان چې دخپلو پلرونو هغه قوانین چې مشرانو يې جوړ کړي او ډېر بد او ملعون موضوعات يې په کې ځای کړي چې د رفاقو قانون ورته ویل کېږي د الله جل جلاله په کتاب او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم په نبوي سنتو يې وړاندې کوي چاچې وضعي قانون په الهي قانون وړاندې کړ کافر دی وژل يې واجب دي تر څو چې بېرته د الله جل جلاله او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم حکم او فیصلې ته را وګرځي [254]

د ابن تیمیه رحمت الله علیه څخه د هغو تاتارینو په هکله پوښتنه وشوه چې یوپه بل پسې د شام په هېواد یرغل کوي اسلام ښکاره کوي خو ډېر شرعي احکام نه پلې کوي د دوی حکم څه دی او په ضدیې جګړه څه حکم لري؟

په ځواب کې یې ورته وویل: د الله جل جلاله لپاره دحمد او ثناء وي: هره ډله له دوی څخه او یا نور خلك چې داسلام ظاهرو احکامو کوم چې په تواتر سره راغلي وي مخ واړوي جګړه ورسره واجب ده تر دې چې اسلامي احکام په ځان و مني اګر که ددې تر څنګ په شهادتینو اقرار وکړي او ځینې شرعي احکام هم مني لکه څنګه چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه د زکات نه ورکوونکي ووژل.

---

- تفسير ابن كثير ج 2 ص 107 . [253]
- مجموعة التوحيد ، رساله بيان النجاة و الفكاك من موالاة المرتدين وأهل الاشراك .ص 214. [254]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې سره فقهاء کرام دعمررضی الله عنه د مناظرې څخه چې دابوبکر صدیق رضی الله عنه سره يې وکړه متفق شول او صحابه کرام هم د اسلامي حقوقو په اعادې سره متفق شول تر څو په قران کريم او نبوي احاديثو عمل وکړی شي.

او همدارنګه د پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه په لسو طريقو باندې دخوارجو په اړه حديث شريف ثابت دی چې : خوارج بدترين دخلکو ظاهراً او باطناً جل جلاله سيرت او صورت) دي ددې سره چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: خپل لمونځونه به ددوی دلمونځونو په پرتله کم ګڼئ او خپلې روژې به د دوی د روژو په پرتله په لږ نظر وينئ. دغه حديث شريف امام بخاری رحمت الله عليه امام مسلم رحمت الله عليه امام ابن ماجه رحمت الله عليه د ابو سعيدرضی الله عنه څخه روايت کړی. امام احمد رحمت الله عليه، امام بخاری رحمت الله عليه، اوامام أبوداود رحمت الله عليه، دعمران بن حصين رضی الله عنه )څخه روايت کړی دی، امام مسلم رحمت الله عليه، امام أبودادرحمت الله عليه دعلي رضی الله عنه څخه، امام احمد رحمت الله عليه، امام أبوداود رحمت الله عليه امام ابن ماجه رحمت الله عليه دانس رضی الله عنه څخه روايت کړی دی.

له دې څخه داښکاره شوه چې يواځې په اسلام باندې منګولې لګول او ځان مسلمان بلل او په ځان داسلامي احکامو له منلو پرته هغه له جګړې څخه نشي ژغورلی نو جګړه ورسره کول واجب ده تر څو ټول دين يواځې د الله جل جلاله لپاره شي او ترڅو فتنه ختمه شي نو کله چې دين دالله جل جلاله څخه پرته د بل چالپاره وي نو جګړه ورسره واجب ده.

نو هره ډله چې دځيني فرضو لکه لمونځونه، روژې، حج او يا دناحقه وينو، مالونو، شرابو، زنا، قمار او يا دخپلوانو د نکاح حراموالی ونه مانه او يا يې دکفارو په ضد جهاد کول او يا په اهلو کتابو جزيه مقررول او داسې نور واجبات او ديني فرايض او محرمات ونه منې هېچاته د هغې په انکار او پريښودو کې عذر نشته په کومو سره چې منکر او نه منونکي د وجوب يې کافر کېږي. نو هغه ډله چې يادشوي څېزونه نه مني جګړه يې په ضد روا ده اګر که په خوله اقرار هم پرې کوي په دې هکله څومره چې ماته معلومات دی د علماء تر منځ اختلاف نشته . [255]

---

- مجموع الفتاوی ج 28 ص 502-503. [255]

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه ابن تیمیه رحمت الله علیه ویلي دي: هره ډله چې داسلام د ښکاره او متواتر کوم حکم د منلو څخه انکار وکړ ددیني علماؤ په اتفاق سره یې په ضد جګړه کول واجب دي اګرکه په شهادتینو باندې اعتراف هم کوي او په خوله سره یې وایي.

که چېرې یې په شهادتینو اعتراف وکړ او د پنځو لمونځونو دکولو څخه یې انکار وکړ په ضدیې جګړه کول واجب ده ترڅو چې لمونځ وکړي.

او که چېرې یې د زکات ورکولو څخه انکار وکړ جګړه ورسره واجب ده تر څو زکات ورکړي او همدارنګه که چېرې د رمضان د میاشتې د روژې نیولو او کعبې شریفې ته د حج کولو څخه انکار وکړي او دبدو کارونو دحراموالي، زنا، قمار، شرابو او داسې نورو حرامو کړل شوو څېزونو د حرمت څخه یې انکار وکړ او همدارنګه که چېرې د ناحقه وینو ، مالونو، ناموس عفت او داسې نورو څېزونو د حکم څخه چې په قران کریم او نبوي احادیثو سره ثابت دي انکار وکړي،او همدارنګه که چېرې په امر بالمعروف، نهي عن المنکر د کفارو په ضددجهاد کولو څخه تر هغه چې تسلیم شي او یا هم په ذلت سره جزیه ورکړي انکار وکړي، او همدارنګه هغه څوك چې دقرانکریم نبوي احادیثو اوسلفوصالحو،امامانو خلاف د بدعت ښکاره کوونکو په ضد جګړه هم واجب ده تر دې چې ابن تیمیه رحمت الله علیه وویل: الله جل جلاله فرمایلي دي: جل جلاله وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ) [256]

ژباړه: وجنګېږی جل جلاله  ای مومنانو) له دغو کفارو سره ترهغه پورې چې نشي پاتې فتنه جل جلاله  فساد په ځمکه کې) او شي دین جل جلاله  حکم ) ټول خاص الله لره جل جلاله  او نور ټول باطل ادیان ورک شي ) .

که چېرې ځینې ددین د الله جل جلاله  لپاره او ځینې نور پرته د الله جل جلاله څخه وي نو جګړه او جهاد واجب دی ترڅو ټول دین یواځې د الله جل جلاله لپاره شي. [257]

ټبر شوي نصوص په دې دلالت کوي چې شرعي مسوولیت د عامو مسلمانانو په غاړه دا دی چې د کافر مشر په ضد پاڅون او هغه له قدرت څخه لرې کول او په ځای یې د مسلمان مشر ټاکل واجب

---

- سورت انفال آیت 39 . [256]
- مجموع الفتاوی ج 28 ص 510- 511 . [257]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او حتمي دي كه څوك دا توان ولري پاڅون كول پرې حتمي دي او د الله جل جلاله په وړاندې يې لوى اجر دى.

او كه څوك دا توان نه لري چې د غه كافر مشر د قدرت څخه كوښه كړي نو شرعي دلايلو دا په ډاګه كړې چې په دې مهال د كافرمشر د كوښه كولو لپاره تيارى اودحالاتو برابرول ترڅو دېتولو لورو څخه پاڅون ته لاره هواره شي دا هغه واجب دي چې هېڅكله له منځه نه ځي او الله جل جلاله هېڅوك د هغه د توان څخه د پاسه نه مكلفوي.

الله جل جلاله فرمايلي دي: وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تُظْلَمُونَ ﴿60﴾ [258]

ژباړه: او تيارى جل جلاله اى مومنانو) لپاره د جل جلاله جنګ ) ددغو جل جلاله ماتوونكو دعهد يا دمطلق كفارو) څومره چې توانيږي جل جلاله جمع كولى شي ) تاسې له قوت جل جلاله اسباب د جنګ ) او له روزل شوو ساتل شوو آسونو جل جلاله لپاره د جهاد ) چې ويروي تاسې په دغه جل جلاله قوت او تياري ) سره دښمنان دالله او دښمنان ستاسې او نور كسان بې له دوى نه چې نه پيژنى تاسې هغوى الله عالم دى په جل جلاله عدالت د ) هغوى او هرهغه څه چې نفقه كوي جل جلاله لګوى ) تاسې له يوه شي په لاره د الله كې جل جلاله لپاره د ترقى د دين ) پوره جل جلاله بدل دهغه ) به در كړشي تاسې ته حال داچې پرتاسې به ظلم و نكړى شي جل جلاله د ثواب په لږوالي او دعذاب په ډيروالي ) .

په دې مبارك آيت كې الله جل جلاله خپلو مؤمنو بندګانو ته دوسلو او جګړه ايزو ضرورياتو د برابرولو امر كوي چې دمشركانو او دالله جل جلاله د دښمنانو د مقابلې لپاره د جګړې څخه وړاندې د دښمن دوېرولو او دآسونو دتيارولو لپاره لازمي ده ځكه چې د جګړې څخه وړاندې تيارى په جګړه كې د ښه نيت ښكارندويې كوي او دتيارى نشتوالى د وروسته والي ښكارندويې كوي چې دادمنافقانو دصفاتوڅخه دي، لكه څنګه چې الله جل جلاله فرمايي: جل جلاله وَلَوْ أَرَادُواْ الْخُرُوجَ لأَعَدُّواْ لَهُ عُدَّةً وَلَكِن كَرِهَ اللّهُ انبِعَاثَهُمْ ............ ﴿46﴾ [259]

---

[258] - سورت انفال آيت 60 .

[259] - سورت توبه آيت 46 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: که اراده وی د وتلو جل جلاله غزاته له تاسره ) نو هرو مرو تيار کړی به ؤ دوی دپاره د وتلو غزاته څه اسباب د تيارۍ ولکن نه وه غوره کړی الله پورته کيدل ددوی جل جلاله غزاته ) .

داځکه چې دوی د جهاد د لپاره تیاری نه وه نیولی او د جګړو لپاره یې څه ګڼل او ناکام یې کړل بیا د ناکامانو سره یو ځای کښېناستل:

دلته اساسي توان او قوت د دښمن د مقابلې لپاره ټول هغه څه برابرول دي چې په جګړه ترې کار اخیستل کېږي خو په یقیني ډول پرته له شك څخه ایماني قوت ترما دي قوت وړاندې او مخکښې رول لوبولی شي، ځکه چې الله جل جلاله جل جلاله دسورت په لومړي سرکې دایمان د جوړښت دپیغمبرصلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروي،داختلاف نشتوالي په دنیوي څيزونو باندې دمقابلې اوجنجال ختمول،بیایې د سورت په نیمایي کې د مادي تیاری امر،او په دې مبارك ایت کې هم په مادي تیاری امر کوي، الله جل جلاله جل په ډېرو ایاتو نو کې عموماً په ایماني تیاری امرکوي او له جګړې څخه وړاندې ورته په خاص ډول امر کوي الله جل جلاله په عام ډول په تقوی باندې د امر کولو په اړه فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَآمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿28﴾ [260]

ژباړه : ای مومنانو وويريږی تاسې له عذابه د الله او ايمان راوړی په رسول ددغه جل جلاله الله چې محمد دی ) چې درکړي تاسې ته دوی حصې برخې له رحمته خپله او چې وګرځوي تاسې لره يوه رڼآ چې تلل په هغې سره جل جلاله پر صراط ) او و ښښي تاسې ته جل جلاله ګناهونه ستاسې ) او الله ښه مغفرت کوونکی جل جلاله دخطیآتو) ډیر رحم والادی جل جلاله په انعام د اجر او ثواب سره ) .

او همدارنګه الله جل جلاله فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿102﴾ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ ............ ﴿103﴾ [261]

ژباړه: ای مومنانو وويريږی له الله نه په حق دويرې دده او مه مری مګر پداسې حال کې چې مومنان جل جلاله موحدان ) یاست او منګولي ولګوی جل جلاله ای مومنانو ) تاسې په رسی د الله جل جلاله چې قرآن دی ) ټول او مه سره مختلف کيږی جل جلاله وروسته له اسلامه ) .

او داسې نور ډېر آياتونه په قرانکريم کې ذکر شوي دي.

---

[260] - سورت الحديد آيت 28 .

[261] - سورت آل عمران آيت 103- 102 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایمان د صحت او جوړوالي امر د تقوی د اسبابو لټونه او منګولې پرې لږول دي د دې وضاحت چې د الله جل جلاله دلارې دمجاهدینو لویه وسله چې ځانونه پرې سنبالوي دالله جل جلاله دغه فرمان یې په اړه ذکر شوی چې فرمایی : جل جلاله إِذْ قَالَتِ الْمَلآئِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿45﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿46﴾ قَالَتْ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ قَالَ كَذَلِكِ اللّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿47﴾ [262]

ژباړه: ای مومنانو کله چې مخامخ شی کوم فوځ جل جلاله ددښمن) سره جل جلاله چې جنګ درسره کوي نو ثابت قدم اوسی تاسې جل جلاله او مه تښتی ) او یادوی تاسې الله جل جلاله ډیر جل جلاله په خوله او زړه ) ښایی چې تاسې په مراد ورسیږی جل جلاله په بري سره په دښمن د ذکر په برکت ) او حکم ومنی تاسې د الله او درسول ددغه الله ) او مه کوی جګړه په خپلو منځونو جل جلاله په کارد جهاد کې ) پس بې زړه به شی تاسې او ولاړ به شي باد دنصرت او قوت او جل جلاله دولت ) ستاسې او صبر کوی جل جلاله په قتال اوسختیو،بیشکه الله له صابرانو سره دی په جنګ کې په نصرت او حاظت ) او مه کیږی ای مومنانو) په شان د هغو کسانو چې را ووتل له کورونو خپلو دپاره د فخر او ښودنې خلکو ته شوکت دبدبه خپله ) او اړوي دوی خلک ) له لارې د الله جل جلاله څخه .

یقیناً الله جل جلاله خپلو مجاهدو بندګانو ته د صفونو د یوځای کېدو او دټولیو دمخامخ کېدو په مهال د ثابت او ټینګ درېدو او د الله جل جلاله دزیات ذکر او یادښت او دپیغمبرصلی الله علیه وسلم داطاعت او پیروی او دالله جل جلاله په رسي د ټینګومنګلو لږولو دجنجال او اختلاف د پریښودلو کوم چې د ناکامی توان او طاقت د ختمېدو لامل ګرځي امرکوي. کوم چې په دې مبارك آیت کې یې امر را غلی د هغه قوي او کاري وسلې څخه دی چې مجاهدین خپل ځانونه پرې مسلح کوي او د ښمنان یې چې هر څومره مادي قوت او زور ولري داسې وسله نشي ترلاسه کولای که چېرې مجاهدین داسې وکړي نو الله جل جلاله ورسره دی له همدې امله الله جل جلاله خپل فرمان په دې مبارک آیت سره ختم کړی چې: **جل جلاله** إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴾ [263]

ژباړه : یعني الله جل جلاله د صابرانو ملګری دی.

---

262 - سورت انفال آیت : 45- 47 .
263 - سورت بقره آیت 153 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له چاسره چې الله جل جلاله ملګرى شي او بريالى يې کړي نو هېڅوك نشي پرې کامياب بدى لکه چې الله جل جلاله فرمايي: جل جلاله إِن يَنصُرْكُمُ اللّهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكِّلِ الْمُؤْمِنُونَ) [264]

ژباړه: که مرسته وکړي له تاسې سره الله جل جلاله لکه چې په بدر کې يې وکړه ) نونشته جل جلاله هيڅ) غالب پرتاسې باندې او که مرسته ونه فرمايي له تاسې سره جل جلاله  الله چې په احد کې يې پرېښودى ) نو څوک دي هغه چې مرسته به وکړي له تاسې سره وروسته له هغه جل جلاله  خذلان د الله جل جلاله لخوا) .

په جل جلاله الاکتفاء بما تضمنه من مغازي رسول الله و الخلفاء) کې راغلي دي:

ابو عبيده رضى الله عنه دجهاد صف برابرکړ دلومړي سرڅخه يې تر پايه پورې معاينه کاوه او کاته به يې د هر بيرغ او هر قدم سره به درېده او ويل به يې: اى دالله جل جلاله بندګانو د الله جل جلاله څخه نصرت او بریاليتوب په صبر سره وغواړئ ځکه چې الله جل جلاله  دصابرانو ملګرى دى، اى د الله جل جلاله  بندګانو: زېرى او بشارت د هغو کسانو لپاره دى چې ستاسو څخه شهيد شي او څوک چې ژوندى پاتې شي دهغوى لپاره د نصرت اوغنيمت زېرى دى، مګر خپل ځانونه په جګړه دغشو په ويشتلو د تورو په وهلو، د نېزو په کارولو د همزولو سره په مقابله کولو ټينګ او محکم کړئ. ځکه په الله جل جلاله سره سوګند کوم هغه څه چې دالله جل جلاله  سره دي پرته د هغه داطاعت په سختو ځايونو او جګړه ايزو سنګرونو کې دهغه پروردګار درضا دغوښتنې څخه پرته لاس ته نه راځي.[265]

بېشکه الله جل جلاله دخپلو هغو دوستانو حالات بيان کړي چې د بدر په ورځ دخپلو د ښمنانو د مقابلې لپاره ووتل خوکله يې چې خپل لږ شمېر او کمه وسله وليده،د دښمن د زيات شمېر اوښه تيارې په مقابل کې چې ټول له يوې مخې راوتلي وه نو په دې مهال مومنانو هغه عظيم قوت ته مخه کړه چې بل هېڅوك قوت يې مقابله نه شي کولاى او په هغه دروازه يې منګلوې ټينګې کړې چې په لاس يې د اسمانونو او ځمکې پاچاهي ده او هغه ذات چې د مومنانو د دښمنانو د هلاکېدو اراده په يو لفظ دجل جلاله کن) يعنې شه ، سره وکړي نوالله جل جلاله دا کولى شي دحکم منع کوونکي يې نشته

---

- سورت آل عمران آيت 160 . [264]
- الاکتفاء بما تضمنه من مغازى رسول الله ...ج 3 ص [265] 201

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د امر وروسته کوونکي یې نشته، په دې پو هېږو چې څه توان او طاقت نه لرو دوی څه توان او زور نه لري مګر کله چې په الله جل جلاله سره توکل و کړي او په صداقت سره الله جل جلاله ته مخ واړوي او دالله جل جلاله په وړاندې عاجزي ښکاره کړي نو الله جل جلاله د دوی دحالت بیان موږ ته کړي چې فرمایی : إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ [266]

ژباړه: یادکړی هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسې رب خپل ته نو الله ور ورسیده له پاره دجل جلاله فریاد ) ستاسې چې بیشکه زه مرسته کوونکی یم له تاسې سره په زرو تنو له پرښتو څنې یوه په بله پسې راتلونکې .

یقیناً زموږ دپیغمبرصلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو حالت دبدر په ورځ همداسې وه کله یې چې د مشرکانو ځواك ولید لکه څنګه چې قران کریم یې انځور وړاندې کړی په ډېر تکبر او ځان ښودنې سره دمسلمانانو مقابلې ته راووتل د پلو،سورو او مشرانو څخه یې هېڅوك وروسته نشول بلکې ټول په یو مخ را ووتل ددې لپاره مقابلې ته راغلل چې دغه د اسلام مبارك دین بالکل له منځه یوسي مسلمانان ختم کړي خلك یې یاد کړي او هر وخت دغه وېره په مسلمانانو وتپي خوکله چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو دکفارو مادي توان ولید چې دمقابلې توان یې نشته نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم خپلې سختې تکیه ګاه ته مخ وا ړاوه او هغه ځواکمن ذات ته یې هیله او امید وکړ چې عادل دی او ټوله شپه پیغمبرصلی الله علیه وسلم دخپل پروردګار په وړاندې په عاجزۍ، خوارۍ او خشوع سره ولاړوه دعا او زاري یې کوله تر څو چې سهار شو دصحابه کرامو زړونه پرې وسول تردې چې جبریل جل علیه السلام ) او ورسره پرښتې یې ولیدې نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم زېری ورکړ خپلو صحابه کراموته یې بشارت ورکړ چې پرېښتې راغلې.[267]

له همدې امله امام بخاري رحمت الله علیه یو باب په دې نوم سره چې: د جګړې څخه وړاندې نیك عمل،په دې اړه یې دحضرت ابوالدرداء رضی الله عنه دغه قول راوړی چې: یقیناً تاسو د خپلو اعمالو په سبب جګړه کوی په دې کې دأبو الدرداء رضی الله عنه دغه ټکي ته اشاره ده چې د بریالیتوب دلویو اسبابو او لاملونو څخه دجګړې نه وړاندې نیك عمل کول دي.

- سورت انفال آیت 9 . [266]
- الخصائص الکبری ج 1 ص 330.[267]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**امام ابن القیم رحمت الله علیه د غه معنی پخپل کتاب قصیده نونیه کې راوړي وایي:**

1- دغه داسې ده چې د الله جل جلاله دلښکر جګړه په اعمالو سره وي نه د زړه ورو ګرو پونو په زور سره.

2- زما دپه الله جل جلاله سره سوګند وي چې هېوادونه یې په ډېر ښت فتح کړي نه دي په داسې حال کې چې دښمن یې بې شماره ډېر وه .

3- همدارنګه زړونه یې په دې نظریاتو سره نه دې فتح کړي بلکې په علم او ایمان سره یی فتح کړي دي.

موږ ته قران کریم بیان کړي چې زموږ څخه وړاندې دمومنانو حالت هم همداسې وه یقیناً الله جل جلاله دبني اسرائیلو دحالت څخه بیان کوي کله یې چې د دښمن،زور،قوت زیات اوخپل شمېر او قوت لږ ولید الله جل جلاله فرمایی : وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُواْ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ . [268] .

ژباړه: اوکله چې راووتل جل جلاله مخامخ شول ) دوی لپاره جل جلاله د جنګ ) دجالوت او د لښکرو دده نو وویل دوی جل جلاله یعني مومنانو) ای زموږ ربه نازل جل جلاله راتوی ) کړه پرموږ صبر او کلک کړه قدمونه زموږ جل جلاله په جنګ کې ) او مرسته وکړه له موږ سره په قوم د کافرانو .

کله یې چې الله جل جلاله ته رجوع وکړه او دخپل مسکین توب او عاجزۍ لاسونه یې د الله جل جلاله په وړاندې پورته کړل نو نتیجه یې ډېره زرپه جل جلاله فاء) سره چې ترتیب دتعقیب سره افاده کوي راغله فرمایي: فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ [269] .

ژباړه: نومات کړل مومنانودوی جل جلاله یعني کافران ) په اذن جل جلاله حکم ) د الله سره او مړ کړ داود جالوت لره او ورکړ ده ته جل جلاله یعنی داود ته ) الله سلطنت او حکمت جل جلاله او نبووت وروسته له مرګه دطالوت او اسموئیل علیه السلام ) او وبی ښودل ده ته له هغو شیانو چې اراده یی کوله .

قران کریم یې نه یادوي بلکې په دې پرېکنده نتیجه کې یې د مادي زور او قوت هېڅ اشاره نده کړې دا دخپلو مجاهدو بندګانو لپاره یو تنبیه ده چې په الله جل جلاله باندې توکل په رښتیا سره همدغه

---

[268] - سورت بقره آیت 250 .

[269] - سورت بقره آیت 251.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذات اقدس ته ځان سپارنه او په مخ کې یې عاجزي کول او د الله جل جلاله په لار کې د جهاد رېښتینی نیت کول همدغه مخ په وړاندې وسله په ټولو جنګونو اوجګړو کې پرېکنده وسله ده. دهغو جامع آیاتونو څخه چې د دښمن سره د مقابلې نه وړاندې د تقوی او اطاعت د وسلې کارولو اهمیت او ارزښت بیانوي او دا چې ددغې وسلې اغېز ډېر لوی دی او بې له شکه د نصرت او بریالیتوب د رامنځ ته کېدو لامل دی الله جل جلاله فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ .[270]

ژباړه: ای مومنانو که مددګاري وکړی تاسې له جل جلاله دین د الله او رسول د ) الله سره نو مدد به وکړيجل جلاله الله ) له تاسې سره جل جلاله په غلبه پردښمن ) او ثابت کړي قدمونه ستاسې جل جلاله په ځای د جنګ ) .

او همدا رنګه الله جل جلاله فرمایلي دي: وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ .[271]

ژباړه: او خامخا مرسته به وکړي هرو مرو الله له هغه چا سره چې مرسته ورکوي جل جلاله دین د) دغه جل جلاله الله ) ته بیشکه چې الله خامخا قوي جل جلاله د خپلو احکامو په تنفیذولوکې ) ډېر زورور دی جل جلاله په هرچا) .

یقیناً الله جل جلاله یې بریالیتوب په هغه څه پورې درولي چې څوك د الله جل جلاله دپیغمبرصلی الله علیه وسلم نصرت کړی وي او دالله جل جلاله د دین نصرت کوي او دا د بریالیتوب په راتلوکې دشرط په بڼه دی او ان شاءلله تعالی په راتلونکي مبحث کې به یې په تفصیل سره دغه ځانګه د تیاری په هغه بحث کې وڅېړو چې هغه آدابو پورې اړه لري چې باید دالله جل جلاله دلارې مجاهدین ځان پرې سنبال کړي چې دا د بریالیتوب په ګټلو کې ډېر مهم او ارزښتناك دی. موږ وینو چې د بندګانو څخه د نصرت او بریالیتوب د وروسته والي اصلي او اساسي سبب او لامل دادی چې دالله جل جلاله او دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په حق کې کوتاهي او دخپلو ورونو په برخه کې دهغوی دحقوقو نه مراعات کول دي، ځکه چې دالله جل جلاله سنت او لاره په خلکو کې تېره شوې او هېڅکله نه بدلېږي هغه داچې ګناه او کوتاهي د جګړې او جهاد څخه د وروسته والي لامل ګرځي دامیر پیروي او زیار ایستل دبریالیتوب او کامیابۍ سبب دی، دغه لار او طریقه نه وروسته کېږي او نه تغیر مومي آن تر

- سورت محمد آیت 7 .[270]
- سورت حج آیت 40 .[271]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو په وړاندې هم پلې شوي او له دوی سره موجود وه.

کله چې ځينې صحابه کرامو دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دامر په اجتهادي ډول مخالفت وښود داحد په غزا کې يې اجتهاداً امر ونه مانه نو د مشرکانو غشي او نېزې پس له هغه ورته ورسېدې چې د ورځې په اول کې مسلمان غالب وه له همدې سببه راشد خلیفه عمر بن الخطاب رضی الله عنه سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه  ېی دغه ټکي ته متوجه کړ او ویې فرمایل: یقیناً تاسې خپل دښمن د الله جل جلاله داطاعت او پیروي په سبب او دښمن مو د هغه د نافرمانۍ په سبب ورسره جګړه کوي که چېرې تاسې او هغوی په ګناه کې سره برابر شوي نو پرتاسو غالبېږي بیاپې ورته وفرمایل: دغه ټکی د تاپه دوکه کې ونه غورځوي چې تاته د د پیغمبرصلی الله علیه وسلم  صحابي او ماما ویل کېږي.

د الله جل جلاله  اوکوم چا تر منځ پرته د هغه داطاعت او پیروي څخه بل کوم سبب نشته دخلکو اصل او کم اصل دالله جل جلاله  په وړاندې سره برابر دی الله جل جلاله یې رب او پالونکی دی او دوی يې بندګان دي یو تر بل د اخري خاتمې په ښه والي غوراوی دی او هغه څه چې د الله سره دي د هغه په پیروي سره موندل کېږي. [272] .

که موږ وغواړو چې اسلامي خلافت منځته راشي اوپه دښمن باندې غالب او بریالي شو نو د مادي اسبابو څخه وړاندې باید الله جل جلاله په حق کې د کوتاهۍ او ګناه جبیره وشي او حتماً باید دتقوی او پرهېزګارۍ اسباب و لټول شي تر دې چې د الله جل جلاله څخه څه و غواړو او دعاورته وکړو الله جل جلاله يې د قبوله کړي الله جل جلاله  ښه پوهېږي.

امام طبري رحمت الله علیه د اعداد او تیاري دآیت شریف په تفسیر کې ویلي دي: الله جل جلاله فرمایلي دي : ددې خلکو لپاره چې پخپل رب کافران شوي او ستاسو او دوی ترمنځ عهد او پیمان هم شته کله چې د دوی د خیانت او غدر څخه ووېرېدی نو تیاری ورته ونیسی، او په الله جل جلاله او پیغمبرصلی الله علیه وسلم  ایمان راوړونکو. جل جلاله مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ) وایي: څومره چې توان يې لری دآلاتو څخه یی ورته تیارکړئ چې ستاسو لپاره د دوی په مقابل کې یو قوت او ځواك وي لکه وسله، آسونه، جل جلاله تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ) وایي: تاسې په دې تیاری سره د الله جل

- الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله و الخلفاء ج 4 ص 158 . [272]

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلاله او خپل دښمنان جل جلاله له مشركانو څخه ) وېروي دغه اثر امام طبري رحمت الله عليه پخپل سند سره راوړي دي.

د علي الهمداني رحمت الله عليه څخه راغلي چې ده دعقبه بن عامر رضی الله عنه څخه په داسې حالت کې اورېدلي چې په منبرباندې ناست وه اوويل يې: الله جل جلاله فرمايلي دي: وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ )[273] خبر دار اوسئ چې قوت دغشی ويشتل دي خبردار اوسئ چې قوت د غشی ويشتل دي درې ځلې يې وويل.داحديث امام مسلم رحمت الله عليه،امام ترمذي رحمت الله عليه،امام أبوداد رحمت الله عليه، امام ابن حبان رحمت الله عليه،امام ابن ماجه رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه او امام بيهقي رحمت الله عيه روايت کړی دی.

د عکرمة رضی الله عنه څخه دالله جل جلاله ددې مبارك فرمان په اړه چې: وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ ) څخه يې مطلب نر آسونه دي او دجل جلاله رباط الخيل) څخه يې مطلب ښځې آسونه دي.

در جاء بن ابي سلمه رحمت الله عليه څخه روايت دی چې ويلي يې دي يو سړی په مکه مکرمه کې دمجاهد رحمت الله عليه سره يو ځای شو او د مجاهد رحمت الله عليه سره جوالونه جل جلاله بوجی ) وي ده وويل چې مجاهد رحمت الله عليه وفرمايل: دغه توانايي ده او مجاهد رحمت الله عليه دجهاد لپاره ځان تياراوه او د سدي رحمت الله عليه څخه روايت دی چې جل جلاله وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ) څخه مطلب وسله ده او دا فرمان درب العالمين دی چې: جل جلاله تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ ) نو دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه راغلي چې ويلي يې دي: مطلب داچې پدې قوت سره دالله جل جلاله او ستاسې دښمنان پرې سپکوي تر دې چې وېې ويل: ابن زيد رحمت الله عليه د الله جل جلاله ددې فرمان په اړه ويلي دي چې : جل جلاله وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ): دغه ډله منافقان دي تاسې نه پرې پوهېږی ځکه چې ستاسې سره دي او په خوله وايي لااله الا الله او ستاسې ترڅنګ جنګېږي نورو علماو ويلي چې دا دپيريانو څخه يوه ډله ده، ابوجعفررحمت الله عليه ويلي دي: صحيح قول په دې کې دادی چې وويل شي: الله جل جلاله مومنانو ته دجهاد کولو تياری دجنګې وسلو برابرول او دهغه څه برابرول چې د الله جل جلاله د دښمنانو او د دوی د دښمنانو چې مشرکان دي لکه وسله، لنده، دآسونو تنظيمول او داسې نور او همدارنګه بايد وويل شي چې دا دليل کېدای نشي چې دقوت او توانمندی څخه مطلب د توانايي د معناګانو څخه يوه

---

- سورت انفال آيت 60 . [273]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته معنی ده په داسې حال کې چې الله جل جلاله د هغو په ټولو عامو معناوو سره امر کړی دی، که چېرې کوم ویونکی ووایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړې چې له دغه عام والي څخه یې مطلب دغه ځانګړ تیا ده چې فرمايي: الاان القوة الرمي) په دې خبردار اوسئ چې توانايي دلندی ویشتل دي. په ځواب کې یې ویل کېږي: اګر که په حدیث شریف کې دا ذکر شوي وي نو دا ترې مطلب نشي څرګندېدای چې د خیر څخه هدف یواځې دغشي ویشتل دي پرته د توانايی دنورو معناګانو څخه ځکه چې دغشي ویشتل دتوانايی دمعنا ګانو څخه یوه معنی ده ځکه چې په حدیث شریف کې ویل شوي دي خبر دار چې قوت او توانايي د غشي ویشتل دي او دا یې نه دي ویلي چې نوره توانايي نشته او دتوانايی څخه توره، لینده، نېزه او هر هغه څه چې د مشرکانو په وژنه کې ترې کار اخیستل کېږي لکه د غشي ویشتل یا ددې څخه ښه وسله چې دکفارو په سپکوالي او ذلت کې ترې کار واخیستل شي. [274]

امام قرطبي رحمت الله علیه دالله جل جلاله ددې مبارك فرمان په اړه چې : جل جلاله وَأَعِدُّواْلهم ) ویلي دي: الله جل جلاله مومنانو ته امر کوي چې د دښمنانو د مقابلې لپاره قوت او توانايي تر لاسه کړئ خو په دې یې زور راوړئ چې باید لومړی دتقوی په لباس ځان سنګار کړي که الله جل جلاله غوښتي وي نو کفار به یې په خبرو او یا هم په مخونو یې د یوموټي خاورې په شیندلو سره ناکام کړي وای لکه چې رسول صلی الله علیه وسلم همداسې وکړل مګر الله جل جلاله غواړي چې ځینې خلك په ځینې نوروسره د مخکینې علم او پلې شوي پرېکړې په اساس امتحان کړي کله چې دیو ملګري لپاره نیکی او دیو دښمن لپاره بدی برابروي داهم په تیاری نیولو کې شامل دي، غشي

ابن عباس رضی الله عنهما وايي: تیاری دلته وسله او روپی دي ، په صحیح امام مسلم کې دعقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی چې فرمايي: ما دپیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې هغه په منبرناست وه فرمایل یې: جل جلاله وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ ) په دې خبردار شئ چې قوت دغشي ویشتل دي خبردار شئ قوت دغشي ویشتل دي خبردار اوسئ چې قوت دغشي ویشتل دی. یو بل حدیث شریف د عقبه جل جلاله رضی الله عنه ) څخه روایت دی چې فرمايي: ما د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: زر دی چې الله جل جلاله په تاسو ډېرې سیمې فتح کړي الله جل جلاله ستاسو لپاره بس دی ، نو یو ستاسې څخه دناتوانه او عاجز نه کېږي چې په

---

- تفسیر طبري ج 10 ص 32 . [274]

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو عشو لوبې وکړئ دا حديث شريف امام مسلم رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه،امام ابوعوانه رحمت الله عليه،او امام بیهقي رحمت الله عليه روايت کړی دی.

په بل حديث شريف کې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: په هر څيز چې يوڅوك لوبې کوي باطل او ناحق دی مگر دغشي ويشتل،خپل آس ته تمرين ورکول او دخپلې مېرمنې سره ساعت تېرول دا درې څېزونه صحيح او حق دي.

دا حديث شريف امام ترمذي رحمت الله عليه،امام آبوداود رحمت الله عليه او امام نسايي رحمت الله عليه روايت کړی او صحيح يې بللی او همدارنگه امام احمدرحمت الله عليه،امام بیهقي رحمت الله عليه ، امام ابن حيان رحمت الله عليه او امام ابن ابي شيبه رحمت الله عليه هم روايت کړی دی.

ددې حديث شريف معنی داده : الله جل جلاله ښه پوهېږي هر هغه څېز چې سړی پرې لوبې کوي خو دا نه اوس او نه به په راتلونکي کې څه گټه ولري نو دا کار باطل او ناروا دی او مخ گرځول ترې غوره دي، دغه درې څېزونه اگر که پرې لوبې کېږي او ذهن پرې تازه کېږي خو دا حق دی چې په هغه څه پورې تړل دي چې گټه لري ځکه د غشي ويشتل او آس تربيه کول دا ټول هغه څيزونه دي چې په جگړه کې مرسته کوي او د خپلې مېرمنې سره لوبې کول ښايي هغه څه ته واوړي چې زوی يې تولد شي چې بيا به الله جل جلاله په يو والي مني او د همغه ذات عبادت به کوي له همدې امله دغه درې څيزونه حق او صحيح دي دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دی چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه يې ذکر کړی چې: الله جل جلاله درې کسان په يو غشي جنت ته داخلوي: جوړوونکی يې چې په جوړولو کې يې د الله جل جلاله څخه اجر غواړي،او ويشتونکی يې .

دا حديث شريف امام أبوداود رحمت الله عليه،امام ترمذي رحمت الله عليه او امام نسايي رحمت الله عليه په دې لفظ سره روايت کړی چې: په جوړولو کې يې دالله جل جلاله څخه خير او اجر غواړي، همدا حديث د امام نسايي رحمت الله عليه سره دخالد بن يزيد رضی الله عنه په روايت سره ذکر شوی او امام نسايي رحمت الله عليه وايي: حسن بن اسماعيل بن مجالد خبر راکړی چې عيسی بن يونس دعبدالرحمن بن يزيد جابر څخه روايت کړی او ويلي يې دي چې ماته أبوسلام دمشقي ويلي چې خالد بن يزيدجهني ويلي عقبه بن عامر زما تر څنگ تېرېده وېې ويل ای خالده راځئ چې لاړ شو غشي وولو يوه ورځ له دوی څخه وروسته شوم بيايې وويل ای خالده: راشه چې د هغه څه نه دخبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم چې رسول صلی الله علیه وسلم  فرمایلي دي نو زه راغلم بیاېې وویل چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم  فرمایلي دي: الله جل جلاله  په یوغشي باندې درې کسان جنت ته داخلوي جوړوونکی یې چې په جوړولو کې یې دالله جل جلاله څخه اجر غواړي، د هغه ویشتونکی اولینده یی،غشی وولئ په آسونو سواره شئ، چې غشي وولئ ماته ډېرګران دي تر هغه چې په آسونو سواره شي، لوبې یواځې په درې څېزونو کې دي یو سړی د خپل آس تربیه کول ا و دخپلې مېرمنې سره لوبې کول، پخپل غشي او لیندی سره ویشتل چاچې دغشي ویشتل د هغې د زده کړې څخه وروسته پرېښودل چې مخ ترې وګرځوي نو دانعمت دې ناشکري او کفران یې وکړ. بیایې وویل: په هغه نعمت یې ناشکري وکړه. خالد بن یزید یواځې امام ابن حبان رحمت الله علیه توثیق کړی ، کله چې سنن دامام أبوداد رحمت الله علیه ته مراجعه وکړې نو دخالد بن یزید څخه یی روایت کړی وه ویل یې: سعید بن منصور خبر راکړی چې عبدالله بن مبارك راته ویلي چې عبدالرحمن بن یزید بن جابر راته ویلي چې: ابو سلام راته ویلي چې خالد بن زید او هغه دعقبه بن عامر څخه روایت کړی ویلي یې دي چې ما دپیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: الله جل جلاله په یو غشي سره درې کسان جنت ته داخلوي جوړوونکی یې چې په جوړولو سره یې د الله جل جلاله څخه اجر غواړي او د هغه ویشتونکی او لینده یی،غشی وولي آو په اسونو سواره شي چې غشي وولي دا ماته ډېر غوره دی له دې چې په آسونو سواره شي،نشته لوبې مګر په درې څېزونوکې: یوسړی خپل آس ته تمرین ورکوي او د خپلې مېرمنې سره لوبې کوي په خپل غشي او لیندې سره ویشتل کوي چاچې د غشي ویشتل وروسته ترزده کړې هېرکړل او مخ یې ترې وګرځاوه دا د الله جل جلاله نعمت دی چې پرې یې ښود او یایې دهغه ناشکري وکړه په زیات ګومان سره کوم چې په سنن نسایي کې راغلي غلط دی او صحیح یی خالد بن زید دی.

همدارنګه امام احمد رحمت الله علیه دغه حدیث له څلورو طریقو څخه روایت کړی چې په درې واړه سندونو کې دخالد بن زید څخه او څلورم سند یې دعبدالله بن ازرق څخه روایت شوی،امام مناوي رحمت الله علیه په فیض القدیر کې ویلي دي: امام احمد رحمت الله علیه د عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت کړی په سند کې یې خالد بن زید دی ابن قطان رحمت الله علیه ویلي دي : هغه مجهول الحال دی دهمدې سببه حدیث نه صحیح کېږي. [275]

- فیض القدیر ج 2 ص 299. [275]

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابن ماجه رحمت الله دا حديث د بلې لارې د عبدالله بن زيد بن أزرق رحمت الله عليه څخه روايت کړی او ويلي يې دي: امام ابو بکر بن ابي شيبه رحمت الله عليه را ته ويلي چې يزيد بن هارون رحمت الله عليه را ته ويلي دي چې هشام الدستوايي رحمت الله عليه خبر کړي يو ديحيى بن أبي کثير څخه له ابوسلام هغه له عبدالله بن ازرق څخه او هغه له عقبه بن عامر جهني او هغه له پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی چې فرمايلي يې دي: يقيناً الله جل جلاله په يوه غشي سره درې کسان جنت ته داخلوي جوړوونکی يې چې په جوړولو کې يې د الله جل جلاله څخه اجر غواړي او ويشتونکی يې او مرسته ورسره کوونکی يې .

او همدا رنګه پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: غشی وولئ او سورلي وکړئ او چې غشی وولئ ماته ډېر غوره دی له دې څخه چې په آسونو سواره شئ هرهغه څه چې مسلمان پرې لوبې کوي باطل دي مګر ويشتل يې د غشي او دخپل آس تمرين يې او دخپلې مېرمنې سره لوبې دا درې څيزونه حق او صحيح دي. عبدالله پرته له امام حبان رحمت الله عليه څخه بل چانه دي توثيق کړی او همدا رنګه دغه حديث شريف امام دارمي رحمت الله عليه د عبدالله بن زيد الأزرق له لارې روايت کړی دی .

د الله جل جلاله دغه مبارك فرمان چې: وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ) امام حسن، امام عمرو بن دينار اوامام ابو حيوة رحمت الله عليهم اجمعين ويلي چې: ومن رُبُط الخيل) د راء او باء په ضمي جل جلاله پيښ) سره جمع د رباط لکه کتاب او کُتُب،امام ابوحاتم رحمت الله عليه دامام ابن زيد رحمت الله عليه څخه نقل کړی چې: رباط) د آسونو څخه پنځه او له هغه څخه زياتو ته وايي او تړلی يې دجل جلاله ربط) دی دا هغه دی چې يوله بل سره تړل کېږي دا د دښمن په وړاندې دآسونو تړلوته وايی . شاعر ويلي دي:

**الله جل جلاله دآسونو د تړلو امر د دښمن په وړاندې کړی**

**په جګړه کې چې ښکه الله جل جلاله ښه بريالی کوونکی دی**

مکحول بن عبدالله رحمت الله عليه ويلي دي:

**تاسو ما په دې ملامتوی چې د دښمن په وړاندې آسونه برابروم او ساتم يې**

**او الله جل جلاله خپل پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته ددې کار امر کړی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آسونو د ساتلو ډېر لوی فضیلت او اوچت مقام دی دعروة البارقي رحمت الله علیه او یا آسونه دجهاد لپاره تیار ولاړ وه مستحب او ښې یې ښځې اسپې دي.

حضرت عکرمه رحمت الله علیه او نورو امامانو ویلي چې : همدا صحیح نظر دی ځکه چې د اسپې خېټه خزانه ده او شايي فخر او وياړ دی او همدا رنګه د جبریل جل جلاله علیه السلام ) سورلی اسپه وه، امامانو جل جلاله علیهم السلام ) دأبو هريره رضی الله عنه څخه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: اسونه درې ډوله دي يو د سړي لپاره اجر يو ډول آس د سړي لپاره د الله جل جلاله  د عذاب څخه ساتنه او بل دسړي لپاره عذاب وي...: دا حديث شريف امام بخارى رحمت الله علیه،امام مسلم رحمت الله علیه،امام نسايي رحمت الله علیه، امام ترمذي رحمت الله علیه،امام احمد رحمت الله علیه او امام ابن ماجه رحمت الله علیه روایت کړی دی، په دې کې دآس د اسپې څخه څه ځانګړتيا او امتياز نشته، دښه آس ډېر اجر او زیاته ګټه ده، د پیغمبرصلی الله علیه وسلم  څخه پوښتنه وشوه چې کومه غاړه جل جلاله الرقاب) غوره دی؟ پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمايل: دکومې چې قيمت زيات او د خپل څښتن په وړاندې ارزښتناکه او قيمتي وي. په دې لفظ سره امام بخارى رحمت الله علیه، امام ابن ماجه رحمت الله علیه او امام بيهقي رحمت الله علیه روايت کړی او امام مسلم رحمت الله علیه ، امام ابن خزيمه رحمت الله علیه امام ابن حبان رحمت الله علیه د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه په دې لفظ روايت کړی چې: د کومې غاړې خلاصول ډېر غوره دي پیغمبرصلی الله علیه وسلم  وفرمايل: د خپل اهل په وړاندې چې ډېر غوره او ښه وي او د قيمت په لحاظ اوچته وي .

او امام نسايي رحمت الله علیه دابووهب الحشمي رضی الله عنه څخه روايت کړی چې ده لره صحبت هم شته ويلي يې دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم  فرمايلي: تاسو دپيغمبرانو نومونه کېږدی او الله جل جلاله ته غوره نومونه عبدالله او عبدالرحمن دی دجهاد لپاره آسونه تيار کړی په تنديو او شاوو يې لاسونه کش کړی په کافرانو پسې يې وزغلوی د مسلمانانو دفاع پرې وکړئ دخپل منځي انتقام لپاره يې مه کاروئ. او تاسو بايد هغه آسونه خپل ځان ته غوره کړئ چې رنګ يې د توراو سره ترمنځ وي په تندي کې يې سپين رنګ وي او پښې يې هم سپين رنګ ولري. او يا هم تك سور چې په تندي او پښو کې يې سپينوالی وي او يا هم تك تور چې په تندي او پښو کې يې سپينوالی موجود وي. دا حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريف امام ابو داود رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه،امام بيهقي رحمت الله عليه،امام طبراني رحمت الله عليه او ابو يعلي ابو وهب الجشمي رضی الله عنه څخه روايت کړی او ابو وهب صحابي دی.

او همدارنګه امام ترمذي رحمت الله عليه دابوقتاده رضی الله عنه څخه روايت کړی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بهترين د آسونو تك تور کوم چې دتندي په وسط کې يې لږ سپينوالی او په پاسنۍ شونډه کې يې هم سپين والی موجود وي، بيا هغه آس دی چې د تندي په منځنۍ برخه کې يې سپين والی وي، پښې يې تر ښنګرو سپينې وي او دغه سپين والی يې تر زنګنونو جل جلاله رکبتينو) پورې نه وي بيا که چېرې تك تور آس نه وي نو بيا سوربخن تور په ياد شوو ځانګړتيا وو سره غوره دی. دغه حديث امام ابوداودرحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه او ابن ماجه روايت کړی دی. او همدارنګه امام دارمي رحمت الله عليه دحضرت ابو قتاده رضی الله عنه څخه روايت کړی چې يو سړي وويل: ای دالله رسوله: غواړم چې يوآس په بيه واخلم نو کوم يو واخلم؟ پيغمبرصلی الله عليه وسلم  ورته وفرمايل: تك تور چې په پاسينۍ شونډه کې يې سپين والی موجود وي او مخکينۍ پښې يې هم ترښنګرو سپينې وي او پښې يې تر ورنونو پورې سپينې وي او يا هم سور بخن په همدې ورته والي سره يې واخله غنيمت به هم ترلاسه کړي او ځان به هم وژغورې، پيغمبرصلی الله عليه وسلم به جل جلاله شکال) آس نه خوښاوه، شکال: هغه آس ته وايي چې درې پښې يې سپينې او څلومه يې سپين والي ونه لري.

دغه حديث امام مسلم رحمت الله عليه،امام ابوداودرحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه،امام احمد رحمت الله عليه،امام ابن ماجه رحمت الله عليه او امام بيهقي رحمت الله عليه ټولو دحضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت کړي .

که چېرې ووېل شي چې دالله جل جلاله  ددې مبارك فرمان په اړه جل جلاله وَأَعِدّوا لَهُم مَا استَطَعتُم مِن قُوَّةٍ [276].

ژباړه : او تياروی جل جلاله  ای مومنانو) لپاره جل جلاله  د جنګ ) ددغو جل جلاله  عهد ماتوونکو يا مطلق کفارو ) څومره چې توانيږی جل جلاله  جمع کولی شی ) تاسې له قوت جل جلاله  اسباب د جنګ ) او له روزل شوو او ساتل شوو آسونو جل جلاله  لپاره د جهاد ) .

---

- سورت انفال آيت 60 . [276]

(c) ketabton.com: The Digital Library

کفایت کوي نو دغشو ویشتلو او آسونو تیارولو ځانګړی یادښت ته څه اړتیاوه؟ ویل کېږي چې : کله چې آسونه دجګړې اصلي او بنسټیزه وسیله ده دکومو په تندیو کې چې خیر او نیکي لیکله شوې وي،دا یوه ډېره محکمه او قوي وسیله،او ټینګ سنګرونه دي په همدې سره مجاهدین دجګړې په ډګر کې تاوېږي او په سختو او خطرناکو حالاتو کې ګرځي را ګرځي، نو له همدې کبله دقدرت او احترام په سبب یې یاد کړي. دعزت په سبب الله جل جلاله دهغو په ګردونو سوګند یادکړی او فرمایلي یې دي: جل جلاله وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا) [277] سورت العادیات. ایت اول .

ژباړه: قسم دی دآسو نو په ځغلېدونکیو چې آواز ایستونکي دي له سینو څخه آواز پورته کول له ګېډوڅخه .

کله چې غشي دجګړې د بریالیتوب او دښمن ته د غاښ ماتوونکو وسلو څخه دی او ځاني تلفاتو ورکولو ته ډېر نږدې او غوره وسله ده نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم  په ځانګړي ډول یاد کړي او زیاته پاملرنه یې ورته ورکړې ددې په ډول په قران کریم کې د جبریل او میکائیل جل جلاله علیه السلام ) مثال او داسې نور مثالونه هم ذکر شوي دي.

او دا مبارك فرمان چې الله جل جلاله فرمایلی دی :  جل جلاله تُرهِبونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُم ) [278]

ژباړه: چې تاسې وېروی په دې سره د الله جل جلاله دښمنان او ستاسې خپل دښمنان له یهودو، قریشو او د عربو نور کافران، جل جلاله وَآخَرِينَ مِن دونِہِم ) یعني: د امام سدي رحمت الله علیه په قول سره فارسیان  او رومیان تري مطلب دي، ځینې وایي: مطلب تري پیریان دي همدا قول امام طبري رحمت الله علیه هم غوره کړی دی، ځینې وایي: په دې سره ټول هغه اشخاص مقصد دي چې دښمني یې نه پېژني، دا قول د امام سهیلي رحمت الله علیه دی. ځینې وایي: دوی بنو قریظه دي، ځینې وایي: دوی پیریان دي. ځینې وایي: نور خوك دي.

دا مناسب نه دي چې ددوی په هکله څه وویل شي ځکه چې اللهجل جلاله جل جلاله  فرمایلي دي: جل جلاله واخرین من دونہم لاتعلمونہم الله یعلمہم) [279]

ژباړه: او نور کسان یی له دوی نه چې نه پیژنې تاسي هغوی الله عالم دی ، په جل جلاله  عداوت د ) هغوی .

---

- سورت العادیات آیت 1 . [277]
- سورت انفال آیت 60. [278]
- سورت انفال آیت 60 . [279]

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څنګه چې يو څوك په دې علم لرلو د عوی کوي مګر کوم چې صحيح حديث د پيغمبرصلی الله عليه وسلم څخه په دې اړه راغلی او هغه دا چې : په دې آيت شريف کې راغلی چې دوی پيريان دي، بيا پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي: بېشکه شيطان هغه چاته د مرض او خفګان باعث نه کېږي چې په هغه کور کې شه او غوره آس موجود وي.

دغه حديث شريف حارث بن ابي اسامه د ابن المليکي او هغه د خپل پلار او بيا خپل نيکه څخه د پيغمبرصلی الله عليه وسلم نه روايت کړی دی ، عبدالباقي بن قانع په معجم الصحابه کې د عمروبن عريب المليکي او هغه د خپل پلار او بيا يې د خپل نيکه څخه روايت کړی دی. آس ته يې ځکه عتيق ووايه چې دا د هر عيب څخه پاك وي. روايت دی چې: پيريان هغه کور ته نه داخلېږي چې په هغه کې آس وي او پيريان د آس د شنانمې څخه تښتي.[280]

وروسته تر هغه چې امام جصاص رحمت الله عليه په احکام القرآن کې د جل جلاله رمی جل جلاله غشی ويشتلو) او د هغه دزده کړې په فضيلت کې او د هغه د نه پرېښودو په اړه احاديث ذکرکړل وېې ويل: ددې حديث شريف مطلب چې : خبردار چې زور او قوت په غشي وشتلو کې دی، دادهغو عمده او اساسي وسلو څخه دی چې برابر ول يې د دښمن د مقابلې لپاره واجب او لازم دي، داد دې نفې نه کوي چې نورې وسلې د قوت او زور له ډلې نه دي بلکه دا عام لفظ دی چې ټول هغه څېزونه چې د دښمن د مقابلې او جګړې لپاره کار ول کېږي ورته شامل دي او همدارنګه نورې ډول ډول وسلې او جنګي آلات په دې کې شامل دي.

په خپل سند سره يې د حکم بن عمير رضی الله عنه څخه روايت کړی هغه ويلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: موږ ته پيغمبرصلی الله عليه وسلم امر کړی وه چې په جهاد کې به خپل نوکان نه پرې کوو او فرمايلي يې دي چې: په نوکانو کې زور او قوت دی .

داحاديثو په مستندو کتابو نوکې مي ونه موند، ابن قدامه رحمت الله عليه ويلي دي: امام احمدرحمت الله عليه ويلي دي: عمر رضی الله عنه ويلي: خپل نوکان اوږده کړی ځکه چې دا د دښمن ټپي کيدو ته ضرور دي اود دښمن په سيمه کې وسله ده ، امام احمدرحمت الله عليه ويلي: ددښمن په سيمه کې نوکانو ته اړتياشته، ايا ديته نه ګوری کله چې غوټه خلاصوی او يا کوم څيز ته اړتيا وي نو که نوکان ونه لری خپله اړتيا پوره کولی نه شی.

---

- تفسير قرطبی ج 8 ص 38 . [280]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکم بن عمیررضی الله عنه څخه یې روایت کړی چې: موږ ته پیغمبرصلی الله علیه وسلم امر کاوه چې په جهاد کې خپل نوکان پرې نه کړو ځکه چې زور او قوت په نوکانو کې دی .[281]

دا په دې دلالت کوي چې کوم شی چې د دښمن د مقابلې لپاره اړین وي او مجاهدینو ته ځواك وربښي هغو ته د تیاری او برابری امر کړل کیږي، الله جل جلاله فرمایلي: جل جلاله وَلَوْ أَرَادُواْ الْخُرُوجَ لأَعَدُّواْ لَهُ عُدَّةً) [282].

ژباړه :او که اراده وي ددوی د وتلو جل جلاله غزاته له تاسره ) نو هرومرو تیارکړی به ؤ دوی دپاره د وتلو غزا ته څه اسباب د تیاری .

الله جل جلاله بد پرې ویلي ځکه چې دوی د دښمن په مقابل کې تیاری او د مقابلې څخه وړاندې یې ورتګ پرېښی وي. [283] .

د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمت الله علیه څخه د غشي ویشتلو او د هغې د زده کړې دفضیلت او د هغه و عید په اړه چې چاغشي ویشتل زده کړل او بیا یې پرېښودل، د غشي ویشتلو ، په نېزه وهلو او په توره باندې وهلو ترمنځ په فضیلت او غوره والي کې توپیر چې کوم یو ډېر غوره دی نو ده رحمت الله علیه جواب ورکړ چې: الحمد الله رب العالمین: د الله جل جلاله په لار کې د غشي ویشتل او د الله جل جلاله په لار کې د نېزې کارول او د الله جل جلاله په لار کې د تورې وهل دا ټول هغه څیزونه دي چې الله جل جلاله او دهغه پیغمبرصلی الله علیه وسلم یې امر کړی دی او یقیناً الله جل جلاله دغه درې واړه ذکر کړي، په یقیني ډول الله جل جلاله دا درې واړه ذکر کړي او فرمایلي یې دي: جل جلاله فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاء حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا) [284].

ژباړه: نو کله چې مخامخ شوی جل جلاله په جنګ کې ) له جل جلاله هغو کسانو) سره چې کافران شوي دي نو ووهي ، وهل د ورمېږو جل جلاله دهغو) تر هغه پورې چې ښه ډېر مو ووژل دوی او پرې غالب شوي نو جل جلاله وتړئ دوی)، بیا سخت محکم کړئ تړل، جل جلاله د دوی چې درڅخه خلاص نشي)، پس بیا یا احسان ورسره وکړئ احسان کول وروسته جل جلاله له بندي کولو او تړلو یې)، او یا تاسو فدیه کړی دوی فدیه کول جل جلاله په عوض یې مال واخلی یا مسلمانان بندیان را

---

[281] - مغنی د ابن قدامه ج 9 ص 467 .
[282] - سورت توبه آیت 46 .
[283] - احکام القرآن للجصاص ج 4 ص 253 .
[284] - سورت محمد آیت 4 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص کړئ) جل جلاله جنګ ورسره کوئ)، تر هغه پورې چې کېږدي جل جلاله جنګیالیان د) جنګ وسلې.

او همدارنګه الله جل جلاله فرمایلي دي: جل جلاله فَاضْرِبُواْ فَوْقَ الأَعْنَاقِ وَاضْرِبُواْ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ) [285]

ژباړه: نو ووهئ تاسې جل جلاله سرونه ددې کافرانو) دپاسه، د ورمېږونو، او ووهئ تاسې له دغو جل جلاله کفارو څخه هر هربند) او ټولې ګوتې.

او همدارنګه الله جل جلاله فرمایلي دي: جل جلاله يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ) [286]سروت مائده آیت ۹۴.

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی جل جلاله یعنې ای مؤمنانو) خامخا ازمويي تاسې هر ومرو الله جل جلاله په یوه شي له ښکاره جل جلاله په وخت د احترام کې) چې رسېږي جل جلاله ځینو د) هغو ته لاسونه ستاسې جل جلاله  چې واړه دي) او جل جلاله ځینو د هغو ته) نېزې ستاسې جل جلاله چې غټ دي دغه ازمېښت کوي).

او همدا رنګه الله جل جلاله  فرمایلي دي: جل جلاله وَأَعِدّوا لَهُم مَا استَطَعتُم مِن قُوَّةٍ وَمِن رِباطِ الخَيلِ تُرهِبونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُم وَآخَرينَ مِن دونِهِم ) [287]

ژباړه: او تیاروی جل جلاله  ای مؤمنانو) لپاره جل جلاله  دجنګ) د دغو جل جلاله ماتوونکو د عهد یا د مطلق کفارو) څومره چې توانېږی جل جلاله جمع کولی شی ) تاسې له قوت جل جلاله اسباب د جنګ) او له روزل شوو ساتل شوو آسونو جل جلاله لپاره د جهاد) چې وېروي تاسې په دغه جل جلاله دقوت او تیاری) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې، او نور کسان، بې له دوی نه.

امام مسلم رحمت الله علیه پخپل صحیح او دنورو احادیثو په کتابونو کې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چې په منبر باندې یې د غه آیت شریف تلاوت کړو او ویې فرمایل: خبر دار اوسی چې په یقیني ډول قوت د غشي ویشتل دي، خبردار اوسی چې یقیناً زور د غشي ویشتل دي، خبردار اوسئ چې یقیناً زور او قوت د غشي ویشتل دي.

---

- سورت انفال آیت 12 . [285]
- سورت مائدة آیت 94 . [286]
- سورت انفال آیت 60 . [287]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صحیح کتاب کې له پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي چې فرمایلي یې دي: غشی وولئ په آسونو سواره شئ او که په غشي ویشتل وکړئ ماته تر هغه خوښ دی چې په آسونو سواره شي او چاچې په لینده د غشي ویشتل یاد او زده کړل بیا یې هېر کړل زما له امت څخه نه دی.

امام مسلم رحمت الله علیه په دې لفظ سره روایت کړی چې: چاچې د غشي ویشتل زده کړه بیا یې پرېښوده زما له امت څخه نه دی یا یقیناً ګناه کار شو .

امام ابو داود رحمت الله علیه دحضرت خالد بن زید رضی الله عنه او هغه دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه په دې لفظ سره روایت کړی چې : چاچې د غشي ویشتل وروسته د زده کړې څخه دمخ اړولو په سبب پرېښودل نو دایقیناً یو نعمت دی چې پرېښی یې دی او یا هم ددغه نعمت ناشکري یې کړې ده، امام ابن ماجه رحمت الله علیه د ابن لهیعه او هغه د عثمان بن نعیم الرعیني رحمت الله علیه او هغه دمغیره بن نهیك رحمت الله علیه څخه روایت کړی چې د دعقبه بن عامر الجهني رضی الله عنه څخه اورېدلي چې ویلي یې دي : ماد پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: چاچې د غشي ویشتل زده کړل او بیا یې پرېښودل یقیناً زما نافرماني یې وکړه، امام احمد رحمت الله علیه دخالد بن زید او هغه د عقبه بن عامر رضی الله عنه له لارې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چې فرمایلي یې دي: چاچې دغشي ویشتل زده کړل بیا یې هېر کړل وروسته تر هغې چې یاد یې کړل نو دا یو نعمت دی چې کفران او ناشکري یې کړېده . اوهمدارنګه امام احمد رحمت الله علیه دعبدالله الازرق رحمت الله علیه او هغه د عقبه پن عامر الجهني رضی الله عنه څخه پدې لفظ روایت کړی چې : چاچې د غشي ویشتل د زده کړې څخه وروسته هېر کړل په یقیني ډول یې د هغه ذات ناشکري وکړه چې ورښودلې یې وه.

او همدارنګه امام الدارمي رحمت الله علیه دعبدالله بن زیدالازرق رحمت الله علیه او هغه د عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه په دې لفظ سره روایت کړی چې: چاچې د غشي ویشتل وروسته د زده کړې څخه هېر کړل په یقیني ډول یې دهغه ذات کفران او ناشکري وکړه چې ورښودلي یې وه.

په یو روایت کې راغلي دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چاچې د غشي ویشتل وروسته د زده کړې څخه هېر کړل نو دا یونعمت دی چې ناشکري یې وکړه، د سنتو په کتابونو کې راغلي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هره لوبه چې انسان یې کوي باطله ده مګر د غشي ویشتل او خپل آس ته تمرین ورکول او د خپلې مېرمنې سره ساعت تیري کول دغه ټول څېزونه صحیح او حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. او همدارنګه پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: زرده چې ستاسو لپاره به فراخه سيمې فتح شي او الله جل جلاله ستاسې لپاره بس او کافي دی. نه عاجز کېږي يو ستاسې څخه تر دې چې په خپلو غشو لوبې وکړی، امام مکحول رحمت الله علیه ويلي دي: عمر رضی الله عنه د شام خلکو ته وليکل چې خپلو اولادونو ته د غشي ويشتل او د آسونو سورېدل ورووښئ، په صحيح امام بخاری کې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه په مبارك حديث کې راغلي دي چې فرمايلي يې دي: ای د اسماعيل اولادې غشي وولئ ځکه چې ستاسې پلار غشی ويشتونکی وه.

دغه حديث امام بخاری رحمت الله علیه او امام احمد رحمت الله علیه روايت کړی، او همدارنګه امام احمد رحمت الله علیه او امام ابن ماجه رحمت الله علیه په دې لفظ سره چې: غشي وولئ ای د اسماعيل جل جلاله علیه السلام ) اولادې ځکه چې ستاسې پلار غشی ويشتونکی وه ) .

پیغمبرصلی الله علیه وسلم دبنو اسلم د قبيلې دځوتنو سره تېرېده چې غشي يې ويشتل نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم  وفرمايل: ای داسماعيلجل جلاله علیه السلام ) ځامنو! غشي وولئ ځکه چې ستاسو پلار غشي ويشتونکی وه، غشي وولئ زه دفلاني ځامنو سره ملګری يم نو يوې ډلې خپل لاسونه د ويشتلو څخه ونيول پیغمبرصلی الله علیه وسلم  وفرمايل: ولې غشي نه ولی؟ دوی په ځواب کې وويل: موږ به څنګه غشي وولو او ته ورسره يې؟ پیغمبرصلی الله علیه وسلم  وفرمايل: غشي وولئ زه ستاسو ټولو سره يم سعدبن ابي وقاص رضی الله عنه وويل : پیغمبرصلی الله علیه وسلم دخپلې چانټې څخه ماته غشي راويستل يعني داحددغزا په ورځ يې خپله چانټه را پرانيستله او ويې فرمايل: زما مور او پلار د درڅخه جار شي غشی وول‌ه.

د غه حديث امام بخاری رحمت الله علیه، امام ترمذي رحمت الله علیه  او امام احمد رحمت الله علیه روايت کړی دی.

علي رضی الله عنه ويلي دي: ما پیغمبرصلی الله علیه وسلم  داسې نه دی ليدلی چې خپله مور او پلار يې د يو ځای چاته ياد کړی وي پرته له سعدرضی الله عنه نه چې يوازې هغه ته به يې ويل: ای سعده! غشی وول‌ه زما پلار او مور د درڅخه جارشي. انس رضی الله عنه ويلي دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم  فرمايلي دي: د ابوطلحه غږ په سنګر کې تر سلو کسانو غوره دی.

په دې لفظ سره امام ابن عبدالبر رحمت الله علیه په استيعاب کتاب کې ياد کړی او امام نووي رحمت الله علیه په تهذيب الاسماء کې راوړی او ابو بکر محمد بن عبدالغني البغدادي رحمت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه په تفييد نومي كتاب کې په دې لفظ ياد کړی چې : په لښکر کې د ابو طلحه غږ تر يوې ډلې غوره دی. په دې اړه [288] .

کله به چې په لښکر کې وه د پيغمبرصلی الله عليه وسلم په مخکې به په ګونډو شو او خپله چانته به يې پرانيستله او ويل به يې: زه ستا څخه جار او قربان شم زما مخ دستا دمخ پرده او ډال شي، پيغمبرصلی الله عليه وسلم به ورته دتورې، غشي او ليندی شکل غوره کاوه، دسنتو په کتابونو کې راغلي دي چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاچې دالله جل جلاله په لار کې غشی ګوزار کړکه دښمن ته ورسېداو خپل هدف يې وويشت او ياهم ونه رسيد ويشتونکی ته دغلام د ازادېدو هومره ثواب دی.

دغه حديث شريف امام نسايي رحمت الله عليه روايت کړی دی او همدا رنګه يې په دې لفظ سره روايت کړی چې: چاچې د الله جل جلاله په لار کې يو غشی ګوزار کړ دښمن ته ورسېد هدف يې وويشت او يا هم خطا شو،ده ته د يو غلام د ازادېدو هومره ثواب دی. اوهمدارنګه امام ابن ماجه رحمت الله عليه دغه حديث روايت کړی دی او امام احمد رحمت الله عليه په دې لفظ سره چې: هر هغه شخص چې د الله جل جلاله په لار کې يې غشی ګوزار کړ هدف ته ونه رسيد او يا هم ورسيد ده ته دومره ثواب دی لکه د حضرت اسماعيل جل جلاله عليه السلام ) د اولادې څخه يې کوم غلام او ياونيزه ازاده کړی وي، او همدارنګه امام ترمذي رحمت الله عليه پرته له نسايي څخه په دغه لفظ سره روايت کړی چې: چاچې کوم غشی د الله جل جلاله په لار کې ګوزار کړ نو دومره ثواب يې دی لکه کوم غلام يې چې آزاد کړی وي امام ترمذي رحمت الله عليه وايي: دغه حديث صحيح دی .

د سنتو په کتابونو کې راغلي چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله جل جلاله په يوغشي سره درې کسان جنت ته داخلوي جوړوونکی يې چې په جوړولو کې يې خير او نيکي غواړي، ويشتونکی يې، او د هغه برابر وونکی چې د دوی مرسته يې کړې وي. ځکه چې د غه د جهاد کړنې او اعمال دي او جهاد هغه غوره عمل دی چې انسان يې ترسره کوي. دا دحج او نورو نفلي عباداتو څخه غوره دی...

تر دې چې وېې ويل: له همدې امله د جهاد په سنګرونو کې اوسېدل د مکې او مدينې تر اوسېدلو غوره او بهتر دي په سنګرونوکې د نېزې او غشي کارول او په هغې تمرين کول د نفلي عبادت څخه غوره دي.

[288] - تقييد ج 1 ص 416.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صحیحینو کې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي: په یقیني ډول په جنت کې سل درجې دی چې دهرو دوو درجو تر منځ دومره مسافه ده لکه د ځمکې څخه تر اسمان پورې ، دا الله جل جلاله د خپلې لارې مجاهدینو ته ځانګړې کړې دي.

دغه ټول عملونه چې یاد کړل شول د هر یوه لپاره خپل مناسب ځای دی چې د بل څخه په کې غوره والی لري.

توره د دښمن د یو ځای کېدو په وخت کې او نېزه ددښمن د نږدې کېدو په مهال ، لنده د دښمن دلرې کېدو په مهال او یا هم په هغه وخت کې چې پرده موجوده وي لکه سیند او یا جنګي کلا او داسې نورو ځایونو کې کارول کېږي.

کوم عمل چې د دښمن د نابودی لپاره ډېر اغیزمن او د مسلمانانو لپاره ډېر ګټور وي همغه غوره او بهتره دی دا کار د دښمن دحالاتو او دمجاهدینو دحالاتو د اختلاف په سبب مختلف او ځانګړې حالات لري کله د غشي ویشتل ډېر ګټور وي او کله هم د نېزې وهل ډېر ګټور وي دا هغه څیزونه دي چې غازیان پرې ښه پوهېږي [289]

- مجموع الفتاوی ج 18 ص 8-12.[289]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله جل جلاله ددې فرمان په تفسیر کې چې جل جلاله ولو أرادوا الخروج لأعدوا له عدة ) امام قرطبي رحمت الله علیه ویلي دي: کله چې داسې وه او همدی ددوی په کمښت او له بشپړی مرتبې څخه په ټیټوالي یې دلالت و کړ نو له همدې امله درې ګوني احکام پرې مرتب شول:

**لومړی: دوی ته په فئ او غنیمت کې هیڅ ونډه نشته**

لکه چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم په صحیح امام مسلم کې د بریده رضی الله عنه په روایت شوي حدیث شریف کې فرمایلي دي: بیا دوی را وبوله چې دخپلوکورونو څخه دمهاجرینو کورونو ته راشي او په دې یې خبر کړه که دوی دا کار وکړ نو هغه حقوق ورکول کېږي کوم چې په مهاجرینو اچول شوي دي که چېرې یې له دې کار څخه سر غړونه وکړه نو بیایې په دې خبر کړه چې د بانډه چې مسلمانانو په څېر به وي په دوی به د الله جل جلاله هغه فرمان پلی کېږي چې په نورو مومنانو به وي دوی ته به په فئ او غنیمت کې څه ونډه نه وي مګر په هغه وخت کې دوی ته برخه ورکول کېږي چې د مسلمانانو سره یو ځای جهاد وکړي.

**دوهم: د بانډه چیانو ګواهي به د ښاري وګړو په برخه کې نه قبلېږي**

ځکه په دې کې تهمت منځ ته راځي دېته امام ابوحنیفه رحمت الله علیه جواز ورکړی او ویلي یې دي: په دې کې د هر تهمت مراعات نه کېږي او دده په وړاندې ټول مسمانان عادلان دي. امام شافعي رحمت الله علیه جواز ورکړی په دې شرط چې د ګواهی ورکوونکی به عادل او خلك به ترې راضي او خوښ وي همدا نظر صحیح دی ځکه چې همدا مسأله مو په سورت بقره کې بیان کړې وه.
اللهجل جلاله جل جلاله اعراب جل جلاله بانډه چیان) دلته په درې صفتونو سره یادکړي چې یو یې: کفر او نفاق دی ، دوهم یې: کوم څه چې خیرات کوي دا سې ګڼي لکه قرض او پور او د دې انتظار کوي چې تاسو ته به کوم تکلیف او ناکامي ورسي.

**دریم صفت یې دادی چې:** په الله جل جلاله او د اخرت په ورځ ایمان لري او هغه څه چې د الله جل جلاله او دپیغمبرصلی الله علیه وسلم یه وړاندي یی خیرات کوي عبادت یی شمېري نو هغه څوك چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داصفت ولري نو ډېره لرې ده چې ګواهي يې ونه منل شي او ددوهم او لومړي صفت والاوو سره يې وصلول باطل دي او دريم دا چې د ښاري خلكو لپاره يې امامت ځكه منع دی چې په سنتو نه پوهېږي او د جمعې لمونځونه نه كوي، امام ابو مجلز رحمت الله عليه د بانډه چې امامت بدګڼلی او مكروه يې بللی دی امام مالك رحمت الله عليه ويلي دي: امامت دنه كوي اګر كه بانډه چې قاري هم وي ، امام سفيان ثوري رحمت الله عليه امام شافعی رحمت الله عليه امام اسحق رحمت الله عليه او أهل الرای ويلی دي : د بانډه چې پسې لمونځ كول روا دی او دا قول امام ابن المنذر رحمت الله عليه هم غوره كړی خو په دې شرط چې د لمانځه حدود قايم كړي . [290]

امام شوكاني رحمت الله عليه ددې مبارك آيت په برخه كې چې: جل جلاله وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً) په هكله وايي: كه چېرې پخپله دعوی كې رېښتيني وي او ته يې په دې خبرولای چې ستاسره جهاد كوي مګر له دوی سره د جهاد لوازم او ضروري څيزونه نه وه نو د جهاد اړينو څيزونو تيارول او لاس ته راوړل به يې د جهاد څخه وړاندې نه وای پرېښې لكه چې مومنان دجهاد تياری نيسي نو معنی دا چې دوی جهاد ته تلل او د غزا لپاره تياری يې اصلاً نه غوښت.

تياری: هغه څه ته وايي چې يو مجاهد ورته اړتيا لري لكه وسله، سورلي، او خوراكي څيزونه.

او دا مبارك آيت چې: جل جلاله وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنبِعَاثَهُم ) يعنی الله جل جلاله ددوی تلل جهاد ته ښه نه ګڼل، نو جهاد ته له تللو څخه پاتې شول.

او دا مبارك آيت چې: جل جلاله وقيل اقعدو امع القاعدين) ويل كېږي چې ددې قول ويونكي شيطان وه چې دوی ته به يې وسواس وراچوه داسې هم ويل كېږي: ځينو به ځينې نوروته پخپل منځ داسې ويل، داسې هم ويل كېږي: دا قول پيغمبرصلی الله عليه وسلم دوی ته د غصې او قهر په حالت كې وو ايه.

داسې هم ويل كېږي چې : دا دذلت او سپكاوي څخه عبارت دی يعنی الله جل جلاله ددوی په زړونو كې د جهاد څخه وروسته والی وروغورځاوه چې دا كار دوی ته ذلت او سپكاوی دی.

---

[290] - تفسير قرطبي ج 8 ص 232.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا مبارك لفظ چې جل جلاله مع القاعدين) يعنې د معذورو وګړو لکه ړندو، مريضانو، ښځو او ماشومانو سره کيناستل په دې کې د دوی بدي، سپکوالی او کموالی داسې ښئې چې هېڅ پټوالی په کې نشته.[291]

امام آلوسي رحمت الله عليه ددې مبارك آيت چې جل جلاله و أعدوالهم) په هکله وايي: دا د ټولو مومنانو لپاره خطاب دی ځکه چې د کفارو په مقابل کې تياری د ټولو ګډه دنده ده معنی دا چې د هغو چا لپاره چې عهد او وعده يې ماته کړې د جګړې تياری و نيسي او د مقابلې لپاره يې ځانونه آماده او تيار کړي لکه څنګه چې دا دمبارك آيت د سياق غوښتنه ده، يا په مطلق ډول د کفارو د جګړې لپاره تياری دی همدا نظر غوره او بهتر دی لکه څنګه چې د آيت راتلونکی يې غوښتنه او تقاضا لري، او دا جې جل جلاله ماستطعتم من قوة) معنی دا چې هر هغه څه چې په هر ډول له هغه څخه په جګړه کې ګټه اخيستل کېږي، د قوت اطلاق يې د مبالغې له وجې پرې وکړ دا يې ځکه ذکر کړ چې د بدر په غزوه کې يې تياری نه درلود نو خبرداری يې ورکړ چې له پوره تياری پرته په هر وخت کې برياليتوب منځ ته نه راځي د ابن عباس رضی الله عنهما څخه د قوت تفسير د وسلو په انواعو شوی دی، عکرمه رضی الله عنه ويلي: قوت: جنګي کلاګانې او د پټېدو ځايونو ته ويل کېږي، په يو بل روايت کې د عکرمه رحمت الله عليه څخه راغلي چې د **قوت** څخه مطلب نرآسونه دي. وروسته تر هغه چې د غشي ويشتلو په اړه يې احاديث شريف ذکرکړل ويې ويل: په دې پوهېږی چې نن ورځ په غشي ويشتلو سره د دښمن اصلي هدف نه ويشتل کېږي ځکه چې دوی کلاشنکوپونه او توپونه کاروي ددوی نوو وسلو د غشو استعمال څه ګټه نه لري که د دوی په څېر وسله ونه کارول شي هلاکوونکی مرض به عام شي، دمسلمانانو شړل به زيات شي، مسلمانان به بې زړه او کمزوري شي په نړۍ به د کفارو او بې لارو سلطنت او واکمني راشي، کوم چې زما نظر دی ،الله جل جلاله ډېر ښه پوهېږي. دغه مقابله په مسلمانانو واکمنو او ددين په مرسته کوونکو ده، ښايي د هغه غشو ويشتلو فضيلت او بهتري داوسني غشو ويشتل ثابتوي ځکه چې هغه ددې په ځای دريېري ترڅو داسلام داصل او اساس څخه دفاع وکړي، زه دا نه وينم چې يو داعي به ويشتلو ته ضرورت نه لري مګر دغه ويشتل به يې جنت ته ان شاءالله دبرياليتوب سبب وګرځي او دا لرې نه ده چې دغه ويشتل به د الله جل جلاله په دې عموم

[291] ـفتح القدير ج 2 ص 366 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارك فرمان کې چې جل جلاله واعدوالهم ما استطعتم من قوه....) کې شامل شي ... تر اخره قوله پورې يې الله جل جلاله د پرې رحم وکړي. [292]

کله چې مسلمانان د مستقيم جنګ او جګړې څخه عاجز شي نو د وسلې او ضروري آلاتو د حتمي او لازمي پوره کېدو په اړه شيخ الاسلام ابن تيمه رحمت الله عليه وايي: لکه څنګه چې دجهاد تياري لپاره دقوت او آسونو د برابری په هلکه کله چې د کېدلو څخه يې عاجز وي نو هر هغه څه چې پرته له هغه څخه واجب نه بشپړېږي نو هغه هم واجب دي. [293]

بېشکه ايماني برابرښت جل جلاله ايماني تربيه) واجبه او د بريالیتوب اساسي عنصر ګڼل کېږي، او ګناه په ناکامی کې يو واضح او څرګند اثر لري او د ځينې غړو ګناه او د الله جل جلاله نا فرماني کله هم ټول لښکر ته زيان رسوي مګر دا صحيح ده چې وويل شي چې ددغه تياري په سبب بايد جهاد وروسته شي؟ هغه ځواب چې شرعي نصوص او اوسنی وضع پرې د لالت کوي دادی: چې کله جهاد فرض عين شي نو د ايماني تربيې د پوره کېدو لپاره يې وروسته کېدل نشته او يا هم چې کله دښمن د مسلمانانو په کوم هېواد يا سيمه يرغل وکړي، يا کفار پرې تېری وکړي او هلته په خلکو غير شرعي جل جلاله وضعي) قانون چلوي اوس د ټولو يا زياترو اسلامي هېوادونو همدا حالت دی، په دې ډول جهاد د فرض عين دی د ايماني تربيې د بشپړېدو لپاره يې وروسته والی ناروا دی، د دې ډول فرض عين جهاد وروسته کېدل ديو لوی فساد او زيان منځ ته راتللو سبب ګرځي.

ايا هلته له دې څخه لويه فتنه بله هم شته چې کفارو د اسلامي هېوادونو مرکزونه تر خپلې ولکې لاندې راوستلې پر دوی باندې کفري وضعي قوانين پلي کوي د مسلمانانو په منحرف او بې لارې کېدوکې بې حده هڅې کوي ترڅو يې په مختلفو لارو او فريبنده وسيلو سره د خپل دين نه وګرځوي ګمراه يې کړې او اسلامي هېوادونه د هغوی دښمنانو ته په دې ډول و سپاري چې ټوله شتمني يې لوټ ، فساد او بې لارې په کې خپره کړي نو هغه څوك چې ددې کفارو په مقابل کې د جهاد د ورسته کېدو په نظر دي تر څو دمجاهدينو تربيه بشپړه شي نو ددوی دا نظر د هغو عامو دلايلو مخالف دی کوم چې د جهاد د وجوب، دوام او ترقيامته پورې د هغه په استمرار او اوږدېدو باندې دلالت کوي.

---

- روح المعانی ج 2 ص 110. [292]
- مجموع الفتاوی ج 28 ص 259 . [293]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې نظر څښتن په دې نه پوهېږي چې کفار د مومنانو په مقابل کې هغې پورې جګړه کوي چې د خپل دين څخه يې وګرځوي او هېڅکله دجهاد تربيه ورکوونکو ته دا فرصت او موقع نه پرېږدي چې د خپل فکر سره سم مجاهدين وروزي زموږ اوسنی وضع ددې خبرې غوره ګواه ده. ځکه دغه مجرمان دخپلو ټولو تشويقي او ويره خپراوي وسيلو په درلودلو سره کومې چې د زياتې اغېزې ،خبري رسنيو او مادي وسيلو په شتون سره کولای شي چې په عامو وګړو اغېز وکړي په دې ډول کوم کسان چې د تربيې په نوم ورسره يو ځای شي او يو قدم وړاندې لاړ شي نو په حقيقت کې مجاهدين څو قدمه وروسته راولي او نتيجه ډېره ښکاره او څرګندده ده او هغه دډېرو خلکو د توري او مال تر اغېزې لاندې ددين ضايع کېدل او له منځه تلل دي د الله جل جلاله څومره ريښتينی فرمان دی چې وايي: جل جلاله وَلاَ يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُواْ..... ) [294]

ژباړه : اوهمېشه به وي دوی جل جلاله کافران ) چې جنګ به کوي دوی له تاسې سره ترهغه پورې چې بېرته وګرځوي دوی تاسې له دينه ستاسې که يې لاس ورسېږي جل جلاله او موقع و مومي ) .

او همدارنګه الله جل جلاله فرمايلي دي چې: جل جلاله وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ .. ) [295]

ژباړه : او هيڅکله به راضي نشي له تانه جل جلاله ای محمده ) يهودان او نه نصرانيان ترهغه پورې چې متابعت وکړې ته ددين ددوی .

همدا رنګه دغه کافران هېڅکله هم د صالحې او نيکی تربيې کومه وسيله نه پرېږ دي تر دې چې د هغه په وړاندې خنډونه پيدا کړي او يا يې هم د خپل معنوی مفهوم څخه داسې خالي کړي چې يواځې نوم او شکل يې پرته له کومې ګټې او معنی څخه پاتې شي له همدې امله الله جل جلاله فرمايلي دي: وَلَولا دَفعُ اللَّهِ النّاسَ بَعضَهُم بِبَعضٍ لَهُدِّمَت صَوامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَواتٌ وَمَساجِدُ يُذكَرُ فيهَا اسمُ اللَّهِ كَثيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزيزٌ ﴿40﴾) [296]

ژباړه : که چيرې نه وای دفع کول د الله خلکوسره ځينې ددوی لره په ځينو نورو باندې خامخا نړولې شوې به وې تکيې او مدرسې او عبادتخانې او مسجدونه چې يادولی شي په هغو کې نوم د الله ډېر او

---

[294] - سورت بقره آيت 217 .
[295] - سورت بقره آيت 120 .
[296] - سورة حج آيت 40 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخامرسته به وکړي هرو مرو الله له هغه چا سره چې مرسته ورکوي جل جلاله  دين د) دغه  الله ته بيشکه چې الله خامخا قوي د خپلو احکامو په تنفيذولوکې ) ډير زور والادی په هرچا ).

که چېرې الله جل جلاله کافران د خپلې لارې په مجاهدينو دفع کړي نه وای نو د الله جل جلاله  د عبادت لپاره به کوم نيك او سپڅلی ځای پاتې نه وه.

امام قرطبي رحمت الله عليه ويلي دي: که چېرې الله جل جلاله خپلو پيغمبرانو او عامو مسلمانانو ته ددښمنانو(کافرانو) وژل نه وی رواکړي نو مشرکانو به اسلامي نړۍ تر خپلې ولکې لاندې راوستې وی اودعبادت هغه ځايونه به يې له عبادت کولو څخه خالي او تش کړي وای چې د ټولو آسماني دينونو مشرانو ښوولي دي، مګر دا کافران يې دفع کړل او مخه يې ونيوله جهاد يې پرې واجب کړ ترڅو ديندراه خلك دعبادت کولو لپاره موقع ومومي، جهاد په ټولو امتونو کې يو پخوانی امر او فرمان دی په همدې سره شرائع جوړ شوي او ټول دعبادت او پرستش ذوات پرې را غونډ شوي، لکه چې وېې ويل: د جهاد کولو اجازه دارنګه ورکړشوه چې مومنان دغزا وکړي ، بيا دغه امر او فرمان په دې قول سره نورهم زور وموند چې جل جلاله وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ وَلَكِنَّ اللّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ) [297]

معنی دا چې که چېرې غزا او جهاد نه وای نو حق به مغلوب کړی شوی وای، کوم چې نصاری او صابئين جهاد بدبولي داپې د مذهب سره مخالف نظر دی ځکه که چېرې غزا نه وی نو هغه دين به له منځه تللی وی چې دفاع ترې کوي او همدارنګه دغه مواضع کومې چې وړاندې ددوی د تحريف ، تبديل او منسوخ کېدونه ددې معنی لپاره ذکر شوی دی ، معنی دا چې که د جهاد په وسيله ددې کفارو مقابله نه وی نو د موسی عليه السلام په زمانه کې به کليسا وې نړېدلې وای او د عيسي عليه السلام په زمانه کې به صومعی او بيعي جل جلاله چې دواړه د عبادت ځايونه دي) نړېدلي وای اودمحمدصلی الله عليه وسلم په زمانه کې به جوماتونه له منځه تللی وای امام ابن عطيه رحمت الله عليه ويلي دي: ددې مبارك آيت په تفسير کې همدغه صحيح نظر ويلی شوی دی.[298]

ددې مبارك آيت د معنی په څېر د الله جل جلاله دغه فرمان دی چې: وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ وَلَكِنَّ اللّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ . [299] .

---

- سورت بقره آيت 251 . [297]
- تفسير قرطبی ج 12 ص 70 ، تفسير بيضاوی ج 4 ص 129 ، فتح القديرج 3ص 157، زاد المسير ج 1 ص 300 . [298]
- سورت بقره آيت 251. [299]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه : او كه چيرې نه وای دفع جل جلاله منع ) كول د الله جل جلاله خلكولره ځينو ددوی لره په ځينو نوروسره نو خامخا به خرابه شوې وه ځمكه د هيواد په ظلم سره و ليكن الله جل جلاله څښتن د فضل جل جلاله احسان ) دی په خلكوباندې جل جلاله نو ځينې په ځينو نورو سره له فساد څخه منع كوي ) .

په دې معنى چې الله جل جلاله كافران په مومنانو او ظالمان په مظلومانو سره ، مفسدان په نيكانو سره دفع كوي او مخنيوی يې كوي كه داسې نه وای نو كافران او مفسدان به غالب شوي وای ځمكه به يې د خباثت او فساد څخه ډكه كړې وای او مومنانو او نيكانو به نه د الله جل جلاله عبادت كړی وای او نه به يې د اسلام سپېڅلی دين ته دعوت تر سره كړی وای.[300]

له همدې امله امام ابن القيم رحمت الله عليه مجاهدين په دې ډول ستايلي دي:

يقيناً چې خپل نفسونه يې د الله جل جلاله په مينه د هغه ددين په دفاع او نصرت، او د لااله الاالله په اوچت والي او د هغه د دښمنانو په مخنيوي كې يې وبايلل، دوی دهر هغه چا دعملونو په اجر كې چې پخپلو توروپې ساتنه كوي اگر كه پخپلو كورونو كې شپه تېره هم كړي ورسره شريك دی او ددې مجاهدينو لپاره دهغو عابدانو د عبادت په څېر اجر دی چې د دوی د جهاد او فتوحاتو په سبب يې كوي ځكه چې همدغه مجاهدين يې يواځينی سبب دی او شارع متسبب د بشپړ فاعل په مقام كې په ثواب او عذاب كې يو شانته ذكر كړی دی. له همدې امله د نيكی بلونكي او د بدی بلونكي د هر يوه لپاره هغه دكړنې په سبب د هغوی د پيروانو په څېر ثواب او عذاب دی .[301]

دا يو څرگند حقيقت دی چې ايماني چمتووالی د ژوند په ټولو مرحلو او وختو نو كې ترسره كېږي كه دا دجهاد په پيل يا د جهاد په درشل او يا هم وروسته مرحله كې وي ځكه چې الله جل جلاله خپل پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته دعبادت په دوام او استمرار تر هغې امر كړی چې مرگ ورته راشي الله جل جلاله فرمايي: وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ)[302]

ژباړه: او عبادت كوه د رب خپل ترهغه پورې چې راشي تاته يقين جل جلاله يعني مرگ ) .

---

- تفسير قرطبي ج 3 ص 260 ، ابن كثير ج2 ص 633 ، ابو السعود ج 1 ص 265 مخونه وگورى .[300]
- طريق الهجرتين ص 335 .[301]
- سورت الحجر آيت 99 .[302]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تربيې دغورو انواعو څخه هغه ډول ده چې دجهاد په اوږدوکې تر سره کېږي په خلکو باندې الله جل جلاله ته نږديکت غالببږي او ددې حالت ځارنه ځانګړي خونه لري داځکه چې د نفسونو وژل ورته ډېر نږدې او د سر په سترګو يې ويني.

بېشکه دپيغمبرصلی الله عليه وسلم په زمانه کې ځينې د مخالفت پېښې د هغو خلکو له اړخه رامنځته شوې چې جهاد ته ورسره تللي وه په دوی کې مشران او عادي مجاهدين شامل وه چې د دوی د لوړ مقام او اوچتې مرتبې سره سره بيا هم پيغمبرصلی الله عليه وسلم جهاد ونه دراوه تر څو ددې خلکو تربيه بشپړه کړي او همدارنګه څوك يې د خپل لښکر څخه ونه شړل بلکه دوی امر په معروف او نهي له منکر څخه د دوی دحالاتو او کړنې سره سم تر سره کوله، دا يو معلوم او مشهور حقيقت دی چې چاپې سيرت لوستلی وي. زه يې هم د دې پند يو اړخ يادوم چې د حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنه څخه روايت دی چې: پيغمبرصلی الله عليه وسلم خالدبن وليدرضی الله عنه بنوجذيمه ته ورولېږه دوی د جل جلاله أسلمنا) يعني موږ اسلام راوړی، لفظ اسلام يی نشو تلفظ کولای نو ويل يې: موږ ددين نه وتلي يو، موږ د دين نه وتلي يو، نو خالدرضی الله عنه ددوی په وژلو او بندي کولو پيل وکړ، زموږ هر يو ملګري ته يې يو بندي ورکړ، بيا يې زموږ هر يو ملګري ته د خپل بندي د وژلو امر وکړ نو ما ورته وويل زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې خپل بندي به ونه وژنم او هيڅ يو ملګری به زما هم خپل بندي ونه وژني نو دا واقعه مو پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته ذکر کړه هغه صلی الله عليه وسلم  وفرمايل: ای الله جل جلاله زه له هغه کړنې چې خالد بن وليد تر سره کړې بېزاريم. داپې دوه ځله تکرار کړه. [303]

د غه حديث امام بخاری رحمت الله عليه په باب اذا قضي الحاکم بجور او خلاف اهل العلم فهو رد او همدارنګه امام احمد رحمت الله عليه امام ابن حبان رحمت الله عليه امام نسايي رحمت الله عليه او امام بيهقي رحمت الله عليه روايت کړی دی.

نو خالد رضی الله عنه داسې يو عمل و کړ چې دغه خلك يی ووژل او حال داچې هغوی مسلمانان شوي وه له همدې امله پيغمبرصلی الله عليه وسلم ددوی ديت او هغه مالونه يې چې تلف شوي وه ورولېږل حتی د سپي کودجل جلاله لوښی ) يې ورولېږه.

---

[303] - صحيح البخاری ، باب اذا قضی الحاکم بجور او خلاف أهل العلم فهو رد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد داچې پیغمبرصلی الله علیه وسلم حضرت خالد رضی الله عنه یی نه منفك كړ او نه یې دلښكر څخه وویست او نه یې ددې كړنې په سبب جهاد معطل كړ، بلكې هغه څه چې شرعاً وربانديې وه لكه د دیت وركول او د حضرت خالدرضی الله عنه دغه كړنه او عمل یی بد وباله.[304]

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي: پیغمبرصلی الله علیه وسلم یوه سریه جل جلاله نظامي گروپ) ولیږلو چې یو انصاري یی پرې امیر وټاكه او دوی ته یې امر وكړ چې د خپل امیر اطاعت كوي نو دغه انصاري په قهر شو او ورته ویې ویل: آیاتاسو ته پیغمبرصلی الله علیه وسلم زما د اطاعت امر ندی كړی؟ دوی ورته وویل: هو، هغه ورته وویل: یقیناً دا زما قصد دی چې لرگی را غونډكړی اوربل كړی او بیا ځانونه په كې ورواچوی، نو صحابه كرامو لرگي راټول كړل اور یې بل كړ كله یې چې د ورغورځېدو قصد وكړ یو بل ته یې كتل، ځینو ویل: موږ د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څكه اطاعت و كړ چې د اور څخه وتښتو آیا اوس په كې ورننوځو دوی په همدې كې وه چې د اور لمبې غلې شوې او غصه یې كښېناسته، نو دا واقعه یې پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته یاده كړه پیغمبرصلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: كه چېرې ور ننوتلي وای نو هېڅكله به بیا ترې وتلي نه وای یقیناً اطاعت په نیكی او معروف كې دی. دا حدیث شریف امام بخاری رحمت الله علیه، امام مسلم رحمت الله علیه ، امام أبوداودرحمت الله علیه، امام نسایي رحمت الله علیه، امام احمد رحمت الله علیه او امم ابو یعلی رحمت الله علیه روایت كړی دی.

بېشكه د غه امیر دوی ته د اور ننوتلو امر وكړ په یقیني ډول دغه كار گناه او په ناحقه سره د ځان وژل دي خو ددې سره سره پیغمبرصلی الله علیه وسلم د جهاد د درېدلو امر ونه كړ او نه یې له لښكر څخه ویستل تر څو جهادي تربیه بشپړه كړي او نه یې هم ددې خلكو په څېر خبرې وكړې.

د عبدالله بن عمرورضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي: د پیغمبرصلی الله علیه وسلم سره یو كس اوسېدو چې جل جلاله كركره) نومېده مړ شو پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل: جل جلاله هغه په اوركې دی) خلك لاړل چې ویې گوري حالت یې و گوري نو یو ډول لباس لكه د چپنې په شان یې پرته له اجازې په پټه سره اخیستی وه . دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه، امام مسلم رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه ، امام ترمذي رحمت الله علیه ، امام ابن ماجه رحمت الله علیه او امام بیهقي رحمت الله علیه روایت كړی دی.

---

[304] - تفسير ابن كثير ج 1 ص 536 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دغه کس پیغمبرصلی الله علیه وسلم د مسلمانانو په غنیمتونو امین ټاکلی وه مگر نفس او شیطان یې په بدی سره ورته امر وکړ او دغه لباس یې په پټه سره واخیست، پیغمبرصلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې د جهنم په اور کې به یې اغوستی وي، خو سره ددې پیغمبرصلی الله علیه وسلم د جهادي تربیې د بشپړېدو له امله جهاد نه دی درولی تر څو مجاهدین دا تشته ډکه کړي او نه یې هم د ځینې مجاهدینو د نافرمانی او گناه له کبله خلك د جهاد څخه منع کړي دي.

په یوه غزا کې اسامة بن زید رضی الله عنهما یو کس د لااله الاالله کلیمې ویلو څخه وروسته وواژه پیغمبرصلی الله علیه وسلم دغه کار په ډېره سختۍ سره و غندلو، حضرت اسامةرضی الله عنه په دې کار باندې ډېر زیات پښیمانه شو، خو پیغمبرصلی الله علیه وسلم ددې کار څخه وروسته هم حضرت اسامه رضی الله عنه د جهاد کولو څخه منع نه کړ بلکې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د وفات څخه وړاندې د هغه لښکر مشر او امیر هم وټاکل شو چې پخپله پیغمبرصلی الله علیه وسلم د کفارو د مقابلې لپاره چمتو کړی وه.

د حضرت أسامة بن زید رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: پیغمبرصلی الله علیه وسلم حرقې ته ولیږلو سهار کفارو ته ورغللو او پرې غالب شوو ما او یو انصاري په یو کس پسې شوو کله موچې لاندې کړ ویې ویل: لااله الاالله ، انصاري لاس ونیو ولې ما په نېزه وواهه تر څو چې ومې واژه، کله چې له جهاد څخه را وگرځېدو، پیغمبرصلی الله علیه وسلم پرې خبرشو او ویې فرمایل: آی اسامه وروسته تر هغه چې لااله الاالله یې وویل تا و واژه، ماوویل: په همدې باندې یی خپل ځان ژغوره، خو پیغمبرصلی الله علیه وسلم تر هغه پورې دا لفظ تکراراوه چې ما دا هیله وکړه کاش له دې ورځې وړاندې مسلمان شوی نه وای. دا حدیث امام بخاری رحمت الله علیه امام مسلم رحمت الله علیه ، امام احمد رحمت الله علیه ، امام ابن حبان رحمت الله علیه او امام بیهقي رحمت الله علیه روایت کړی دی.

د ځینې صحابه کرامو څخه پرته له دې ځینې غلطی شوې مگر پیغمبرصلی الله علیه وسلم ددې په سبب د جهاد کولو څخه نه دي منع کړي او نه یې په ټولنېز ډول جهاد درولی تر دې چې د مجاهدینو د جهادي تر بیې له بشپړېدو څخه متأکد او یقیني شي بلکې پیغمبرصلی الله علیه وسلم د هغه څه چې لیدلي یې دي او یا ورته رسېدلي دي په کلکه مخالفت کړی او د هر ې خبر ې یې د هغه مناسب غبرگون ښودلی دی، دا د هغه څه چې پېښ شوي دي د تبصرې او شننې پرته وړاندې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابن ابي مليكه څخه په صحيح الامام بخارى رحمت الله عليه كې روايت شوى چې ويلي يې دي: نږدې وه چې د نبوي امت غوره شخصيتونه جل جلاله ابوبكر، او عمر) رضى الله عنهما هلاك شوي واى كله چې د بني تميم وفد راغى دوى دواړو د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په حضور كې غږونه اوچت كړل يوه داقرع بن حابس چې د بنو مجاشع د قبيلې څخه وه ، اوبل د يو بل شخص جل جلاله نافع رحمت الله عليه وايي: نوم يې را څخه هېرشوى) د تعين كېدو اشاره وكړه، ابوبكررضى الله عنه عمررضى الله عنه ته وويل: ستا زما د مخالفت څخه پرته بل مطلب نه وه، عمررضى الله عنه وويل: زما مطلب ستا مخالفت نه دى، په دې هكله يې غږونه اوچت شول نو الله جل جلاله دغه آيت شريف نازل كړ: جل جلاله يا ايهاالذين آمنو الاترفعوا اصواتكم) دغه حديث شريف په صحيح الامام بخارى رحمت الله عليه باب: لاترفعوا اصواتكم فوق صوت النبي) الايه كې ذكر شوى او همدارنګه امام ترمذي رحمت الله عليه د ابن ابي مليكه رحمت الله عليه څخه روايت كړى چې ويلي يې دي: ماته عبدالله بن زبيررضى الله عنه وويل: چې: اقرع بن حابس پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته راغى، ابوبكررضى الله عنه وويل: يارسول الله! دخپل قوم مشر يې وټاكه، عمررضى الله عنه وويل: يارسول الله! مشري مه وركوه، د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په وړاندې يې خبرې وكړې تردې چې غږونه يې جګ شول ابوبكررضى الله عنه عمررضى الله عنه ته وويل: ستا زما دمخالفت څخه پرته بل مقصد نه وه، عمررضى الله عنه وويل: ما ستا مخالفت نه غوښت. راوي وايي: له دې وروسته دغه آيت شريف نازل شو چې:جل جلاله لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ)[305]راوي وايي: له دې وروسته به چې كله عمر رضى الله عنه د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په وړاندې خبرې كولې په داسې ډول به وې چې هېڅ به نه اورېدلې كېدې تر دې چې دپوهاوي لپاره به يې بيا پوښتنه ترې كوله، امام ترمذي رحمت الله عليه وايي: ابن زبير يې خپل نيكه ابوبكررضى الله عنه ياد نكړ، امام ترمذي رحمت الله عليه وايي: دغه حديث حسن او غريب دى ، ځينو دغه حديث د ابن ابي مليكه رحمت الله عليه څخه په مرسل ډول روايت كړى دى او عبدالله بن زبير يې په كې نه دى ذكر كړى ،

أبوعمرو عبد الحكيم حسان وايي: په كوم لفظ يې چې دلته روايت كړى هغه دامام بخاري رحمت الله دى .

---

[305] - سورت الحجرات آيت 2 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

واصل الاحدب د معرور څخه روايت کوي وايي: د ابوذررضی الله عنه په اوږه مې يوه ليك داره جامه او د مريي په اوږه مې يې هم يوه ليك داره جامه وليده، ما وويل: که ددغه ترې اخيستې وی او اغوستې د دوي نو بشپړه جوړه به شوې وای او مريي ته به دبله جامه ورکړې وی ابوذر رضی الله عنه وويل: زما او د دغه سړي تر منځ خبرې وې او مور يې اعجمی وه ما يې د مور په هکله څه بدې خبرې وکړې، دامې پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته يادکړل هغه مبارك راته وفرمايل: ايافلاني شخص ته د ښکنځل و کړل، ما وويل: هو، بيايې و فرمايل: مورته يې د ښکنځل او بد وويل، ما وويل: هو، بيا يې وفرمايل: په تاکې اوس هم د جاهليت اغېزه شته ما وويل: په دې مهال هم چې عمر مې زيات شوی او زوړ شوی يم وېې فرمايل: هو، دوی ستاسو وروڼه دي الله جل جلاله ستاسې تر لاس لاندې ګرځولي دي ،دچا تر لاس لاندې چې الله جل جلاله خپل ورور وګرځوي نو دهغه څه نه چې خوري يې بايد خوراك ورکړي او د هغه خه نه چې اغوندي يې بايد لباس ورکړي او د خپل وس څخه زيات بايد کار پرې ونه کړي او که چېرې يې په زيات کار وګوماري بايد پخپله مرسته ورسره وکړي.

دغه حديث شريف: امام بخاری رحمت الله عليه په کتاب الايمان باب: المعاصي من أمر الجاهلية ولايكفر صاحبها الا بالشرك کې روايت کړی او همدارنګه امام مسلم رحمت الله عليه ، امام ابو داود رحمت الله عليه، امام ترمذي رحمت الله عليه ، امام احمد رحمت الله عليه ، امام ابن ماجه رحمت الله عليه، امام بيهقي رحمت الله عليه ، اوامام بزار رحمت الله عليه يوبل ته په نږدې الفاظو سره د حضرت أبوذررضی الله عنه څخه روايت کړی دی.

ددې حديث ځينې اړخونه د افك په واقعه کې ذکر شوي دي د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی وايي: پيغمبرصلی الله عليه وسلم به چې کله سفر ته د تللو اراده وکړه نو د خپلو ميرمنو تر منځ به يې پچه جل جلاله قرعه) اچوله د هرې يوې به چې پچه وختله همغه به ورسره تلله، نو زموږ ترمنځ يې هم په يوه غزاکې پچه واچوله او زما نوم وخوت او تر هغه وروسته چې د حجاب جل جلاله پردې) آيت نازل شو ورسره ووتلم، په کجاوه کې بی وړلم او په هغه کې به يې کوزولم سفر مو پيل کړ تر دې چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم د غزا څخه فارغ شو او بېرته راوګرځېد مدينې منورې ته رانږدې شو، د شپې د سفر غږ وشو، زه جګه شوم چې کله مې دسفر غږ واورېد دلښکر څخه وړاندې تېره شوم کله چې دقضاء حاجت څخه فارغه شوم بېرته لښکر ته راوګرځېدم غاړې ته مې لاس کړ چې غاړکۍ مې کومه چې د يمنئ وړو دانوڅخه جوړه شوې وه شلېدلې وه بېرته وګرځېدم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله غاړه کې وموم په دې سره ځند شوم نو هغه کسان چې زما کجاوه به یې پورته کوله راغلل او کجاوه یې په اوښ بارکړه او زما هغه اوښ یې روان کړ چې زما کجاوه یې وړله دوی ګومان کاوه چې زه په کې یم په هغه زمانه کې ښځې سپکې او ډنګرې وې غوښې یې نه وې اخیستې ځکه چې د طعام څخه به یې یوازې یوه کاشوغه کتغ خوړلو، نو له همدې کبله هغه کسان چې زما کجاوه یې پورته کوله داسې فکر ونه کړ چې زه په کې نشته یم زه وړوکې نجلی وم اوښ یې روان کړ تر دې چې رضی الله عنها وویل: هغه شخص چې دغه بهتان یې وواېه عبدالله بن ابي بن سلول وه مدینې منورې ته راغلو بشپړه یوه میاشت مې الله جل جلاله ته شکایت وکړ د بهتان ویونکو د پوچو خبروڅخه زما په موجوده تکلیف یې شك کاوه او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه مې هغه نرمي نه لیدله کومه به مې چې د مرض په مهال ترې لیدله بلکې کوټې ته به راتلو او سلام به یې اچوه او بیا به یې فرمایل: څنګه یې، په هېڅ باندې نه پوهېدم تر هغه چې ددې بهتان نه پاکه شوم، یو ځلې زه دام مسطح سره قضاء حاجت لپاره لاړو هلته به یوازې یوه شپه بله شپه تللو او دا هغه مهال وه چې د کورونو سره نږدې مو احاطه نه وه جوړه کړې د لومړنیو عربو په څېر مو په صحرا او تفریح ګاه کې ژوند کاوه، نو زه اوام مسطح بنت ابي رهم رواني وو د هغه په جامه کې پښه بنده شوه او ولوېده هغې وویل: مسطح د هلاك شي ما ورته وویل: ډېره بده خبره د وکړه ایا هغه چاته بدوایې کوم چې د بدر په غزا کې ګډون کړی، هغې وویل: ای هوښیارې آیا هغه څه د نه دي او رېدلي چې ویلي یې دي، بیا د بهتان ویونکو په باطلو خبرو خبره کړم نو مرض مې نور هم لازیات شو تر دې چې ویې ویل: یوه ورځ پیغمبرصلی الله علیه وسلم  په منبر پاڅېد او ویې فرمایل: عبدالله بن ابي بن سلول ماته تکلیف راکوي او ناحقه خبرې کوي نو بیا یې وفرمایل: څوك د هغه شخص ضرر راڅخه دفع کوي چې شر یې زما تر اهل او کور پورې رسېدلی زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې د خپل اهل په هکله پرته له خیر څخه بل څه را ته معلوم نه دي او داسې څوك یې ښودلي چې په هغه کې هم له خیر څخه بل څه نه وینم او زما څخه پرته زما کور ته ننوځي، سعد بن معاذرضی الله عنه پاڅېد ویې ویل: یا رسول الله! زما د په الله جل جلاله  سوګند وي چې زه به یې شر در څخه دفع کړم که د اوس له قبیلې څخه وي سر به یې ووهم او که چېرې زموږ د ورونو خزرج له قبیلې څخه وي ته امر وکړه هغه به پلی کړو، سعد بن عباده رضی الله عنه دخزرج قبیلې مشر پاڅېد مخکې ډېر نیك سړی وه مګر قومیت اغېز پرې وکړ ویې ویل: دروغ دوویل: زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې نه به یې ووژنې او نه به دا توان ولرې، په دې مهال اسیدبن حضیررضی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله عنه پاڅيد او ويې ويل: دروغ د وويل زما دپه الله جل جلاله سوګند وي چې هرو مرو به يې ووژنو ته منافق يې د منافقينو دفاع کوې دواړه قبيلې اوس او خزرج سره پاڅېدل تر دې چې د جنجال قصد يې وکړ او پيغمبرصلی الله عليه وسلم په منبر باندې وه پيغمبرصلی الله عليه وسلم د منبر څخه راکوز شو غلي يې کړل تر دې چې چپ شول اوعايشې ام المومنين رضی الله عنها وويل: تر دې چې په پيغمبرصلی الله عليه وسلم وحی نازله شوه نو هغه غم او تکليف چې وړاندې به ورته رسيده اوس هم ورته ورسيد تر دې چې د مرغلرو په څير به د ژمي د وريځو په سخته يخنی کې خولې پرې راتللي کله چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم ددې تکليف څخه راووت خندل يې نو لومړنی لفظ چې دمبارکې خولې څخه يې راغی داوه: ای عايشې د الله جل جلاله شکر وکړه چې د تهمت څخه يې پاکه کړې، مور مې راته وويل: پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته پاڅېږه ما ورته وويل: نه هېڅکله به ورته جګه نشم او يوازې د الله جل جلاله دغه مبارك آيت نازل کړ چې: إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ [306]

ژباړه: - بيشکه هغه کسان چې راغلل په دروغو سره هغه يوه ډله ده ستاسو نه .

کله چې الله جل جلاله دغه آيتونه زما په پاکوالي کې نازل کړل ، ابوبکر رضی الله عنه چې مسطح بن اثاثه ته يې دخپلولی له امله مصرف او خرڅ ورکاوه وويل: زما د په الله جل جلاله سوګند وي چې وروسته تر دې چې د عايشې رضی الله عنها په هکله ناحقه خبرې وکړي هيڅ شی ورنکړم نو الله جل جلاله دغه آيت شريف نازل کړ: وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُواۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [307]

ژباړه: - او نه خوري قسم خاوندان د فضل ستاسو نه ، ا و خاوندان د فراخۍ دې خبرې ته ، چې وکړي هغوئ خاوند د خپلوئ ته اومسکينانو ته اوهجرت کوونکو ته په لاره د الله کې او په کار ده چې معافي وکړي او مخ واړوي آيا نه خښوئ تاسو چې ښنه وکړي الله تاسو ته ، او الله ښونکئ مهربانه دی .

د غه واقعه په تفصيل سره امام بخاري رحمت الله عليه ، امام مسلم رحمت الله عليه ،امام احمد رحمت الله عليه ، امام حبان رحمت الله عليه، امام بيهقي رحمت الله عليه او امام طبراني رحمت الله عليه روايت کړې دی.

---

[306] - سورت نور آيت 11 .

[307] - سورت نور آيت 22 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې صحابه کرام په زنا او ځينې نور د غلا په ګناهونو ککړ شوي چې په دې دواړو حد واجبېږي، د حضرت أبو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی ويلي يې دي پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی او هغه صلی الله عليه وسلم په جومات کې تشريف درلود جګ غږ يې وکړ ويې ويل: ای د الله رسوله! مازناکړې ده، پيغمبرصلی الله عليه وسلم مخ تر ې وګرځاوه، بيا د پيغمبرصلی الله عليه وسلم د مخ مبارك هغه اړخ ته ورتاو شو چې مخکې يې ترې بل لوري ته اړولې وه ويې ويل: ای د الله رسوله! ما زنا کړې ده پيغمبرصلی الله عليه وسلم بيا مخ ترې وګرځاوه بيا د پيغمبرصلی الله عليه وسلم د مبارك مخ هغه اړخ ته راغی چې مخکې يې ترې اړولې وه کله يې چې پخپل ځان څلور ځله ګواهي وويله پيغمبرصلی الله عليه وسلم را وغوښت او ورته ويې فرمايل: اياته ليونی يې؟ هغه وويل: نه ای د الله رسوله! پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل: واده د کړی دی هغه وويل: هو، يا رسول الله! پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل: دی بوځی او په تيږو يې ووژنی جل جلاله سنګسار) يې کړی. ابن شهاب رحمت الله عليه وايې: ماته هغه شخص ويلي چې د جابررضی الله عنه څخه يې اورېدلي وه : زه د هغه کسانو په ډله کې وم چې دغه شخص يې سنګسار کړ نو موږ په مصلی کې په تيږو وواژه.

دغه حديث شريف: امام بخاری رحمت الله عليه، امام مسلم رحمت الله عليه ، امام ابن حبان رحمت الله عليه او امام بيهقي رحمت الله عليه روايت کړی او امام بخاری رحمت الله عليه په دې لفظ سره د أبوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړی چې ويلي يې دي: موږ د پيغمبرصلی الله عليه وسلم سره د خيبر په غزا کې ګډون وکړ يو شخص ته يې وويل چې دغه د اور د ښتنانو څخه دی خو کله چې جګړه پيل شوه نوموړي شخص سخته جګړه وکړه او بيا مړ شو پيغمبرصلی الله عليه وسلم وفرمايل: دغه شخص جهنم ته لاړ، وايي چې نږدې ځينې خلکو شك وکړ، دوی په همدې کې وه چې وويل شول نو موږی پخپله مړشو بلکې سخت ټپي شو کله چې شپه شوه د ټپ تاب يې را نه وړ او صبر يې ونه کړ نو خپل ځان يې پخپله وواژه پيغمبرصلی الله عليه وسلم له همدې واقعې خبر ورکړ، بيا يې وفرمايل: الله اکبر زه په دې ګواهي ورکوم چې زه د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول يم بيا يې بلال رضی الله عنه ته امر وکړ چې خلکو ته آواز وکړه چې: جنت ته يوازې مسلمان شخص دا خېلېږي او يقيناً الله جل جلاله دغه دين د فاجر شخص په وسيله نصرت او غلبه ورپه برخه کوي حاشيه ختمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عبدالله بن صفوان يې د خپل پلار صفوان څخه روايت کوي چې هغه په جومات کې خپل څادر ته ډډه وهلې ويده وه چې يو چاپې دسر څخه دغه څا در واخيست نو دغه غل يې پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته راوست پيغمبرصلى الله عليه وسلم د هغه د لاس پرې کولو امر وکړ، صفوان رضى الله عنه وويل: يارسول الله د لاس پرې کول يې نه غواړم دغه څادر خيرات ورکوم پيغمبرصلى الله عليه وسلم وفرمايل: يعنې وړاندې له دې څخه کېده اما کله د چې راوست اوس يې د پرېښيدو هېڅ امکان نشته.

دغه حديث امام نسايي رحمت الله عليه، امام أبوداود رحمت الله عليه، امام ابن ماجه رحمت الله عليه، امام احمد رحمت الله عليه او امام دارمي رحمت الله عليه روايت کړى دى.

د عروه بن زبيررضى الله عنه څخه روايت دى چې يوې ښځې د پيغمبرصلى الله عليه وسلم په زمانه کې د مکې مکرمې د فتحې په درشل غلاوکړه نو قوم او ټبرېې سخت وارخطا شو اسامه بن زيد ته يې زارى ګانې پيل کړې تر څو پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته د دوى سپارش وکړي عروه رضى الله عنه وايي: کله چې حضرت اسامه رضى الله عنه په دې اړه پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته وويل نو د پيغمبرصلى الله عليه وسلم د مبارك مخ رنګ واوښت او ويې فرمايل: ايا دالله جل جلاله دحدودو څخه د يو حد په اړه ماته سپارش کوئ، اسامه رضى الله عنه وايي: يارسول الله ماته بخښنه وغواړه کله چې شپه شوه پيغمبرصلى الله عليه وسلم دخلکو په منځ کې پاڅېده او پخپله خطبه کې يې د الله جل جلاله د ثنا او صفت بيان وکړ بيا يې وفرمايل: امابعد: يقيناً ستاسو خخه ړومبني خلك په دې سره هلاك او تباه شول چې کله به کوم عزتمن او قدرمن شخص غلاوکړه پرته له جزا څخه به يې پرېښود او کله به چې کوم کمزوري شخص غلا په کې وکړه نو بيا به يې حد پرې جاري کاوه زما دپه هغه ذات چې محمدصلى الله عليه وسلم نفس يې په لاس جل جلاله بلاکيف) کې دى. که چېرې فاطمه د محمدصلى الله عليه وسلم لور غلا وکړي نو زه به يې لاس پرې کړم.

يعنې که زما خپله لور هم دا جرم وکړي نو زه به د الله جل جلاله حد پرې جاري او لاس به يې پرې کړم، بيا پيغمبرصلى الله عليه وسلم د هغه ښځې د لاس پرې کېدو امر وکړ او لاس يې پرې قطع کړ وروسته دغه ښځې توبه ويسته او خپل عمل يې صحيح کړ او واده يې هم وکړ، عائشه رضى الله عنها وايي: بيا به زموږ کره راتلله او اړتيا به مې يې پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته وړاندې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غه حديث امام بخارى رحمت الله عليه، مسلم، امام ترمذي رحمت الله عليه، امام نسايي رحمت الله عليه، امام أبوداود رحمت الله عليه، امام ابن ماجه رحمت الله عليه او امام احمد رحمت الله عليه روايت کړى دى.

ايماني تربيه د جهاد په درشل کې پرمخ بيول کېږي او دهغې لپاره جهاد نه وروسته کېږي، دا يواځې د بنده په مرګ سره پاى ته رسېږي، او څوك چې وايي د جهادي تربيې په نه بشپړېدو سره بايد جهاد وروسته شي دا په مکمل ډول د جهاد بنديدوته مفضي کېږي يعني د جهاد د بندېدو باعث او لامل جوړېږي، کله چې په قرون فاضله يعني په نيکو پېړيو کې داسې حالات او واقعات منځ ته راغلي نو دا وروستني به له هغوى څخه غوره او يا هم له ګناهونو څخه پاك او معصوم وي او بېشکه پيغمبرصلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په تاسې به داسې وخت نه راځي مګر وروستني به له ړو مبني څخه بدوي تر دې چې د خپل پروردګار سره ملاقي او هغه جل جلاله ته به ورشي.

د غه حديث امام بخارى رحمت الله عليه روايت کړى او بشپړ يې داسې دى چې: د زبير بن عدي رضى الله عنه څخه روايت دى ده ويلي چې موږ أنس بن مالك رضى الله عنه ته راغلو او د حاجيانو د کړنو څخه مو ورته شکايت او ګيله وکړه هغه وويل: صبر وکړئ بېشکه په تاسې باندې داسې زمانه نه راځي مګر وروستنى زمانه به تر ړومبنى څخه بده او خرابه وي تر دې چې خپل پروردګار ته ورشي، دغه حديث مې ستاسې د پيغمبرصلى الله عليه وسلم  څخه اورېدلى دى.

په مسلمانانو لازم دي چې د ناتوانئ له امله مستقيماً جهاد نشي کولاى نو بايد تيارى ورته ونيسي تر دې چې د کافرو پاچايانو د مقابلې لپاره لازمه توانمندي و مومي داسې نه لکه ځينې د جهادي فريضې څخه ناست خلك چې باطلې او  نارواالارې ورته لټوي بيا قانوني او وروا نوم ورته اخلي لکه طاغوتي پارلماني مجالسوته ننوتل ، کوم چې پرته د الله جل جلاله د قانون څخه خلکو قوانين جوړوي، مخکې موهم وويل چې دا په اصل کې د الله څخه پرته باطل خدايان او الهة دي.

کوم تيارئ چې الله جل جلاله دهغه په چمتووالي امر کړئ دئ دخلکو تدريب، چمتووالى، په ايماني تربيې، نيك عمل، زړورتيا، قرباني ځان تيريدنې، د امير د امر منل او د هغه تابعداري کول دي او همدارنګه په دې کې دوسلې تيارى او لازم نظامي پروګرامونه جوړول دي دغه ټول کارونه يواځې او يواځې تجربه لرونکي مجاهدين تعين وي نه د جهاد څخه ناست او بهانه لټوونکي خلک .

و الله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپې لس بجې او اته دويشت دقيقې 2006 ميلادى كال .

و الحمدلله الذين بنعمته ثم الصالحات اللهم تقبله منى فى صالحى الاعمال يوم لاينفع مال و لابنون الامن أتى الله بقلب سليم.

**خاتمه**

ددغه مهم بحث په پشپړيدو سره لاندې ټکي د يادولو وړدي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-حديث « الأئمة من قريش » صحيح دی ، ځکه چې طرق او اسانيد يې زيات او روات يې ډير دي ، او زياتو محققينو صحيح کړی دی ، ددې حديث په معنی سره په صحيحينو کې هم نور احاديث راغلي دي .

۲ – په حديث کې د امامت څخه مطلب خلافت دی .

۳- جمهورو علماؤ په امامت کې قرشي توب شرط ګرځولی دی مګر ډيرو محدثينو ددغه شرط څخه تنازل کړی دی .

۴- په هغه وخت کې د سياسي او طائفي حالاتو له وجهې زياتره أهل السنة قرشي توب شرط بللی دی .

۵ – د حديث رواتو قريشو ته د امامت حق ورکړی ، مګر دا حق په تقوی ، عدل ، او اصلاح پورې مقيد دی او داسې نور شروط هم شته .

۶- کله چې د قريشو څخه قوت ، غلبه او مشري له منځه لاړه بيا دغه شرط هم ضرور و نه بلل شو.

۷- د قرشي توب شرط پدې معنی سره دی چې امامت په دوی کې محصور ندی ، بلکې د قرشي او غير قرشي دواړه امامت روا دی .

۸ – قرشي توب د کمال او افضليت شرط دی نه د جوړ والي او صحت شرط .

او همدارنګه د امام نصبول د هغه اتفاقي او اختلافي شرطونه ، دامام دندې ، د ولس دندې دامام په وړاندې ، د جګړې لپاره تياری ، د جګړې وسايل ، د امير اطاعت او په اخير کې د امام نووي رحمت الله نصيحت نامه وړاندې کړی ده .

امام نووی رحمت الله عليه پخپله هر اړخيزه وينا کې مشرانو ته دنصيحت دمعنا په اړه ويلی دي : دمسلمانو مشرانو لپاره دادي چې : دهغوی سره دحق ويل کيدو لپاره مرسته کول،دهغوی اطاعت کول،پدې سره د هغوئ امرمنل،هغوی متوجه کول او ديته يی پام کول چې دولسونو سره نرمي وکړئ او کوم ځيزته يی چی پام نه وي هغه ته توجه راګرځول،اوکوم چې د مسلمانانو دحقوقو څخه پاتې وي هغه ته توجه کول، او په ضد يی پاڅون نه کول،ددوی داطاعت او پيروی لپاره دمسلمانانو د زړونو راګرځول او يو ځای کول،امام خطابي رحمت الله عليه ويلی دي : دمشرانو د نصيحت څخه مطلب دادی چې : ددوی په امامت لمو نځ کول،له دوی سره جهاد ته تلل ، دوی ته زکات ورکول او په ضد يی وسله وال پاڅون نه کول ، اوکه ددوی څخه څه ناوړه يا بد چلند ښکاره شو، او دوی ته د نيکی دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول ، دا ټول‌هغه څه دي چې د مسلمانانو پاچايانو څخه مطلب خلفاء راشدين او يا هغه څوک دي چې د مسلمانانو چارې پرمخ بيايي لکه : اميران او مشران .[308]

والسلام

**اخځليکونو فهرست**

1-القرآن الکريم .

---

[308] - شرح صحيح مسلم ج 2 ص 83 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

2.-الاتصال الى فهم معرفة الخصال ،لابى محمد ابن حزم رحمت الله عليه . لكتاب: أرشيف ملتقى أهل الحديث تم تحميله في: المحرم 1432 هـ = ديسمبر 2010 م هذا الجزء يضم: المنتدى الشرعي العام.

3- الإحكام في أصول الأحكام (ط. الآفاق الجديدة( المؤلف: علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي أبو محمدالناشر: دار الآفاق الجديدةسنة النشر: 1403 - 1983رقم الطبعة: 2طبعة محققة على مخطوطتين ومقابلة على النسخة التي حققها الشيخ أحمد شاكرتقديم: إحسان عباس تصوير دار الآفاق الجديدة - بيروتتاريخ إضافته: 15 / 10 / 2008

4- أحكام القرآن (ابن العربي(المؤلف: أبو بكر بن العربي المالكيالمحقق: محمد عبد القادر عطا ، الناشر: دار الكتب العلميةسنة النشر: 1424 -رقم الطبعة: 3

5- أحكام القرآن المؤلف: أحمد بن علي الرازي الجصاص أبو بكرالمحقق: محمد صادق قمحاوي ، الناشر: دار إحياء الكتب العربية - مؤسسة التاريخ العربي سنة النشر: 1412 – 1992 ، تاريخ إضافته: 18 / 07 / 201

6- أحكام أهل الذمة (ط. رمادي (المؤلف :ابن قيم الجوزية؛ محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد الزرعي الدمشقي، أبو عبد الله، شمس الدين المحقق: يوسف بن أحمد البكري أبو براء - أحمد بن توفيق العاروري أبو أحمد الناشر: رمادي للنشر – الدما مسنة النشر: 1418 - 1997 .

7- الاحكام فى اصول الاحكام لعلى بن محمد الآمدى / دارالفكر للطباعة والنشر والتوزيع بيرون لبنان عام 1424 ق .

8-الأحكام السلطانية ، الماوردي ، أبو الحسن علي بن محمد بن حبيب : (القاهرة : 1966م ) .

9- إحياء علوم الدين المؤلف: أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (ت ٥٠٥هـ( الناشر: دار المعرفة – بيروت .

10- أسد الغابة في معرفة الصحابة المؤلف: أبو الحسن علي بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم بن عبد الواحد الشيباني الجزري، عز الدين ابن الأثير (ت ٦٣٠هـ( لمحقق: علي محمد معوض - عادل أحمد عبد الموجو د ، الناشر: دار الكتب العلمية الطبعة: الأولى سنة النشر: ١٤١٥هـ - ١٩٩٤ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

11-الإسلام وأوضاعنا السياسية ، للشهيد عبد القادر عوده ، ( القاهرة : المختار الإسلامي ، ط3 ، 1398هـ/1978م ) .

12- أصول الدين المؤلف: جمال الدين أحمد بن محمد بن سعيد الغزنوي الحنفي (ت ٥٩٣هـ( المحقق: الدكتور عمر وفيق الداعوق الناشر: دار البشائر الإسلامية - بيروت – لبنان لطبعة: الأولى، ١٤١٩ – ١٩٩٨.

13- اضواء البيان أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن المؤلف : محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي (المتوفى : ١٣٩٣هـ( الناشر : دار الفكر للطباعة و النشر و التوزيع بيروت – لبنان عام النشر : ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ مـ.

14-اعتقاد اهل السنه لعبدالله بن احمد ( السنة ) ، المؤلف: أبو عبد الرحمن عبد الله بن أحمد بن محمد بن حنبل الشيبانيّ البغدادي (ت ٢٩٠هـ( ،المحقق: د. محمد بن سعيد بن سالم القحطاني الناشر: دار ابن القيم – الدمام ، الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦ م.

15-الاكتفاء، بما تضمنه من مغازي رسول الله والثلاثة الخلفاء ،لأبي الربيع سليمان بن موسى الكلاعي الأندلسي (565-634هـ) تحقيق دكتور محمد كمال الدين عز الدين علي ، طبعة عالم الكتب.

16- البداية والنهاية ، المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (ت ٧٧٤ هـ( الناشر: مطبعة السعادة – القاهرة.،وصَوّرتها: دار الفكر - بيروت .

17- بدايع السلك فى طبايع الملك لأبى عبد الله الأزرق ، تحقيق على سامى النشار ، الناشر : الدار العربيه للموسوعات ، تاريخ النشر 2006 ميلادي .

18- تاريخ بغداد تاريخ بغداد ،المؤلف: أبو بكر أحمد بن علي بن ثابت بن أحمد بن مهدي الخطيب البغدادي (ت ٤٦٣هـ( ،المحقق: الدكتور بشار عواد معروف الناشر: دار الغرب الإسلامي - بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢ م .

19- تفسير القرآن العظيم المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (ت ٧٧٤ هـ( المحقق: محمد حسين شمس الدين ، الناشر: دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت الطبعة: الأولى - ١٤١٩ هـ.

20- تفسير أبي السعود = إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم المؤلف: أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى (ت ٩٨٢هـ( الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

21- تفسير بيضاوى = أنوار التنزيل وأسرار التأويل المؤلف: ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي (ت ٦٨٥هـ( المحقق: محمد عبد الرحمن المرعشلي الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت الطبعة: الأولى - ١٤١٨ هـ
22- تفسير پښتو ( تفسير عقماني ) د شيخ الهند او شيخ الاسلام شبير احمد عثماني ګډ تأليف د مجمع الملک فهد چاپ مدينه منوره .
23: تفسير طبري : جامع البيان في تأويل القرآنالمؤلف :محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: 310هـ(المحقق :أحمد محمد شاكرالناشر :مؤسسة الرسالةالطبعة :الأولى، 1420 هـ - 2000 م
24- تفسير قرطبى= الجامع لأحكام القرآن المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة الطبعة: الثانية، ١٣٨٤ هـ - ١٩٦٤ م.
25- تلخيص الحبير في أحاديث الرافعي الكبير ، ، أبو الفضل أحمد بن علي بن حجر العسقلاني : تحقيق : السيد عبد الله هاشم اليماني المدني ، ( المدينة المنورة : 1384هـ/1964/ ) .
26- تهذيب الرياسة وترتيب السياسة المؤلف: أبو عبد الله محمد بن علي بن الحسن القَلْعي الشافعي (ت ٦٣٠هـ( المحقق: إبراهيم يوسف مصطفى عجو الناشر: مكتبة المنار - الأردن الزرقاء الطبعة: الأولى.
27- الجامع الصغير = صحيح وضعيف الجامع الصغير وزيادته المؤلف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (ت ٩١١هـ( مع الكتاب: أحكام محمد ناصر الدين الألباني ، هذا الكتاب الإلكتروني، يمثل جميع أحاديث الجامع الصغير وزيادته للسيوطي، مع حكم الشيخ ناصر من صحيح أو ضعيف الجامع الصغير.
28 - حاشية ابن عابدين = حاشية رد المحتار، على الدر المختار: شرح تنوير الأبصار ، المؤلف: محمد أمين، الشهير بابن عابدين [ت ١٢٥٢ هـ[ ، الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر ، الطبعة: الثانية ١٣٨٦ هـ = ١٩٦٦ م ، عدد الأجزاء: ٦
وصَوّرَتْها: دار الفكر - بيروت [ولهم طبعةٌ أخرى أعادوا فيها صف الكتاب بحرف جديد؛ فلْيُتنبه[ تنبيه: تم وضع «الدر المختار» للحصكفي بأعلى الصفحات، يليه مفصولا بفاصل: «حاشية ابن عابدين» عليه.
29- الخصائص الكبرى ،المؤلف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (ت ٩١١هـ( ،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

30- روح المعانيفي تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ،المؤلف: شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (ت ١٢٧٠هـ( ،المحقق: علي عبد الباري عطية ،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت لبنان .،الطبعة: الأولى، ١٤١٥ هـ.
31- الروح في الكلام على أرواح الأموات والأحياء بالدلائل من الكتاب والسنة ، المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (ت ٧٥١هـ( ،الناشر: دار الكتب العلمية بيروت .
32- الرَّوضُ البَاسمُ في الذّبِّ عَنْ سُنَّةِ أبي القَاسِم - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وعليه حواشٍ لجماعةٍ من العلماء منهم الأمير الصّنعاني( المؤلف: ابن الوزير، محمد بن إبراهيم بن علي بن المرتضى بن المفضل الحسني القاسمي، أبو عبد الله، عز الدين، من آل الوزير (ت ٨٤٠هـ( تقديم: فضيلة الشيخ العلامة بكر بن عبد الله أبو زيد اعتنى به: علي بن محمد العمران الناشر: دار عالم الفوائد للنشر والتوزيع .
33- رياض الصالحين المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (ت ٦٧٦هـ( المحقق: شعيب الأرنؤوط الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت، لبنان الطبعة: الثالثة، ١٤١٩هـ/١٩٩٨م.
34- زاد المسير في علم التفسير المؤلف: جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (ت ٥٩٧هـ( المحقق: عبد الرزاق المهدي الناشر: دار الكتاب العربي - بيروت الطبعة: الأولى - ١٤٢٢ هـ.
35- سبل السلام شرح بلوغ المرام المؤلف: محمد بن إسماعيل الأمير اليمني الصنعاني (١١٨٢ هـ( تحقيق: عصام الصبابطي - عماد السيد الناشر: دار الحديث - القاهرة، مصر الطبعة: الخامسة، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م .
36- سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة وأثرها السيئ في الأمة المؤلف: محمد ناصر الدين الألباني [ت ١٤٢٠ هـ[ الناشر: مكتبة المعارف، الرياض - المملكة العربية السعودية الطبعة: الأولى للطبعة الجديدة (١٤١٢ هـ = ١٩٩٢ م) - (١٤٢٥ هـ(.
37- سنن الترمذي المؤلف: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (ت ٢٧٩هـ( تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ ١، ٢( ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ ٣( وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف (جـ ٤، ٥( الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م .
38- السنن الكبرى المؤلف: أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي (ت ٣٠٣ هـ( حققه وخرج أحاديثه: حسن عبد المنعم شلبي بمساعدة مكتب تحقيق التراث في مؤسسة الرسالة( أشرف عليه: شعيب الأرناؤوط قدم له: عبد الله بن عبد المحسن التركي الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٢١ هـ - ٢٠٠١ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

39- السياسة الشرعية المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (ت ٧٢٨هـ( الناشر: وزارة الشئون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد - المملكة العربية السعودية الطبعة: الأولى، ١٤١٨هـ

40- شبكة الالوكة مقال د / طالب بن عمر بن حيدره الكثيرى .

41- شذرات الذهب في أخبار من ذهب المؤلف: عبد الحي بن أحمد بن محمد ابن العماد العَكري الحنبلي، أبو الفلاح (ت ١٠٨٩هـ( حققه: محمود الأرناؤوط خرج أحاديثه: عبد القادر الأرناؤوط الناشر: دار ابن كثير، دمشق – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦ م.

42- شرح العقيدة الطحاوية [لابن أبي العز الحنفي (ت ٧٩٢ هـ[( حققها وراجعها: جماعة من العلماء خرج أحاديثها: ناصر الدين الألباني الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت، الطبعة التاسعة ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨ م ثم أعاد طبعها بنفس ترقيم الصفحات: دار السلام بالقاهرة ١٤٢٦، وأوقاف قطر ١٤٣٥.

43- صحيح مسلم بشرح النووي ، ( بيروت : دار إحياء التراث العربي ، ط2 ، 1392هـ ) .

44- الصارم المسلول على شاتم الرسول المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (ت ٧٢هـ( المحقق: محمد محي الدين عبد الحميد الناشر: الحرس الوطني السعودي، المملكة العربية السعودية.

45- صحيح البخاري المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ابن بردزبه البخاري الجعفي تحقيق: جماعة من العلماء الطبعة: السلطانية، بالمطبعة الكبرى الأميرية، ببولاق مصر، ١٣١١ هـ، بأمر السلطان عبد الحميد الثاني ثم صَوّرها بعنايته: د. محمد زهير الناصر، وطبعها الطبعة الأولى ١٤٢٢ هـ لدى دار طوق النجاة - بيروت، مع إثراء الهوامش بترقيم الأحاديث لمحمد فؤاد عبد الباقي، والإحالة لبعض المراجع المهمة.

46- صحيح الترغيب والترهيب للمنذري ، (صحيح الترغيب الألباني ، محمد ناصر الدين : ) ( بيروت : مكتبة المعارف للنشر والتوزيع ، ط1 ، 1421هـ ) .

47- صحيح الجامع الصغير وزياداته المؤلف: أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي بن آدم، الأشقودري الألباني (ت ١٤٢٠هـ( الناشر: المكتب الإسلامي.

48- صحيح سنن أبي داود المؤلف: الشيخ محمد ناصر الدين الألباني (ت ١٤٢٠ هـ( الناشر: مؤسسة غراس للنشر والتوزيع، الكويت الطبعة: الأولى، ١٤٢٣ هـ - ٢٠٠٢ م.

49- صقر عطيه فتوى بعنوان حديث : الأئمة من قريش ، ( اسلام نيت ) .

50- ضعيف الترغيب والترهيب المؤلف: محمد ناصر الدين الألباني الناشر: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع – الرياض الطبعة: الأولى، ١٤٢١ هـ - ٢٠٠٠ م عدد الأجزاء: ٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

51- طريق الهجرتين وباب السعادتين المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (ت ٧٥١ هـ( الناشر: الدار السلفية، القاهرة، مصر الطبعة: الثانية، ١٣٩٤هـ.
52- غياث الأمم في التياث الظلم المؤلف: عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (ت ٤٧٨هـ( المحقق: عبد العظيم الديب الناشر: مكتبة إمام الحرمين الطبعة: الثانية، ١٤٠١هـ.
53- الفتاوى المصرية = مختصر الفتاوى المصرية لابن تيمية المؤلف: بدر الدين أبو عبد الله، محمد بن علي الحنبلي البعلي (ت ٧٧٧ هـ( أشرف على تصحيحه: عبد المجيد سليم (مفتي الديار المصرية ورئيس لجنة الفتوى بالأزهر( شارك في تحقيقه وقام على طباعته: محمد حامد الفقي، بمطبعته السنة المحمدية (وصَوّرتْها دار الكتب العلمية وغيرها( عدد الصفحات: ٦٥١.
54- فتح الباري شرح صحيح البخاري ، تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي و محب الدين الخطيب ، (بيروت : دار المعرفة ، 1379هـ ) .
55- فتح القدير المؤلف: محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (ت ١٢٥٠هـ( الناشر: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب - دمشق، بيروت الطبعة: الأولى - ١٤١٤ هـ.
56- الفصل في الملل والأهواء والنحل المؤلف: أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري (ت ٤٥٦هـ( الناشر: مكتبة الخانجي – القاهرة.
57- في ظلال القرآنالمؤلف: سيد قطب إبراهيم حسين الشاربي (المتوفى: 1385 هـ)الناشر: دار الشروق - بيروت- القاهرةالطبعة: السابعة عشر - 1412.. .
58- فيض القدير شرح الجامع الصغير المؤلف: زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (ت ١٠٣١هـ( الناشر: المكتبة التجارية الكبرى – مصر الطبعة: الأولى، ١٣٥٦.
59- كشف اللثام شرح عمدة الأحكام المؤلف: شمس الدين، أبو العون محمد بن أحمد بن سالم السفاريني الحنبلي (ت ١١٨٨ هـ( اعتنى به تحقيقا وضبطا وتخريجا: نور الدين طالب الناشر: وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية - الكويت، دار النوادر – سوريا الطبعة: الأولى، ١٤٢٨ هـ - ٢٠٠٧ م.
60- كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال المؤلف: علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان القادري الشاذلي الهندي البرهانفوري ثم المدني فالمكي الشهير بالمتقي الهندي (ت ٩٧٥هـ( المحقق: بكري حياني - صفوة السقا الناشر: مؤسسة الرسالة الطبعة: الطبعة الخامسة، ١٤٠١هـ/١٩٨١م.
61- مجموع الفتاوى المؤلف: شيخ الإسلام أحمد بن تيمية جمع وترتيب: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم رحمه الله وساعده: ابنه محمد وفقه الله الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف - المدينة المنورة – السعودية عام النشر: ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

62- مجموعة التوحيد ، رساله بيان النجاة و الفكاك من موالاة المرتدين وأهل الاشراك .
63- المحلى.لابن حزم ، أبو محمد بن أحمد بن سعيد : ، ( القاهرة : المطبعة المنيرية ، 1351هـ ) .
64- المستدرك على الصحيحين الحاكم ، أبو عبد الله محمد بن عبد الله النيسابوري ،تحقيق : مصطفى عبد القادر عطا ، ( بيروت : دار الكتب العلمية ، ط1 ، 1411هـ/1990م ) .

65- المستصفى من علم الأصول المؤلف محمد بن محمد بن محمد الغزالى حجة الاسلام / ت : حمزه بن زهير الحافظ ، الناشر : شركة المدينة المنورة للطباعة .

65- مسند أبي يعلى أبو يعلى، أحمد بن علي بن المثنى، تحقيق : حسين سليم أسد ، (دمشق : دار المأمون للتراث ،ط1 ، 1404هـ/1984م) .
66- مسند امام احمد مسند الشاميين ابن حنبل ، أحمد بن حنبل الشيباني، (مصر : مؤسسة قرطبة ) .

67- مشكاة المصابيح المؤلف: محمد بن عبد الله الخطيب التبريزي المحقق: محمد ناصر الدين الألباني الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت الطبعة: الثالثة، ١٩٨٥.
68- المعتمد في أصول الفقه المؤلف: أبو الحسين محمد بن علي الطيب البَصْري المعتزلي (ت ٤٣٦ هـ - ١٠٤٤ م( قدم له وضبطه: خليل الميس (مدير أزهر لبنان( الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٣.
69- المعجم الصغير، للطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب:تحقيق: محمد شكور محمود، (بيروت/عمان: المكتب الإسلامي/دار عمار، ط1، 1405هـ/1985م) .
70- المعجم الكبير للامام للطبراني ، تحقيق : حمدي بن عبد المجيد السلفي ، ( الموصل : مكتبة العلوم والحكم ، ط2 ، 1404هـ/1983م ) .
71- مغني و شرح كبير = الشرح الكبير على متن المقنع مطبوع مع المغني( المؤلف: شمس الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن أبي عمر محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي (ت ٦٨٢ هـ( أشرف على طباعته: محمد رشيد رضا صاحب المنار عام النشر: ١٤٠٣ هـ - ١٩٨٣تصوير: دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع، بيروت.
72-مقالات الإسلاميين واختلاف المصلين المؤلف: أبو الحسن الأشعري ت ٣٢٤هـ( عنى بتصحيحه: هلموت ريتر الناشر: دار فرانز شتايز، بمدينة فيسبادن (ألمانيا( الطبعة: الثالثة، ١٤٠٠ هـ - ١٩٨٠ م.
73-مقدمة ابن خلدون ابن خلدون ، عبد الرحمن : ، ( بيروت : دار إحياء التراث العربي ، ط3 ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

74-منار السبيل في شرح الدليل المؤلف: ابن ضويان، إبراهيم بن محمد بن سالم (ت ١٣٥٣هـ) المحقق: زهير الشاويش الناشر: المكتب الإسلامي الطبعة: السابعة ١٤٠٩ هـ-١٩٨٩م

75-.منهج السنة فى العلاقة بين الحاكم و المحكوم إسماعيل ، يحيى : ، ( مصر : دار الوفاء ، ط1 ، 1406هـ/1986م ) .

76-المواقف المؤلف : عضد الدين عبد الرحمن بن أحمد الإيجي الناشر : دار الجيل - بيروت الطبعة الأولى ، 1997تحقيق : د.عبد الرحمن عميرة.

77- نيل الأوطار شرح منتقى الأخبار (ط. الأفكار) المؤلف : الشوكاني؛ محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني المحقق: رائد بن صبري بن أبي علف الناشر: بيت الأفكار الدولية.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**